

سرليکنه

# ننګرهــار پــوهنتون؛
# د نوښتونو او پرمختګونو پر پړاو

د هېواد په رغښت او له دې هم ډېر لوړ د ولسونو په برخليک ټاکنه کې د سترو اکاډميکو مرکزونو (پوهنتونونو) رول د لمر غوندې او ځار دی؛ د پوهانو په اند که د يوه ښوونځي او يا يوې مدرسې په جوړښت د يوه زندان دروازه تړل کېږي، نو د پوهنتونونو په ايجاد خو به د جهل او ناپوهۍ شيطاني ريښې له بېخه ايستل کېږي. د لاربنود سپېڅلي کتاب عظيم الشان قرآن بې شمېره آيتونه د عقل و پوهې تاکيد کوي، جاهل له حيوانه بتر ګڼل د اسلام پيغام او په (صم بکم عمی فهم لا يرجعون) کې د ناپوهۍ انځور کښل شوی دی. ننګرهار پوهنتون د هېواد د دويم ستر علمي مرکز په توګه د تاسيس له مهاله نږدې نيمه پېړۍ راهيسې خپل علمي جدوجهد څپاند ساتلی، تر دې چې د جګړو په سختو شېبو کې يې هم دروازې نه دي تړل شوي او دا مهال هم پر ډېرو مادي او تخنيکي لاسته راوړنو سربېره خپل پتمن ولس ته يوه داسې معنوي، روحاني او علمي ډالۍ لري، چې د نړيوالې ورورولۍ په کچه پرې سيالي، وياړ او حساب کېدای شي. ننګرهار پوهنتون سږ کال په بېلابېلو مسلکونو وياړلي نږدې دوه زره علمي کادرونه ټولنې ته وړاندې کړل او دا په حقيقت کې د جهل، جګړې او ټولنيز فقر پر ضد يو داسې خاموشه چلېنج او غبرګون دی، چې تر شا يې د هېواد د روښانه مستقبل مشالونه په ځلا ښکاري. ددې لپاره چې مو ددې پوهنتون دغه بېساري نوښت د مننې پر شکرانو بدرګه کړی وي، دا پر دولتي چارواکو ده چې دغه ځوانه انرژي پر ځای وکاروي او ورته د کار او چار ځمکه هواره کړي.

**راځئ**! د جګړې اتش فشان د علم په وړانګو کلابند کړو او خپل ځارځېلي هېواد ته د توري پر ځای په قلم نجات ورکړو؛ دا د ننګرهار پوهنتون ژمنه ده او مونږ ډاډمن يو، چې دغه چوپ غورځنګ به د هېواد پر افق د سولې او سوکالۍ (شنه زرغونه) وړانګنه کړي.

**ان شاءالله**

**اداره**

پوهـــــندوی فـــضل ولـــي (ناګار)
ژبو او ادبیاتو پوهنځی- پښتو څانګه

# په اسلامي ادب کې د جمال تصور

**لنډیز**:

د اسلام مقدس دین جمالیات او ښکلي هنرونه نه یوازې دا چې منلي، بلکې پاللي یې هم دي. که لویدیځ ته یوازې زمونږ د عارفو شاعرانو شعرونه یو پیغام وبولو، نو دا خواب به مو ویلی وي؛ ځکه تر دې ږومبی لویدیځ شعر له سره ترپایه د دیوتاګانو کیسې وې. اسلام د ژوند د یو بشپړ قانون په توګه ښکلا له پامه نه ده غورځولې، چې پر نورو ښکلو فنونو سربېره یې اسلامي ادب او په هغه کې د ښکلا تصور تر ټولو ښه بېلګه ده. په دې څېړنه کې به جوته شي چې د اسلام سپېڅلي دین یوازې شعر و ادب نه، بلکې ټول ښکلي هنرونه پاللي او روزلي دي.

**سریزه**:

له پېړیو راهیسې زمونږ د ټولنې د مذهبي بنسټونو پر اساس یو معیار او کچه شته چې باید هرڅه پرې کچ و میچ شي. دا هغه اصول دي چې اسلام راښوولي دي؛ ادب وي او که بل هر فن، باید اخلاقي پولې ونه نړول شي. ددې په نښه شویو اخلاقي پرنسیپونو په چوکاټ کې ادب هم مطالعه کېدلی شي. له ادب سره جمال او جمالیات غبرګ توکي دي، چې له دې پرته هنر نه شي رامنځته کېدلی. دغه مقاله به جوته کړي، چې زمونږ دین ټول ښکلي هنرونه او بیا ادب د ارتقا کوم پړاو ته رسولی، او په دې هم باید پوه شو چې د رواني پېرۍ د علم او پوهې په دې چټکه زغاسته کې زمونږ ادب زمونږ ذوق څومره بیدارولی او د پرمختیا له کاروان سره څه ډول د لارې ملګری کولی شي.

**موخې**:

د څېړنې موخه داده چې ټول لوستوال او محصلین له دې ارزښته خبر کړو، چې زمونږ مذهب او کلتوري اړیکو په فطري ډول ښکلا پاللې او روزلې ده. اسلامي ادب اخلاقو ته د کلکې پاملرنې سره سره په لیکنو او نورو ټولو ارزښتونو کې د هنر ځای تش نه دی پرېښی، او په داسې ښکلا یې ډک کړی دی چې ذهن ته روښانتیا، ذوق ته طراوت او انساني شعور ته د سپېڅلتیا بهیرونه په زمزمو راولي.

**په اسلامي ادب کې د جمال تصور**:

د ادب او ښکلو هنرونو په اړه چې د اسلام نوم واخیستل شي او د اسلامي ادب خوځښت په څپو راشي، نو د ادب ځینې لاروي غوړېږونه ونیسي چې د اسلام یې له ادب سره څه؟ ادب د ادب او ادب د ژوند لپاره غوښتونکي او علمبرداران یې ویرېږي، او د خپلې ذهني ارتقا په کچ ډول ډول اوازې خوروي. دوی ښایي د اسلامي ادب له تصور نه ځکه په ویره کې وي چې ګوندې اسلام له ادب نه هغه ټول عناصر لیرې کوي چې روح یې دی، او پر ذهن مذهبي بندیزونه لګوي چې په پایله کې د ادب مرګ منځته راوړي. دغه ښاغلي له یوه سره په غلط فهمۍ کې ښکېل دي، او د خلاصون ښه لاره یې داده چې د اسلامي ادب بنسټونه وپېژني. (۱)

انسان تش د فکر او پوهې ماشین نه دی، بلکې د احساس او تاثر غوندې د لطیفو رنګونو امتزاج او ګډون هم په کې شته، او که دا په کې نه وی، نو ژوند به یې پیکه او بې کیفه وي. انسان ته دغه ځواکونه رشد او تازه ګي وربخښي او په ژوند کې یې نوی حرکت پیدا کوي؛ دغه بهیر محدود نه، بلکښورو ته یې د ادب مصورۍ او لطیفو فنونو په ښه وړاندې کوي چې ددغو فنونو تر منځ ادب د اظهار لپاره ژبه وسیله کوي او د تاکلو اصولو او ضوابطو په نظر کې نیولو سره خپل قلبي کیفیت او د زړه اواز د ټکیو او الفاظو په ډول نورو ته رسوي. (۲)

د انساني ذهن د څېړنې پر وخت ښکاري چې انسان په فطري ډول ښکلا پالي او د جمال ذوق و احساس لري، چې د توپير او امتياز ځواک يې وربښلی او د ښه او بد ترمنځ کرښه راښکلی شي. ددې ذوق له برکته هغه د ځروبو، ستورو، لمر، سپوږمۍ او شينکيو نه خوند اخلي او د قدرت ښکلې نظارې او شهکارونه يې په وجد راولي، او بيا همدغه ذوق ورته په ژوند کې د حق او صداقت امتياز نذرانه کوي چې د ګردو غوښتنو او هيجاناتو ترمنځ د اعتدال په حقونو له پوهېدلو سره د ژوند پر مزايا او وپوهېږي؛ دغه حس او احساس په عمومي توګه په زړه پورې ترلی، او ددغې تاثراتو له راجوشېدلو نه د ادب تخليق کېږي. خو ډېر ځلې داسې هم کېږي چې د نفس هيجان او د خواهشاتو زور دغه سپېڅلی ذوق مغلوبوي، او هغه ښکلا او لطافت ختموي چې د ادب روح دی. د ژوند په جدوجهد کې ماتې خوړلي ته له ښه نه ښه ښکلا هم تکليفوونکې او هر لوری ورته تياره ښکاري، په داسې حال کې ذهني توازن ګډوډ، سالم ذوق مات او دغه عکاسي او انځورونه لوړ ادب نشو ګڼلی. ددغو مړو تخليقاتو ساه جاهلي تصويرونه او ګمراه کوونکي سمبولونه وي چې هيڅکله د يوې ټولنې په تهذيب کې برخه نشي اخيستلی، او نه شاعر او اديب د يوه مسئول په توګه د ټولنې روحاني جهت او لوری ټاکلی شي. (۳)

د ادب دغه نيمګړتيا د اسلام مقدس دين پوره کوي، ځکه ژوند ته يې داسې درست او سم ارزښتونه ډالۍ کړي چې اديب له انساني فطرت سره تړي، او دغه يقين او عقيدوي تړښت د اديب ذوق او وجدان له ګډوډۍ او بې لارۍ ژغوري. د اسلام بختور ظهور ښکلي هنرونه د يوې اړتيا په توګه وپالل؛ شعري قريحه او ادبي سليقه يې مهذبه کړه، تر دې چې په يوه حديث شريف کې ماشومانو ته د شعر ښودلو سپارښت شوی دی. همدارنګه امام مسلم رح د شريد رضی الله عنه له خولې وايي، چې يوه ورځ د رسول الله صلی الله عليه وسلم تر څنګ روان وم، د اميه بن الصلت د شعر يې راته ووېل، ما يو بيت ووايه، ويې ويل، ولوله، او همداسې دا لړۍ تر سلو بيتونو ورسېده. (۴)

د عظيم الشان قرآن د جمالياتو نظريه، د جاهلي ادب چيلنج او د اسلام د ستر لارښود حضرت محمد صلی الله عليه وسلم لارښوونې د مسلمان اديب او شاعر د لارې مشالونه دي. د السجدې د مبارک سورت له ۷-۹ اياتونو د انسان ځانګړې يادونه راښيي، چې هغه د خالق د فن شهکار او له هرڅه ښکلی دی؛ په صوري او معنوي دواړو ډولو خدای جل جلاله په انسان کې خپل روح پو کلی، د هغه کړه وړه يې سم کړي، او يو ځانګړی تناسب، توازن او اعتدال يې وربخښلی دی. د انسان د سترګو، غوږونو او زړه رغښت د جمالياتو په نړۍ کې ستر ارزښت لري؛ سترګې ښکلي شيان او ځينې نظارې ګوري، غوږونه ښکلي اوازونه اوري او ددغې ښکلا مرکز زړه دی، نو ځکه دغه حواس د ډېر ارزښت وړ دي. (۵)

د التغابن سورت په درېيم آيت کې د انسان د جسماني رغښت د ښکلي تخليق يادونه دا راښيي، چې بنده د ځمکې له ټولو مخلوقاتو غوره او پر ځمکه د واکمنۍ وړ دی. قرآن کريم له نن نه څوارلس سوه کاله رومبی د انساني ژوند په بنسټيزه مسئله چې جماليات دي او د شعر و ادب روح يې ګڼلی شو، رڼا اچولې او داسې يې مطرح کړې چې د انساني ذهن د پرله پسې ارتقا سره سره د زمان او مکان په ټولو شېبو کې د انسان د جمالياتي احساس تنده خړوبوي او دغه ربړه يې داسې اواره کړې، چې د زمان و مکان په اضافيت کې مطلق حيثيت لري. قرآن پاک پخپله هم د ښکلا ژوندۍ بېلګه او له پيله تر پايه په کې يو اهنګ په څپو ښکاري، په تېره په سورت رحمن کې دغه اهنګ ارتقا ته رسېدلی دی. د قرآن کريم په ټکيو او مانا کې يو زبردست تړون دی، چې بهرنی ژباړونکی (ای جي اربيري) يې هم دې وينا ته اړ کړی دی: ((د قرآن په عربي کې چې کوم فصاحت او اهنګ دی، هغه دومره خوندناک، زوردار او اعلی جذباتي کيفيت لري چې زما ترجمه او ددې نوعيت هر رنګ به د روښانه او عظيم الشان اصل يو تت غوندې نقل وي.)) (۶)

قرآن حکيم د ستر جمالياتي ذوق له پاللو سره سره مسلمانو اديبانو ته د يوه داسې معيار حکم کوي، چې په کې د خورا زيات او لوړ ادبي قوت سره سره له حقايقو نه د وېښته د سر قدرې سرغړاوی هم نه وي شوی؛ دا ډول اديب کولی شي چې د يوه ملت خوبولي ځواکونه په خپل ادبي شوکت او تېزو خوږو نغمو راويښ کړي. د شاعر په دې تخليق کې به د اسمانڅکو غرونو استقامت او د ځغلندو بهېدونکو چينو رواني وي، چې د وينا د ښکلا او اغېز د ښکلي امتزاج

باطني او پټه نړۍ ښکته- پورته کوي، چې په حقیقت کې د فن دا معجزه د سپېڅلي عشق په زور ودانېږي. د ښکلا پالنې ترڅنګ قرآني ادب دومره وجد راوړونکی دی چې مخالفینو جادو وګاڼه، د عظیم الشان قرآند چیلنج ژبه هم ډېره سپېڅلې او قاطع وه، د سمې او فطري لارې له هدآیت سره سم یې جاهلي ادب رد او مقابلې ته یې راوباله؛ خو د عظیم الشان قرآن ادبي اعجاز د هغه وخت غوره جاهلي ادب ګونګ او سونګ کړ. (۲)

د البقرې ۲۳ آیت په څرګند و ټکیو کې جاهلیت چیلنجوي، که چېرې تاسې پر دې کلام شک کوئ، چې مونږ پر خپل بنده صلی الله علیه وسلم نازل کړی، نو که ریښتیني یاست، داسې آیتونه او یا یو سورت جوړ کړئ، او څوک مو چې له خدای جل جلاله پرته مرستندویان دي، راویې بلئ؛ خو تر اوسه لا هیڅ ډول ادیب او پوه ددې چیلنج غبرګون نه دی کړی. نن هم قرآن کریم څوارلس سوه کاله وروسته هر ځای داسې د فهم وړ دی، لکه څوارلس شوه کاله پخوا چې ؤ، او د قدیم او جدید هیڅ تو پیر یې نه دی پیدا کړی؛ هر ټکی یې د فصاحت و بلاغت زر اړخه لري، او دا د قرآن اعجاز دی چې تر اوسه تازه او بلیغ دی، د علامه اقبال په وینا:

صد جهان باقیست در قرآن هنوز

که نه د فرعونیانو قبطي ژبه څه شوه؟ د هومر یوناني ژبه چېرته ویله کېږي؟ د عیسویانو پر لاتیني ژبه څه تېر شول؟ د یهودیانو د عبراني ژبې کومه ښنه شته؟

د عظیم الشان قرآن د جمالیاتو او ښکلا نظریه نیمګړې نه، بلکې د معروضي او موضوعي حسن یو امتزاج یې ګڼلی شو، ځکه په بېل- بېل شکل کې نیمګړی او نا پوره ښکاري او هره یوه یې د حقیقت یو مخ وړاندې کوي. که دواړه یو ځای کړی شي، نو دغه هماهنګي او وحدت د حقیقت دواړه مخونه ځلوي، او پوهانو دغې نظریې ته د (وحدت جمال) نوم ورکړی دی. له همدې کبله د قرآن پاک مطالعه احساساتو ته ښکلا او جمال ورکوي، ذهني قوت روښانه او پیاوړی کوي، د لوستونکي شعور بیداروي، او هغه جمال زرغونوي چې د انسان ناپوره ارمان دی. تاریخ راښیي چې د عظیم الشان قرآن د جمال د تصور په انګېزه مقدس ارټ هم د اسلام پیغام د وینا او لیک د وسایلو په وړاندې نبغ په نبغه او ډېر چټک مجسم کړ، او یوه بېلګه یې په تونس کې د قیروان جومات دی، چې کتونکی یې د لیدو پر مهال احساس کوي چې اسلام یې لیدلی دی؛ دا ده د مذهب ښکلا او د قرآن حکیم د جمال د تصور الهام.

عربي کره کتونکی (الاصمعي) په شعر کې د هنر د کچې د لوړېدا پلوي دی؛ هغه د حسان رض بن ثابت جاهلي شعر د اسلامي عصر د شعر په پرتله لوړ ګڼي. هغه په دې اند دی چې کله شعر د خیر او نیکۍ په باب ویل کېږي، نو کمزوری او نرم شي، لکه د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم، حضرت حمزه رض، حضرت جعفر رض مرثیې. هغه د شعر لاره هماغه د (فحول) طریقه ګڼي، لکه د امرالقیس، زهیر او نابغه شعرونه، چې هجو، مدح، د شرابو ستاینه، ویاړنې او د کایناتو منظرکشي وه. (۸)

خو د هند نومیالی عالم مولانا ابوالکلام ازاد دا نه مني، او په دې نظر دی چې د انسان تصور له قهریه صفاتو پیل شوی، او علت یې څرګند دی؛ د کایناتو فطرت د تعمیر او تخریب په پرده پټ دی، د بشري فکر طفولیت د تعمیر حسن نشي لیدلی، د تعمیر د ښکلا او جمال د لیدلو لپاره د فهم و بصیرت لرې لیدونکی نظر مطلوب دی، او هغه لا تر اوسه دې سترګو نه دی موندلی. په نړۍ کې د هر شي غوندې د هر فعل څرنګوالی خپل طرز او مزاج لري؛ تعمیر (جوړښت) یو داسې حالت دی چې مزاج یې سرتاسري سکون او خاموشي ده، خو تخریب سلب، ګډوډي، تفرقه او اختلال دی. د جمع و نظم حالت سکون وي؛ د تفرقې حالت شورش، چاودنه او انفجار وي. د یوه دېوال د جوړېدا پر مهال کوم شور نه محسوسېږي، خو غورځېدل یې د یوې چاودنې په ډول وي. ددې حالت قدرتي پایله داده، چې حیواني طبیعت له سلبي چارو سمد ستي اغېزمن کېږي، خو حسن یو ځل په مشاهده کې نه راځي او وخت غواړي. (۹)

**پایله:**

له پورته څېړنې دې پایلې ته رسېږو چې د اسلام سپېڅلي دین یوازې شعر و ادب نه، بلکې ټول ښکلي هنرونه پاللي او روزلي دي. عظیم الشان قرآن د جاهلي شعر په کره کتنه د ادب قبله سمه کړه، او یو داسې بنسټ يې کېښود ، چې د یوې سالمې بشري ټولنې ماڼۍ پرې ودانېدلی شي. د یوې مهذبې ټولنې په رغښت کې د اخلاقو پر رول سترګې نشي پټېدلی؛ اسلام ددغو پولو پر ټاکلو نړۍ ته یو داسې ادب او کلتور وړاندې کړ، چې ورځ پر ورځ يې پر لارې د لاروو ګڼه ګونه ډېرېږي.

**Abstract:**

Holy religion of Islam has accepted and recognized the importance of beauty and fine arts; furthermore, through various attempts it has beautifully nourished them. The poetry of our Sophie poets, the message to the western world, would be enough to justify that Islam does admire beauty; meanwhile, the earlier poetry of the western world was thoroughly based upon stories of gods and goddesses. Islam as a complete statute of life has not neglected aesthetics as well as other fine arts; however, Islamic literature and the portrayal of its beauty is a proper example to the west that Islam does admire beauty and fine arts. This attempt of research will clearly illustrate that the Holy religion of Islam has practiced and cherished poetry in particular and literature and fine arts in general.

**اخځلیکونه:**

۱- جالبی، ډاکترجمیل. (۱۹۹۱). معاصر ادب. لاهور: سنګ میل
۲- مددپور، ډاکتر محمد. (۱۳۸۴). حکمت انسی هنر اسلامی. ایران: کتابخانه ملی
۳- ملک، زاهد. (۱۹۸۰). قرآن اور ادیب. راولپنډۍ: سنګ میل
۴- غزالي، امام محمد. (      ). احیاء علوم الدین، باب سماع. پېښور: مکتبه هاشمیه
۵- کدکنی، محمدرضا شفیعی. (۱۳۶۸). صور خیال در شعر فارسی. کابل: مطبعه دولتی
۶- خټک، اقبال نسیم. (۱۹۸۷). خوشحال او جمالیات. پېښور: جدون پریس
۷- اریا، ډاکتر غلام علی. (۱۳۸۱). مباني عرفان و تصوف. ایران: کتابخانه ملی
۸- مقیم، ډاکتر عبدالحی. (۱۳۹۰). د عربي نقد تاریخي او تکاملي سیر ته لنډه کتنه، پوهه مجله- ۳۹ ګڼه. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون
۹- ازاد، مولانا ابوالکلام. (۲۰۰۲). ام الکتاب. لاهور: مکتبه جمال

پوهـــنوال محـــــمد اجـمل حـبیب (صـــــافی)
انجنیري پوهنځی- د عمومي تخنیکي مضمونونو څانګه

# په ودانيو کې د BMS او EMS ارزښت او اړتيا څېړنه

**لنډيز**:

BMS او EMS (د ودانيو د تنظيم سيستم) په ودانيو کې د برېښنا انرژۍ څخه موثره ګټه اخيستنه او د برېښنايي تاسيساتو د څارنې او ارزونې لپاره د کمپيوټر په مرسته د کړنو د تنظيم د سيستمونو څخه عبارت دی. په ودانيو کې د BMS څخه د ګټې اخيستنې اصلي موخه د هغې اقتصادي ځانګړتياوې، د انرژۍ مصرف کمول او د ارام او خوندي چاپېريال د منځته راوړلو څخه عبارت ده. د څارنې لاندې ټولې ساحې څارل او کنټرل د يو PC موبايل او انټرنيټ په مرسته ترسره کېدای شي؛ له بلې خوا دا چې د ټولو تجهيزاتو اداره او تنظيم له يو ځای څخه ترسره کېږي، نو د وسايلو د نه کړنې له امله د غلطۍ او تېروتنې امکانات راټيټوي. دا سيستمونه داسې عيارېږي چې ودانۍ ته په زياته اندازه طبعي انرژي ورسېږي. د مصنوعي سرچينو سربېره د طبيعي رڼا څخه په ګټه اخيستنې او هم په ودانۍ کې د مصرف د اړتيا د نشتوالي په صورت کې د څراغونو غير فعالولو سره کولای شو د انرژۍ د ضايعاتو څخه مخنيوی وکړو.

**سريزه**:

په اوسني وخت کې د نړۍ په سطح د انرژۍ د سرچينو کمښت ته په کتو سره د سوند د موادو د مصرف سپما د ډېر اهميت وړ بلل شوې او د تخنيک د څانګې کمپنۍ او مسئولين په دې لټه کې دي چې د کنټرول د معياري او ځانګړيو سيستمونو او ميتودونو په جوړولو او طرح کولو سره د انرژۍ د ضايع کېدو څخه د مخنيوي ترڅنګ نورې اسانتياوې هم منځته راوړي، ترڅو د ګټه اخيستونکو اړتياوې په ښه توګه تامين کړي. (۲،۷)

**موخې**:

- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او مينه والو ته د ګټورو معلوماتو برابرونه.
- د انرژۍ سپما او د هغې د ضايع کېدو مخنيوی.
- له نړيوالو ودانيزو نورمونو او معيارونو سره د خپلو ودانيو برابرول.

**د *BMS* يا د ودانيو د تنظيم سيستم**:

په اوسنيو ودانيو کې د ودانيو د تنظيم سيستم (**Building Management System**) په ودانۍ کې يو علمي، څېړنيز او اجرايیوي اړتيا ګڼل کېږي. د ودانۍ د مديريت سيستم (**BMS**) دنده د سړونې او تودونې (**HVAC**)، روښنايي (**Lighting**)، امنيتي تدابير (**Access**)، د اور وژنې د سيستم له اړخه د ودانۍ د وضعيت څارنه او مديريت دی او هم د دې بنسټيزو سيستمونو ترمنځ د منطقي اړيکو ټينګول دي.




۱- شکل: په یوه ودانۍ کې د تنظیم سیستم د اجزاو موقعیت {http://en.wikipedia.org/wiki/BMS}

له کومه ځایه چې اړینه ده د ودانۍ د مدیریت سیستم باید کومه فني پېچلتیا ونلري، ترڅو ګټه اخیستونکي په اسانۍ سره هغه استعمال کړي. نن ورځ د **BMS** اکثره تولید کوونکي پوستکالي (**Software**) یا کمپیوټري پروګرامونه جوړ کړي چې د هغو په مرسته د ودانیو د مدیریت سیستم مخ ته وړل کېږي. نوموړي پروګرامونه د ډول ډول ګرافیکي ځیزونو څخه په ګټه اخیستو د ودانۍ د تنظیم او څارنې هر اړخیز شرایط برابروي. په ودانیو کې د **BMS** څخه د ګټې اخیستنې اصلي موخه د هغې اقتصادي ځانګړتیاوې، د انرژۍ د مصرف کمول او د ارام او خوندي چاپېریال د منځته راوړلو څخه ګټه اخیستنه ده.

د **BMS** څخه د ګټې اخیستنې عمومي ځانګړتیاوې عبارت دي له:

الف- په ودانۍ کې د استوګنو لپاره د غوښتنې وړ چاپېریال رامنځته کول.

ب- د وسایلو او لوازمو د استهلاک د مودې په پام کې نیولو سره د هغې څخه په ښه توګه ګټه اخیستنه.

ج- د ټاکلي وخت په پام کې نیولو سره د کړنو د ټاکنې له مخې د څارنې او ساتنې د سیستمونو وړاندې کول.

د- د ودانۍ د ساتنې او څارنې په برخه کې د مصرفي بودیجې د کمښت منځته راوړل.

و- دایمي ټېکه دار ته اړتیا نه پیدا کېږي.

ه- د یو **PC** موبایل او انټرنیټ په مرسته د څارنې لاندې د ټولې ساحې څارل او کنټرل.

ی- دا چې ټولو تجهیزاتو اداره او تنظیم له یو ټاکلي مشترک ځای څخه ترسره کېږي، نو د وسایلو د نه کړنې له امله د غلطۍ او تېروتنې امکانات راټیټول.

## د انرژۍ د تنظیم سیستم (*EMS*):

دا په ودانیو کې د برېښنا د انرژۍ څخه موثره ګټه اخیستنه او د برېښنايي تاسیساتو د څارنې او ارزونې لپاره د کمپیوټر په مرسته د انرژۍ د تنظیم د سیستم څخه عبارت دی چې د **BMS** سره په یو والي تطبیقېږي. **EMS** د ساتونکو، څارونکو او کنټونکو تجهیزاتو د تصویرونو او نښو څخه عبارت دي چې د **BMS** سره د اړیکو د ټینګولو د اړینو برخو لرونکې دي او د معلوماتو په مرکز کې د رارسېدلو معلوماتو په عملي کولو سره د انرژۍ د مصرف د ښه کولو د طریقو د تطبیق زمینه مساعدوي. په معیاري ودانیو کې د انرژۍ د مصرف تنظیم د انرژۍ د مصرف په سپما کې ځانګړې تاثیر لري. په همدې توګه د روښنايي او تهویه د فعالیت ترنه په ځای کې د شخص په موجودیت پورې اړیکه ورکول او هم د شپې او ورځې له ساعتونو سره د خونو د تودوخې د درجې عیارول د انرژۍ د تنظیم د سیستم د باوري کړنو څخه حسابېږي. په همدې توګه اړتیا ده چې

په تود موسم کې د ودانۍ دننه برخي ته د لمر د مستقیمې رڼا د داخلېدو څخه ډډه وشي، ترڅو د خونې د سړونې په سیستم کې د برېښنا انرژي د زیات مصرف څخه مخنیوی شوی وي. (۵)

## په ودانۍ کې *EMS* او *BMS* اړتیا:

د ودانۍ په صنعت کې د بودیجې د کمښت او د تکنالوژۍ څخه موثره او ښه گټه اخیستنه او د څارنې د سیستم اتوماتیک کول د ودانۍ د راکښلو باعث کېږي او په ټوله کې د انرژۍ د سپما سبب کېږي، په داسې ډول چې ددې سیستمونو په کارولو سره او د هغې څخه لاسته راغلې سپما به په ډېره لنډه موده کې شوي مصارف بېرته پوره کړي. د څارنې دقیق او مناسب تنظیم سیستمونه د انعطاف لرونکي دي چې کولای شو هغه د ډول ډول غوښتنو او اړتیاو سره برابر او عیار کړو، په همدې توگه د گټې اخیستنې پر مهال کولای شو د ښې لارښودنې او هم د انرژۍ او د ودانۍ د جوړونې په پانگه کې د سپما لپاره د هغو بدلون وړ کړنو څخه گټه واخلو. دا جوته ده چې په تجارتي ودانیو کې دروښنایۍ لپاره مصرف شوي انرژي په ودانۍ کې د ټولې مصرف شوې انرژۍ تقریباً (۴۰٪) جوړوي چې په دې لگښت کې د کمښت د راوستلو او د ضیاع د مخنیوي د سیستم موجودیت د ودانۍ پر بیې ډېره اغېزه اچوي. (۷)
په معیاري ودانیو کې کومې کړنې چې د هستوگنو له خوا د عادت له مخې او یا هم په غیر ارادي ډول ترسره کېږي، هغه د همدې معیاري سیستمونو په اساس اجرا کېږي چې دا د وخت او انساني توان د سپما سبب کېږي. د مثال په توگه د ودانۍ څخه بهر او یا دننه د لیفټ څخه گټه اخیستنه او یا هم د داسې سیستمونو واحدې شبکې لگونه چې په متداومه توگه په هره شېبه کې چې مو غوښتنې وي، د هوا لنده بل د تودوخه، فشار، د اکسیجن او کاربن دای اکساید د اندازې په اړه معلومات ترلاسه او د خپلې خوښې چاپېریال په منځته راوړلو کې له هغې گټه واخلو. په داسې ودانیو کې تر زیاته حده دا امکانات منځته راځي، ترڅو د انرژۍ په مصرف کې سپما وشي. د مثال په ډول دا سیستمونه داسې عیارېږي چې ودانۍ وکړای شي چې په زیاته اندازه د طبعي انرژۍ (لکه د تودونې او سړونې لپاره د لمر انرژي) څخه گټه واخلي. (۱)
په اداري ودانیو کې دا سیستمونه د دفتر د کار د پای څخه دمخه په اتوماتیک ډول د ایرکاندیشنر سیستمونو په غیر فعالولو پیل کوي. په معیاري ودانیو کې چې **EMS** او **BMS** لرونکې وي، کېدای شي په هر شېبه کې د سوند او برېښنا انرژۍ په پام کې نیولو سره د انرژۍ مصرف ترلاسه کړو او ددې کمیاتو په مرسته په ودانۍ کې د انرژۍ مصرف لږ او هغه سپما کړو. په ودانۍ کې تر ټولو زیاته انرژي د روښنایۍ په سیستم کې مصرفېږي چې ددې سیستم په معیاري کولو سره کولای شو چې د انرژۍ د ضایعاتو څخه مخنیوی وکړو چې دا موخه د روښنایۍ لپاره د برېښنا د انرژۍ د مصنوعي سرچینو سربېره د طبیعي رڼا څخه په گټه اخیستنې او هم په ودانۍ کې د مصرف د اړتیا د نشتوالي په صورت کې د څراغونو غیر فعالولو سره لاس ته راوړلی شو. او سمهال د ودانۍ د تنظیم سیستمونه د **Web base** پر بنسټ ولاړ دي او د انټرنیټ د نړیوالې شبکې په مرسته فعالیت کوي. (۸)
د انټرنیټ او د اړیک ورکوونکو سیستمونو په مرسته د ودانۍ تنظیم او څار د لرې واټن څخه ترسره کېږي، په داسې ډول چې د اړونده ودانۍ د سایټ په فعالولو سره او د کود او یا رمز په ورکړې سره مونږ کولای شو له ډېر لرې واټن څخه پر ودانۍ حاکمیت ولرو. (۲)




۲- شکل: د **Web base** پر بنسټ د ودانۍ د تنظيم سيستمونه (**۵**)

د استوګنې هغو کورونو لپاره چې تر $5000\,M^{2}$ څخه د ښکته مساحت لرونکي وي، کولای شو د کورنۍ د مختلفو اتوماتيک سيستمونو څخه کار واخلو چې د مختلفو برخو څخه يې جوړښت موندلی دی، د مثال په توګه: **Motion Detection** د امنيت او روښنايۍ د کنترول لپاره په کار وړل کېږي. (۴شکل)؛ **Irrigation** د اوبو لګولو د کنترول لپاره؛ **Cooling Heating** د سړونې او تودوخې د کنترول لپاره او داسې نور. (۲شکل)





(۳شکل: Detection)

SPA & Pool د لمر د وړانګو د اثر او د تودوخې او لنده بل د تنظیم لپاره په کار وړل کېږي.



۴ شکل: د تودوخې او لنده بل د تنظیم لپاره.



۵شکل: د دروازو د کنترول لپاره





۶شکل: د سړونې او تودوخې د کنترول سیستمونه

## پایله او وړاندیزونه:

د ودانۍ په صنعت کې د بودیجې د کمښت او د تکنالوژۍ څخه موثره او ښه ګټه اخیستنه او د څارنې د سیستم اتوماتیک کول د ودانۍ د راکښلو باعث کېږي او په ټوله کې د انرژۍ د سپما سبب کېږي، په داسې ډول چې ددې سیستمونو په کارولو سره او د هغې څخه لاسته راغلې سپما به په ډېره لنډه موده کې شوي مصارف بېرته پوره کړي. د استوګنې هغو کورونو لپاره چې ښکته مساحت لرونکي دي، کولای شو د کورنۍ د مختلف اتوماتیک سیستمونو څخه کار واخلو چې د مختلفو برخو څخه یې جوړښت موندلی دی. د څارنې دقیق او مناسب تنظیم سیستمونه د انعطاف لرونکي دي چې کولای شو هغه د ډول ډول غوښتنو او اړتیاو سره برابر عیار کړو، په همدې توګه د ګټې اخیستنې پر مهال کولای شو د ښې لارښودنې او هم د انرژۍ او د ودانۍ د جوړونې په پانګه کې د سپما لپاره د هغو د بدلون وړ کړنو څخه ګټه واخلو. څرنګه چې په اوس وخت کې

زمونږ په هېواد کې د ودانیو په جوړونه کې زیاته پانګونه کېږي، نو وړاندیز کوو چې ددې لپاره چې له یوې خوا د نړیوالو اړینو معیارونو سره مو برابرې کړنې کړې وي او له بلې خوا مو د انرژۍ سپما او نورې اسانتیاوې منځته راوړې وي، نو اړینه ده چې د ودانیو د طرح او ډیزاین په وخت کې دې ددې سیستمونو اړتیا په نظر کې ونیول شي.


## Abstract:

A Building Management System (BMS) is a computer-based control system installed in buildings that controls and monitors the building's mechanical and electrical equipment such as ventilation, lighting, power systems, fire systems, and security systems. A BMS consists of software and hardware; the software program, usually configured in a hierarchical manner, can be proprietary, using such protocols as C-bus, and so on. In commercial buildings, lighting accounts for up to 40% of total energy cost. Reducing this energy consumption has become a major goal for building owners, governments, utilities and many other stakeholders. Lighting can be turned on, off, or dimmed with a building management system based on time of day, or on occupancy sensor, photo sensors and timers. One typical example is to turn the lights in a space on for a half hour since the last motion was sensed. A photocell placed outside a building can sense darkness, and the time of day, and modulate lights in outer offices and the parking lot.

Lighting is also a good candidate for Demand response, with many control systems providing the ability to dim (or turn off) lights to take advantage of DR incentives and savings. In newer buildings, the lighting control is based on the field bus DALI. Lamps with DALI ballasts are fully dimmable. DALI can also detect lamp and ballast failures on DALI luminaries and signals failures.


## اخځلیکونه:


۱- بی، ال، تراژا. شعاری نژاد ، سعید. (۱۳۶۹). اصول مهندسی برق. کرج- ایران.

۲- مک کلوی، دان. موفقیان، ناصر.(۱۳۷۲). تکنالوژی به زبان ساده. ایران: تهران.

3- Lindley R. Higgins, R. Keith Mobley, Ricky Smith, Maintenance Engineering Handbook, 6th edition, McGraw-Hill, 2002.

4- Feld, W.M., Lean Production: Tools, Techniques and how to use them. APICS Series on Resource Management, 1998.

5- A.K.S. Jar dine, D. Lin, D. Banjevic, A review on machinery diagnostics and prognostics implementing condition-based maintenance, Mechanical Systems and Signal Processing (2006) P-83?&110.

6--http://www.mohandesi-sakhteman.blogfa.com/post-422.aspx.

7--http://www.construction.blogfa.com.

8-http://www.Building amazement system.edu.

پوهـــــنوال دل اقـــا (دل)
پوهندوی بريالی (ولي زاده)
طب پوهنځی- داخـله څانگه

# د زړه احتشا ناروغانو کې د چپ بطين انيوريزم پېښې

**لنډيز**:

دا څېړنه پر۲۰ تنو ST elevation myocardial infarction اخته ناروغانو د 1390/2/4 نېټې څخه تر 1391/10/16 نېټې پورې د ننگرهار طب پوهنځي روغتون کې ترسره شوه چې په (3,23) سلنه ناروغانو کې د کيڼ بطين انيوريزم وليدل شو. د انيوريزم زياتره پېښې د قدامي احتشا په ناروغانو کې موجوده وه. د څېړنې پايلـه مـو د معتبرو نړيوالو طبي منابعو سره پرتله کړه چې د پايلو تر منځ څرگند توپير موجود ؤ او د څېړنې په اخر کې په مناقشه کې توضيح شوی دی.

**سريزه**:

د زړه د اسکيميا ناروغي په تېره بيا د زړه بېړنۍ احتشا په ټوله نړۍ کې د انسانانو د مړينې لومړۍ درجه لامل گڼل کېږي. په امريکا کې په هره دقيقه کې يو تن د زړه د احتشا له امله مري چې په اخته کسانو کې د لومړي کال مړينه۴۰٪سلنه ده. د احتشا د لومړنيو ساعتونو مړينه زياتره د بطيني اريتمياوو له امله منځته راځي، په داسې حال کې چې وروسته بيا د بطيني اريتميا تر څنگ د احتشا ځنډنی اختلاط لکه بطيني انيوريزم چې د بطين د دېوال د رپچر او زړه عدم کفايې لپاره زمينه برابروي، د مړينې ستر لامل گڼل کېږي. څرنگه چې تر اوسه کومه څېړنه په دې اړه په ننگرهار کې نه ده ترسره شوې، نو د څانگې لخوا مو دنده واخيسته، ترڅو ميوکارد د احتشا په ناروغانو د کيڼ بطين انيوريزم پېښې وڅېړو. په دې څېړنه کې د ناروغانو انتخاب او د پايلو راويستلو دنده د پوهنوال دل اقا(دل) او د طبي ادبياتو او مناقشې برخه د پوهندوی بريالي ولي زاده په غاړه وه.

**موخې**:

- په STEMI ناروغانو کې د کيڼ بطين د انيوريزم د رامنځته کېدو کچې روښتيا
- په کيڼ بطين کې د انيوريزمونو د موقعيت په اړوند معلومات
- د کيڼ بطين د انيوريزم او بطيني ترمبوز ترمنځ د تړاو څرنگوالی

**عمومي معلومات**:

د ميوکارد احتشا د زړه د عضلي نکروز دی چې د اسکيميا له کبله منځته راځي، د زړه بېړنۍ احتشا په صنعتي هېوادونو کې د ډېر عامو او دوديزو ناروغيو له ډلې څخه ده. د امريکا په متحده ايالاتو کې د بېړنۍ احتشا ۲۵۰۰۰۰نوي پېښې او ۴۵۰۰۰ د تکراري بېړنۍ احتشا ناروغي پېښېږي. د بېړنۍ احتشا لومړنۍ (۳۰ورځې) مړينه په سلو کې ۳۰ ده چې نيمايي څخه زياته يې روغتون ته له رسېدو مخکې پېښېږي. بېړنۍ احتشا نږدې تل د اکليلي شريان د اتيروما په شتون کې د plaque rupture او ترومبوز له کبله پيدا کېږي، خو په نادر ډول د کيڼ زړه امبولي او د اکليلي شريان هيموديناميکه گډوډي هم ميوکارد د بېړنۍ احتشا لامل گرځي. (۸،۵،۳،۱)

که د انفارکشن د پیل څخه شپږ ساعته وروسته میوکارد وکتل شي، پړسېدلی او خاسف ښکاري، د ۲۴ ساعتونو په موده کې نکروتیک نسج د وینه بهېدنې له امله سور رنګ غوره کوي او په راتلونکو اوونیو کې التهابي غبرګون پرمختګ کوي او نکروزي نسج خاورینه بڼه نیسي او ورو ورو نازکه فبروزي سکار منځته راوړي. (۱،۴)

په نیمایي پېښو کې د STEMI څخه مخکې شدیدوونکي فکتورونه لکه شدید فزیکي کار، روحي فشارونه او د داخلي او جراحي ناروغي موجودې وي. سره له دې چې د STEMI حمله د ورځې او شپې په هر وخت کې منځته راتلای شي، خو زیاتره پېښې یې د سهار لخوا د ویښېدو په لومړیو ساعتونو کې منځته راځي. د ټټر درد د دې ناروغۍ اساسي ګیله ده چې په زیاتره ځانګړنو کې د انجینا درد ته ورته دي، خو د انجینا په پرتله ډېر شدید وي او کېدای شي څو ساعته دوام وکړي. په عام ډول درد د ضعیفي، سړه خوله، زړه بدوالي، کانګې، نارامي او د مړینې د احساس سره ملګرې وي.(۲،۲،۷)

د انجینا پر خلاف په احتشا کې درد د دمې په حال کې پیدا کېږي، خو که د فزیکي فعالیت په وخت کې رامنځته شي، د دمې یا استراحت سره نه غلی کېږي. د STEMI دردونه کېدای شي د پریکاردایتس، د سږو امبولېزم او د ابهر بېړنې Costochondritis Dissection او د هضمي جهاز د ناروغیو سره مغالطه شي چې په توپیري تشخیص کې په پام کې وي. د STEMI په ۲۰٪ پېښو کې درد موجود نه وي، Painless MI د بې درده احتشا پېښې په لاندې وګړو کې ډېرې دي: دیابتیک ناروغان، زاړه خلک او ښځې په زړو وګړو کې د MI حمله کېدای شي د ناڅاپه سالنډۍ په ډول څرګند شي او د سږو اذیما ته پرمختګ وکړي. د MI نور غیر معمول کلنیکي څرګندونې چې کېدای شي د درد سره ملګرې وي یا نه، په لاندې ډول دي:

د شعور ناڅاپي له منځه تګ، Confusion، شدیده ضعیفتیا، د محیطي امبولېزم نښې، د فشار بې لامله ولېدنه. (۱،۲،۳)

## فزیکي نښې:

د MI د حملې په وخت کې ناروغ ډېر ناارامه، عصباني او په خولو کې ډوب او نهایات یې ساړه وي، کوښښ کوي چې د مختلفو وضعیتونو په نیولو سره درد غلی کړي. د سینې دومداره درد ۳۰ دقیقې چې د زیاتې خولې سره یو ځای وي، د STEMI لپاره ښه لارښوود ده، سره له دې چې د STEMI زیاتره ناروغان په لومړیو ساعتونو کې نارمل نبض او فشار لري، خو د قدامي MI یو پر څلور ناروغان د سمپاتیک اعصابو د فعالیت زیاتوالي، تکي کاردیا او لوړ فشار ښيي او سفلي MI په نیمایي ناروغانو کې د پاراسمپاتیک سیستم د فعالیت زیاتوالی (بردي کاردیا، هایپرتنشن) موجود وي. د زړه غږونه ټیټ او PMI نه حس کېږي، د بطین دندې د خرابوالي له کبله S4 او S4 او دویم او از معکوس سپلیت اورېدل کېږي. (۱،۴،۵)

د مایترل دسام دندې د خرابوالي له امله Mid او Late سستولیک مرمر په تېرېدونکي ډول اورېدل کېدای شي. که چېرې Transmural STEMI ناروغان په تکراري ډول معاینه شي، په زیاترو پېښو کې د ناروغۍ جریان کې Pericardial friction rub ممکن و اورېدل شي. (۱،۲،۷،۸)

د ښي بطین د انفارکشن په صورت کې د وداجي یا Jugular ورید پړسوب شتون لري. د MI په لومړۍ اوونۍ کې د بدن د حرارت درجه د ۳۸ سانتي ګراد پورې لوړېدای شي، شریاني فشار متغیر وي، د ترانسمورل MI په زیاتره ناروغانو کې سیستولیک فشار د انفارکشن نه مخکې حالت څخه ۱۰-۱۵ ملي متر سیماب ښکته وي. د میوکاردیال انفارکشن ناروغانو کې لاندې ستر اختلاطات رامنځته کېږي:

اریتمیا لکه بطیني اریتمیا، فوق بطیني تکي کاردیا، ساینس برډي کاردیا په مختلفو درجو، د زړه بلاکونه، د بطیناتو د دندو خرابوالی او د زړه عدم کفایه، کاردیوجینیک شاک، میوکارډ او بطیناتو تر منځ د پردې رپچر،

حليموي عضلاتو د دندي خرابوالي او ريچر، پريکارډايتس، ترومبو امبولېزم، د احتشا څخه وروسته انجينا ، هايپووالیميا ، د ښي بطين انفارکشن او په وروستيو مراحلو کې د احتشا څخه وروسته سندروم او بطيني انيوريزم. بطيني انيوريزم د وخيم او پرمختللي هيمودناميک گډوډيو ، د زړه د عدم کفايې، ترومبو امبولېزم او بطيني اريتميا لامل گرځي چې د زړه په گراف کې د دومدار ST elevation په واسطه پېژندل کېږي او يوازېنۍ درملنه يې جراحي عمليات دي. (۱)

د چپ بطين انيوريزم او د چپ بطين Pseudo انيوريزم د زړه د احتشا دوه غوره او مهم اختلاطات دي، کوم چې د مړينې او خطرناکو معيوبيتونو لامل گرځي. د چپ بطين انيوريزم چې معمولاً د انفارکشن له امله منځ ته راځي، زياتره د زړه په قدامي جدار کې رامنځ ته کېږي او په ايکوکارډيو گرافي کې د اخته ديوال د سيستول په وخت کې akinetic (بې حرکته) او يا Dyskinetic (معکوس حرکت) وي. انيوريزم کېداى شي چې بې عرضه وي او يا دا چې د زړه د عدم کفايې په ډول رامنځ ته شي. د لازمي درملنې او پېژندنې د وسايلو د کموالي له امله پخوا د چپ بطين انيوريزم پېښې په انفارکشن اخته ناروغانو کې چې د Q موجه لرونکې وو ۳۰-۳۵ سلنه ښودل شوي و ، په دې وروستيو کې د چپ بطين انيوريزم پېښې د ښه اهتماماتو او درملنې له امله ۵ او ۸ سلنه ته راټيټه شوې ده. (۲،۳)

يوه څېړنه کې چې ۱۵۸ تنو انفارکشن ناروغانو باندې ترسره شوې ده، ۳۵ تنه يې چې ۲۲٪ سلنه کېږي، د کيڼ بطين په قدامي جدار کې انيوريزم د اختلاط په ډول پيدا شوی و. (۴)

د يو بلې څېړنې له مخې چې په Cecil کتاب کې نشر شوې، د انفارکشن نژدې ۵٪ سلنه ناروغان د کيڼ بطين په انيوريزم اخته کېږي. د هغې څېړنې له مخې چې د داخلې په Current نومي کتاب کې راغلې، د انفارکشن اخته ناروغانو نږدې ۲-۱۰٪ سلنه د بطين په انيوريزم اخته کېږي. (۱،۷،۲،۵)

## مواد او کړنلاره:

څېړنه د ننگرهار د طب پوهنځي روغتون د زړه ناروغيو په تشخيصه مرکز کې د 1390/2/4 نېټې څخه تر 1391/10/16 نېټې پورې په ۲۰ تنو د ميوکارد په احتشا اخته ناروغانو باندې چې د ختيزې سيمې د بېلابېلو سيمو اوسېدونکي وو ، په Prospective observational ډول ترسره شوه.

په څېړنه کې په تاريخچې او فزيکي معايناتو سربېره د ناروغ پخواني او اوسني ECG له مخې احتشا تشخيص او د ايکوکارډيو گرافي ازموينې له مخې wall motion abnormality موقعيت او د کيڼ بطين د انيوريزم تشخيص اېښودل شوي دي. تر څېړنې لاندې ټول ناروغان اقلاً يو مياشت د احتشا له حملې څخه وروسته ايکو معاينې لپاره مراجعه کړې وه.

:(Inclusion Criteria)

په څېړنه کې هغه ناروغانو ته د گډون حق ورکول شوی و چې د ۱۸ کاله يا له دې څخه يې زيات عمر درلود او د احتشا وصفي تاريخچې او ECG کې ST elecation,2mm لږ تر لږه په دوه پرله پسې ليډونو کې درلودل.

د ۱۸ کالو څخه کم عمر لرونکي ناروغان او هغوی چې د احتشا وصفي تاريخچې او ECG بدلونونه يې نه درلودل، د څېړنې څخه ويستل شوي دي. تر څېړنې لاندې ناروغانو کې ۳۸ تنه يې نارينه او پاتې ۲۲ تنه يې ښځينه وو. ۳۸ تنه يې د ننگرهار، ۱۲ تنه د لغمان او ۴ تنه يې د کونړ ولايت اوسېدونکي وو. د عمر له نظره ۴۰ تنه يې د ۲۰-۸۳ کلونو ترمنځ، ۱۷ تنه د ۴۰-۵۹ کلونو ترمنځ او ۳ تنه يې د ۴۰ کالو عمر درلود.

## پايله:

د څېړنې لاندې ناروغانو په ۱۴ تنو (۲۳،۳٪) کې د کينې بطين انيوريزم د ايکوکارډيوګرافي معاينې له مخې تثبيت شو. په بطيني انيوريزم اخته احتشا ناروغانو کې ۱۰ تنه (۱۲،۲٪) يې زړه د قدامي ديوال Dyskenesia، ۳ تنه يې (۵٪) د زړه د سفلي ديوال Dyskenesia او يو تن (۱،۲٪) يې د زړه د قدامي وحشي جدار Dyskensia درلودل.




دبطيني انيوريزم د اخته کسانو له ډلې د يو تن (۱،۲٪) په ايکوکارډيوګرافي معاينه کې د زړه دننه ترمبوزي کتله وليدل شوه چې د قدامي جدار سره نښتې وه.

## مناقشه:

ددې څېړنې پايلې مو چې په ۲۰ تنه د زړه د احتشا اخته ناروغانو باندې د بطيني انيوريزم د موندلو لپاره ترسره شوې ده، د نړۍ د معتبرو منابعو سره پرتله کړه، په يوه څېړنه کې چې د امريکا په کارډيالوژي ژورنال کې (۱۹۸۲) خپره شوې، د زړه د احتشا ۱۵۸ تنه ناروغان څېړل شوي چې په ۳۵ تنه (۲۲٪) پېښنو کې د کينې بطين انيوريزم موجود و چې په ۲۷ تنو (۱۷٪) کې انيوريزم موقعيت قدامي و. (۳،۴)

زمونږ په څېړنه کې په ۳، ۲۳٪ پېښنو کې د کينې بطين انيوريزم وليدل شو چې زياتره يې قدامي موقعيت درلود. د ځينو وروستيو څېړنو راپورونه ښيي چې د کينې بطين انيوريزم پېښې د پخوا په پرتله په غربي نړۍ کې ډېره کمه شوې ده چې دليل يې زياتره د احتشا د درملنې د مدرنو وسايلو او د درملنې د نويو ميتودونو کارول ښودل شوي دي. د داخلې معتبر کتاب Current کې د راغلې احصايې له مخې د کينې بطين انيوريزم پېښې ۲-۱۰٪ ښودل شوې دي. که د پورته ذکر شويو څېړنو پايلې د خپلې څېړنې سره پرتله کړو، داسې څرګندېږي چې لا تراوسه د زړه د احتشا د اختلاطاتو او په ځانګړي ډول د بطيني انيوريزم کچه زمونږ په ناروغانو کې د نړۍ د بل هر ځای څخه لوړه ده چې دليل يې زمونږ په روغتون کې د درملنې د نويو ميتودونو او امکاناتو نشتوالی دی.

## وړانديزونه:

د زړه د احتشا د اختلاطاتو په تېره بيا د انيوريزم د پېښنو د کموالي لپاره اړوند طبي پرسونل ته لاندې وړانديزونه لرو:

1. د STEMI هر ناروغ ته که چېرې مضاد استطباب موجود نه وي، ترمبولايتيک درمل بې له ځنډه پيل شي، ترڅو د انفارکشن ساحه کوچنۍ او د انيوريزم د پيداکېدو چانس کم شي.

2. د کینې بطین د انیوریزم د پېښو د تثبیت او پېژندنې لپاره لږ تر لږه د روغتون څخه د خارجېدو په وخت کې او وروسته په منظم ډول ایکوکاردیوګرافي معاینات ترسره شي.
3. له احتشا وروسته د ژوند څرنګوالي بدلون او ثانوي وقایې ته ډېره پاملرنه وشي.


**Abstract:**

There were 60 ST elevation myocardual infarction (STEMI) enroled in this study the mian aim of the study was detection of ventricular aneurysm in STEMI patients. In this study 23,3% of STEMI patients had left ventricular aneurysm the incidence of aneurysm was higher in Antenior Myocardial infarction.


## اخځلیکونه:


1- دل، دل اقا. (۲۰۱۱). د زړه او رګونو ناروغي. ننګرهار پوهنتون. د افغانیک خپرندویه ټولنه

2- Boon Nicholas <collage Nacki (2010),Davidsons' principle of internal medicine, 21st Edition churchil Livingston ,New Delhi pp(671-676 )

3- CeesA. Visser, Gerard Kan, Richards, (1986) incidence, and prognostic value of left ventricular aneurysm formation in myocardian infarction. The amarican Journal of Cardiology, PP(729-732)

4- Kasper Dennis.Faouci Anthony,Brownwald,Eugene (2012),Harrisons' principle of internal medicine ,18h edition USA, Graw hill PP(2151-2160)

5- Kumar parvenu & Clark Micheal , (2009)Clinical Medicine , 7th Edition Spain Saunders Elsvier PP(834-841)

6- shapira M, Shemin-Richard, (2011) left ventricular aneurysm and Pseudo aneurysm following acute myocardial infarction.

7- Stephen J. McPhee-Maxine A. Papadakis, (2012) Current Medical Diagnosis and Treatment MC Graw-Hill Compay 2012 USA.PP (255-261).

8- WILLAm P. AREND ET ali. (2010), Cecil: medicine Elsevier 23rd edition, , PP 619-627.

پوهنوال حفیظ الله (اپریدی)
طب پوهنځی- داخله څانګـه

# جـل وهـنه

# (Heat stroke)

**لنډیز**:

څرنګه چې د تودوخې درجې لوړوالی د انسان په عضویت باندې ناوړه او وژونکی اغېز کوي، په ځانګړې توګه دا ډول پېښې په ختیز ولایت ننګرهار کې چې د دوبې په موسم کې یې د تودوخې درجه خورا لوړه ځي او ناروغان د Heat stroke یا جل وهنې په لوحه کې روغتون ته راوړل کېږي، نو په دې هکله د Heat stroke پېژندنه، تشخیص او درملنه بېړنۍ کړنې ته اړتیا لري چې ناروغ له مړینې وژغورل شي، نو پـه دې هکله مـو اړینـه وګڼله چې د تـودوخې د تشوشاتو پـه څنګ کې د Heat stroke تر عنوان لاندې یوه علمي مقاله د طبي پرسونل د پوره پوهاوي لپـاره ولـیکم، تر څو د ناروغانو سره بېړنۍ مرسته ترسره شي.

**سریزه**:

څرنګه چې زمونږ د ګران هېواد په ختیزو ولایتونو په ځانګړې توګه په ننګرهار کې د اوړي پـه موسـم کې د تـودوخې درجه زیاته پورته ځي او زمونږ غریب او مظلوم ولس د حلالې روزۍ د پیدا کولو پـه خاطر شپه او ورځ پـه دې موسم کې زیاته خواري او شاقه کارونه کوي چې د زیاتو خولو د افراز لامل ګرځي او په نتیجه کې زیـات شمېر ناروغـان د تودوخې د درجې د لوړوالي له کبله په مختلفو کلنیکي لوحو کې روغتون ته راوړل کېږي او تر درملنې لانـدې نیـول کېږي چې یو شمېر یادې پېښې په مړینه تمامېږي. په همدې منظور مـو د خلکو د عامه پوهاوي او ددغه وژونکي حالت څخه د وتلو په موخه هوډ وکړ، تر څو د جل وهنې تر عنوان لاندې یوه علمي مقاله ولیکم چې د پـوهې پـه مجلـه کې نشر او د خلکو د پوهاوي سبب وګرځي او ګټه ترې واخلي او روغتون ته له راتګ وړاندې په کورونو، بازارونو، کلیو او بانډو کې ددغه وژونکې ناروغۍ مخه ونیول شي او د خلکو ژوند وژغورل شي. جل وهنې یا د Heat stroke ناروغان د شعور په تشوش، عصبي اعراضو لکه هزیانات، ستوپور، رواني تشوشاتو، د اوبـو او الکترولایتـونو د توازن په تشوشاتو کې چې وژونکې کلنیکي لـوحې منـځ تـه راوړي، مراجعـه کوي. کـه چېـرې طبي پرسـونل دا ډول ناروغان په غلط تشخیص د نورو انتاني ناروغیو په چوکاټ کې تداوي کړي، نه یوازې دا چې تداوي یې نتیجـه نـه ورکوي، بلکې وژونکي اختلاطات رامنځ ته کېږي او د ناروغ په مړینه ختمېږي.

**موخې**:

- د Heat stroke پېژندنه او په اړه یې علمي معلومات وړاندې کول.
- د Heat stroke ناروغانو سره د روغتون څخه بهر بیړنۍ مرسته.
- د Heat stroke چټک تشخیص او درملنه.
- د Heat stroke د اختلاطاتو پېژندنه او د مخنیوي اهتمامات.

### د جل وهنې (*Heat stroke*) تعريف:

دا سندروم په لوړه درجه تبه چې 41°c او يا 106f° څخه تېرې نه کوي او د شعور په تشوش متصف دی چې د خولو نشتوالی په کې معمول دی. مخکې له دې چې د Heat stroke په باره کې معلومات وړاندې کړو، اړينه ده چې يو ځل د تودوخې د تشوشاتو څخه چې په هغې کې Heat Exhaustion, Heat Cramp (د تودوخې ستومانتيا) او Heat stroke شامل دي، په لنډه توګه يادونه وکړو. Heat Exhaustion يو داسې حالت دی چې ناروغان په زيات مقدار مايعات ضايع کوي، خصوصاً په لوړه درجه تودوخه کې. دا ډول ناروغان هايپو والميک شاک ته داخلېږي.

(Heat Cramp): د مخطط عضلاتو د پرمختللي درد څخه عبارت دی چې د زيات مقدار خولې تويېدو چې په تمرين او يا لوړه درجه تودوخه کې منځ ته راځي. په Heat stroke کې د تودوخې د ضياع د مېکانېزم عدم کفايه چې خطرناکه لوړه درجه تبه ورڅخه منځته راځي. دلته لازمه ده چې Heat Exhaustion او Heat stroke تر منځ د تفريقي تشخيص په اړه پوهاوی ولرو، په لاندې جدول کې ورڅخه يادونه کېږي:

| | Heat Exhaustion | Heat stroke |
|---|---|---|
| لامل | پرمختللی او يا د مايعاتو په زياته اندازه ضياع يا هيپو والميک شاک | غير متناسب او يا د تودوخې د ضياع عدم کفايه |
| خبرتيا | تدريجي ضعيفي، زړه بدوالی، تحيجي حالت، زياته خوله، سنکوپ | سر دردي، ضعيفي، د شعور ناڅاپي ضياع |
| ظاهري بڼه او علامې | ناروغ خاسف ايره رنګی وي، پوستکی مرطوب، نبض ورو او ضعيف وي | د ناروغ پوستکی ګرم سور او وچ وي، خوله ډېره کمه، د حرارت ډېره لوړه درجه، چټک نبض |
| اهتمامات | د ساده سنکوپ له خاطره سرته وضعيت ورکول، د اوبو او مالګې تعويض عموماً د خولې له لارې، نادراً د وريدي لارې | په بيړنۍ ډول په ناروغ يخ تطبيقات اجرا کول او د ناروغ بستر کول |

(۱جدول ـ ۲م۲۳۵۹)

Heat stroke چې د hyper Pyrexia, Sun stroke او Ther mic Fever په نومونو هم يادېږي، د ناروغۍ ناڅاپي شروع کله کله د مجروې اعراضو په واسطه لکه سردردي، سرچرخي او ستومانۍ په واسطه پرمخ ځي. پوستکی سور، ګرم او عموماً وچ وي، د ناروغ نبض په چټکۍ سره زياتېږي چې شايد 180-160 ته ورسېږي، د تنفس تعداد زياتېږي، د ناروغ رويت خراب وي چې حتی غير شعوري حالت او د اختلاجاتو په واسطه تعقيبېږي چې بالاخره په مړينه ختمېږي. (۴)

### مساعدوونکي فکتورونه:

هغه فکتورونه چې Heat stroke ته زمينه برابروي، عبارت دي له پرمختللي سن يا بوډاتوب، چاغوالی او نور تشوشات لکه د زړه ناروغي، د شکرې ناروغي، دماغي وعايي ناروغي، د پوستکي او دواګانو په واسطه د خولو کمه خارجېدنه او جوړېدل، په نږدې وختونو کې د شرابو څښل، د اوبو او هوا تغيرات او يا په شپه او ورځ کې په دوامداره توګه حرارت ته مخامخېدل شامل دي. (۲م۲۳۲۱)

زیات مرطوب چاپېریال د Heat stroke لپاره ضروري نه دی، د وجود د حرارت درجې لوړوالی پر استقلابي پروسې اغېزې لري. د حرارت د یوې درجې لوړوالي سره BMR 70% زیاتېږي، نو په 41c° کې BMR د 50% څخه زیاتېږي چې ددې په ځواب کې او د حرارت د ضیاع لپاره د سږو د رګونو د مقاومت لوړوالی چې د تودوخې د لوړوالي له کبله منځ ته راځي، د زړه دهانه کمولای شي. د تودوخې او یا حرارتي جرحې له کبله د اعضاوو وظیفوي تشوش منځ ته راځي او عصبي اعراض یعنې ابنار ملتیې ګانې لکه هزیانات، ستوپور، کوما، Ataxia، عضلي ضعیفي، فلج، دوراني ابنار ملتیې لکه تکي کاردیا، هایپوتنشن، کلیوي تشوشات لکه اولیګوریا Hypos thenuria حاد توبولي نکروزس، کبدي ابنار ملتیې لکه هایپر بیلیرونیمیا، د ترانس امیناز لوړوالی، د لخته کېدو ابنار ملتیې لکه DIC د اوبو او الکترولایتونو د توازن ابنار ملتیې لکه ډي هایدریشن، هایپوکالیما، هایپو فاسفتیمیا، هایپو کلیمیا او د استقلابي Lactic acidosis او د عضلاتو جرحې Rhab domyolysis او Myog lobinuria واقع کېږي. (۱)

هره ناروغي چې د هایپرترمیا سبب کېږي، Heat stroke منځته راوړلای شي، په ځوانو خلکو کې په ګرم محیط کې د شاقه تمریناتو اجرا کول دي، د اعراضو شروع عموماً ناڅاپي وي. په زړو خلکو کې Heat stroke د یوې اوږدې مودې څخه وروسته په ګرم محیط کې واقع کېږي، مخبروي اعراض یې بې اشتهایي، زړه بدوالی، کانګې او غیر معمول سلوک چې د هغې نه وروسته کولپس واقع کېږي، د خولو نشتوالی معمول وي. (۷)

## درملنه:

د Heat stroke تداوي کې باید په چټکه توګه یا ډېر ژر د وجود د حرارت درجه ټیټه کړای شي او د زړه دهانه د اړتیا او ضرورت په سویه وساتل شي. د وجود د حرارت درجې ښکته کول داسې صورت نیسي چې د ناروغ کالي ویستل کېږي او ناروغ د یخ په اوبو کې لمبوي او یا د یو بادپکي په موجودیت کې په پوستکي باندې د یخ مساژ اجرا کېږي، که چېرې د حرارت درجه د 106 f° یا 41° c څخه لوړه وي، نو د وجود یخوالی ضروري وي، کله چې د حرارت درجه 102°f یا 38° c ته راټیټه شي، نو چټک یخوالي ته توقف ورکول کېږي، ځکه چې د مقعد د حرارت درجه د وجود د حرارت د درجې څخه کمه وي، یوازې د یخولو په واسطه هم ځواب ورکوي. په عمومي توګه په Heat stroke ناروغانو کې CVP یا مرکزي وریدي فشار لوړ وي او باید مایعات په ډېر احتیاط ورکړل شي، د ډېر زیات مقدار مایعاتو توصیه کول د زړه د جرحې له کبله د سږو اذیما منځ ته راوړي. هغه هایپوتنشن چې د یخ کولو او د مایعاتو د تطبیق څخه وروسته دوام وکړي، د ایزو پروتینول په واسطه تداوي کېږي. د هایپو کلیمیا او د زړه د جرحې د زیات پېښېدو له کبله باید digitalis په ډېر احتیاط سره ورکړل شي، ځینې مولفین داسې څرګندوي چې د لړزې له کبله Thermo genesis د فینو تیازین په واسطه تداوي کېږي، لیکن دا عوامل د هایپو تنشن سبب کېږي او همدارنګه د ناروغۍ د ناڅاپي حملې سبب هم ګرځي. د ادرار جریان باید په ډېر احتیاط سره کنترول شي، که چېرې په اول کې اولیګوریا پیدا شي، نو د ډیوریزس د شروع کولو لپاره مانیتول توصیه کېدای شي، همدا ډول ادرار باید د مایوګلوبین لپاره هم معاینه شي. (۵م۲۱۵)

د ناروغۍ ناڅاپي حمله Hyper Catabolic حالت Hyper kalemia زیاتوي او حاده کلیوي عدم کفایه د لومړني هیموډیالیزیس لپاره یو استطباب دی. د Heat stroke په کوا ګولو پاتې کې د هیپارین استعمال لا تر اوسه نه دی معلوم شوی، د هایپر ترمیا د اصلاح نه څو ورځې وروسته خوله کېدل موجود نه وي او د وجود د حرارت درجه په دې دوران کې تغیر خوري.

## پایله:

د تودوخې د درجې په زیاته اندازه لوړوالي کې ناروغان په غیر شعوري حالت حتی د کوما په صفحه کې داخلېږي چې ناروغان یې د زیاتو ستونزو او کړاونو حتی د مړینې د ګواښ سره مخامخېږي چې په دې توګه اړینه ده، خلک د

نوموړې وژونکې ناروغۍ څخه د خلاصون په خاطر د دوبي په موسم کې د امکان تر حده د زیاتې تودوخې سره د مخامخېدو او یا د خولو د تویېدلو څخه ځان وژغوري او هم کوښښ وکړي چې په داسې حالاتو کې د لمر د وړانګو څخه او یا د هغې په موجودیت کې د شاقه کارونو څخه د ځان لپاره وقایوي تدابیر ونیسي او په همدې موده کې مایعات، مالګه او حتی کولای شي چې د O.R.S محلولونو څخه ګټه واخلي. د جل وهنې د مرحلې څخه مخکې که د هېوکو، ځان درد او تبه پیدا کېږي چې د تودوخې د ستومانتیا له کبله هم باید مایعات واخلي او که د ناروغ د تودوخې درجه لوړه وي او خولې نه وي، په داسې حال کې په ناروغ یخ تطبیقات اجرا کېږي، ترڅو د حرارت درجه نورمال شي او هم د خولې له لارې اد انفیوژن په شکل مایعات د ډاکتر د توصیې سره سم واخلي.

## وړاندیزونه:

1. د دوبي په موسم کې، خصوصاً په ګرمو سیمو کې دې شاقه کارونه په احتیاط سرته ورسول شي.
2. که مساعدوونکي فکتورونه موجود وي، باید شاقه کارونه ترسره نه کړي.
3. که ناروغ په بې هوشه حالت کې وي، نو باید ژر تر ژره روغتون ته ورسول شي.
4. روغتون ته د رسېدو څخه مخکې باید په ناروغ یخ تطبیقات اجرا شي.
5. ښاریانو او د ګرمو سیمو خلکو ته ددې ناروغۍ په هکله صحي تعلیماتو ښودل اړین دي.
6. د شاقه کارونو د اجرا په صورت کې د تودوخې څخه د مخنیوي په خاطر د ورځې په اوږدو کې مناسب وختونه باید په پام کې ونیول شي.


## Abstract:

Heat stroke is one of the fatal diseases, caused by hyperthermia, when the temperature exceeds or above 106 f or 40 c with high grade fever. it is consist of unconscious state with no sweating .I discus the heat stroke disorder in detail with pathogenesis , investigation and emergency treatment .I also discussed some suggestion for medical personal and people too . I hope It well be usefull for the medical Personals.



## References:

1. ATKINSE (1983) FEVER-NEW PERSPECTIVE ON AN 0LD PHENOMENON.N.N. ENGL. J .MED 308:958
2. ANDERSON R (1983) HEAT STROKE, ADV.INT. MED 115
3. DIXON B, SWEATING IT OUT. BR. MED J, 299:866
4. JAOBY G. ETAL, (1973) FEVER UNDETERMINED ORIGIN. N, ENGL. J MED, 289:1407
5. LANGO, DANL; FANCI. ANTHONY’S; KASPER DENNIS L (2012) HARRISSON’S PRINCIPLES OF INTERNAL MEDICINE 18TH EDITION, INTERNATIONAL MC GRAW. HILL. MEDICAL USA CHAP: 270, 215, 2238
6. MERK MANUAL OF DIAGNOSIS AND THERAPY 6TH EDITION. MERK AND CO. INC. COMPANY. USA. 1992. CH 255. PP; 2359.2361
7. MICHEAL F. OKEEFE, DANIEL LIMMER. HAVEY D. GRANT. ROBERTH. H. MURRY. JRJ. DAVID BERGER ON EMERGENCY CARE 8TH EDITION 1998. PP; 425. 427
8. RICHARD ROBINSON AND ROBIN STOTT (1993) MEDICAL EMERGENCIES DIAGNOSIS AND MANAGEMENT 6TH EDITION, P 295

پوهنوال ګلاب شاه (سبحاني)- اقتصاد پوهنځی
د ملي اقتصاد پلان جوړونې څانګه

# د جرم په مخنيوي کې د کريمنولوژي رول

**لنډيز**:

کريمنولوژي د جرم د ارتکاب دلايل يا علتونه څېړي او د جرم د مخنيوي لارې چارې په ګوته کوي. دغه څانګه په حقيقت کې د جنايي ټولو څانګو او د جزا حقوقو د علم سره نېغه اړيکه لري او د همدغو پوهنو په رڼا کې اجرات کوي. ددې ترڅنګ په غير مستقيم ډول له طب، اقتصاد، احصايې، ارواپوهنې او تعليم او تربيې سره هم اړيکه لري. ډېره مهمه ده چې کريمينولوژي د مجرمينو شخصيت بررسي کوي او د راتلونکي اصلاح لپاره يې لارې او طريقې ښکاره کوي. که دې څانګې ته پوره پاملرنه وشي او په هکله يې پوره پوهه موجوده وي، د جرمونو په کنترول او کمښت کې ډېر اغېزمنتوب راتلای شي. د کريمنولوژي مهم هدف د جرم علل او عوامل مطالعه کول دي، د هغو د له منځه وړلو لارې پيشنهادوي او د مجرم شخصيت بررسي کوي او د هغه د اصلاح او بيا روزنې لپاره لازمې لارې چارې ټاکي. د کريمنولوژي رول په او سني وخت کې دادی چې د جرم مخه ونيول شي او په راتلونکي کې د جرمونو اندازه کمه شي.

**سريزه**:

کريمنولوژي د جنايي علومو يوه نسبتاً نوې څانګه ده چې د ټولنيز ثبات ساتلو، د عدالت د رينبتينې تامين، د جرم پېژندلو د ثبوت، د مجرم کشف او د جرم د اندازې لپاره يوه داسې پوهه ده چې په هغې سره کولای شو هم د راتلونکي لپاره د جرمونو د پېښېدو په مخنيوي کې رول ادا کړو او هم په غير عادلانه توګه د متضرر حق ضايع نشي او د مجرم په ځای بل څوک سزا ونهويني. د جرم په مخنيوي کې يو شمېر مشخص عوامل رول لري لکه د مجرم بياروزنه، د ټولنې د قناعت حاصلول، د عدالت رعايت، د سزا اندازه د جرم په تناسب ټاکل، د مجرم د جرم د اثبات ډاډمن کول او نور؛ د پوليسي ارګانونو کاري ظرفيت اوچتوي او له مونږ سره مرسته کوي چې د جرم په عواملو، د هغو د مخنيوي په لارو چارو پوه شو او خپلې کړنې او فعاليتونه اغېزمن او مؤثر کړو. کريمنولوژي د جرم د شدت له مخې د جرمونو تفکيک کوي او د مادي او غير مادي عناصرو په مرسته د هغې موخې ښې ترلاسه کولای شو. دغه موضوع د قضايي ارګانونو، امنيتي مراجعو، طب په تېره بيا د عدلي طب کارکوونکو او څارنوالۍ ته په زړه پورې او ګټوره واقع کېدای شي؛ همدارنګه د عامو لوستونکو د معلوماتو لپاره هم ګټوره ده.

**موخې**:

د څېړنې موخه د جرم مخنيوی، د کريمنولوژي د مفهوم او هدف ښودل، د قانونيت پرنسيب څرګندول او د جزا د ټاکلو د اصولو رعايت دی، تر څو قضايي او پوليسي ارګانونه د هغو په هکله پوره معلومات ولري او په ارزښت يې خبر اوسي.

**د کريمنولوژي** (*Criminology*) **مفهوم**:

کريمنولوژي يو غير حقوقي جنايي علم دی چې د جرم علل او عوامل او همدارنګه د مجرم شخصيت مطالعه کوي او د هغې دوباره اصلاح او تربيې لپاره لازم تدابير پيشبيني کوي. (۳م۸۹)

يا په بل عبارت کريمينولوژي د جنايي علومو يوه برخه ده چې د جرم علل او عوامل مطالعه کوي او د هغې د له منځه وړلو لارې پيشنهادوي او د مجرم شخصيت بررسي کوي او د هغه د اصلاح او بيا روزنې لپاره لازمې لارې په ګوته کوي. کريمينولوژي د جنايي علوملو يوه مهمه څانګه ده چې له يو شمېر نورو ټولنيزو علومو سره نژدې اړيکې لري، څرنګه چې له نامه يې ځرګندېږي د جنايي علومو څخه يو علم دی چې د جرم علل او عوامل څېړي او د هغې د له منځه وړلو لارې چارې ښکاره کوي. همدغه علم د مجرم شخصيت بررسي کوي او د هغو د اصلاح او بيا روزنې په خاطر لارې چارې لټوي. (۲م۳۴)

دغه علم د جزا پېژندنې يا (Penology) او د عمومي جزا حقوقو د نورو څانګو سره ډېرې نژدې اړيکې لري، له دې امله چې د جزاګانو مفهوم اخري مفهوم دی، ځکه چې لومړی جرم واقع کېږي او بيا يې مجرم مشخص کېږي او بيا وروسته په مجرم باندې جزا تطبيقېږي، نو په دې توګه د کريمنولوژي د علم سره ډېر نور بعدي مسايل تړاو پيدا کوي؛ له دې امله په دغه مقاله کې د هغو لوستونکو د معلوماتو په خاطر چې د حقوقو د علم سره تړاو لري او هم د هغو لوستونکو لپاره چې په دې هکله د عمومي معلوماتو غوښتونکي وي، د کريمنولوژي له ساحې سره په سيده او ناسيده توګه تړلي مسايل تشريح کېږي. له دې امله چې جرم يوه خطرناکه ټولنيزه پديده ده، نو د هغې د پېژندلو، مخنيوي او محدودولو لپاره بايد اقدام وشي. جرم د قانون هر هغه خلاف عمل دی چې قانون ورته جزا ټاکلې وي. که چېرې د جرم عناصر ونه پېژندل شي، نو قضايي او پوليسي ارګانونه به د جرم پېژندنې، مجرم پېژندنې او په ټوله کې د جرم د مخنيوي څخه عاجز پاتې شي. څرنګه چې کريمينولوژي د جرم او مجرم لپاره کوم تعريف نه لري، نو په دې توګه مونږ غواړو چې د جزا د حقوقو له نظره جرم او د هغې درې ګوني عناصر قانوني، مادي او معنوي عنصر په جلا جلا توګه تر بحث لاندې نيسو:

## الف- د جرم پېژندنې قانوني عنصر:

يو عمل هغه وخت جرم ګڼل کېږي چې د جزا قانون له خوا جرم ګڼل شوی وي او دې ته د جزاګانو پرنسيپ هم وايي. دغه پرنسيپ بيا په خپل وار په دوو نورو برخو ويشل کېږي چې لومړي ته يې د قانونيت پرنسيپ وايي او دويم ته يې د جزاګانو د قانونيت پرنسيپ وايي؛ په دې هکله د افغانستان قوانين په صراحت سره وايي چې هيڅ عمل جرم نه دی، مګر دا چې د قانون له مخې جرم وګڼل شي؛ هيڅوک نشي مجازات کېدای، مګر د قانون له مخې. د افغانستان ټولو تقنيني اسنادو همدا دوه پرنسيپو نه د جرم پېژندنې (Criminology) لپاره ثابت بللي او عمل پرې کېږي. د افغانستان د اساسي قانون اوه ويشتمه ماده وايي: ((هيڅ يو عمل جرم نه ګڼل کېږي، خو د هغه قانون له مخې چې د جرم د ارتکاب د مخه نافذ شوی وي.)) (۸)

## ب- د جرم پېژندنې مادي عنصر:

يو جرم پېژندونکی بايد هغه عمل د جرم په توګه وپېژني چې هغه د قانون له خوا جرم تعريف شوی وي، خو په عملي توګه د دغه ډول عمل د اثبات لپاره بايد د قانوني عنصر تر څنګ مادي عنصر هم په ثبوت ورسېږي، په دې معنی هغه عمل چې د جرم په توګه ګڼل شوی بايد عملاً او مادتاً موجود وي او ترسره شوی وي او يا لږ تر لږه د هغه اجرات شروع شوي وي، نو که يو جرمي عمل چې نه کاملاً اجرا شوی وي او نه يې اجرات شروع شوي وي، دې عمل ته په کريمنولوژي کې جرم نه ويل کېږي، ځکه چې دلته مادي عنصر نه تر سترګو کېږي. (۵م۹۷، ۹۸)

## ج- معنوي عنصر:

دې عنصر ته ځينې حقوق پوهان اخلاقي عنصر هم وايي. په حقيقت کې ددې لپاره چې د يو جرمي عمل فاعل مسئول وګڼل شي او هغه ته جزا ورکړل شي، يوازې قانوني او مادي عنصر کفايت نه کوي، بلکې معنوي عنصر هم

باید د جرم پېژندونکي لخوا ثابت شي، یعنې په یوه جرمي عمل کې باید د شخص اراده شامله وي او اراده لرونکی شخص بالغ او هوښیار وي؛ ماشوم او لېوني غیر مسئول او غیر قابل مجازات ګڼل کېږي. په دې توګه د کریمنولوژۍ څانګه د پورته عناصرو له مخې د جرم د ماهیت، علت، ارتکاب او د هغو د مخنیوي او د جرمي اعمالو د بندولو په خاطر کار کوي او همدا د کریمنولوژۍ موضوع جوړوي. د جرم پېژندنې څانګې اصلي موضوع د جرم د هغو فردي او اجتماعي عواملو تثبیتول دي چې د جرمي اعمالو د ترسره کولو لامل کېږي.

کریمنولوژۍ او د هغې اړونده مفاهیمو د اوږدې مودې په ترڅ کې تکامل وکړ او نن ورځ یې د یوې عصري او ځانګړې څانګې په توګه تبارز کړی. د لومړي ځل لپاره یې په اتلسمه پېړۍ کې له دیني افکارو څخه جلا څېړنې پیل شوې؛ یو شمېر انتروپولوجستانو او فزیولوجستانو د انسان د سر کوپړۍ او د انسان د غیر عادي کړو وړو په هکله څېړنې وکړې او فرانسیس جوزف ګال په دې برخه کې غوره توضیحات ورکړل او د جزا د قوانینو او د مجازاتو د سیستم په اړه یې سمون راوست. (۱م۴۸)

ایټالوي حقوق پوه مارچسې دي بکاریا(Marches de Bicaria) او انګلیسي جرمي بینتام (Jeremy Bentham) یو شمېر اصلاحات په دې برخه کې رامنځته کړل، ایټالوي پروفیسور او د تورین (Turin) پوهنتون استاد سیزار لومبروسو(Cesare Lom Broso) د جرم او مجرم په هکله د نن ورځې د پرمختللو تحقیقاتو بنسټ کېښود، هغه د (جنایت کار سړی) عنوان لاندې په۱۸۷۲ م کې د لومړنیو تحقیقاتو نتایج ارایه کړل چې په دغه څانګه کې لومړی په ټوله ایټالیا او وروسته په ټوله اروپا کې مخکښ وپېژندل شو. هغه د جرم لاملونه په نسب او بیولوژیکي ریښې پورې وتړل او د اروپا څېړونکو دا موضوع انتروپولوژۍ پورې وتړله، خو له مور څخه د پیدا شوي مجرم نظریه رد شوه، خو د انتروپولوژۍ مکتب دوام وموند. دغې څانګې خپلې څېړنې یوازې د نیکونو د ځانګړتیاوو، د دماغ نا انډولۍ، سرع او ایندوکرمنیولوژۍ پورې منحصر کړل. فرانسوي مونتیسکو (Montesquieu) د جرم پېژندنې یو بل مکتب رامنځته کړ چې د جرم لامل یې په طبیعي (تود، سوړ، مرطوب، وچ) چاپېریال کې څېړنې لاندې ونیو، وروسته ټولنیز مکتب رامنځته شو چې د فرانسوي ټولنپوه ګابریل تارد (Gabril Tard) لخوا پرمخ بوتلل شو. (۲م۸۹)

ددغه مکتب پلویان وایي چې جرم په ټولنیز چاپېریال کې د افرادو له اغېزې او تقلید څخه پېښېږي، یو شمېر نور وایي چې جرم له ټولنیز چاپېریال سره د یو شخص د نه تطابق له امله پیدا کېږي او مجرم د ناانډوله ټولنې محصول دی. دغې څانګې د ډېرو پوهانو پام ځانته راواړوه، تر څو چې کریمنولوژۍ په مجهزو وسایلو سمباله شوه او نن ورځ د جرم په پېژندنه او مخنیوي کې ورڅخه غوره استفاده کېږي. له دې امله چې کریمنولوژۍ د نورو علومو لکه طب، اروا پوهنې، ټولنپوهنې او احصایې سره رابطه لري، نو هغه مېتودونه چې په کریمنالیستک کې د جرم د ثبوت لپاره کارول کېږي او د ځانګړو تخنیکونو په واسطه د جرم شدت، اندازه او علل ورباندې روښانه کېږي، د همدغو څانګو په مرسته تاکل کېږي، نو ځکه یې دا ټول سره په رابطه کې دي. (۴م۴۰)

د نن ورځې په جرم پېژندنه کې د جرمي مفکورې پېژندل او اصلاً د هغې د واقع کېدو مخنیوی اساسي محور جوړوي، جرمي مفکوره دې ته وایي چې کله د یو چا په فکر او مغزو کې د جرم د ارتکاب، تمایلات او وسوسه پیدا شي او نن ورځ تر ټولو ستونزمنه مسئله همدا ده، تر څو د جرمي مفکورې بنسټ وپېژندل شي او د هغې د مخنیوي لپاره لازې چارې ولټول شي.

## د کریمنولوژۍ موخې(*Objectives of Criminology*):

د جرم د علل پېژندنې پوهه چې د احتمالي جرم د وقوع مخنیوی کوي، کریمنولوژي بلل کېږي. دغه علم کوښښ کوي هغه وګړي چې د بېلا بېلو فردي او اجتماعي اغېزو له امله په جرم لاس پورې کوي، د بېلابېلو امکاناتو او لارو

چاروڅخه په استفادې له هغه څخه يو روغ او د ټولنې سره سازګار شخص جوړ کړي. دغه مقصد ته رسېدل له بېلابېلو تکتيکونو څخه په ګټې اخيستنې سره په لاندې ډول څېړل کېږي:

## الف- د جرم د انګېزې پېژندنه:

د کريمنولوژي هدف دلته دادی چې د مجرم ټول فردي خصوصيات، روحي تمايلات، ژوند ته د هغه اړتيا ، د هغه حال او ماضي او نور چې د ناسازګارئ عامل شوې دي، وپېژني. نن ورځ د پخوا پر خلاف يوازې د مجرم مجازات کول هدف نه دي، بلکې د مجرم اصلاح کول ډېر مهم دي.

## ب- د مجرم د اصلاح په منظور د قوانينو بدلول:

د مجرم د معالجې او درملنې لپاره يوازې د هغه د جرم د علت څېړل بسنه نه کوي، بلکې داسې يو شمېر ضوابطو او مقرراتو ته هم اړتيا ده چې د هغو په مرسته د مجرم د روحي او جسمي درملنې کمی پوره او مناسب هماهنګ تدابير ونيول شي، ترڅو د مجرم د عمل او روحيې سره په هماهنګ ډول اقدام وشي. نن ورځ د قانون په برخه کې د جرم او مجرم په بحث کې يوازې د يو څه ډارونکو او عبرت انګېزو مواردو ليکل بسنه نه کوي، بلکې مهمه خبره د هغه يو شمېر مقرراتو وړاندوينه او اټکل کول دي چې د ټولنې د عيني اړتياوو سره برابر وي، فردي او اجتماعي ازادي يې تامين شي او عدالت ترسره کړي او هغه څوک چې جرم يې ترسره کړی وي، د يو شمېر محدوديتونو او مسئوليتونو په قبلولو سره د خپل ځان په اصلاح کولو دې ته حاضرېږي چې ځان ټولنيز ژوند ته په ښه توګه چمتو کړي او بد ارتکابي عمل ته بد ووايي. د نويو حقوقو جزا جرم فقط فردي او شخصي پديده بولي او پرته د مجرم، بل فرد ته نه متوجه کېږي. (۴م۱۲)

## ج- مخنيوی:

د کريمنولوژي مهم او اخري هدف دادی چې لکه د طب په شان د جرم د ناروغۍ سره مبارزه وشي او د مجرم او جرم تر منځ د علت رابطه وپېژني. جرم او مجرم دواړه مطالعه کړي، ترڅو د جرم دلايل او انګېزه پيدا شي. نن ورځ د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې د جرم او مجرم په اړه مطالعات شوي دي او د جرم د پېښېدو دلايل پلټل شوي دي؛ د جرم د مخنيوي په خاطر هم د جرم د واقع کېدو څخه مخکې او هم د جرم د واقع کېدو څخه وروسته يو شمېر موثر تدابير نيول کېدای شي چې هدف يې د جرم او مجرم د مخنيوي، علت او وقوع لپاره تدابير دي، تر څو د جرم او مجرم د انګېزې مخه ونيول شي، لکه په الکولي مشروباتو د عادت کېدو څخه مخنيوی او نور. (۳م۸۹)

په دې توګه پورته ذکر شوي ټول اجرات او تدابير د دې لامل کېږي چې په ټولنه کې د جرم اندازه راکمه او مجازات ګټور ثابت شي، په تېره بيا د جرم د عواملو پېژندل او د مجرم اصلاح کول په دې برخه کې ډېر ګټور تمامېږي. دا هم بايد ووايو چې کريمنولوژي په معاصره بڼه يوه نوې ځانګه ده خو د هغې ضرورت، طريقې او اهميت ډېر پخوا پېژندل شوی و چې د وخت په تېرېدو سره نوره هم بشپړتيا په کې راغلې او د حقوقو ټولو ځانګو سره يې رابطه ومونده، د همدغه اهميت له مخې د افغانستان د جزا قانون ډېر مواد په کريمنولوژي او د هغې په موخو پورې تړاو لري. د افغانستان د جزا قانون چې په **۱۳۵۵**ل کال کې نافذ شوی دغه موارد په خپل(۳۰-۳۱-۳۲-۳۳او **۳۴** مادو کې څرګندوي؛ همدارنګه د دغه قانون **۳۸** مه ماده د جرم فاعل، شريکان او نور توضيح کوي. د جرم پېژندنې پرمختګ وکولای شو چې د ګڼ شمېر جرمونو مخنيوی وکړي او له روحی، تربيتي او اصلاحي پلوه د مجرمينو او جرمي اعمالو په کمښت کې مثبت رول ترسره کړي او له بلې خوا انساني کرامت هم په خپل حال وساتي.

## پايله:

له پورته څېړنې څرګنده شوه چې کريمنولوژي د جنايي علومو يو مهم علم دی چې د جرمونو د علتونو او عواملو په هکله مطالعه کوي او په پای کې د هغو د له منځه وړلو او مخنيوي ډېرې موثرې او غوره لارې پيشنهادوي او د مجرم شخصيت

بررسي کوي او د مجرم دوباره اصلاح او روزنې لپاره لازمي لارښوونې ارايه کوي. د يادو ټکو په نظر کې نيولو سره دې پايلې ته رسېږو چې د کريمينولوژي د يوې ټولنې د مصئونيت او خونديتوب لپاره حياتي ارزښت لري او د جرايمو د ګراف په راټيټېدو کې مرسته کوي چې د يادې څانګې د فعاليت د نه شتون په صورت کې د ټولنې د وګړو ژوند د بېلابېلو جرمي ګواښونو سره مخ کېدای شي.

## وړانديزونه:

زمونږ په ګران هېواد کې له بده مرغه تر اوسه د کريمنولوژي په برخه کې لازم پرمختګ نه دی شوی او همدا لامل دی چې په دې برخه کې غوره لاسته راوړنې هم نلرو؛ د يادې نيمګړتيا د بشپړتيا لپاره بايد لاندې ټکي په نظر کې ونيول شي:

۱. د کريمنولوژي اصول بايد په اړوندو ارګانونو کې په سمه او اغېزمنه توګه تطبيق شي.

۲. د کريمنولوژي پوهنې څانګې محتوا ته بايد ځانګړې پاملرنه وشي او ددې څانګې زده کوونکو ته دې لازم درسي مواد او نورې اسانتياوې برابرې شي.

۳. د کريمنولوژي په برخه کې دې په منظمه توګه علمي کدرونه وروزل شي او هغه کسان چې په دې برخه کې کار کوي، د هغوی د مسلکي سويې لوړولو اقدام دې وشي.

۴- هغه عدلي او پوليسي ارګانونه چې په دې برخه کې کار کوي، بايد په پرمختللو وسايلو سنبال شي.

د پورته کړنو ترسراوی له مونږ سره د جرم د ګراف په راټيټولو او مجرم په اصلاح او په ټوله کې د يوې خوندي ټولنې په رامنځته کولو کې لازمه مرسته کولای شي.


## Abstract:

The role of criminology in crime control

Criminology is a new branch of social sciences. Social safety and security is aim of states so criminology is helping for this aims. Criminology is helpful and vital branch. This science has link with psychology, education, the basic importance and role of the criminology is that it become and effective factor in crime control and educated the criminal system. Economics, anthropology, physiology law, and justices. Criminology shows the size and efficiency of crime. Unfortunately we have fewer tips of these sciences. There were some tradition and primary methods for criminology in Afghanistan, which show the size location and efficiency of crime. Islamic law also has some justice's norms about this object. Hope to develop some research, translation and write some Textbook and articles in this area, to show this important. This aim of today criminology is avoid of crime. By understanding of these branches, we can find hide and visible crimes. The basic purpose of this article is to assist lawyer, student, Judges and all the related to develop a true understanding of the subject of criminology. To accomplish this objective an attempt has been made a lawful society and suitable, smoothly and secure life of society.


## اخځليکونه:


۱. توانا، دکترعلی نجفی.(۱۳۸۱). جرم شناسی- چاپ دوهم. تهران: کتابخانه ملی ایران.

۲. دانش، حفيظ الله (۱۳۸۹). جزاشناسي.کابل: انتشارات مستقبل.

۳. ستانکزی، نصرالله (۱۳۸۷). مبادي حقوق. کابل: پوهنتون کابل- پوهنځی حقوق و علوم سیاسی.

۴.صدارت، علی. (۱۳۴۰). حقوق جزا و جرم شناسی. ایران: نشرات دانشگاه تهران.

۵.صلاحی، جاوید. (۱۳۵۳). کیفرشناسی، چاپ دوهم. ایران: نشرات دانشگاه تهران.

۶.اریانا دایرة المعارف. (۱۳۸۹). دریيم جلد. د افغانستان د علومو اکاډيمي. کابل: نبراسکا مطبعه.

۷.د افغانستان اساسي قانون. (۱۳۸۲). کابل_افغانستان.

۸. د افغانستان د جزا قانون. ( ۱۳۵۵). کابل: د عدليې وزارت دولتي مطبعه.

پوهنوال سید انعام (سیدي)
طب پوهنځی- داخله څانګه

# د (Dengue Fever) ناروغۍ پېژندنه او مخنیوی

## لنډیز:

دینګ یوه انتاني ساري ناروغي ده چې د Aedes aegypt mosquitoes غوماشو پـه واسطه لېږدېږي، څلور سیروټایپونه لري، د تفریح دوره یې د ۳-۱۵ورځو پورې ده؛ ناروغي د تبې، لړزې، سر درد، د سترګو د ګاټو درد او د شا او لنګیو درد سره پیل کوي. د ناروغ مخ او سترګې سوروالی لري، بیا د پښو او لاسونو ورغوو څخه مکولو پپولرش پیلېږي او پـه ټول بدن کې ځای نیسي. د ناروغ په غاړه او تخرګونو کې لمفاوي غوټې غټې شوي او دردناکه وي؛ د ناروغۍ په بحراني مرحله کې د وینې بهېدنې او د شاک پېښې منځته راځي چې د dengue hemorrhagic fever پـه نوم یادېږي. د ناروغۍ پـه تشخیص کې په حجروي کلچر کې د ویروس موندنه، PCR او د Igm ځانګړي انتي باډي ارزښت لري. د مخنیوي لپاره یې د ولاړو اوبو ډنډونه باید له منځه یوړل شي؛ د دې ناروغۍ لپاره تر اوسه واکسین په لاس کې نشته او ځانګړې درملنه یې هم وجود نه لري.

## سریزه:

دینګ فیور ناروغي د نړۍ د ۱۱۰څخه په زیاتو هېوادونو کې په اندیمیک ډول لیدل کېږي. هر کال د دې ناروغۍ سره د ۵۰-۱۰۰میلونو څخه زیات خلک منتن کېږي چې د نیم میلون څخه زیاتو منتنو وګړو پـه روغتون کې بستر کېدلو تـه اړتیا پېښېږي او ۲۵۰۰۰-۱۲۵۰۰تنو د مړینې سبب ګرځي. که درملنه یې ونشي د ناروغۍ پـه وخیم ډول کې بـه یې د مړینې کچه تر ۴۰٪ پورې لوړه شي. د ۱۹۶۰څخه ۲۰۱۰م کلونو پورې ددې ناروغۍ پېښې تر ۳۰ ځلو زیاتې شوې دي چې لامل یې د ژوند ښاري کېدنې، د بین المللي سفرونو زیاتوالی او د چاپېریال ککړتیا او ګرموالی ګڼل شوی دی. (۱)

په تېرو څو لسیزو کې ددې تبې دینګ هیمورژیک ناروغۍ په اپیدیمک ډول سره په چین، سریلانکا، هند، مالدیوي، بنګلادیش او پاکستان کې لیدل شوې وه. دا ناروغي پـه اول ځل پـه ۱۹۹۲م کې پـه کراچۍ ښار کې ولیدل شوه او بیا د پاکستان په نورو ښارونو کې راڅرګنده شوه. د ۲۰۰۵ م کال په دسمبر کې یو ځل بیا د کراچۍ ښار کې او د پاکستان په ځینو ښارونو کې منځته راغله. په ۲۰۰۸ م کال کې د لاهور په ښار کې ناروغۍ بیا سر راپورته کړ. د ۲۰۱۱م کال پـه نیمايي کې د دینګ تبې وخیم انتان په ټول پاکستان کې خپور شو چې تر۳۵۰۰ تنو پـورې پـه ناروغۍ اختـه او پـه سوونو خلکو ددې ناروغۍ له کبله خپل ژوند له لاسه ورکړ. ویل کېږي چې تر ۵۰۰۰۰ زیات خلک په ټول پاکستان کې پـه دې ناروغۍ منتن شوي وو. په پنجاب کې ددې ناروغۍ ټول څلور سیروتیپ ډولونـه پـه ناروغـانو کې موندل شوي وو؛ دا ناروغي تر خیبر پښتونخوا پورې هم راغځېدلې وه. (۳)

## موخې:

څرنګه چې پاکستان زمونږ ګاونډي هېواد دی او هره ورځ په زرګونو هېوادوال او مهاجر دواړو لورو تـه تګ راتګ کوي، ددې ناروغۍ د احتمالي خطر د مخنیوي او د ناروغۍ پـه اړوند د پوهاوي لپاره د داخلي دیپارټمنټ لخوا دنده راکړل شوه، ترڅو د دینګ ناروغۍ پـه هکله یوه علمي مقالـه ترتیب کړم چې زمونږ ګران هېوادوال ددې ناروغۍ د لېږدېدنې او خطر پـه برخـه کې معلومات حاصل او روغتیايي کارکوونکي د ناروغۍ د مخنیوي او درملنې لپاره پـه راتلونکې کې خبرتیا ولري.

## د ډينګ تبه *Dengue fever* ناروغۍ پېژندنه:

د ډنګیو د تبې ناروغي چې flavi virus له کبله منځته راځي، د Aedes mosquito د چیچلو له کبله لېږدېږي. دا ویروس Single stranded NA ویروس دی. هر کال په اټکلي توګه د ۱۰۰-۵۰ میلونه د ډینګ فیور او تر څلور سوه زرو پورې د dengue hemoerrhagic fever پېښې په نړۍ کې لیدل شوې دي. که چېرې ویروس په داسې ټولنو کې چې وګړي يې د ویروس په وړاندې ټینګار ونلري، راڅرګند شي د اپیدیمیک حملې اندازه به يې ٪۷۰-۵۰ پورې ورسېږي. تر کومې کچې د ډینګ فیور یوه اندیمکه ناروغي ده د هغه سیرولوژیکو پلټنو څخه چې په تکزاس کې ترسره شوې دي، د غوماشې په لاروا کې تر د برش سلنې پورې ویروس موندل شوی دی. د ډینګ هیموراژیک فیور اپیډیمی د serotype-3 له کبله شل کاله مخکې منځته راغلې وه. د شمالي افریقا، سریلانکا او لاتین امریکا هېوادونه يې ځپلي وو. د ناروغۍ ډېر پرمختللی ډول چې د هیموراژیک فیور او شاک په نوم نومول شوی دی، په امریکا کې نسبت اسیا ته زیات را منځته کېږي؛ د ناروغۍ د دغه ورستني ډول حمله په ۲۰۰۵م کال کې چې د dengue hemorrhagic fever په ډول وه، د امریکا په متحده ایالاتو کې ولیدل شوه، چې ژر خپره شوه او په کمه موده کې يې په browns vile Texas او Matamoras کې ۲۰۰۰ تنه اخته کړه. په مکسیکو کې د 2- sero type ویروس له کبله ناروغي منځته راغلې وه چې د ملاریا وروسته په مکسیکو کې د تبې دویم لوی سبب ګڼل کېږي. (۲م۸)

**لامل** (*cause*):

د ډینګ ویروس جینوم ۱۱۰۰۰nucleotide څخه جوړ شوی دی چې د درې ډولو پروټینې مالیکولونو (C, PRM and E) لرونکی دی. د ډینګ ویروس څلور sero type لري. چې د DENV-1 د DENV-2 DENV-3 DENV-4 څخه عبارت دي. ددې هر ډول په ټولیزه توګه د ناروغۍ سبب کېدی شي، که د یو سیروتیپ سره ناروغي منځته راغلې وي، د هماغه ډول په وړاندې د ټول عمر لپاره امیونیټي منځته راځي، خو د بل ډول په وړاندې به دغه معافیت د لنډې مودې لپاره وي. (۲م۸)

## د ناروغۍ کلینیکي موندنې:

د ناروغۍ ګیلې او نښې (symptoms and signs):

د ډینګ ناروغۍ د بې ګیلو (asymptomatic) حالت څخه نیولې تر سمپټوماتیک sever -hemorrhagic- fever او حتی dengue shock-syndrome پورې چې د مړینې سبب ګرځي، لیدل کېږي. (۵)

د ناروغۍ د تفریخ دوره د 14-3 ورځې ده چې په منځنۍ توګه د ۴-۷ ورځو پورې وي، نو په دې توګه چې کله مسافرین د اندیمک ساحې څخه کورته راشي، که د ۱۴ورځو څخه وروسته په کې تبه راپیدا شي، دا به د ډینګ تبې څخه نماینده ګي ونکړي. د ډنګیو فیور ځانګړې ګیلې د تبې د نابېره حملې، سر درد، د سترګو شاوخوا برخې دردونه، عضلي درد، د بندونو درد او د پوستکي د پاسه Rash دینګي څخه عبارت دي. ددې ناروغۍ تګلاره کې درې پړاوونه راځي:

- Fibrile(تبجن)
- Critical (بحراني)
- Recovery (روغوالی) (۷)

د تبجن پړاو په وخت ناروغ کې 40c درجې تبه د سر او ټول بدن د درد سره موجود وي. دغه حالت د 2-7 ورځو پورې دوام کوي، په دې پړاو کې کېدای شي 50 نه تر 80 سلنه ناروغانو کې په پوستکي کې Rash راڅرګند شي چې په اوله یا دویمه ورځ کې به د ټول پوستکي رنګ سور واوړي؛ بیا وروسته د 4-7 ورځو په موده کې به د شري (measles-likes) په ډول بدلون ومومي. ددې په خوا کې د وړو سرو خاپونو (petechia) شتون نشته دی، چې د ګوتې سره د زور ورکولو سره له

منځه نه ځي او د وړو رګونو د ماتېدلو څخه منځته راځي، ځيني وخت د پزې او خولې د محاطي پردې څخه په کمې کچې سره د ويني بهېدنه هم شتون لري. تبه دوه څپيزه (Biphasic) ځانګړتيا لري چې يو ځل ناڅاپه څرګنده شوه، بيا د 3-2 ورځو لپاره له منځه ځي. (۴م م۱-۳)
ځيني ناروغانو کې ناروغي بحراني (critical) پړاو ته دروميږي چې ناروغ کې د لوړې تبې څخه د دوه درې ورځو په وتلو سره بحراني مرحله راځي، په دې مرحله کې په سينه او ګېډه کې د مايعاتو راټولېدنه د کپلرو د تېرېدنې د ورتيا د زياتوالي او ليکاژ له امله منځته راځي چې په پايله کې به يې د ناروغ په دوران کې د مايعاتو په کچه کې د کموالي او د بدن حياتي غړو ته د ويني په رسولو کې پاتې والی راشي. په دې مرحله کې د حياتي غړو د دندو خرابوالی (organ dysfunction) او د هضمي لارې څخه به وخيمه وينه بهېدنه پيل شي، ناروغ shock ته ځي چې dengue shock-syndrome ورته ويل کېږي او وينه بهېدنه په کې زياته وي چې دې حالت ته يې dengue hemorrhagic fever ويل کېږي او په 5% هغو ناروغانو کې چې په ثانوي توګه د دنګيو ويروس د بل نوي serotypes سره ککړ شوي وي، منځته راځي. (۱م م۱-۴)
دريمه مرحله يې د روغوالي (Recovery) مرحله ده چې د 2-3 ورځې دوام کوي، په دې موده کې د بدن د تشو برخو څخه ليکاژ شوي مايعات بېرته دوران ته تېرېږي، د ناروغ رغېدنه حيرانوونکې وي، خو د پوستکي د خارښت او زړه د حرکاتو کموالی په دې مرحله کې شتون لري. د ناروغۍ په دې مرحله کې د مايعاتو د زياتېدنې (fluid overload) خطر شته وي، چې کېدای شي په دماغ اغېزه وکړي، د ناروغ شعوري حالت خړ پړ او د seizures (جټکې) سبب شي. (۱م۸)

## د دنګيو فيور سره ګډې ستونزې:

د دنګيو فيور ويروس د ناروغ د بدن ځيني سيستمونه اغېزمن کولی شي چې په پايله کې يې د ناروغۍ ګيلې او نښې څرګندېږي. د 0,5-6% په دې ناروغانو کې د شعور خرابوالی منځته راځي چې د ويروس له کبله د دماغ په نيوني او يا به د ځيني حياتي غړو په اخته کېدلو پورې لکه ځيګر، اړه ولري. نورې عصبي ګډوډۍ او ناروغۍ چې د دې ويروس له کبله د ناروغۍ په دوران کې راپيدا کېدای شي Transvers myelitis او Guillain-Bare-syndromes څخه عبارت دي چې د ناروغ په مړينې تمامېږي. د زړه اخته کېدنه او د ځيګر بېړنۍ عدم کفايه د دې ناروغۍ نادر اختلاطات ګڼل کېږي. (۱)

## د دينګ ويروس لېږدېدنه (*Transmission*):

د ډينګ ويروس د Aedes mosquitoes Aegyptie په واسطه خپرېږي. دغه غوماشې په ځانګړې توګه د ورځې له خوا چيچل کوي. انسان د دې ويروس اولنی مېزبان ګڼل کېږي، خو کېدای شي له انسان پرته په نورو تي لرونکو کې هم دوران وکړي. د دې ويروس سره د منتن کولو لپاره يوازې د Aedes يو ځل چيچل کفايت کوي. ښځينه غوماشې چې کله د يوه منتن شخص څخه وينه د خوراک لپاره وڅکي، غوماشې هم په ويروس اخته کېږي او د هغې په کولمو کې ځای نيسي، 8-10 ورځې وروسته ويروس د غوماشې نورو انساجو او لعابيه غدواتو ته خپرېږي. په لاړو کې موجود وي او په ماشې بده اغېزه نلري، خو همېشه دا غوماشې منتني وي چې کله شخص وچيچي ويروس ورته لېږدوي Aedes aegypti په ولاړو اوبو کې هګۍ کولو ته ترجيح ورکوي او د خپل خوراک لپاره نسبت د نورو فقاريه حيواناتو څخه د انسانانو څخه کار اخلي.
Dengue ويروس د وينې د منتنو محصولاتو او غړو د پيوند څخه هم انتقالېږي. په سنګاپور کې دينګ ناروغي په انديمک ډول سره وي او د انتقال خطر يې په هر 1000 ترانسفيوژن شوو کې د 1,6-6 پورې وي. د مور څخه ماشوم ته د حاملګۍ او زېږېدنې په وخت کې د انتقال راپور ورکول شوی دی. د يو شخص څخه بل ته يې خپرېدنه صورت نيسي، خو دغه ډول لېږدېدنه ډېره عامه نده.

## زمينه برابروونکي فکتورونه:

د ډينګ ناروغي په مزمنو ناروغانو کې لکه ديابتس او Asthma کې يو Life-threatening حالت منځته راوړي، د دينګ د وخيمې ناروغۍ اړيکه د ځانګړو جينونو د پولي مورفيزم Polymorphism سره ښودل شوې ده چې په کې د اختلاطاتو

سبب ګرځي. د نمونې په ډول هغه جينونه چې د TFN الفا پروتين انکود کوي CTLA4.,TGFB,DC-SIGN او په ځانګړي توګه Human leukocyteantigen لرونکو کې جينونه د ډينګ ناروغۍ وخيم اختلاطات منځته راوړي. (۷)

## وخيمه ناروغي (*Sever disease*):

د وخيم ډول ډينګ فيور په منځته راتلو کې لاندې دوه حالته رول لري:

- د اندو تيليوم د دندو خرابي چې د وړو رګونو څخه د بدن د تشو برخو په لور د مایعاتو د تېرېدنې سبب ګرځي.
- د وينې د پرنډېدلو ګډوډي چې د وينې د بهېدنې اختلاط منځته راوړي؛ همدارنګه په ځيګر او د هډوکو په مغز کې د ويروس د زياتېدنې له کبله ناروغي وخامت کسبوي. (۳)

## د ناروغۍ تشخيص:

په انديمک برخو کې د ډينګ فيور په تشخيص کې کلنيکي ګيلې او فزيکي کتنه رول لري، خو په اول کې د نورو ويروسي ناروغيو سره يې بېلول ستونزمن دي. د ناروغۍ د احتمالي تشخيص لپاره د تبې سره يو ځای د لاندې څخه د دوه ګيلو يا نښو شتوالی اړين ګڼل کېږي،

زړه بدوالی، کانګې، خپور Rash د WBC کموالی، positive torniguet ټست او يا د نورو ناوړه اعراضو موجوديت چې ناروغ په اينډميک ساحه کې ژوند کوي. د ناروغيو په اولو وختونو کې ټول ټستونه منفي وي، خو د ناروغۍ په بيړنۍ مرحله کې يې تستونه بې له سيرولوژي څخه تشخيص کوونکی ارزښت لري. د ناروغۍ په وروستۍ مرحله کې د دينګ ويروس په وړاندې د ځانګړي IgG او Igm شتون تشخيص تائيدوي چې دواړه IgG او Igm ځانګړې انتي باډي د ناروغۍ په ۵-۷ ورځو کې منځته راځي. په حجروي کلچر کې د ويروس موندنه او نوکليک اسيد پېژندنه د PCR له مخې، د ځانګړي ويروس انتيجن د پېژندنې ټستونه او د ځانګړې انتي باډي موندنه په تشخيص کې ارزښت لري. (۱م۵)

د لاندې ناروغيو سره چې يو ډول ګيلې ورسره ملګرې وي، بايد توپير کړل شي، ملاريا Leptospirosis د محرقې تبه او Meningococal ناروغيو سره ددې ناروغۍ په پېژندنه کې لومړنی بدلون چې په لابراتواري معاينه کې منځته راځي، د WBC په شمېر کې کموالی دی چې وروسته د پلېټلټ کموالی ( 100, 000) او ميتابوليک اسيدوزس ورسره ملګرتيا کوي. د ناروغۍ په وخيم حالت کې د پلازما د ليکاژ له کبله هيموکانسنتريشن او Hypoalbuminemia منځته راځي، که اسايتس او پلورل ايفوژن زيات وي، په فزيکي کتنه کې خو که په کمې اندازې سره موجود وي د التراسوند له لارې پېژندنه صورت نيسي چې د dengue shock syndrome څخه نماينده ګي کوي.

## د ناروغۍ ويشنه:

د نړيوالې روغتيايي ټولنې (WHO) 2009 م کال د ويشنې له مخې د dengue ferev ناروغي په دوه ډولونو ويشل شوې ده:

- Uncomplicated(غيراختلاطي)
- Sever(وخيمه) ناروغي

خو په پخوانۍ ويشنه کې چې په ۱۹۹۷ميلادي کال کې د WHO له خوا ترسره شوې ده او تر اوسه ټوله نړۍ کې مروجه ده د دنګو فيور په Dengue Undifferentiated fever او dengue-hemorrhagic fever ويشل شوې ده چې Dengue hemorrhagic fever يې بيا د يو نه تر څلورو درجو باندې ويشلې ده. په اوله درجه هيموراژيک دينګ فيور کې په اسانۍ سره د تماس له کبله وينه کېدنه د مثبت تورنکېټ تست سره موجود وي. په دويمه درجه هيموراژيک فيور کې په خپله بې له کوم تماس څخه د وينې بهېدنې پېښې په پوستکي او مخاطي غشا کې موجودې وي. په درېمه درجه هيموړژيک دينګ فيور کې د شاک کلنيکي لوحه حاکمه وي. په څلورمه درجه کې وخيم شاک چې د وينې فشار او نبض په کې د تعين وړ نه وي، موجود وي؛ درېمې او څلورمې درجې ته يې Dengue shock-syn نوم ورکړل شوی دی. (۱م م۷)

## وقایه:

د دینگ فیور په وړاندې اغېزمن واکسین تر اوسه په لاس کې نشته، د ناروغۍ د مخنیوي لپاره باید چې د غوماشي د چیچلو څخه ځان وساتل شي چې دا ناروغي لېږدوي. د نړیوالې روغتیايي ټولنې لخوا د ناروغۍ د مخنیوي او کنترول لپاره لاندې پینځه لارښووني وړاندې شوې دي:

1. په ټولنه کې د روغتیايي دولتي او ازادو خدمتونو ملاتړ کول او د هغې د عملي کولو لپاره د قانون وضع کول.
2. د دولتي روغتیايي او نورو ازادو سکتورونو ترمنځ همکاري کول.
3. په ریښتینې توګه سره د ناروغۍ د کنترول لپاره هڅه کول او د هغې د منځته راوړونکو سرچینو له منځه وړل.
4. په ساحوي برخه کې مناسب عمل کول، تر څو چې د ناروغۍ د له منځه وړلو وړتیا لوړه شي.
5. په نبنه شویو اساسي ستونزو د له منځه وړلو لپاره غوږ دریځ خپلول.

- د کنترول لپاره اولنۍ لاره aegypti د طبیعي منابعو له منځه وړل دي.
- ددې کار لپاره د ذخیره شوو اوبو ډنډونو ورکول او یا په هغې باندې د حشره وژونکو درملو شیندنه او یا د بیولوژیکي کنترولي موادو کارونه ده.
- د ټرلې محفوظ کانالیزیشن کارول چې د خلاصو ډنډونو څخه په چاپېریال کې مخنیوی شوی وي، د کنترول غوره لار حسابېږي. د حشره وژونکو موادو د بدو کیمیاوي اغیزو د مخنیوي او د هغې د لوړې بیې د ورکولو د مخنیوي لپاره ښه لاره داده چې خلک په خپله غوماشي د چیچلو څخه د جالیو په واسطه او د موسکویټو د پشه خانو په کارولو سره د استراحت په وخت کې کار واخلي. (۱م۷)

**اهتمامات**: د دینګ فیور لپاره ځانګړې درملنه وجود نه لري، درملنه یې په ګیلو پورې اړه لري چې په کور کې د خولې د لارې څخه د Rehydration درملنې څخه نیولې په روغتون کې داخلولو او ورید له لارې مایعات ورکول او که اړینه شي، د وینې Transfusion پورې په کې لاس اوږدېږي. ناروغ هغه وخت کې چې Warning (زیان اړوونکې نښې) کې موجودې وي او روغتیایي حالت یې د ډاډ وړ نه وي، په روغتون کې بستر کېږي او د یوې ورځې نه تر دوه ورځو پورې ورته د ورید له لارې د مایعاتو ورکولو ته اړتیا وي چې مایعات د تشو متیازو د اندازې له مخې د 0.5-1ml/Kg/h ورکول کېږي، ترڅو چې حیاتي نښې په ځای ودرېږي او هیماتوکریت نورمال شي. د پرمختللو طبي مانورو څخه د عضلې له لارې ستنې وهنې او Arterial-punctunes- څخه باید ډډه وشي، ځکه چې د وینې بهېدنې خطر ورسره ملګری وي. د تبې لپاره Acetaminophen کارول کېږي، خو د NSAIDS، بروفین او اسپرین ورکولو څخه باید ځان وساتل شي، ځکه چې د وینې بهېدنې زیان ورسره وي. (۵) که په ناروغ کې حیاتي نښې ولاړې نه وي unstablevital sign او هیماتوکریت په کې د کمېدلو پلور روان وي، نو دې ته د Transfusion Trigger level ویل کېږي، ترانسفیوژن باید ترسره شي. که پلېټلټ او frish frozen پلازما په لاس کې نه وه، نو paked Red blood cell دې ورته تطبیق کړل شي. (۸)

د Recover په مرحله کې د ورید له لارې د مایعاتو ورکول ودرول شي، ترڅو چې د مایعاتو د بار لوړېدنې څخه مخه نیول شوې وي، که چېرې مایعات زیات شوي وي، نو د نورو مایعاتو ورکول دې ودرول شي. که ناروغ Critical مرحلې ته ورننوتې وي، بیا نو د دوران څخه د مایعاتو د ایستلو په موخه ورته دFurosemide د تطبیقولو اجازه ورکول کېږي. (۳،۴)

## پایله:

- زمونږ چاپېریال کې د Ades–aegypt–mosqutoes غوماشي د ژوند لپاره د ولاړو اوبو ډنډونو شتون او له بلې خوا څخه د ګاونډي هېواد پاکستان او چین څخه چې د ناروغۍ خپې په کې کله کله راولاړېږي، د سوداګرو او مهاجرو تګ راتګ شته دی، په راتلونکې کې مونږ ددې ناروغۍ د راتګ له خطر سره مخامخ کوي؛ باید چې د عامې روغتیا مسئولین ددې ناروغۍ د مخنیوي او کنترول په اړوند له اول نه تیاری ولري.

- که په هغو مسافرو کې چې د انديمک ساحې څخه کور ته راغلي دي، د ۱۴ ورځو مخکې ګيلې او تبه پيدا شي، ددې ناروغۍ په لور بايد فکر وشي.
- د ناروغ تبه دوه څپيزه څانګړتيا لري چې د تبې وروسته له پوستکي رش پيدا کېږي.
- ناروغي په کاهلانو کې وخيم سير لري.
- دا ناروغي د شکرې او استما ناروغانو ژوند له ګواښ سره مخامخ کوي.

## وړانديزونه:

ټولو ګرانو لوستونکو او درنو د طب کارکوونکو ته لاندې وړانديزونه کوم:

۱- په خپلو کورونو کې او د کورونو په شاوخوا کې د ولاړو اوبو د ډنډونو او د ولاړو اوبو ځايونه له منځه يوسئ.

۲- په کورونو کې دې جاليو په ترلو او پشه خانو په کارولو سره د غوماشو د چيچلو څخه ځان وساتئ.

۳- روغتيايي مسئولين دې بايد د ټوليزو رسنيو له لارې د ځان ساتنې په اړوند وګړو ته روغتيايي خپرونې چمتو کړي.

۴- د روغتيايي مسئولينو له خوا د صحي چاپېريال د برابرولو په منظور د ولاړو اوبو د له منځه وړلو لپاره اقدام کول او د غوماشې د زياتېدنې د مخنيوي لپاره د غوماشو ضد درملو په لاس کې ورکول.

۵- هغه محترم هېوادوال چې ګاونډيو هېوادونو په ځانګړې ډول پاکستان ته سفر کوي، بايد ددې ناروغۍ څخه د ځان ساتنې خيال وساتي چې کله بېرته کورته راشي او د ۱۴ ورځو په موده کې ګيلې ورته پيدا شي، ډاکټر ته دې مراجعه وکړي.

## Abstract:

Dengue fever is one of infectious disease that transmuted by aides aegypt mosquitoes. Aides has four sero types Incubation period of disease is 3-15 days. sign and symptomps of disease are fever, chills, headach, eye pain and legs pain face and Eye become redness after 2-3 days lymphnode become large and tender. Dengue hemnorrhegic faver or shock syndrom is the critical stage of this illness. for diagnosis of patient virus finding in the cell, PCR and IGM deticting is important we don't have any vacccin, no effective treatment for this disease.

References:

1. Brunwal .Eugene fuci An thongs(**2012**) Harrison's principals of internal medicine MCGRAWHILL New York pp-**1632** .**1631**-
2. Christopher Haslett(**2008**) . David sons, principles of medicine **22**th edition.
3. Dengue fever in Pakistan viral infection postdate on September 2011.
4. Internet http//www.clinicaleevidence.org Dengue fever (website Google).
5. Kumar and vlark 2008 clinical Medicine WB seundey pp-**56**-**57**
6. Satish Gupte MD**1999** Medical Microbiology seventh edition .India .pp**312**
7. Teerg Lawrence (**2012**) current medical Diagnosis and treatment MC Graw Hill New York's pp **1349**-**1351**.
8. William-P .Avend(**2010**) .M.D Cecil Text book of medicine Goldman Austell 23 and edition volume **11** pp **1820**

پوهــنوال سیف الله (هادي)
پوهندوی بریالی (ولي زاده)
طب پوهنځی- داخله څانګه

# د بـولي لارې د بېلابېلو برخـو انتاني پېښې

**لنډيز**:
دا څېړنه پر سلو تنو د بولي لارې انتـان لرونکو ناروغـانو پـه prospective ډول د ننګرهـار پوهنتـون طب پـوهنځي روغتـون داخلي څانګه کې ترسره شوې.۹۰٪ د مثـانې حاد التهـاب، ۵٪ د پښـتورګو حاد التهـاب، ۱٪ د پښـتورګو مزمن التهـاب، ۱٪ ناروغـان يوريترايتس، ۱٪ پروستات حاد التهاب، ۱٪ سپټيک حالت او ۱٪ درملنې پـه وړاندې مقاومت ښـودلی. ۵۲٪ ښـځې (۳۰٪ اميدوارې)، ۳۱ تنه نارينه، ۱۷ تنه ماشومان (۱۳تنه انجونې).

**سريزه**:
څرنګه چې د بولي لارې انتانات يوه نړيواله ستونزه ده چې د کال د ۱۵۰ مليون کسان پرې اخته کېږي،۹۰٪ يې د مثـانې حاد التهاب او۱۰٪ يې د پښتورګو حاد التهاب لرونکي دي. په همدې توګه د نوموړې ناروغۍ پېښې زمونږ په هېواد په ځانګړې ډول ختيځو ولاياتو کې هم ډېرې دي، که ژر تر ژره يې درملنه ونه شي د اختلاطاتو لامل ګرځي، پـه تېره بيا پـه اميدوارو ميندو کې چې د کم وزن ماشوم، مخکې له مودې زيږون او يـا د مړ ماشوم د زيږون لامل کېږي؛ نو مـونږ اړينـه وبلله چې د کلنيکي معاينې او روټين لابراتواري ازموينو له نظره د بولي لارې د بېلابېلو برخو انتاناتو د پېښو تر سرليک لاندې علمي څېړنه تر سره کړو چې د بولي لارې د کوم ځای انتانات ډېر دي او پـه کوم جنس کې ډېر پېښـېږي، تـر څو اسـان تشـخيص، موثره درملنه، وقايوي لارې چارې او د اختلاطاتو څخه مو په ښه توګه مخنيوی کړی وي.

**موخې**:

- د کلنيکي او روټين لابراتواري معايناتو له مخې د بولي لارې انتاناتو د سلنې څرګندول
- د اخته کېدو سلنه يې په کوم جنس او عمر کې زياته ده

**د بولي لارې انتانات**:
د بولي لارو انتاني ناروغۍ د سترو بکتريايي ناروغيو څخه دي چې پـه بـولي لاره کې د انتانـاتو د ډېروالي لـه کبلـه منځتـه راځي. که د تشو متيازو د منځنۍ برخې څخه يو ملي لېتر سمپل واخستل شي، نو د نتروفيـل شمېر بـه يې (۱۰^۵) څخه زيـات وي. د بولي لارې انتانات د يوې څېړنې له مخې ۵۰٪ ښځو کې، ۳٪ په ځوانو انجونو کې وي. پـه نارينـه و کې ډېر لږ وي، خـو پـه يو کلنۍ او۷۰ کلنۍ څخه پـه پورتـه عمر کې يې پېښـې ډېرې وي. پـه زړو نارينـه و کې د ډېروالي لامـل يې د پروسـتات هـايپرتروفي دي.۴۰-۵۰ فيصـده زړو ښـځو کـې بکتريـا يوريـا وي، خـو اعـراض يـې نـه وي. د بـولي لارې د انتانـاتو مساعدوونکي فکتورونه عبارت دي له:
۱- جنس: د بولي لارې انتاني ناروغي په ښځو کې ډېره وي.
۲- دوه الی اته فيصده اميدوارې ميندې د بـولي لارې انتانات لري، ځکه چې پـه دې وخت کې د حالب ټون او اسـتدراري حرکات کمېږي، ويزيکو يوريترال وال عدم کفايه پيدا کېږي.
۳- د بولي لارې انسدادي ناروغي لکه تومور، کاڼي، پروستات هايپرتروفي هم د انتاناتو لامل کېږي.
۴- د شکرې ناروغي، نيوروجنيک مثانه، د سپينل کارډ تروما، ټبس ډورساليز، د مثانې عصاب خرابوالی.
۵- په ماشومانو کې د ويزيکو يوريترال ريفلوکس د بولي لارې د انتان لامل کېږي.
۶- جنيتک فکتورونه: د هغو کسانو سرو حجراتو او يورو اپي تيليل د پي احذې ولري، زيات د بولي لارې پـه انتانـاتو اختـه کېږي.

د مثانې د حاد التهاب لامل گرام منفي انتانات دي چې په ناروغ کې د بولي لارې تخريشي اعراض لکه فريکونسي، ارجنسي او ډيس يوريا د سوپراپوبيک ناحيه دردناکه وي، خو په ناروغ کې سيستميک اعراض لکه تبه، سړه لړې، تکي کارديا، کانگې نه وي. د ناروغ د تشو متيازو معاينه کې پايوريا، بکتري يوريا شتون لري. (۱،۳)
د التراساوند په معاينه کې د مخاطي غشا جدار ضخيم ښکاري. که د مثانې التهاب اختلاطي نه وي۱-۳ ورځو لپاره ناروغ ته انتي بيوتيک لکه ترای ميتوپريم سلفاميتوکسازول ورکول کېږي. که ددې په وړاندې مقاومت موجود و، فلوروکېنولون او نايتروفورانستين توصيه کېږي. (۵،۴،۲)
حاد پيالونفريتس د پښتورگو د پرانشيم يو حاده التهابي ناروغي ده چې ستر لامل يې گرام منفي انتانات لکه E Coli دي. د حاد پيالونفرايتس مهم اعراض عبارت دي د فلنک ناحيې درد، تبه- سړه لړې، فريکونسي ارجنسي، ديس يوريا، زړه بدوالی، کانگې، اسهالات، تکي کارديا او په جس سره کوستوفرينيک زاويه دردناکه وي چې kidney morphys panch ورته وايي، موجود وي. د ناروغ د وينې په معاينه کې د وينې د سپينو حجراتو شمېر زيات وي؛ د تشو متيازو په معاينه کې پايو يوريا، بکتريا يوريا، هيماچوريا او د سپينو حجرو کاستونه وي. که پيالونفريتس اختلاطي شوی وي په التراساوند کې هايدرونفروزس ښکاري. اختلاطات يې عبارت دي له سيپسس، شاک، ځنډنی پيالونفريتس، د پښتورگو ابسې، امفزيماتوز پيالونفرايتس. (۵،۲)
که پيالونفرايتس شديد وي بايد ناروغ په روغتون کې بستر شي، تر څو چې د تشو متيازو کلچر نتيجه راځي امپي سلين يو گرام هر۲ ساعته وروسته او جنتامئسين يو ملي گرام په هر کېلو گرام وزن د بدن هر اته ساعته وروسته د رگ له لارې ورکول کېږي. (۲،۷،۸)
يوريترايتس د مثانې د حاد التهاب څخه د کلنيک تفريق کول گران دي، په يوريتريتس کې ديس يوريا، فريکوينسي، ارجنسي موجود وي، خو د تشو متيازو په معاينه کې څرگند بکتريايوريا نه وي. (۲،۷،۸)
د پروستات حاد بکتريايي التهاب په عمومي ډول د گرام منفي انتاناتو او نادرا د گرام مثبت انتاناتو له کبله منځته راځي چې د ناروغانو گيلې عبارت دي د عجان، سکرال او سپراپوبيک درد، تبه او د مثانې تخريشي اعراض؛ په حاد التهاب کې پروستات پړسېدلی وي، تشې متيازې بند ېږي چې په حاد پروستاتايتس کې د ريکتوم د لارې د گوتې په واسطه د پروستات د جس او د مساژ اجازه نشته، ځکه چې د سپتيسميا لامل کېږي. (۱۱،۱۰،۹،۸،۲)

## مواد او کړنلاره:

څېړنه د يو کال په موده کې په۱۰۰ تنو هغو ناروغانو باندې چې د بولي لارې انتاني ناروغۍ لرونکي وو، په Prospective ډول د ننگرهار پوهنتون طب پوهنځي روغتون داخله څانگه کې ترسره شوه.
د څېړنې مواد:

- O.P.D راجستر کتاب
- I.P.D راجستر کتاب
- ناروغانو دوسيه
- ستاتسکوپ او د وينې فشار د تعين اله
- لابراتواري معايناتو شيت
- التراساوند
- د معاينې دستکشې
- لگنوکاين جيل
- د معاينې مېز

**کړنلاره:**

۱۰۰ تنه هغه ناروغان چې د بولي لارې د انتاني ناروغیو څخه شاکي وو، په داسې ډول مو تر څېړنې لاندې ونیول چې د هر یو څخه مو تاریخچه واخسته او لازمي فزیکي ازمویني مو تر سره کړې او بیا اړین لابراتواري معاینات توصیه شول. په دغه ۱۰۰ تنو کې **۵۲** تنه ښځینه (۳۰ تنه امیندواري)، ۳۱ تنه نارینه او ۱۷ تنه ماشومان (۱۳ تنه انجوني) وې. څرګنده شوه چې ۹۰ (۹۰٪) تنه یې د تشو متیازو سوزېدل، ژر ژر تشې متیازې کول، د تشو متیازو فریکوینسي زیاتوالی او درد درلود او د نامه څخه لاندې برخې یې درد درلوده (Cystitis). **۵** (۵٪) ناروغان سربېره د پورته اعراضو څخه تبه او سره لرې درلود (Acute Pyelonephritis)، یو تن یوریترایتس، یو تن پروستات حاد التهاب، یو تن د پښتورګو مزمن التهاب، یو تن سپتیک حالت درلود او یو تن یې د درملنې په وړاندې مقاومت ښودلی و. د سل واړو ناروغانو د وینې د سپینو حجرو شمېر تعین شو چې د **۵۰۰۰**-۱۱۰۰۰ تر منځ و، خو د یو ناروغ د وینې د سپینو حجرو شمېر ۱۳۰۰۰ زره وو. د همدې سل واړو تشې متیازې معاینه شوې چې د تشو متیازو د سپینو حجرو شمېر ۱۰-۳۰ پورې وو. Pus cell هم د 10-many پورې و، د وینې د سرو حجرو شمېر یې **۵-۱۵** پورې و. ۱ (۱٪) ناروغ چې شدیده سره لرې لرونکې تبه یې درلوده، د زرقي انتي بیوتیک سره یې هم تبه کمه نه شوه او عمر یې د ۷۰ کالو و، کله چې یې وینه معاینه شوه، د شکرې ناروغي یې درلوده او پروستات یې هم لوی و او د همدې ناروغ تشې متیازې هم کلچر شوې چې ای کولای په کې مثبت و. په دې څېړنه کې **۸۵** (۸۵٪) تنه د ننګرهار، ۷ (۷٪) تنه د لغمان او ۲ تنه د کونړ او یو تن د نورستان او یو تن د سروبي او سپدونکي وو. Mean38,7 کاله، mood **۳۵** کاله، median **۴۵** و، SD=38,7+8,40 و. د یادونې وړ ده چې د څېړنې ډاټا تنظیمول او انالیزس د پوهنوال سیف الله (هادي) او د ډاټا راټولول د ناروغانو څخه پوښتنلیکونه او معاینه پوهندوی بریالي (ولي زاده) پورې اړه درلوده.

| فیصدي | د ناروغانو شمېر | ناروغي |
|---|---|---|
| %۹۰ | ۹۰ | Acute cystitis |
| %**۵** | **۵** | Acute pyelonephritis |
| ۱% | ۱ | Acute urethritis |
| %۱ | ۱ | Acute prostatitis |
| ۱% | ۱ | Chronic pyelonephritis |
| %۱ | ۱ | Septic condition |
| ۱% | ۱ | Resistance |

**پایله:**

دا څېړنه چې په سلو (۱۰۰) تنو بولي لارې انتان لرونکو ناروغانو باندې په prospective ډول د ننګرهار پوهنتون طب پوهنځي روغتون داخلي څانګه کې ترسره شوې، ۹۰٪ د مثانې حاد التهاب، **۵**٪ د پښتورګو حاد التهاب، ۱٪ د پښتورګو مزمن التهاب، ۱٪ ناروغان یوریترایتس، ۱٪ پروستات حاد التهاب، ۱٪ سپتیک حالت او ۱٪ د درملنې په وړاندې مقاومت ښودلی. **۵۲**٪ ښځې (۳۰٪ امیندواري)، ۳۱ تنه نارینه، ۱۷ تنه ماشومان (۱۳ تنه انجونې).

**مناقشه:**

هغه څېړنه چې په ۲۰۱۱-۰۱-۰۲ کې په mk:@Msit store:M:\CEciL%20mEDiCiNe%2023.chm::/HTML/1094.htm کې شوې، په هغې کې ۹۰٪ ناروغان acute cystits او ۱۰٪ حاد پیالونفریتس درد او په کال کې **۱۵۰** ملیونه خلک د بولي لارې انتانات پیدا کوي.

www.jahonline.org/article/S1054-139X(09)00261-4/abstract په دې سایټ کې چې څېړنه شوې، په **۵۴۴۷** تنه ناروغانو چې **۱۸-۲۷** کاله عمر یې درلود، ۱،۲٪ ناروغانو یوریترایتس درلود. هغه څېړنه چې په Department-urology university Washington dece031-2007 کې (www.Ncbi.nlm.gov/pubmed/18164907) کې ترسره شوې، د ۸،۲٪ نارینه د حاد پروستایتس اعراض درلود. هغه څېړنه چې epidemiology analysis of acute pyelonephritis

کې شوي، په ښځو کې هر کال په دې روغتون کې Cid.Oxfordjournals.org/content/45/3/273.full.population based په ۱۰۰۰۰ تنو کې۱۲-۱۳ناروغان او د روغتون څخه د باندې په هر ۱۰۰۰۰ تنو کې ۳-۴ بیړنی پیالونفریتس لري او په نارینه و کې په کال کې په داخل د روغتون کې چې ۱۰۰۰۰ تنو کې ۲-۳ تنه او د روغتون څخه د باندې په ۱۰۰۰۰ تنو کې ۱-۲ تنه بیړنی پیالونفریتس لري.

زمونږ په څېړنه کې سل تنه ناروغان شامل وو چې ۹۰٪ acute systits، ۵٪ حاد پیالونفریتس درلود، یو په کې سیپټک حالت درلود، ۱(۱٪) یوریترایتس او ۱(۱٪) حاد پروستایتس درلود. زمونږ د زیاتوالي لاملونه دادي چې زیاتره ښځې حفظ الصحي نه مراعتوي، مایعات نه څکي، د اودس وچولو په وخت کې د خاورو، لوټو څخه کار اخلي، مثانه ژر ژر نه تشوي، مخکې او وروسته د کوروالي څخه تشې متیازې نه کوي. په څېړنه کې د مثانې د حاد التهاب پېښې په ښځو کې زیاتې وې او د بولي لارې د انتاناتو پېښې په هغو ښځو کې زیاتې وې چې د تولد او تناسل په مرحله کې وې او په نارینه و کې یې پېښې کمې وې.

## وړاندیزونه:

په پای کې مونږ خپلو ګرانو هم مسلکانو او هېوادوالو ته لاندې وړاندیزونه لرو:

1. د بولي لارې د انتاناتو د پېښو د کمولو لپاره د بولي لارې پاکوالی مراعت شي.
2. د چټلو توکو د استعمال څخه ډډه وشي.
3. مایعات زیات استعمال کړي، ژر ژر تشې متیازې وشي.
4. د کوروالي څخه مخکې او وروسته تشې متیازې وکړي او یو ګیلاس اوبه وڅکي.
5. د بولي لارې انتاناتو د پېښو د کمولو لپاره د داکتر صاحبانو لخوا د پاکوالي او د نظافت د مراعتولو تبلیغات وشي.
6. همدارنګه د زیږون د مخنیوي لپاره اړوند ډاکتران باید پاک او مقمم شرایط مراعت کړي.
7. وروسته د تشې متیازو یا ډکو متیازو کولو څخه پاکې د قدام څخه خلف خواته پاک کړي، یا د قدام څخه شروع خلف خواته لاړ شي، دا د حالب او مهبل ته د انتان د انتقال څخه مخنیوی کوي او یو ګیلاس اوبه وڅکي.
8. په مهبل کې د مخرشو سپری او کریمونو استعمال څخه ډډه وشي.
9. د مخرشو مایعاتو (الکول، کافي، سترس لرونکي مایعاتو) د څکلو څخه ډډه وشي.


## Abstract:

Urinary Tract infection is common in women, but it is un common in men and children. The Incidence of urinary tract infection was in our hospital 90% acute cystitis, 5%acute Pyelonephritis, 1%septic condition and 1% was resiste to treatment.1%prostitits.1%acute urithritis.


## اخځلیکونه:


۱- ظفرزی، محمدظاهر. (۱۳۸۹). د پښتورګو ناروغي. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون، طب پوهنځی

۲- هادی، سیف الله (۱۳۹۰). د هضمي سیستم او پښتورګو ناروغي. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون، طب پوهنځی

3. Fauci Anthony, kasper Dennis.Harrison's principle of Internal medicine 18th edition. USA: Mc Graw Hill; 2005 pp (1820-1827)

4. GoldMan IEE. Ausiello Dennis Cecil Medicine, Saunders Elsevier company Philadelphia, 2007. pp(905-915 )

5. Haslett Christopher, ChilversEdwinR. Davidson's Principle and practice of medicine. 20th edition. London; Churchill living stone (ELBS); 2006. pp ( 455-481 )

6. Kumar Parveen, Clark Michael Clinical medicine. 7th edition. London; WB Saunders; 20011. pp (599-603)

7. Stephen J. McPhee-Maxine A. Papadakis, Current Medical Diagnosis and Treatment MC Graw-Hill Compay 2011 USA.PP (905-910).

8. mk:@Msit store:M:\CEciL%20mEDiCiNe%2023.chm::/HTML/1094.htm

9. 2007 of the infectious Disease society of America

10. www.jahonline.org/article/S1054-139X(09)00261-4/abstract

11. (www.Ncbi.nlm.gov/pubmed/18164907) Department-urology university Washington dece031-2007

12. Cid.Oxfordjournals.org/content/45/3/273.full

پوهـــنوال عـبدالاحـــد (حمـيد )
پوهندوی فضل الرحيم (شګيـوال )
پوهنمـــل خـــــانمير (غــــيور )
طب پوهنځی- جـراحي څـــانګه

# په ختيزه سيمه کې د(Spina Bifida) د لاملونو څېړنه

**لنډيز:**

(Spina Bifida ) د نويو زېږېدلو کوچنيانو يوه مهلکه ناروغي ده چې په مورزادي ډول د مور د وجود خوړو کمښت، خراب محيطي، کلتوري او اقتصادي شرايطو اغېزمن کېدو له کبله د حمل په لومړنيو هفتو کې د جنين په وجود کې رامنځته کېږي چې د ماشوم د مړينې او خرابو معيوبيتونو لامل ګرځي چې د کورنۍ او ټولنې لپاره د اوږو بار ګرځي، ولې مونږ په اسانۍ سره کولای شو چې ددې ناورين مخه ونيسو.

**سريزه:**

دا چې د (Spina Bifida ) مورزادي ناروغي ده، په ځانګړي ډول Myelomeningocele (٪95-90) د يوې ورځې څخه بلې ورځې ته په زياتېدو دي، اړينه وه چې د لاملونو په اړه څېړنه وشي، نو په دې اساس د جراحي څانګې مونږ ته دنده وسپارله ترڅو هر يو پوهنوال عبدالاحد (حميد )، پوهندوی فضل الرحيم (شګيوال ) او محترم پوهنمل خانمير (غيور ) په ګډه نوموړې څېړنه تر سره کړو چې په څېړنه کې پوهنوال عبدالاحد (حميد ) او خانمير (غيور ) د ناروغانو تاريخچه اخستې، د فزيکي او لابراتواري معايناتو د اجرا په برخه کې يې ونډه اخستې او هم يې د درملنې او عملياتو په باره کې يې له ما (شګيوال ) سره لازمه همکاري کړې ده؛ تر څو چې سببي فکتورونه او لاملونه يې وپېژندل شي او د ناروغۍ د مخنيوي لپاره کوټلي ګامونه واخستل شي او يا د زيږون څخه وروسته ناروغي ژر تشخيص او وپېژندل شي او د درملنې لپاره يې لازم اقدام وشي او د معيوبيتونو کچه يې ټيټه شي. په همدې ډول دې له خيريه مرستندويه ټولنو د مرستې غوښتنه وشي تر څو د کورنۍ او ټولنې د اوږو بار سپک شي. دغه مورزادي ناروغي چې د Spinal Column پکې Difcet پيدا کوي ( د حمل د دويمې اوونۍ څخه تر څلورمې اوونۍ پورې Neural tube جوړېږي ) او د فقراتو يا مورود يوځای کېدو عدم کفايه موجود وي چې د Difcet څخه Ménage او يا د نخاع عصبي انساج بيرون ته راوځي او ورسره نخاع Dysplasia موجود وي، مختلف انواع لري په په کوټلي ډول په لاندې انواعو تقسيم شوي دي:



Fig 48.6 Meningomyelocele in the lumber area which is the most common site.



Fig 48.8 Spina bifida : There ma
lesion on the back



**Fig 48.1** Spina bifida occulta : Hairy tuft with a dermoid cyst adjacent to it, seen on the back

چې ناروغي ماؤف برخې څخه لاندې په سفلي طرف کې د حس او حرکت تغیرات په مختلفو کچو د ماؤف طرف په دندو کې نیمګړتیاوې رامنځته کوي او هم د تغوط او تبول مشکلات په ناروغانو کې منځته راځي.

**موخې**:

طبي کارکوونکو، خیریه موسساتو، دولتي طبي ارګانونو، د کورنیو غړیو، د ټولنې مخورو، مذهبي لارښوونکو او پخپله حمل لرونکو میندو ته ددې ناورین د لاملونو، مهیا کوونکو فکتورونو په ګوته کول او د حل لپاره یې د اسانو لارو چارو ښودل.

**مواد او کړنلاره**:

دا څېړنه په (112) ناروغانو ترسره شوه، په دې څېړنه کې مور او ناروغ ماشوم دواړه د څېړنې لاندې نیول شوي دي چې ددې ناروغانو له جملې څخه (۸۸) په جراحي وارډ کې بستر شوي وو او لازمه درملنه ورته اجراء شوې وه او (۱۵) ناروغان د یو شمېر دلایلو له کبله نورو روغتونونو ته تللي وو او (۹) نوي زیږېدلي ماشومان د مهلکو او شریکو غټو انومالیو له کبله مړه شوي وو. دغه څېړنه په جراحي وارډ، د نویو زیږېدلو کوچنیانو وارډ او هم د ولادي نسایي په وارډ کې تر سره شوه چې ناروغان د یوې فورمې د لامل په نظر کې نیولو سره ثبت او راغونډولو کار وکړ. (دغه څېړنه د نورو ملکونو د طبي معتبرو مجلو، کتابونو او انټرنیټ د څېړنو سره پرتله شوې ده) او په دې فورمه کې Genitic غذایي او محیطي فکتورونه او اسباب په نښه شوي دي او په لاندې ډول د اسبابو او د مهیا کوونکو څخه یادونه کوو:

**د** *(Folic Acid)* **کموالی**:

لومړنی غټ عذایي فکتور ؤ. Folic Acid د B12 ویټامین په ډول د حجرې د میتابولیزم او په ځانګړې ډول د هیموپویسیس لپاره اړینه، حیاتي او حتمي ماده ده چې د Nacleo Protien په جوړېدو کې یو فعال کوانزیم په ډول برخه اخلي، د Folic Acid د کموالي ناروغان چې اکثره مورګانې د حمل پر مهال په دې ناروغیو مبتلا کېږي چې دغه ناروغان اکثره د لرې کلیو او بانډو څخه مراجعه کوي.

(۸۰) فیصده او د Spina Bifida لرونکي ماشوم مورګانې په خپله تاریخچه کې د لاندې جدول له مخې مخکښې کیسه بیانوي:

| شمېره | اعراض | سلنه٪ | د حمل دوره |
|---|---|---|---|
| 1 | ساتنګي | ٪۸۵ | د دویمې میاشتې څخه تر (۸) میاشتې پورې |
| 2 | د خولې د جوف التهاب | ٪۵۰ | د څلورمې میاشتې څخه تر (۸) میاشتې پورې |
| 3 | نس ناسته (اسهال) | ٪۷۰ | د دویمې میاشتې څخه تر (۵) میاشتې پورې |
| 4 | پړسوب (ازیما) | ٪۲۰ | د شپږمې میاشتې څخه تر (۹) میاشتې پورې |

پرمختلليو هېوادونو کې د Folic Acid په ورکولو کې (۷۲) فيصده ددې ناروغۍ مخنيوی شوی دی. (۳م۱۸۳) (۸م۱۸۲)

**د مور عمر:**

بل سببي فکتور په نويو زيږېدليو ماشومانو کې چې Spina Bifida ولري، د مور عمر دی چې زمونږ په ټولنه کې او په ځانګړي ډول په شرقي زون کې پیاوړی ښکاري؛ يعنې په هغو ماشومانو کې دغه ناروغي زياته رامنځته کېږي چې د مور عمر يې د (۲۰) کلونو څخه کم وي، (په انګلينډ کې د واده عمر په متوسط ډول (۳۰) کلني او په افريقا کې (۱۷) کلن او زمونږ د څېړنې له مخې په شرقي زون کې په اوسط ډول (۱۲) کاله ښودل شوی دی. (۸۹٪ د ميندو عمر د (۲۰) کلونو څخه کم و. (۳م۱۸۳)، (۷م۲۰)

**کمزوری اقتصاد:**

بل فکتور چې زمونږ په ټولنه کې لا هم پیاوړی دی، خراب اقتصادي حالت ښودل شوی دی چې کورنۍ او حامله ميندې ددې توان نلري چې د حمل په وخت کې ضروري کافي غذ وا خلي چې خراب اقتصاد د Spina Bifida او Abortion لپاره Risk فکتور جوړوي.

**د پوهې د کچې ټیټوالی:**

بل فکتور چې زمونږ په ټولنه کې برجسته برېښي، هغه د پوهې د کچې ټيټوالی دی چې نه پوهېږي او لاربښوونه هم ورته نه کېږي چې د مور په خېټه کې جنين د نشو نما لپاره څه شي ته اړتيا لري او کومه غذا ورته اړينه ده او په دې هم نه پوهېږي چې کوم کيمياوي مواد او دواګانې پر جنين د حمل په دوران کې بده اغېزه کوي (تيراتوجينک تاثير لرونکې دواګانې، په ځانګړي ډول Seizure (سکته) لپاره دوا). (۲م۳۳)، (۵م۹۲)

**ناوړه رواجونه:**

بل فکتور چې زمونږ په ټولنه کې د ناروغۍ په منځته راتلنه کې زيات رول لري او په نورو ټولنو کې نه ليدل کېږي، د حمل په وخت د خرابو رواجونو له کبله د مهمو اړينو غذاګانو څخه پرهيز کول دي چې د جنين د نشونما لپاره اړين دي چې د ټولنې زيات عمر لرونکې ښځې حامله ښځو ته ددې پرهېز امر کوي او په ځانګړي ډول د ځينې مېوو او د مستو خوړلو څخه يې پرهېز کوي.

**شاقه کار او د چاپېريال ککړتيا:**

بل فکتور چې د حمل په وخت کې د ناروغۍ د منځته راتللو سبب ګرځي، هغه زمونږ په لرې پرتو سيمو کې شاقه کارونه دي او په ښاري خلکو کې روحي فشار او د محيط ککړتيا اغېزمن شمېرل کېږي.

**چاغښت او شکر لرل:**

بل فکتور د چاقي او د شکرې ناروغي چې د کنټرول لاندې نه وي راغلې، د حمل په اولو وختونو کې د ګلوکوز د سوېې ډېر پورته والی د Spina Bifida په منځته راتګ کې مهم شمېرل کېږي چې ياد فکتورونه زمونږ په ټولنه کې دومره پیاوړي نه وو. (۸م۱۸۳)

**د ناروغۍ تکرار:**

بل فکتور په څو حملونو کې د ناروغۍ د تکرار رامنځته کېدل دي؛ که لومړی ماشوم چې Spina Bifida ولري، ددې چانس موجود دی چې دويم ماشوم هم په ناروغۍ اخته شي (۴۰٪)؛ او دريم ماشوم هم په ناروغۍ مبتلا شي (۲۰٪). (۲م۲۰)، (۵م۹۲)

**د مور ځيني ويروسي ناروغۍ:**

بل فکتور ځيني ويروسي ناروغۍ چې مور په ناروغۍ مبتلا شي، لکه Cytomengalo Varus,Rubella او Herpes Simplex دي چې د Sickel Cell Anemia سبب ګرځي او جنين ته Spina Bifida پيدا کېږي. (۲م۲۵۴)، (۳م۱۸۳)

ځيني نور فکتورونه چې زمونږ په څېړنه کې کوم يو واقعه چې سببي فکتور وګڼل شي، پيدا نشول لکه Toxoplasmosis او Radiation په دې څېړنه کې هغه فکتورونه چې زمونږ په ټولنه کې برجسته او پياوړي وو، خرابه غذا، ټيټ اقتصادي حالت او د سواد د کچې ټيټوالی (۷۵٪). (۷م۱۸۳)

**پايله:**

لومړۍ ډله: سببي فکتورونه چې د ناروغۍ په راتګ کې اغېز لري او مهيه کوونکي تاثير لري. زمونږ په ټولنه کې غذا زيات رول درلوده (۷۲٪) او په لويه کچه اکثره حامله ښځې چې د زياتو انومالیو زيږون سبب ګرځي Animia پکې واضح وه چې Animia د خراب اقتصاد، د پوهې د کچې ټيټوالی او د غير معقول کلتور له کبله وه (۵۳٪).
دويمه ډله: هغه حامله ښځې چې Stress او يا په ځينو ناروغيو مبتلا وې، زمونږ په ټولنه کې دا فکتور هم مهم شمېرل شوی (۲۵٪). دريمه ډله: د مور عمر چې د شل کالو څخه کم و (۸۹٪). څلورمه ډله: هغه حامله ښځې چې چاقي او يا ډيابيټ درلوده، زمونږ په څېړنه کې دومره پياوړې نه ؤ.

**وړانديزونه:**

1. د هر روغتياپال او طبي کارکوونکي له خوا حامله مور ته په ډېرو ساده ټکو وښودل شي او په پوسترونو کې په ديوالونو وځړول شي.
2. د مور او ماشوم د روغتيايي کلينک له لارې حمل لرونکي ميندې د منظم ويزيټ له لارې وخت په وخت معاينه شي، د مور په وجود د مورزادي ناروغيو سببونه او مهيا کوونکي فکتورونه ولټول شي.
3. د روغتيايي کلينک له لارې لومړني اساسي ضروري غذايي مواد چې د ماشوم لپاره حياتي ارزښت لري، د راشن په ډول وړيا او جبري ورکړل شي (په ځانګړې ډول Folic Acid د حمل په اولو وختونو کې).
4. که د حامله مور په وجود کې کومه ناروغي موجوده وي، يا وروسته پيدا شي، بايد ژر تشخيص او د درملنې لپاره اړوند ځانګړي ډاکټر ته ولېږل شي.
5. کورنۍ بايد د حمل لرونکو ميندو لپاره پوره غذا برابره کړي او شاقه کار څخه مخنيوی وکړي او د Stress څخه وساتل شي، د غلطو رواجونو مشوره ورنکړي، د حمل په وخت مور ته زمينه برابره کړي چې ډاکټر ته د منظم ويزيټ لپاره ورشي.
6. د ټولنې مخور خلک، مذهبي لارښوونکي (مولوي صاحبان) او رسنۍ د تبليغاتو او عامه پوهاوي پروګرامونو له لارې د ناروغۍ په مخنيوي کې مرسته وکړي.
7. دولت او خيريه ټولنې د جنيټکو مشورو لپاره مسلکي پرسونل او ډاکټران وروزي او په دندو وګمارل شي، د حمل څخه مخکې لازمې مشورې ورکړي، تر څو ولادي او جنيټکي ناروغيو مخنيوی وشي.

**مناقشه:**

په دې څېړنه کې زمونږ په ټولنه کې غذايي فکتورونه، ناقص کلتور د سواد د کچې ټيټوالی او د محيط تاثيرات رابرسېره او څېړل شوي دي. که مونږ دغه څېړنه د نورو هېوادونو او کړنلارو سره پرتله کړو، هغوی په دې بريالي شوي چې د غذا او ځيني ويټامينونو او ښې پاملرنې د حمل لرونکو ميندو لپاره د مورزادي ناروغيو ناورين څخه ژغورلي دي او مونږ هم په اسانۍ کولای شو چې په ساده ډول د ناروغۍ څخه مخنيوی وکړو، په دې معنی چې غذايي رژيم د حمل په وخت کې اصلاح او د جنين د نمو لپاره مناسبه غذا برابره کړو؛ له نامعقول کلتور او رواج څخه

اجتناب وکړو، د حمل په اولو وختونو کې Teratogeaic دوا وانخستل شي، د ویروس او انتان څخه مخنیوی وشي، په جنیټیکي مشورو عمل وشي او حامله ښځې د Stress او شاقه کارونو څخه وساتل شي، نو مونږ به په دې وتوانېږو چې مورزادي ناروغۍ او په ځانګړې ډول Spina Bifida کچه راټیټه کړو.


## Abstract:

Spina bitida is a common congenital Neural Crest detect in due to Mothernal malnutrition Invironmenle cultural dis orders poor Economic condition in first weeks of gestation .that the may be causes mortality morbidity in neonates .which is possible to prevent it easily.


## References:


1- Fuchs HE: Hydrocephalus and Meningomyelocele Eds Stringer MD,Oldhamdt,Mouriquat eDE,WB Saunders Company Philadelphia,1998 p 787-796

2- Las Ms :Myclomeningocele .Eds Choux M ,Hockley AD ,Walke M2 ,Churchil Leving Stone, London, **1999**Ph 33-60

3- Shutleff HE.Lmire Rj ,Epidemiology, Ethiogical Factor and Parental Diagnoses ,Neuro Surgery ilin.N.AM.6,183-19995

4- Malone DG: care of neonate with G myelomeningocele Neuro Surgery clinic N.Am 9: 1111 1998

5- Stein back P .et al: Long term out came and complications of Children born with myelomeningocele Childs Ne Nerv 8:92, 1992

6- Malone DG. Continuing concepls in the management of Sine bifida, pediatric Neuro Surg 18: 254.1992

7- Dias MS: Myelomeningocele in pediatric Neuro surg- Eds choux M. ROCCO CD .Hockiey AD, walker ML .churchill living ston, 1999 -60

8- Shurtieff DB Lemire RJ: Epidemiology Ethiological factor and prenatal diagnosis of open spinal dystraphism . Neuro surg clinic N.Am 6: 183, 1995

پوهنـدوی محمد ابراهـــيم (همـــکار)
ښوونې او روزنې پوهنځی- پښتو څانګه

# د متجانسې قافيې جوړښت او ډولونه

**لنډيز:**
د متجانسې قافيې ګړنه په پښتو ادبي فنونو کې نوې ده، چا تر اوسه د قافيې په بحث کې څه ليکنه نه وه کړې، دې کار ته ما د لومړي ځل لپاره مخه کړه چې زما د څېړنې له مخې د قافيو په کلمو کې د تجنيس اووه واړه ډوله موجود دي چې هغه مې د همدې تجنيس د بېلابېلو ګړنو له مخې سره ترتيب کړي. درانه لوستونکي يې په مقاله کې لوستلای شي.

**سريزه:**
ادبي فنون چې په ټولو ختيځوالو په ځانګړې توګه عربي، فارسي، اردو او پښتو ژبو کې يې تر اوسه خپل ځای روغ ساتلی دی، په ادبياتو کې خورا خوندور بحث دی. په دې لړۍ کې تجنيس او قافيه دواړه خپل ټاکلي ځايونه لري، مګر ما په دې بحث کې تجنيس او قافيه سره غاړه کړي او په شاعرۍ کې مې پر هغو بيتونو بحث کړی دی چې دا دواړه (قافيه او تجنيس) په يوه کلمه کې سره غاړه شوي دي؛ البته په دې برخه کې تر اوسه نه چا ځانګړې څېړنه کړې او نه د ادبي فنونو په کوم کتاب کې يې ذکر راغلی دی. هيله ده درنو لوستونکو ته په زړه پورې وي.

**موخې:**

- د قافيې او تجنيس د يوځای کارولو پېژندل.
- د لومړي ځل لپاره په پښتو ادبي فنونو کې د نوموړې موضوع مطرح کېدل.
- د قافيو د کلمو د هماهنګۍ برخې له نومولو سره اشنا کېدل.

**کړنلاره:**
د نوموړې موضوع په اړه مې لومړی د قافيې معتبر کتابونه وکتل، په هغو کې يې څه څرک رامعلوم نه شو، نو ومې پتېيله چې په دې اړه يوه مقاله وليکم. د څېړنې په پيل کې مې د مختلفو شاعرانو ديوانونه ولوستل او د پام وړ بېلګې مې ترې راټولې کړې او بيا مې د تجنيس په اوو واړو ډولونو کې تر نومونې وروسته ځای پرځای کړې.

**تجنيس:**
تجنيس په لغت کې هم جنس کولو ته وايي، د ادبي فنونو په اصطلاح که په يو بيت يا نيم بيتي کې دوې يا زياتې داسې کلمې راشي چې په بڼه، وزن، د تورو شمېر، ليک او لوست کې يو شان يا څه سره ورته وي او په معنی کې سره توپير ولري، تجنيس يې بولي. تجنيس اووه بېلابېل ډولونه لري. (۱م۱۳۱)

**قافيه:**
قافيه په لغت کې څټ يا شا ته وايي، د ادبي فنونو په اصطلاح هغه علم دی چې د دورونو له وروستيو هماهنګيو څخه بحث کوي. (۲م۴۹)

**متجانسه قافیه**:

د قافیې هغه ډول دی چې د قافیو په کلمو کې یې د تجنیس ادبي صنعت پروت وي، لکه څنګه چې د تجنیس بېلابېل ډولونه دي، ما هم هڅه وکړه چې اووه واړه ډوله یې د قافیو په کلمو کې پیدا کړم، په دې هڅه کې الحمد الله بریالی راووتلم، خو زما لپاره او د ادب د ګرانو لارویانو لپاره چې ډېره د پام وړده هغه د قافیو د کلمو په شننه کې د تام تجنیس برخه ده.

۱- **تامه متجانسه قافیه**:

دا هغه ډول قافیه ده چې د قافیې کلمې د تورو په شمېر، وزن، بڼه، لیک او لوست کې یو شان وي، یوازې د معنی له مخې سره توپیر ولري.

په تام مماثل تجنیس کې د قافیې بېلګه:

څوک چې کښیناسته د مینې په اورنګ
نه یې سیــال دارا شکوه دی نه اورنګ
(۸م۹۸)

شننه:

په پورته بیت کې د قافیې کلمې (اورنګ، اورنګ) دي، لومړی اورنګ د تخت په معنی او دویم اورنګ د بابر د کورنۍ پاچا دی چې اصل نوم یې (محی الدین عالمګیر) او لقب یې اورنګزیب و چې دلته همدا ترې مراد دی.

په تام مستوفی تجنیس کې د قافیې بېلګه:

عمر هر زمان ګذر کا لـــکه واورې
یا به ستا له مـرګه واورم یا به واورې
(۱۰م۹۵)

شننه:

په پورته بیت کې لومړی (واورې) د فارسي د برف په معنی او په دویم نیم بیتي کې د (اورېدو) په معنی راغلی دی.

۲- **ناقصه متجانسه قافیه**:

هغه قافیه ده چې د قافیو په کلمو کې یې ناقص تجنیس راغلی وي:

تا چې وکـړه ښه ویناراته پستـــــه
زه دې ځار شم تر دا خوله لکه پسته
(۱م۸۶)

په پورته بیت کې (پسته ) د (پ) په زور د نرم په معنی او د (پ) په زېر سره د یو خوراکي څیز نوم دی.

فراق په ما خوري د زړګي وینې
اشـــــنا مې نشته الله مې وینې
(۱م۸۷)

د پورته بیت په (وینې، ویني) کلمو کې ناقص تجنیس راغلی دی، لومړی (وینې) د خون او په دویمه مسره کې (ویني) د لیدنې په معنی راغلی دی دا چې په حرکاتو یا تلفظ کې توپیر لري، ناقص تجنیس یې منځته راوړی دی.

۳- **زایده متجانسه قافیه**:

هغه قافیه ده چې د قافیو په کلمو کې یې زاید تجنیس راغلی وي. په مزید زاید تجنیس کې د قافیې بېلګه:

حاصل کړه مقصد ونه د دنیا له هره بابه
اخر به په ارمان ورځنې ځې سینه کبابه
(۹م۴۰)

ددې بيت د (بابه او كبابه) په كلمو كې زايد تجنيس راغلى دى، د كباب په كلمه كې (ک) تر (بابه) كلمې زيات دى. دا چې زيات توری د متجانسې كلمې په پيل كې راغلى دى، ځكه ورته مزيد وايي.

گل چې لاف د همسرۍ كا ستا له رنـــــگ
پرېږده لمر به يې بل رنگ كاندي تر درنگ
(۸م۹۸)

د (رنگ) او (درنگ) په كلمو كې زايد تجنيس راغلى دى، د (درنگ) كلمې په پيل كې يو توری د (رنگ) له كلمې څخه زيات راغلى دى، ځكه يې مزيد بولي.

په مزيد زايد تجنيس كې د قافيې بېلگه:

څو بدل په عبادت نه كړې عادت
بيا به نه مومې لذت د عبـــادت
(۹م۴۴)

د (عادت) او (عبادت) په كلمو كې مزيد زايد تجنيس راغلى دى، دا چې د عبادت په كلمه كې اضافي توری په منځ كې راغلى، ځكه يې د مزيد زايد تجنيس قافيه بولي.

چې خبر شوی له نياز يمه زه
له هغه وخته همه ناز يمه زه
(۷م۷۵)

ددې بيت په (نياز) او ناز كلمو كې مزيد زايد تجنيس راغلى دى، په نياز كې يو توری (ی) د ناز له كلمې څخه زيات راغلى دى. دا چې زيات توری د كلمې په منځ كې راغلى مزيد ورته وايي.

۴- **مركبه متجانسه قافيه**:

هغه قافيه ده چې د قافيې كلمې يې يوه په بسيطه او بله په مركبه بڼه راغلې وي. د متشابه مركبې متجانسې قافيې بېلگه:

په يو نظر چې وكړې ساقــــي ماته
هغه دم مې صد ساله توبه شي ماته
(۹م۴۲)

په پورته بيت كې د (ماته، ماته) كلمو تر منځ متشابه مركب تجنيس واقع شوی دی، په لومړۍ مسره كې (ماته) دوه بېلې بېلې كلمې دي، (ما) د شخصي مفرد متكلم نومځري اوبښتې بڼه ده، (ته) وييكی دی او په دويمه مسره كې (ماته) يوه كلمه ده چې مصدر يې (ماتول) دی؛ دا چې لومړۍ مركبه كلمه او دويمه بسيطه ده او هيڅ توپير يې نه كېږي، نو ځكه يې د متشابه مركب تجنيس لرونكې قافيه بولي.

چې په خندا شـــي د غرونو زركه
شهباز يې لاندې تر نظـــر زركه
نجات يې نشته زما په پوهــــه
په الواته كې كه باد وزركــــه
(۲م۳۶۷)

په پورته بيت كې لومړی (زركه) د (كبک) په معنى او په دويمه مسره كې (زر، كه) دوه بېلې كلمې دي چې متشابه مركب تجنيس يې منځته راوړی دی.

د مفروقې متجانسې قافيې بېلگه:

بيا مې شي زاړه زخمونه په زړه نوي
چې د يار په برجل رايشم يار نه وي

(۹م۱۷۵)

په لومړۍ مسره کې (نوي) یوه بسیطه کلمه او په دویمه مسره کې (نه وي) مرکبه کلمه ده چې په مفروق ډول راوړل شوې ده.

چې په سترګو څراغ وویني پتنـــګ
څو ونه مري له ژوندونه وي په تنګ
(۹م۱۷۵)

په پورته بیت کې لومړی پتنګ د پروانه په معنی بسیطه کلمه ده او (په تنګ) مرکبه کلمه ده چې فرق یې له لومړي سره په لیک کې څرګند دی.

د مرفو مرکبې متجانسې قافیې بیلګه:

نازپروره چې په غاړه کــه هارونه
په سینه یې د ګل وشي پرهارونه
(۹م۱۵۴)

د لومړۍ مسرې د (هارونه) له کلمې څخه په دویمه مسره کې (پرهارونه) په کلمو کې (پر) زیات راغلی او مرفو مرکب تجنیس یې منځته راوړی دی.

څو جفا قبوله نه کړې د اغیـــار
وبه نه ویني په سترګو مخ د یار
(۵م۸۴)

د (اغیار) په کلمه کې (یار) له کلمې څخه (اغ) دوه توري زیات راغلي چې مرفو مرکب تجنیس یې منځته راوړی دی.

د خپل یار د مینې درد مې د زړه قوت دی
قوت مې خپل خون ځیګر لکه یاقوت دی
(۸م۱۷۵)

د پورته بیت په (قوت) او (یاقوت) کلمو کې مرفو مرکب تجنیس راغلی دی.

۵- **مکرره متجانسه قافیه**:

هغه قافیه ده چې د قافیو په کلمو کې یې مکرر تجنیس راوړل شوی وي:

مزین یــې کـــا یو څو په افسر سر
بیایې مات کا د دوران غضنفر فر
په معنی کې بشر نه دی پړانګ لېوه دی
چې دده له لاسه مومـــــي بشر شر
(۹م۵۳)

په پورته بیتونو کې د (افسر، سر)، (غضنفر، فر) او (بشر، شر) تر منځ مکرر تجنیس منځته راغلی دی چې په عین وخت کې د قافیې کلمې هم دي.

۶- **مطرفه متجانسه قافیه**:

هغه قافیه ده چې د قافیو په کلمو کې یې مطرف تجنیس راغلی وي، په دوه ډوله ده، مضارع او لاحق. د مضارع مطرفې متجانسې قافیې بېلګه:

بېلتانه دې ګوره هسې کــړم بېوا که
چې وهي مې هر مېږی او مچ بېبا که
(۱م۹۵)

د (ببوا كه او ببباكه) كلمو تر منځ مطرف تجنيس واقع شوی دی. دا چې (ب او و) مخرجونه سره يو شان دي، مضارع مطرف يې بولي.
د لاحقي مطرفې متجانسې قافيې بېلگه:

هيڅ مې نه زده محبت كه اور دی دا
په اور سوزم په رضـــا كه زور دی دا
(۳م۲)

راځئ څيرې كړو دا ښې جامې رنگينې
پكې وگـــورو څېرې د پرې ننگـــــينې
(۱م۹۲)

په پورته بيتونو كې د (اور او زور تر منځ يو توری (الف او ز) بدل راغلی او د (رنگينې او ننگينې) پـه كلمو كې د (ر او ن) توری بدل راغلی دی. دا چې مخرجونه يې بېل دي، ځكه يې لاحق مطرف تجنيس بولي.

۷- **خطي متجانسه قافيه**:

هغه قافيه ده چې د قافيو په كلمو كې يې خطي تجنيس راغلی وي:

چې مې وليدې دا تورې سترگې ستا
زه به نه كړم هېرې نورې سترگې ستا
(۱۰م۱۲)

پرې مې ږده چې ژاړم شپه او ورځ لكه باران
گل غوندې رېژن كا په وار وار ښكلي ياران
(۹م۱۱۰)

له جهانه چې هر دم ښكلي ياران ځي
زما اوښكې په دا غـم لكه باران ځي
(۸م۱۸۹)

كه دې وخوړ تمامي جهان په نس
ده يو ځـل درته ونه ويل چې بس
(۴م۸۹)

په پورته بيتونو كې د ( تورې او نورې)، (باران او ياران) او (نس او بس) په كلمو كې خطي تجنيس راغلی دی چې په عين وخت كې د قافيې كلمې هم دي.

يادونه: هغه كلمې چې د تجنيس بېلگې پكې راغلې دي په عين وخت كې د هماغو بيتونو د قافيې كلمې هم دي.

**پايله**:

د نومورې موضوع په اړه چې ما كومه څېړنه وكړه د تجنيس اووه ډوله مې د قـافيو پـه كلمو كې پيدا كړل چې پـه ټولو كې يې په زړه پورې ډول د تام تجنيس بېلگې دي، هغـه پـه دې بنسټ چې هماهنگه برخـه يې يـوه كلمـه د بلې پـه وړاندې ده او په دې نورو ډولونو كې بيا هماهنگه برخه سره توپير كوي، خو بيا هم د شعر په زړه پورې والي كې لـوی لاس لري او د لوستونكو او اورېدونكو توجه ځانته اړوي چې د فن له مخې ځانگړی ځای لري.

**وړانديزونه**:

- د قافيې په بحثونو كې دې نومورې موضوع شامله شي.
- د كلام ښكلا او اهنگين كولو لپاره دې په اړونده موضوع نوره څېړنه وشي.

**پايلنيونه**:

ددې مقالې تر لوستلو وروسته د ادب لاروي او مينه وال کولای شي د قافيې، تجنيس او له متجانسې قافيې سره اشنا شي او هم يې په ورځني ژوند کې د مسلک له مخې تطبيق کړي.

**خلاصة البحث**:

ان اصطلاح القافية المتجانسة شئ جديد فی الفنون الادبية البشتويه لم ياخذه احد حتی الان بالبحث فی موضوع القافية فكنت اول من تصدی لهذا العمل بحيث بينت ستة انواع التجنيس فی قوافی الكلمات حسب ماقمت به من التحقيق مرتباً لها و فق مصطلحات التجنيس المتنوعة بحيث تتيسير للقراء الكرام قرائته فی اا الموجز.

**اخځليکونه**:


۱- کاکا خېل، سيد تسنيم الحق. (۱۹۸۷م). روح ادب (دويم چاپ). پېښور: پښتو اکېډيمي پېښور يونېورسيټي
۲- بېنوا، عبدالروف. (۱۳۲۲ل). ادبي فنون. کابل: پښتو ټولنه
۳- مومند، عبدالحميد. (۱۳۸۳ل). د عبدالحميد مومند کليات. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه
۴- نجيب. (۱۹۷۲ع). ديوان نجيب. پېښور: پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي
۵- عبدالرحمن. (۱۹۸۷ع). ديوان عبدالرحمن بابا. پېښور: پښتو اکاډيمي، پېښور يونيورسټي
۶- شيدا، کاظم خان. (۱۳۸۴ل). د کاظم خان شيدا ديوان. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه
۷- شينواری، حمزه. (۱۹۵۷ع).غزونې. پېښور: اداره اشاعت سرحد پشاور
۸- خټک، کامګار. (۱۹۵۵ع). ديوان کامګارخان خټک. پېښور: پېښور يونيورسټي
۹- خټک، عبدالقادر. (۲۰۰۲ع). د عبدالقادرخان خټک ديوان. پېښور: پېښور يونيورسټي
۱۰- خټک، خوشحال. (۱۹۲۰ع). کليات خوشحال خان. پېښور: اداره اشاعت سرحد پشاور

پوهندوی مـطيع الله (مـطيع)
پوهندوی حيات الله (احمدزی)
طب پوهنځی- داخله څـانګه

# د (COPD) په (Exacerbation) کې د اريتمياوو پېښې

**لنډيز:**

دا څېړنه د ننګرهار د عامې روغتيا روغتون د داخلې په څانګه کې پر ۱۲۰ تنو ناروغانو چې د COPD د Exacerbation نښې نښانې يې درلودې، ترسره شوې چې ۵۸ تنه (۴۸،۳٪) نارينه او ۶۲ تنه (۵۱،۷٪) په کې ښځينه ناروغان وو چې Mean age يې نارينه و کې ۱۳± ۶۷ او ښځو کې ۷۰± ۱۰ دی. ۸ تنه (۶،۷٪) په اذيني فبريليشن او (۵) تنه (۴،۱٪) MAT (Multifocal-Atrial-Tachycardia) او (۵) تنه (۴،۱٪) په بطيني اريتمياو اخته شوي وو.

**سريزه:**

ځرنګه چې COPD د سږو او هوايي لارو ځنډنۍ ناروغي ده چې د هوا د بهير په وړاندې په ځنډني ډول په کې محدوديت شتون لري چې ناروغان يې د نورمالو وګړو په پرتله د وينې د اکسيجن اندازه لږه او کاربن ډای اکسايد کچه په کې لوړه وي او د سږو شريان د فشار لوړوالي په ځنډني ډول هم منځته راځي چې لاملونه يې د هوايي لارو نسبي بندښت او د اکسيجن او کاربن دای اکسايد د تبادلې زيانمن کېدل او د سږو د اوعيو په جوړښت کې بدلون دی، نو ځکه په دې ناروغانو کې ډول ډول ستونزې د بېلګې په ډول د زړه د ريتم ګډوډي او د تنفس عدم کفايه منځته راځي چې پايله يې ناتواني، فلج او مړينه ده. په انګلستان کې هر کال ۱۸مليونه نارينه او ۲ مليونه ښځينه وګړي د COPD ناروغۍ له کبله Lost working day لري چې د ټولو کاري ورځو ۷٪ جوړوي چې لاملونه يې د COPD اختلاطات ښودل شوي دي او داسې وړاندوينه هم شوې ده چې په ۲۰۲۰ ميلادي کال کې د COPD ناروغي د ناتوانۍ پنځم لامل او د مړينې دريېم لامل وګرځي. د COPD د اختلاطاتو په ډله کې مهم اذيني او بطيني د نظم ګډوډي شاملې دي، که درملنه يې ونه شي، د هايپوتنشن، سيستميک امبولايزيشن، CHF, Anxiety او د عمليات څخه وروسته د روغتون د بستري کېدو موده اوږدوي، نو ځکه مو د موضوع د اهميت له مخې وغوښتل چې د COPD په ناروغانو کې د زړه د ريتم ګډوډيو پېښې وڅېړو، تر څو زمونږ طبي پرسونل ته ګټور تمام شي. پاتې دې نه وي چې په څېړنه کې پوهندوی حيات الله احمدزي د ناروغانو په فزيکي معاينه، د تاريخچې په اخستلو، د دوسيو په راټولولو، مناقشې او ماخذونو په ترتيبولو کې ونډه اخيستې او پاتې چارې يې ما (پوهندوی مطيع الله (مطيع) پرمخ وړې دي.

**موخې:**

- په عمومي ډول سره د COPD د ناروغۍ په باره کې علمي معلومات وړاندې کول.
- (High risk) کسانو په ډاګه کول چې قلبي اختلا طات په کې ډېر دي.
- د اذيني او بطيني ارتيمياو د پېښو معلومول.
- د اريتمياګانو د منځته راتلو د مخنيوي لارې چارې په ګوته کول.
- اړوند مقامونه هڅول چې د څېړنې د نتايجو له رويه يو وقايوي علمي ستراتژيک پلان جوړ کړي.

**د *(COPD)* په *Exacerbation* کې د اريتمياوو پېښې:**

COPD (chronic obstructive pulmonary disease) تعريف: دا يو ډول ناروغي ده چې د هوا د جريان محدوديت په کې شتون لري او په بشپړ ډول د اصلاح وړ نه وي، يعنې Non reversible دا محدوديتونه د پرمختګ په حال کې دي او د ګازاتو او نورو Noxious ذرې په وړاندې د سږي د غير نورمال غبرګون د منځته راتلو لامل ګرځي. داسې وړاندوينه هم شوې ده چې په ۲۰۲۰ ميلادي کال کې به COPD د Disability پنځم او د مړينې دريېم لامل به وي. COPD د زهري ذراتو او نورو ګازاتو له امله چې سږي ورسره مخامخ کېږي، منځته راځي، په پرمختللو هېوادونو کې سګرټ څکول د ۹۰٪ پېښو

لامل گرځي، په نورو هېوادونو کې چې د پرمختګ په حال کې دي، نور فکتورونه لکه Bio mas سونګ موادو د سوځېدو له امله چې کوم لوګي پیدا کېږي، په دې پېښو کې شامل دي. (۲)
۱۰-۲۰٪ هغه کسان چې ډېر Heavy سګرټ څکونکي دي، په COPD ډېر اخته کېږي او دا د سګرټ څکولو د اندازې پورې اړه لري، هغه کسان چې هره ورځ ۳۰ دانې سګرټ څکوي، د COPD د هغو ناروغانو په پرتله چې non smoker دي، د مړینې اندازه ۳۰ ځله ډېره ده. Air Pollution او اقلیم په COPD کې لږ رول لري، مګر د لوړ اتوموسفیر د پولوشن په وخت د COPD د ناروغانو مړینه ډېرېږي. د ښار څخه بهر ژوند او شغل هم رول لري، اما ګرانه خبره ده چې ددې اغېزې د smoking څخه بېلې کړو. په COPD کې ځنډنی برانشیت او امفزیما شامل دي. د COPD په Exacerbation کې د خړاسکي زیاتوالی، قیحي بلغم، ساه تنګي، د سینې د سنګاري زیاتوالی، د سینې نیونې احساس او ځینې وخت د مایعاتو راټولېدل موجود وي. (۱)

## ایتالوژي او رسک فکتورونه:

### A- د مېزبان فکتورونه:

1. جنیتک فکتورونه، لکه د الفا یو Anti trypsin نشتوالی او د COPD نور مساعد کوونکي جینونه هم معلوم شوي دي.
2. د هوایي لارو د غبرګون زیاتوالی.

### B- محیطي فکتورونه:

1. تنباکو- ۹۵٪ پېښو کې مسئول دي (انګلستان کې).
2. Bio mass solid لوګي او اور.
3. شغل- اهنګران او کوم کسان چې کدمیم سره سر او کار لري.
4. هوا پولوشن.
5. هغه کسان چې د زېږون پر مهال یې وزن کم وي. (5،2)
6. د سږو وده، د ماشومتوب انتاني ناروغي او یا د مور لخوا د سګرټ څکول د سږو د ودې د کموالي لامل ګرځي (ماشومتوب) په دې توګه په زوړوالي یا کهولت کې د سږو د وظیفې د کموالي لامل ګرځي.
7. انتانات، پرله پسې انتانات د FEv1 د کموالي لامل ګرځي، په سږو کې د ادینو وایرس شتون د موضعي التهابي غبرګون د بدلون او د سږو د زیانمنېدو لامل ګرځي، HIV د ایمفزیما سره تړاو لري.
8. د اقتصادي اجتماعي حالت خرابوالی.
9. تغذیه، ددې ځانګړېتوب تر اوسه پورې معلوم نه دی. (۲)
10. چرس څکول.

د COPD په ناروغانو کې ډول ډول اذیني او بطیني اریتمیا منځته راځي چې عبارت دي له:
۱- اذیني فبریلشنAF: په COPD ناروغانو کې په دودیز ډول منځته راځي، په ۲۰۰۳ میلادي کې د ډنمارکي څېړونکو په واسطه چې کوم څېړنیز راپور په اروپایي تنفسي ژورنال کې نشر شوی دی، په دې ډول دی، څېړنه پر ۱۳۴۰۰ کسانو چې د دیارلس کالو په موده کې ترسره شوې ده، یعنې دا یوه Cohort څېړنه ده او داسې معلومه شوې ده چې د نورمال سږو په پرتله په هاغه کسانو کې چې د سږو دندې یې لږې شوې دي، د اذیني فبریلشن پېښې په کې دوه برابره وي. (۴)
سربېره پر دې دوی په خپل راپور کې اذیني فبریلشن څخه پرته نورې قلبي اریتمیاوې منځته راتلای شي. د Wikipedia د راپور په اساس IHD او کورپلمونل هم منځته راتلای شي چې دا رنګه حالات په خپله د قلبي اریتمیا د منځته راتلو لپاره لاره هواروي. په راپور کې دا هم ویل شوي چې هر کال باید د COPD ناروغان د اریتمیا په خاطر معاینه شي. (۴)
د څېړنې پایله کې داسې هم لیکل شوي دي چې FEV1 یو خپلواک predicator د New onset atrial fibrilition لپاره دي او هغو کسانو چې ورځ کې د 7.5mg څخه ډېر Oral prednisolon او یا د هغې معادل اخلي، د New onset AF او

بطيني اريتميا د منځته راتلو سبب ګرځي. څېړنو ښودلې چې د ستريډونو انشاقي مستحضرات د نومو ړي اريتميا لامل ګرځي. (4،8)

څرنګه چې AF د وژونکو اختلاطاتو لامل ګرځي، د COPD په ناروغانو کې د زړه برېښنايي ګراف اخيستل ډېره اړينه روتينه لابراتواري ازموينه ده. NIH (National insititure of Health) راپور له مخې AF په COPD ناروغانو کې د سږو د دندو ګډوډي او د وينې د ګازاتو د بدلون له امله منځته راځي چې ددغه بدلونونو سره يو ځای د وينې په بهير کې بدلون هم منځته راځي او په دې توګه د pulmonary hypertension او د AF د منځته راتلو لامل ګرځي. د COPD په ناروغانو کې د زړه Dysarrhythmia خطر ډېر دی، سره له دې چې Exacerbation او صدري جراحي عملياتو پر مهال دا پېښې ډېرې منځته راځي، خو په ثابت stable COPD کې هم ډېر وي. په پتوجنيزس کې يې ډېر فکتورونه شامل دي چې عبارت دي له (Hypoxia) او (Acidosis).

**FEV1 کموالی:**

په COPD کې Multifocal atrial Tachycardia يا MAT هم ليدل کېږي، په ځانګړې ډول د Exacerbation په وخت کې. (۲،۴،۷)

دا مهمه خبره ده چې معلومه شي د COPD او MAT يوځايي شتون د مړينې اندازه ډېروي. د زړه اريتميا په ځانګړې ډول د اذيني اريتميا لامل ګرځي. هغه څېړنه چې د Hanrahan JP او همکارانو په واسطه په ۱۴۲۹ تداوي شويو ناروغانو کې په Beijing کې د ۲۰۰۰-۲۰۱۰ کلونو په اوږدو کې ترسره شوې ده، لاندې پايلې يې درلودې: Atrial Tachycardia ۲۷-۳۲٪ او اذيني فبرليشن **0.1**٪، Non sustained ventricular Tachycardia ۱،۳٪ او Sustained Venricular tachycardia ۳،۰٪ دي. همدارنګه په دې څېړنه کې داسې ويل شوي دي چې د COPD په ناروغانو کې يو ځای د زړه ناروغۍ شتون نه درلود.

## مواد او کړنلاره:

دا څېړنه د عامې روغتيا روغتون د داخلې په څانګه کې ۱۳۹۰-۱۳۹۱ کلونو په اوږدو کې د COPD په ۱۳۱ تنو ناروغانو چې په Exacerbation اخته وو، ترسره شوه. د څېړنې ميتود Observational Descriptive مطالعه ده. په څېړنه کې هغه ناروغان چې د وينې لوړ فشار، د شکرې ناروغي تاريخچې او IHD او د زړه د بېړنۍ احتشا او هم هغه ناروغان چې د مختلفو لاملونو له کبله يې د ايوروتيک او تيوفلين درمل کارول، په څېړنه کې مو ونه نيول. د ۱۳۱ تنو ناروغانو له ډلې څخه ۸ تنو د وينې لوړ فشار، ۲ تنه DM او يوه تن په تايروتوکسيکوزس باندې اخته وو، هم د خپلې څېړنې څخه وويستل؛ پاتې ۱۲۰ تنو ناروغانو چې ۵۸ تنه يې نارينه او ۲۲ تنه يې ښځينه وې، شاملې کړې چې د عمرونو رينج يې ۵۰-۹۰ کالو پورې و. ۸۵ تنه يې د ننګرهار، ۲۰ تنه يې د لغمان، ۱۰ تنه يې د کونړ او ۲ تنه د تګاب او ۳ تنه د نورستان او سپدونکي وو. ۸۸ تنو ناروغانو عمرونه ۵۰-۷۰ کلنې او ۳۲ تنو يې ۷۱-۹۰ کلنۍ پورې عمرونه لرل. د ناروغۍ تشخيص د بشپړې تاريخچې، فزيکي او لابراتواري ازموينو لکه د سينې ايکسرې، د وينې د اکسيجن $(O_2)$ Saturation (د Oximeter الې په واسطه) ترسره شوی دی. $FEV_1$ او $Pco_2$ ټاکلو امکانات زمونږ په روغتون کې نشته. بايد يادونه وکړو چې د $Pco_2$ او $Paco_2$ ټاکل د COPD په هغو ناروغانو کې ډېر ارزښت لري چې تنفسي عدم کفايه ولري چې دا زمونږ د څېړنې څخه وتلې موضوع ده. په تاريخچې کې اساسي ټکي لکه د ټوخي دوام او کوم موسم کې منځته راځي، بلغم شتوالی، ساه لنډی، د بلغمو مقدار او بوی او همدارنګه د تنباکو کارولو په خاطر (لکه سګرټ څکول، چلم څکول او نصوار) په باره کې بشپړ معلومات ليکل شوي دي. همدارنګه د ناروغۍ د اعراضو پيل او روغتون ته د هغوی د راتګ ورځې په تاريخچې کې وليکل شوې. د ناروغانو فزيکي او لابراتواري ازموينو څخه وروسته د دوی د زړه برېښنايي ګراف ريکارډ شوی دی، په دې ټولو COPD ناروغانو کې (۸۵) تنه يې په Chronic bronchitis او (۳۵) تنه يې په امفزيما باندې اخته وو. ۲۰ تنو ناروغانو کې د تنباکو د استعمال تاريخچه مثبته وه او (۲) تنه يې په چرسو معتاد وو. د اکسيجن Saturation په دوی کې ۹۰٪ څخه لږ و او په (۴۷) تنو ناروغانو کې Cyanosis شتون درلوده. نږدې (۱۸) تنو ناروغانو د زړه ريتم او نبض يې منظم نه و پاتې (۱۰۰) تنو کې Tachycardia شتون درلوده. نږدې نيمايي ناروغانو د ټوخي، بلغم او د سينې درد او

تبه هم درلوده (۵C،۳۷-۳۸) د COPD په څېنو ناروغانو کې پرله پسې E.C.G اخستلو ته هم اړتيا پيدا شوه. هغو ناروغانو کې چې قلبي اريتميا يې درلوده، شمېر يې (۱۸) تنو ته رسېده چې (۱۲) تنه يې ۷-۱۰ ورځې، ۳ تنو يې ۱۵ ورځې او يو تن يې د ناروغي د Exacerbation څخه يوه ورځ وروسته روغتون ته راغلي وو. د ناروغانو د ويني روتين معاينات ترسره شوي او د څېنو معيارونو مطابق يې په درملنه کې اقدام شوی دی. د COPD (۱۲۰) تنو ناروغانو حياتي نښې نښانې په لاندې جدول کې په لنډه توګه ليکل شوي دي:

۱- په COPD اخته ناروغانو حياتي علايم راښيي:

| د ناروغانو شمېر | د وينې فشار | د زړه ضربان شمېر په يوه دقيقه کې | د نبض شمېر په يوه دقيقه کې | تنفس شمېر په يوه دقيقه کې | حرارت درجه(C) | Saturation (O2) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰۲ | -۹۰/۱۰۰-۱۴۰ ۸۰ | ۹۰-۱۲۰ضربان منظم وو | ۹۰-۱۲۰نبض منظم وو | ۱۸-۲۵ | ۳۷ – ۳۸ C | ۸۵٪ |
| ۸ | ۸۰-۱۰۰/۶۰-۸۰ | ۱۲۰-۱۸۰ اريتميا درلوده | ۱۰۰-۱۵۰غير منظم ۲۰-۳۰ pulse deficit | ۲۰-۳۰ | ۵. ۳۷،۳۸ C | ۸۰-۸۵٪ |
| ۵ | ۹۰-۱۰۰/۷۰-۸۰ | ۱۰۵-۱۳۰اريتميا وه | ۹۵-۱۱۵غير منظم ۱۰-۱۵ pulse deficit | ۲۰-۲۵ | ۳۷-۳۷.5 | ۸۲-۸۷٪ |
| ۵ | ۱۲۰-۱۰۰ / ۸۰- ۸۵ | ۸۰-۹۰ اريتميا وه | ۸۰-۹۰ غير منظم pulse deficit نه وو | ۲۰-۲۵ | ۳۷-۵.۳۷ C | ۸۰-۸۸٪ |
| مجموعه ۱۲۰ | | | | | | |

**پايله**:

د ۱۲۰ تنو ناروغانو له ډلې څخه چې د COPD په اګزاسربيشن اخته وو، ۸ تنه (۶،۲٪) په اذيني فبرليشن او ۵ تنه (۴،۱ ٪) په MAT او ۵ تنه (۴،۱٪) ناروغان د زړه په بطيني اريتميا اخته شوي وو. په دې ۱۸ تنو ناروغانو کې ۸ تنه نارينه او ۱۰ تنه ښځينه ناروغانې وې، په نارينه و کې Mean Age (۲۷±۱۳) او ښځو کې (۱۰±۷۰) وه. اذيني اريتميا په هغو ناروغانو کې ډېرې وې چې روغتون ته د درملنې په غرض ناوخته راغلي وو (۷-۱۰ورځې)، ددې ناروغانو له ډلې څخه ۱۰ تنه د ننګرهار، ۴ تنه د کونړ ۲ تنه د لغمان، يو تن د نورستان او يو تن د تګاب اوسېدونکی و.

دويم جدول:

| د زړه بې نظمي | شمېر | فيصدي |
|---|---|---|
| اذيني فبرليشن | ۸ | ۶،۲ |
| MAT | ۵ | ۴،۱ |
| بطيني اريتميا | ۵ | ۴،۱ |
| مجموعه | ۱۸ | ۱۴،۸ |

لومړی گراف: د څېړنې پايلې د گراف په وسيله




**مناقشه:**

که مونږ د خپلې څېړنې پايلې د هغې څېړنې د پايلې سره چې په BeiJing کې د HANRAHANJP او ملگرو لخوا په ۱۴۲۹ تنو ناروغانو چې د COPD په اگزاسرپيشين اخته وو ، ترسره شوې ده، پرتله کړو ، نو معلومېږي چې زمونږ په څېړنه کې ۲،۲٪ اذيني فبرليشن، **4.1**٪ MAT، او **4.1**٪ ناروغانو بطيني اريتميا درلوده. د هغوی په څېړنه کې 0,1%AF او بطيني اريتميا 3,4% وه، ددې څخه داسې معلومېږي چې زمونږ په څېړنه کې د زړه د ريتم گډوډې په ځانگړې ډول اذيني اريتميا پېښې ډېرې وې چې لاملونه يې ممکن په لاندې ډول وي:

لکه چې طبي ادبياتو کې ترې يادونه وشوه چې په COPD ناروغانو په سږو کې ساختماني بدلونونه منځته راځي چې د قلبي اريتمياگانو منځته راتگ لپاره تر ټولو غوره فکتور Hypoxia ده. دا موضوع مهمه نه ده چې ايا COPD ناروغی وقوعات يا incidence زمونږ په وطن کې ډېرې دي او که د چين غونډې صنعتي هېواد کې، اصلي موضوع د COPD د ناروغانو څارنه، منظم check up او په کورونو او يا هغوی ته نږدې صحي کلنيکونو کې چې اکسيجن گاز ته لاسرسی ولري يعنې دوی په منظم ډول اکسيجن اخلي، long term home oxygen therapy او هم يې درملنه وشي چې ددې کار لپاره په لومړي قدم کې ښه اقتصاد او وروسته بيا صحي پوهاوي ته اړتيا ليدل کېږي او نن سبا چې چين قوي اقتصاد لري، دا ستونزې په کې نه ليدل کېږي، اما برخلاف زمونږ په هېواد کې له يوې خوا لومړنی عمده فکتور غربت او په دويم قدم کې د تعليم د کچې ټيټوالی دی. زمونږ په څېړنه کې چې مونږ ته معلومه شوه، نږدې ۸۰٪ خلکو اقتصادي او تعليمي حالت خراب و او اصلاً ټول ناروغان د home oxygen therapy څخه ناخبره او په مفهوم يې نه پوهېدل. بناءً مونږ فکر کوو چې زمونږ په څېړنه کې د قلبي ارتمياگانو د پيدا کېدو مهم او غوره فکتور همدغه دوامداره Hypoxia ده چې په غريبۍ او ناتوانۍ پورې تړلې ده؛ نور فکتورونه يې لکه روغتون ته ناوخته راتگ او د ډول ډول انتاناتو مداخله د سږو د وظيفې د لا خرابوالي سبب گرځي چې پايله يې د Hypoxia سختوالی او قلبي اريتمياگانې او د نورو خرابو اختلاطاتو د پيدا کېدو لامل گرځي.

## وړانديزونه:

1. د COPD ناروغان بايد وهڅول شي، د Exacerbation پر مهال ژر نږدې روغتيايي کلينيک او روغتون ته ورشي.
2. د عامه وګړو د علمي کچې د لوړوالي په غرض په پراخه اندازه سره تبليغات د مسجدونو د امامانو، استادانو او صحي پرسونل لخوا وشي چې د ناوړه موادو د سونګ څخه کاروانه خستل شي.
3. ناروغان بايد وهڅول شي چې د سګرت څکولو او نورو دخانياتو څخه ډډه وکړي.
4. د امکان تر بريده د COPD ناروغانو ته په کور کې د اکسيجن د ورکړې لازمې اسانتياوې برابرې شي.


## Abstract:

Chronic Obstructive pulmonary disease (COPD) is a chronic inflammatory, Broncho pulmonary disease in which chronic airflow limitation is present COPD exacerbation is a condition in which sputum color and amount is changed and increased, COPD result to hypoxemia and hypercapnia so ti causes MAT, Atrial Fibrillation and Ventricular arrhythmia. COPD is a structural changes of the lung, so gases exchanges is disturbed and result to hypoxia . the dominant factor is hypoxia because hypoxia with other factor is responsible for AF and other ventricular arrhythmia. According to our research that was performed on 120 COPD patients that were suffering from COPD Exacerbation we find cardiac Arrhythmia us follow: 8 (6.6%) patients had Artial Fibrillation, 5 (4.1%) had MAT and 5(4.1%) had ventricular arrhythmias.


## اخځليکونه:


۱ـ نشاط، محمد طيب. (۱۳۸۸). د تنفسي او روماتيزمل ناروغي. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون طب پوهنځی.

2: Boon Nicholas, collage Nacki 2010, Davidsons' principle of internal medicine, 21st Edition churchil Livingston, New Delhi pp(671-676 )

3: Hanrahan JP et al COPD and cardiac arrhyhthmia in Pub Med will retrieved 1413, Medicine (Baltimore) 2008, Nov, 87(6):319-28.

4: HTTp:/chest Journal. Chest puss, org/content/97151 1092, American college of physician 1995.

5: Kasper Dennis.Faouci Anthony,Brownwald,Eugene 2012 ,Harrisons' principle of internal medicine ,18h edition USA, Graw hill PP(2151-2160)

6: Kumar parvenu & Clark Micheal 2009 , Clinical Medicine , 7th Edition Spain Saunders Elsvier PP(834-841)

7: Stephen J. McPhee-Maxine A. Papadakis2012, Current Medical Diagnosis and Treatment MC Graw-Hill Compay USA.PP (255-261).

8: WILLAm P. AREND et ali. 2008 Cecil: medicine Elsevier 23rd edition, PP 619-627.

پوهـــــندوی جـــــانس (زړن)
ژبو او ادبياتو پوهنځی- پښتو څانګه

# په ايټاليه کې د رنسانس ادبي دورې پېلامه

**لنډيز**:
په دې علمي- څېړنيزه مقاله کې په ايټاليه کې د رنسانس د دورې په پيل چې څنګه رنسانس پيل شو، په لنډ ډول ميکل انژ، سانتي رافايل، کريستف کولمب او وروسته په ايټاليه کې د رنسانس دورې د ادبياتو په دريو سترو سرلاريو ليکوالو دانته ايلګر، پتراکه او جوني پوګاچيوف او د دوی پر ادبي، سياسي او فرهنګي ژوند څېړنه شوې ده.

**سريزه**:
دا چې د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو څانګه په خپل درسي نصاب کې د نړيوالو ادبياتو تاريخ تدريسوي، نوموړې مقاله د نړيوالو ادبياتو او په ځانګړې توګه د لويديځو ادبياتو د رنسانس دورې د ادبياتو د زده کړې له پاره ډېره مهمه ده. دغه څېړنيزه علمي مقاله د ژبو او ادبياتو پوهنځي د ټولو څانګو له استادانو او محصلينو سره ډېره مرسته کولای شي او پوره ګټه ترې اخيستلای شي.

**موخې**:
ددې څېړنيزې علمي مقالې يو عمده هدف دادی چې د ژبو او ادبياتو پوهنځي د ټولو څانګو محصلين ترې پوره استفاده کولای شي، نوموړې علمي مقاله د هغو استادانو سره هم مرسته کولای شي، کوم چې د اروپا د رنسانس دورې په ادبياتو کې ليکنې کوي. بل هدف د مقالې ليکونکی استاد هم کولای شي ، چې د يو فرعي اثر په حيث يې له امتياز څخه ګټه پورته کړي.

**په ايټاليه کې د رنسانس ادبي دورې پېلامه**:
پنځلسمه او شپاړسمه ميلادي پېړۍ د اروپا په ادبياتو کې د ډول ډول پوهنو او هنرونو يوه روښانه دوره ګڼل کېږي، د رنسانس دورې په پيلېدو سره نوې پانګوالي اړيکې منځته راغللې، نوموړې دوره د ځمکواکي اړيکو له منځه تګ او د پانګوالو اړيکو د پيلېدو دوره ده. څوارلسمه او پنځلسمه ميلادي پېړۍ د رنسانس دورې پيل او اوولسمه ميلادي پېړۍ يې پای ده، په دې دوره کې ايټالوي پوه (توسکانيلي) د ځمکې د ګردوالي نظريه وړکړه او د نړۍ نقشه يې جوړه کړه. په (۱۴۹۸) کال پرتګالي (واسکاتوګامايي) د هندوستان غاړو (سواحلو) ته ورسېد او پر نوموړي هېواد تېري او يرغلونه پيل شول. په (۱۴۹۲) کال (کريستف کولمب) چې د هسپانيې د پاچا په خدمت کې ؤ، امريکا يې کشف کړه. د (۱۵۱۹_۱۵۲۲) کلونو تر منځ پرتګالي (ماژيلان) د ځمکې ګرد چاپېره دوره وکړه، پولنډي عالم (کوپرنيک) د لمر په شاوخوا د ځمکې دوران ثبوت کړ، زړو او وروسته پاتې نظريو ته يې د پای ټکی کېښود، دغو برسېرونو (کشفياتو) او نويونو (اختراعاتو) د رنسانس دورې د ادبياتو د مبارزې ډولونه هم د منځنيو پېړيو پر ضد بدل کړل. (۱م۹۸)

**الف- رنسانس په ايټاليه کې**: رنسانس په ډېره لږه موده کې د لويديځې اروپا ټولو هېوادونو ته لاره پيدا کړه، په (۱۴_۱۵) ميلادي پېړيو کې ايټاليه د اروپا د پرمختللو هېوادونو په کتار کې شمېرل کېده، د لومړي ځل له پاره په دغه هېواد کې د لاسي صنايعو ډولونه منځته راغلل چې د پانګوالي پوړ د پيدا ايښت سبب شو، حال دا چې په (۱۴) ميلادي پېړۍ کې هومانستي (انساني) نظريات په نوموړي هېواد کې خپل وروستي پړاو ته رسيدلي وو. (پتراکه او جوني پوګاچيوف) د منځنيو پېړيو د ايډيالوژۍ په وړاندې ولاړ وو، دوی تر دانته وروسته د نويو ادبياتو او هنري ژبې بنسټ ايښودونکي وو. رنسانس د ادبياتو تر څنګ د پوهنو او هنرونو ببلابېلو برخو ته هم لاره پيدا کړه، ايټاليه په يو پوهنيز مرکز بدله شوه، انځورګر (ليوناردو داوينچي) په همدغه هېواد کې په همدې وخت کې وزېږېده؛ په دې دوره کې لوی عالمان او پوهان لکه ميکل انژ، سانتي رافايل، ګاليله، برنارد شاردن او نور ډېر رامنځته شول.

**۱ - ميکل انژ**: د ايټاليې دغه ستر مجسمه جوړوونکي چې اثار يې د ټول بشريت له پاره وياړ دی، په (۱۴۸۵) کال وزېږېده او په (۱۵۲۴) ميلادي کال مړ شو. ميکل انژ د انځورگرۍ، مجسمه جوړولو او معمارۍ په هنرونو کې لوی استاد ؤ، د دغه ارزښتناکه اثار اوس هم د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې په ډېر وياړ او احترام سره ساتل کېږي. د ميکل انژ په اثارو کې ځانگړې ښکلا شته، چې د ډېرو پېړيو په تېرېدو سره يې ارزښت لا پسې زيات شوی دی، تر ټولو مشهورې مجسمې يې دادي: د کليسا چت، چې له يوې ټوټې مرمرو څخه يې جوړ کړی دی، د فارنز ماڼۍ، د فلورانس کتابتون، د دويم ژول تابلو، مغلوب شوی مسيح، د بشر د پيدا ينښت انځور او په گناه اعتراف، د دغه ډېر مشهور او ارزښتناک اثار دي.

**۲ - سانتي رافايل**: سانتي رافايل د ايټاليا د رنسانس دورې ستر نامتو انځورگر او مجسمه جوړوونکی و، چې په ټوله نړۍ کې يې خلک له نامه سره اشنايي لري او اثارو ته يې درناوی کېږي. (۲م۱۰۰)

دغه ستر انځورگر پر (۱۴۸۳) کال وزېږېده او پر (۱۵۲۰) کال يې د تل له پاره له ژوند سترگې پټې کړې. رافايل په انځورگرۍ سربېره لرغونپوه هم و، نوموړي د هنر له بېلابېلو څانگو سره پوره اشنايي درلوده. سانتي رافايل په دويم پاپ او اولسم ليون ډېر گران و، هغه له ده او دده له هنر سره ځانگړې مينه درلوده، هغه رافايل ته د کار او هنر د ودې او پراختيا له پاره ځانگړي شرايط برابر کړي وو. رافايل د مذهبي تعميرونو سرپرستي پر غاړه لرله او د واتيکان په ښکلا کې يې ستره ونډه اخستې وه، د نوموړي د انځورگرۍ انځورونه او مجسمې د نړۍ له سترو شهکارونو څخه شمېرل کېږي، ډېر نامتو انځورونه يې دادي: سپېڅلې کورنۍ، ښکلې باغوان، د ښار سوزېدل، د اتن مدرسه او نور.

**۳ - کريستف کولمب**: ايټالوي سمندر گرځېدونکی و، چې په (۱۴۵۱) کال وزېږېده، پلار يې سوداگر و او د وړيو سوداگري يې کوله. له کريستف کولمب سره (فرديناند اراگون) او ملکې (ايزابل دوکاستل) چې د ايټاليې پاچا او ملکه وه، يو تړون لاسليک کړ، د نوموړي تړون له مخې کولمب له درېو بېړيو سره په (۱۴۹۲) کال د نويو ځمکو او سيمو د موندلو په نيت وخوځېده. کولمب په خپل لومړني يون کې د (سن لوران) په نوم يو ساحل ته ورسېده، په دويم يون کې يې (گوادلوپ، پورتاريکو او کيوبا کشف کړل. په (۱۴۹۸) کال يې د (ترونته) جزيرو ته مخه کړه او په څلورم يون د مرکزي امريکا پر غاړو پلې شو؛ هغه د خپلو دغو سفرونو له لارې يوه نوې (وچه) چې امريکا نومېږي، وموندله، خو په خپله کولمب د مرگ تر ورځې پورې يې هم باور نه کاوه چې نوې وچه به يې کشف کړې وي.

**۴ - دانته ايلگر (۱۲۶۵ _ ۱۳۲۱) ميلادي**: دانته د منځنيو پېړيو يو پياوړی استازی او د ايټاليې د رنسانس دورې شاعر و. ايټاليه لومړنۍ پانگوال دولت و، دغه هېواد د ختيځ او لويديځ د سترو تجارتي لارو تر منځ پروت و چې ددغه هېواد په پرمختگ او وده کې دغو سترو تجارتي لارو ډېر اغېز کړی و، په دې مهال د ايټاليې ټول ښارونه ازاد او خپلواک وو، خو په خپل منځ کې يې تل سياسي او پانگوال رقابت درلود. د ايټاليې له مهمو ښارونو څخه يوازې (وينزگنيوا) او (فلورانس) ډېر پرمختگ وکړ، د نوموړو ښارونو تر منځ تل تېزو پارکيزو مبارزو دوام درلود. دانته ايلگر په فلورانس کې زېږېدلی دی او پر هغه پير يې دغه پېښې له نژدې څخه ليدلې دي. دانته چې يو سياسي سړی و، د فلورانس په ټاکنيزو مبارزو کې يې ژوندۍ هڅې وکړې چې په دې سياسي مبارزو کې د لوی پاپ (اتم پوني نيتس) په مرسته د دانته دښمنانو برياليتوب ترلاسه کړ، په پايله کې دانته او دده ملگري د فلورانس له ښاره تبعيد کړل شول او د ژوند تر وروستيو پورې خپل ټاټوبي ته د بېرته راتللو اجازه ورنکړل شوه، يوازې په (۱۳۱۲) ميلادي کال خپل هېواد ته د راتللو اجازه ورکړل شوه، خو په يو اړ (شرط) چې له خپلې سياسي نظريې څخه واوړي، دانته ته دغه اړ (شرط) د منلو نه و او هلته په راوينيان کې په تبعيد کې پاتې شو. ددغه ستر شاعر چې (فلورانس) يې نړيوال شهرت ته ورساوه، ټول عمر يې د پرديو پر خاوره په غريبۍ او يوازېتوب کې تېر کړ، د تبعيد پر وخت يې د خپلو ملگرو خيانتونه، دروغ او د هغوی دروغجن حيثيت له نژدې څخه ليده. دانته په (۱۳۲۱) ميلادي کا ل په (راوين) کې له دې نړۍ څخه د تل له پاره سترگې پټې کړې. د نوموړي تر مړينې وروسته د فلورانس سياسي چارواکو د هغه جسد ته د فلورانس ښار ته د راتللو اجازه ورکړه، خو (راوينيان) حاضر نه شول چې د داسې يو ستر شاعر او ليکوال جسد له دوی څخه لېرې شي چې د خپل عمر يوه برخه يې هلته تېره کړې وي او هلته په راوين کې د تل له پاره پاتې شو.

**د دانته ايلگر اثار**: دانته له لرغونو اثارو سره نژدې اړيکې درلودلې او رومي ويرژيل يې د خپل استاد په حيث پېژانده، دانته پنځلس کلن شوی نه و چې له ليکوالۍ، ترانې ويلو او ادبياتو سره يې ډېره مينه راټوکېده. د دانته لومړنی اثر د (نوي ژوند) په نامه يادېږي، په دې ادبي اثر کې د ېرش شعرونه دي، دغه اثر د نثري هنري کيسو شکل لري او يوه کيسه له بلې سره نژدې اړيکې لري، په دغه اثر کې د نهه کلن دانته ليدنې له خپلې معشوقې سره پيل شوې، دغو ليدنو د ځوان دانته پر زړه ډېر اغېز وکړ، د دانته او دده د معشوقې ليدنې له نهه کلنۍ څخه وروسته پيل شوې دي؛ معشوقې يې احترام او درناوی کاوه، په دې درناوي سره د ځوان دانته په زړه کې د مينې او محبت پټ احساسات پيدا شول، دانته هيجاني شو، د خوب کوټې ته لاړ، خوب يې وليده چې الهي د خپلې معشوقې عشق هغه ته په خوب کې راوړي، دغه مطلب يې په خپل لومړني شعر کې بيان کړی دی، له همدغې ورځې وروسته دانته د عشق او مينې په دام کې ښکېل شو او د خپلو ملگرو او دوستانو په منځ کې افسانه شو، ملگرو يې له نوموړي څخه د معشوقې د نوم پوښتنه کوله، خو دانته نه غوښتل چې دده د معشوقې نوم دې د بل چا په ژبه راوړل شي، نو يو خيالي نوم يې خپلو ملگرو ته وواېه، معشوقې يې دغه خبره واورېده او له شاعر سره يې خپلې اړيکې سستې کړې، غمجن شاعر د بېلتون او يوازېتوب اوښکې تويې کړلې. څه موده وروسته له يوې بلې ښځې سره اشنا شو، خو ډېر ژر بېرته پښېمانه شو او ډېر ژر بېرته د خپلې معشوقې په غم کې ډوب شو. د لويديځې اروپا په ادبياتو کې د دانته (نوي ژوند) د لومړنۍ ادبي منظومې په شکل، چې د شاعر د ژوند کره وړه په کې بيان شوي دي. دانته د تبعيد پر وخت يو بل اثر هم وليکه چې هغه يې (شعري او نثري) ټولگه ده، په دغه شعري او نثري غونډ کې دانته په گوښه ډول سره د خدای (ج)، پرښتو، بخت او سعادت، عقل، روح او ابدي ژوند په هکله خبرې کړې دي، په حقيقت کې دغه شعري او نثري ټولگه يوه اخلاقي او فلسفي رساله ده. (۳م۳۸۲)

د شاعر ډېر لوی اثر د (الهي کومېډي) ده چې په هغې کې يې خپل سياسي او ټولنيز نظريات بيان کړي دي. دغه اثر يو منظوم داستان دی او له درېو برخو څخه جوړ شوی دی چې په هغه کې يوه بله نړۍ انځور شوې ده، ددغه اثر هره برخه درې دېرش ترانې دي او په هغه کې داسې کيسه شوې ده چې څرنگه انسان بله نړۍويني. نړيوال دانته د اروپا د منځنيو پېړيو د شاعر په حيث پېژني، دانته په خپلو اثارو کې مذهبي، ځمکوال نظريات او افکار بيان کړي دي، خو په (الهي کومېډۍ) کې يې د نوي زماني د هنرمند په حيث نوي افکار او نظريات راوړي دي. د هغه په اثارو کې رياليزم روښانه او هيجاني ليدل کېږي، خو د منځنيو پېړيو د شاعر او ليکوال په حيث يې ځکه پېژنو چې دی په خپله خيالي نړۍ گوري او د خيال په زانگو کې د خپلې معشوقې په عشق کې ډوب دی او ابدي نړۍ گوري. د دانته اثار د ايټالوي مدنيت لوی يادگار دی، هغه د ژوند ريښتينې پېښې انځور کړې دي، د ايټاليې د هغه وخت ټولنيزې او سياسي مبارزې يې په خپلو اثارو کې بيان کړې دي. هغه په دې نظر و چې بايد په عامه ژبه ليکل وشي، الهي کومېډي يې په ساده، روانه او عام فهمه ژبه ليکلې ده، دانته نن ورځ د ټولې نړۍ شاعر دی، د هغه اثار د نړۍ په ډېرو ژبو ژباړل شوي او د نړۍ لويو ليکوالو له هغه څخه الهام اخيستی دی.(۴م۱۴۰)

**۵- پتراکه (۱۳۰۴_۱۳۷۴م)**: پتراکه د ايټاليې د يو قانونپوه په کاله کې زېږېدلی دی، پلار يې له دانته سره نژدې دوستانه اړيکې درلودې او د دانته په څېر د خپلې سياسي مبارزې په پايله کې له ماتې سره مخامخ او تبعيد کړای شو. پتراکه د (ارتيناکه) په ښار کې چې د فلورانس د سياسي فراريانو پټ ځای و، زېږېدلی دی. پتراکه د خپلې کورنۍ د روزنې په خاطر پر (۱۳۱۲) ميلادي کال د (اونيسيان) ښار ته چې اووه کاله وړاندې د (پاپ) پلازمېنه وه لاړ، هلته يې په زده کړو پيل وکړ، په پای کې د حقوقو له فاکولتې څخه فارغ شو. پر (۱۳۲۶) ميلادي کال د پتراکه پلار او مور له دې نړۍ څخه د ابد له پاره سترگې پټې کړې، ليکوال له ډېرو ستونزو سره مخامخ شو، د دويم ځل له پاره د اونيسيان ښار ته راستون شو او د يو روحاني شخص په توگه يې د پاپ دربار ته لاره پيدا کړه. په (۱۳۲۷) ميلادي کال له يوې پېغلې سره اشنا شو او ټول عمر يې د يوې حورې په نوم وستايله پر (۱۳۳۳-۱۳۳۷) ميلادي کال يې فرانسې، المان او روم ته سفرونه وکړل، له دغو اوږدو سفرونو څخه د بېرته راگرځېدو پر وخت يې د پاپ له مرکزي نظام سره ضديت پيدا شو او په کرکه يې ورته وکتل؛ د خپل ژوند وروستي کلونه يې په ميلان کې تېر کړل. پتراکه د خپل ژوند په دويمه نيمايې کې د يو بشردوست شاعر په حيث

نړيوال شهرت ته ورسېد ، د نړۍ ډېرو چارواکو پتراکه خپلو دربارونو ته وباله، خو ده نه غوښتل چې خپله ازادي له لاسه ورکړي، فلورانسيانو څو څو ځله هغه خپل پلرني ټاټوبي ته وباله او ژمنې يې ورسره وکړې چې د پلار مال او هستي به يې بېرته ورکړي. په (۱۳۵۱) ميلادي کال پوګاچوف هغه ته راغی چې دواړه يوې ګډې پرېکړې ته ورسېږي، خو پتراکه تللو ته راضي نه شو او پر (۱۳۷۴) ميلادي کال د(۷۰) کلونو په عمر يې د ( پدويه) ښار ته نژدې له نړۍ سره د تل له پاره خدای په اماني وکړه. (۵م۱۲۱)

پتراکه د اروپا د بشر دوستانو د لاربنود په توګه مشهور شوی و او خپل اثار يې په ايټالوي او لاتيني ژبو وليکل، پتراکه له خپل دويم سفر څخه وروسته يو په زړه پورې اثر چې (افريقا ) نومېږي، په لاتيني ژبه وليکه؛ ليکوال ټول عمر د لرغونو خطي نسخو په لوستنه بوخت و، پتراکه د روم له لرغونو ليکوالو، اديبانو او شاعرانو څخه الهام اخيستی دی. د پتراکه لاتيني اثار په دوو برخو ويشل شوي دي:

۱ـ هنري اثار ۲ـ اخلاقي او فلسفي اثار

د (افريقا ) په نوم په زړه پورې ادبي اثر يوه هنري ادبي منظومه ده چې د ويرژيل له (اني ريده ) څخه پيروي کوي، نوموړی اثر له نهو ترانو څخه جوړ دی چې پای ته نه دی رسېدلی. په نوموړې حماسه کې د افريقا د ملي کارنامو ستاينه شوې ده، په دې اثر کې د ايټاليې د ملي ازادۍ ستاينه او د پرديو د تېريو غندنه شوې. پتراکه يو بل ادبي اثر چې د (سترو شخصيتونو ) په نوم يادېږي، هم يو ځواکمن اخلاقي او ټولنيز اثر دی، په دغه اثر کې د روم مشهورو شخصيتونو لکه (ګني بل) او د مقدوني سکندر او داسې نورو په هکله خبرې شوې دي. (له سيسرانو څخه تر عيسويانو ) پورې يو بل په زړه پورې فلسفي او اخلاقي اثر دی چې د پتراکه په ښو اثارو کې راتلای شي. (۲م۱۵۰)

پتراکه په ځوانۍ کې په شعر ويلو خپل احساسات، مينه او خپل عشق خپلې حورې چې هدف يې خپل وطن دی، وقف کړی دی او له دې جملې څخه د (حورې ژوند ) او د (حورې مرګ) شعرونه يې ډېر شهرت لري. د ژوند په وروستيو کلونو کې يې د سياسي شعرونو په ويلو پيل وکړ، د سياسي شعرونو په ويلو سره يې د فيوډالي يا ځمکواکۍ دورې او د کليسايي نظام له خيانتونو سره ضديت ښودلی او هغه يې غندلی دی. پتراکه د يو بشر دوست شاعر په حيث د يوې ګډې او يو موټي ايټاليې له پاره مبارزه کوله، ځکه ايټاليه د کورنيو جګړو له کبله له برمه لوېدلې او لړ ځواکه وه، چې په نتيجه کې د پرديو تيري او يرغل ته لاره هواره شوې وه، په يو شعر کې داسې وايي:

ژباړه: ای زما ګرانې ايټاليې- بيا هم څوک خلاصون نه درکوي
ستا په وينو رنګ زخمونه زما شعر دی- ستا نرم او ښکلی بدن خرابوي
زما زړه ډېر په عذاب او ستا په درد دردمن دی- زما هېواده ! زما وطنه ! زما ګرانه !
په تا کې جګړه ده، د اور لمبې دي- ستا يووالي ته خطر دی
په رنګارنګ پلمو څنګه تا نابودوي

پتراکه انساني شخصيت ته په پوره ارزښت او احترام سر ټيټ کړی او د سترو انسانانو معيار د هغه له پاره عقل و، نه ټولنيز موقف او مقام، د پتراکه ليکنې په نړيوال فرهنګ کې ستر ځای لري.

**۶- جوني پوګاچوف (۱۳۱۳-۱۳۷۵م)**: جوني پوګاچوف د ايټاليا دويم هومانيست ليکوال او د پتراکه همزولی دی، خو د پتراکه په څېر نړيوال شهرت ته نه دی رسېدلی. د پوګاچيوف هنري اثار تر ټولو وړاندې د هغه ناولونه د ايټاليا د ادبياتو په تاريخ کې مهم او لوړ ارزښت لري. پوګاچيوف د يو ناقانونه فلورانسي سوداګر زوی و، په پاريس کې زېږېدلی و، پلار يې په پاريس کې په سوداګريزو کارونو بوخت و، له يوې فرانسوۍ پېغلې سره اشنا شو او ډېره مينه يې ورسره لرله، د دواړو د دوستانه اړيکو محصول پوګاچيوف دی، ماشوم يې د فلورانس ښار ته راوړ، د پلار په غوښتنه يې له څه مودې وروسته په کار پيل وکړ. پوګاچيوف حقوق ولوستل، خو له حقوقي علومو سره يې هيڅ مينه نه لرله، له خپل پلار څخه يې په پټه لرغونې ژبې، ادبيات او فرهنګ ولوستل. پوګاچيوف په خوارلس کلنۍ کې له خپل پلار سره د (ناپل ) ښار ته سفر وکړ او د خپلې ځوانۍ ښه کلونه يې هلته تېر کړل. ناپل د هغې وخت د ځمکواکۍ لوی مرکز و، د ناپل پاچا

(رابرت) یو زیات شمېر شاعران خپل دربار ته راوبلل او ادبي چارو ته یې ډېره پاملرنه کوله؛ پوګاچیوف د نیاپل د هومانستانو په واسطه د (رابرت) دربار ته لاره پیدا کړه او د نیاپل د پاچا پر لور (ماریا) یې زړه بایلود، خو دغې مینې ډېر دوام ونه کړ، (ماریا) له یو ځوان سره واده وکړ، له ماریا سره مینې او محبت د پوګاچیوف په زړه کې د تل له پاره ځای ونیوه او ټول عمر یې د هغې ستاینه وکړه. لږه موده وروسته د پوګاچیوف پلار هغه وروغوښت، کله چې پوګاچیوف له نیاپل څخه راوګرځېده، د فلورانس د ښار په ټولنیز ژوند کې یې فعاله ونډه واخسته او په فلورانس کې پر (۱۳۴۳_۱۳۴۵) میلادي کلونو کې لومړنی کارګري غورځنګ جوړ شو. پر (۱۳۷۱) میلادي کال نوموړي ستر کارګري غورځنګ د ورېو اوبدلو د فابریکې له کارګرانو سره خپلې اړیکې ټینګې کړلې، پوګاچیوف د (ګولیفیانو) له ګوند سره اړیکې لرلې او د جمهوري نظام غوښتونکی و. پر (۱۳۵۰) میلادي کال یې له پتراکه سره ولیدل، خو له دغې لیدنې څخه وراندې یې یو ازې د هغه اثار لوستي وو. له پتراکه سره یې دوستانه اړیکې درلودلې، هغه یې د خپل استاد په حیث پېژانده، د لیدنو کتنو په پایله کې یې د یونان او ایټالیې په ژبو او ادبیاتو خپل کار پیل کړ. د فلورانس ژوند د لیکوال په نړۍ لید ډېره اغېزه وکړه، د پتراکه شعرونه داسې وو: ((د خدای(ج) عبادت او قرباني د ظالم د وینې تویېدل دي)). پوګاچیوف د پتراکه په شان انسان ته د هغه د قابلیت او استعداد په ارزښت قایل و، عادي او با استعداده انسان یې پوه باله، خو اریستوکراتان یې ناپوه او بېلېدونکي بلل؛ د پوګاچیوف په اند سعادت، عشق او ژوند د هر انسان طبیعي حق دی. (۷م۳۸۲)

(فالاګالا او امیتو) د شاعر د ځوانۍ دورې اثار دي. (فالاګالا) د ایټالیې د منځنیو پېړیو یوه افسانه ده چې په نوي ډول لیکل شوې ده، (امیتو) د شاعر غنایي اثر دی چې له شعر او نثر څخه جوړ شوی دی، په دغه اثر کې شاعر حقیقي ژوند انځور کړی او د دانته خلاف یې د انسان مینه د مادي نړۍ له ارزښت سره محکومه کړې ده. د پوګاچیوف د ځوانۍ دورې له اثارو څخه یو هم (فیه میته) یو په زړه پورې او خوندور اثر دی، په دغه اثر کې یې د ځوانې ښځې روحي عذاب بیان کړی دی چې خپل عاشق ته دروغ وایي. په نوموړي اثر کې لیکوال د خپل ژوند د ځوانۍ دورې پېښې راوړې دي، د لیکوال په نظر په دغه اثر کې د محبت احساس او د عشق درد له (ماریا) سره انځور شوی دی. (۸م۲۸)

فیه میته یوه ځوانه ښکلې ښځه وه چې د فیه میته په نامه یادېدله، فیه میته له ځوان پامفیلا سره په کلیسا کې اړیکې پیدا کړلې او له خپل خاوند سره یې خیانت وکړ. د دوی مینې ډېر دوام ونه کړ، ځکه چې ځوان پامفیلا خپل پلار ور وغوښت، پامفیلا خپلې دغې معشوقې ته وعده ورکړه چې تر څو میاشتو وروسته بېرته راځي؛ فیه میته د ځوان پامفیلا انتظار کاوه او د هغه خطونه به یې په جار سره هر چاته لوستل. ځوان پامفیلا خپلې ورځې او شپې شمېرلې، ډېر غمجن و، د ژوند خوښي یې هېره کړې وه. تر څه مهال وروسته ورته خبر ورسېده چې فیه میته له یوه ځوان سره واده وکړ، ددغه خبر په اورېدو سره ځوان پامفیلا غوښتل له خپګان څخه خپل ځان ووژني، خو تر څه وخت وروسته یې له فیه میته څخه تمه پرې شوه او د خپل ناکام عشق او مینې کیسې یې هر چاته کولې چې په ژوند کې باید له دارنګه اشتباه سره مخامخ نه شي. (۹م۲۸)

پوګاچیوف د فیه میته عشق او مینه د ټولو رواني لاملونو له مخې بیان کړې ده او په دغه کار سره یې د لومړي ځل له پاره دانسان د دروني نړۍ انځور د اروپا په ادبیاتو کې راوړی دی. تر پوګاچیوف وراندې د لیکوالو په اثارو کې ښځې د احترام او ستاینې وړ وې. (۱۰م۴۴)

پوګاچیوف یو مذهبي شخصیت او د کاتولیک مذهب پیروي یې کوله، د پوګاچیوف کیسې په ایټالوي ښکلې ژبه لیکل شوې دي او اثار یې د ښه نثر نمونه ده. پوګاچیوف د دانته او پتراکه په څېر له انساني احساساتو او عاطفي څخه ننګه کوله، پوګاچیوف له معشوقې څخه کرکه کوله او د غچ اخستلو په خاطر یې دغه داستان لیکلی دی. ددغه کتاب په سریزه کې لیکوال داسې یادونه کړې ده چې د فلورانس بېرحمې ښځې زه ځان وژنې ته اړ کړی وم. اثر داسې و چې لیکوال خبر ترلاسه کړی و چې د هغې معشوقې دده لیکونه په جار خلکو ته لوستل، لیکوال د خپل ژوند په وروستیو کلونو کې د دانته د اثارو په څېړنه بوخت و. د پوګاچیوف نوم بشري تاریخ هېرولی نه شي او هغه تر نن ورځې پورې په نړۍ کې د شهرت خاوند دی. (۱۱م۱۳۱)

**پایله**:

د ایټالیې د رنسانس دورې ادبیات د نړیوال ادبي تاریخ په چوکاټ کې مهم ادبیات دي، همدا د ایټالیې هېواد او ددې هېواد د فلورانس ښار و چې د ژوند په هر ډګر کې په کې رنسانس پیل شو، همدا هېواد و او د همدې هېواد د همدې زمانې د ایټالوي وګړو هڅې وې چې نړۍ یې د پېژندلو وړ کړه؛ د همدې هېواد او سېدونکی کریستف کولمب و چې د امریکا وچه یې کشف کړه، د همدې هېواد د منځنیو پېړیو او رنسانس دورې لیکوال دانته و، چې د خپلو لیکنو او مبارزې په نتیجه کې یې په ایټالیه کې یوه نوې روښانه دوره (رنسانس) راوزېږوله، د همدې هېواد د لیکوالو (دانته، پتراکه او جوني پوګاچیوف) مبارزې او هڅې وې، چې د ایټالیې د رنسانس دورې ادبیات یې رامنځته کړل او له همدوی نه په الهام اخیستنې سره نن د اروپا هر هېواد د رنسانس دورې خپل ادبیات لري.

**Abstract:**

In this scientific topic research in Italy the starting Reansanc duration , when the Rinasains began by short method Mr. Michel Anis , Sandi Rafael , Christopher Coulomb and then in Italy three advanced literature writers Mr. Danita Alger, Petrakis and Joni pogachif, and on their literature and political, cultural life issue, had written.

**اخځلیکونه**:

۱- ایوبي، محمدنادر. (۲۰۰۹م). سیاسي نظریات. کوټه: صحاف نشراتي موسسه
۲- ایوبي، محمدنادر. (۲۰۰۴م). اقتصادي نظریات. کوټه: صحاف نشراتي موسسه
۳- ایوبي، محمدنادر. (۲۰۰۲م). فلسفه. کوټه: صحاف نشراتي موسسه
۴- بګوسلاوسکي، و. ن. (۱۹۸۹م). د شلمې پېړۍ نړیوالو ادبیاتو تاریخ، په روسي ژبه. مسکو: پرسویشینیه
۵- توماس، هنري او توماس ډانالي. (۱۳۸۴ل). په فلسفه کې تلپاتې پېښې. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه
۶- رشیدی، جمشید. (۱۳۹۱ل). ادب تیوري. انتشارات نامي.
۷- روهي، محمدصدیق. (۱۳۸۲ل). ادبي څېړنې. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه
۸- زیرکیار، رحمت ربي. (۱۳۸۴ل). سیاسي فکرونه او سیاسي نظامونه. پېښور
۹- شمیسا، داکتر سیروس. (۱۳۸۳ل). انواع ادبی. چاپخانه رامین
۱۰- هاشمي، سیدمحی الدین. (۱۳۸۹ل). د نثري ادب ډولونه. وحدت خپرندویه ټولنه
۱۱- وزیري، محمداقبال. (۱۳۹۱ل). د ادبیاتو تیوري. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه

پوهــنــدوی غـــلام جـــيلاني (ولي)
طب پوهنځی- مايکروبيالوژي څانګــه

# د بروسيلا اورګنزمونه

# (The Brucellae)

**لنډيز**:

مايکرو اورګنزمونه د بروسلوزس د ناروغۍ عامل دي چې يوه Zoonotic ناروغي ده، يعنې اصلاً په حيواناتو لکه غوا، پسه، وزه او سپي کې شتون لري او په هغوی کې ناروغي منځ ته راوړي او بيا انسانانو ته انتقالېږي چې لمفاوي انساج، ځيګر، توری، هډوکي مغز او د RES په نورو برخو کې حبيبات يا جيبونه جوړوي او وروسته په Abscess باندې پرمختګ کوي چې په مختلفو غړو کې د ګڼو اختلاطاتو لامل ګرځي. همدارنګه کله کله د سحايا او التهاب، د صفراوي کڅوړې التهاب او د هډوکي التهاب هم منځته راتلای شي. په عمومي ډول د بروسيلا د عمومي انتان اعراض په اونيو او مياشتو کې له منځه ځي، لاکن ناحيوي افتونه او اعراض ممکن دوامداره پاتې شي.

**سريزه**:

څرنګه چې بروسلوزس يوه انتاني ناروغي ده او د حيواناتو څخه انسانانو ته انتقالېږي، هر کال په نړۍ کې (500000) پېښې تشخيص کېږي چې ددې جملې څخه يې (10000) پېښې د مړينې سبب ګرځي. دا ناروغي په وروسته پاتې هېوادونو کې په ځانګړي ډول په هغو هېوادونو کې چې زراعت او مالداري په کې دود وي، زياته ليدل کېږي چې زمونږ په هېواد کې چې يو زراعتي او وروسته پاتې هېواد دی، هم ددې ناروغۍ پېښې زياتې دي چې د مرګ او معيوبيتونو لامل ګرځي. که چېرې په وخت او زمان سره و پېژندل شي او لازمه درملنه يې وشي، نو د ګڼو اختلاطاتو څخه مخنيوی کېدای شي. دا يوه سيستميکه ناروغي هم ده، يعنې په دې معنی چې د عضويت زياتره غړي لکه هډوکي، زړه، دماغ، سږي، بندونه، بولي تناسلي جهاز او نور اخته کولای شي. څرنګه چې نوموړي ارګانيزمونه اصلاً په حيواناتو لکه غوا، پسه، وزې او سپي کې شتون لري او په هغوی کې د ناروغۍ لامل کېږي، ددې حيواناتو څخه وروسته انسانانو ته انتقال مومي او انسانانو کې د بروسلوزس د ناروغۍ د منځته راتګ سبب کېږي. Brucella melitensis له وزې، Brucella suis سرکوزي، Brucella abortus له غوايانو څخه او Brucella canis د سپيانو څخه انسانانو ته انتقالېږي چې په مسلمانانو کې زياتره Br. Melitensis او Br. abortus د ناروغۍ سبب کېږي. د بروسيلا ډول ډول ارګانيزمونه د ناروغۍ لامل ګرځي او په اسانو لارو چارو يې مخنيوی هم کېدای شي، نو لازمه مې وګڼله چې د بروسيلا ارګانيزمونو په هکله يو څه علمي معلومات د يوې مقالې په ډول راټول کړم، ترڅو درانه وطنوال ترې ګټه واخلي.

**موخې**:

- د بروسيلا ارګانيزمونه ناروغۍ د بېلابېلو اړخونو شننه او څېړنه
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او مينه والو ته د اړينو معلوماتو برابرول

**تاریخچه**:

دا ارګانیزم په۱۸۸۲م کال د یوه انګلیسي بکتریالوجست D. Brice لخوا د Malta په جزیره کې د یو ناروغ د توري څخه پیدا کړ او د Malta Fever په نامه یاد شو او په ۱۸۸۷م کال د دې ناروغۍ عامل د خالص کلچر څخه تجرید کړ. په ۱۸۹۲م کال کې B.Bang د غوا د ساري زیان (سقط) عامل واضح کړ. په ۱۹۱۴م کال د یو امریکایي محقق G.Traum لخوا دا ارګانیزم د سرکوزي څخه چې په دې حیواناتو کې د ساري زیان لامل کېږي، تجرید کړ. د Brucellae نور Species په ۱۹۵۳، ۱۹۵۷ او ۱۹۶۲م کلونو کې کشف شول. (۴)

**جوړښت او پېژندنه**:

الف. وصفي اورګنیزم: دا ارګنزمونه د ځوان کلچرونو د کروي ډول څخه تر میله ډوله پورې معلومېږي چې ۱،۲ مایکران اوږدوالی لري او د لنډ Cocco bacillary په ډولونو لیدل کېدای شي. دا ارګنیزمونه ګرام منفي دي، لاکن کله کله غیرمنظم تلوین هم کېدای شي. د ارګنیزم هغه Variants چې ښوي او لزوجي (Mucoid) کالوني جوړوي، په هغو کې کپسول هم شتون لري. دا ارګنیزمونه Aerobic، غیرمتحرک او غیر سپور جوړوونکی دی.

ب. کلچر: د غني محیط د پاسه د ۲ څخه تر ۵ ورځو په منځ کې دا ارګنیزمونه کوچنی، محدب، ښوی کالوني ګاني جوړوي.

ج. د ودې خواص: د بروسیلا ارګنیزمونو یو داخل الحجروي ژوند سره توافق حاصل کړی او د دوی تغذیوي اړتیا هم پېچلې ده. د دې ارګانیزمونو ځینې سترینونه په یو واضح محیط کې چې ۱۸امینو اسیدونه، ویټامینونه، مالګې او ګلوکوز ولري، کلچر کېدای شي. د حیواني یا انساني منابعو څخه تازه مرضي مواد په Trypticase- soy agar یا په وینه لرونکي محیط کې کلچر کېدای شي. B. abortus د خپلې ودې لپاره ۵-۱۰ فیصده کاربن دای اکساید ته اړتیا لري، په داسې حال کې چې نور species یې په هوا کې وده کولای شي. بروسیلا کاربوهایدریت په مصرف رسوي، لاکن په کافي اندازې سره اسید او ګاز تولیدولای نه شي چې د دوی د ډلبندۍ لپاره ور څخه ګټه اخستل کېږي. Catalase او Oxidase د ځینو سترینونو په واسطه پیدا کېږي، هایدروجن سلفاید د ډېرو سترینونو په واسطه پیدا کېږي او Nitrates په Nitrites باندې ارجاع کوي. بروسیلا د متوسط اندازه حرارت او اسید په مقابل کې حساس دي او په شیدو کې د پاستورایزیشن په واسطه وژل کېدای شي.(۴)

د. توپیرونه: ښوی، لزوجي (Mucoid) او زیږه ویریانتونه د کالونۍ له مخې پېژندل کېږي چې د دوی ویرولانس ترې معلومېدای شي. په کلچر کې virulent ارګانیزم یو ښوی او ځلیدونکې کالوني جوړوي. هغه وخت چې په محیط کې ارګانیزم میوتیشن وکړي او زیږه کالوني جوړه کړي، په غیر virulent بدلېږي. د حساسو حیواناتو سیروم د یو Globulin او د یو lipoprotein لرونکی وي چې د غیر ښوي او غیر ویرولنټ تایپونو وده تر فشار لاندې نیسي او د ویرولنټ ودې ته ترجیح ورکوي. د حیواناتو مقاوم species یې له دې فکتورونو وي په دې خاطر ګرځندي میوتیشن چې غیر virulence منځته راځي، پېښېږي. (۴)

**انتي جنیک جوړښت**:

د بروسیلا مختلف species د اګلوتنیشن تستونو په واسطه توپیر کېدای نه شي، لاکن د Agglutinin absorption reaction په واسطه توپیر کېدای شي. احتمال لري چې دوه ډوله انتي جنونه A او M په ځلورو species کې په مختلفو اندازو شتون ولري او پرته له دې یو سطحي انتي جن د L په نامه هم شتون لري چې د سلمانیلا د Vi انتي جن سره شباهت لري. د بروسیلا د ځلورو Species تر منځ تفریقي تشخیص د دوی د خواصو له مخې چې حساسیت د رنګونو سره او د دوی په واسطه د H2S تولید بدل امکان شته کېدای شي(جدول). (۴،۲)

جدول: د بروسیلا ارګنیزمونو تفریقي تشخیص

| | وده په شتون | | د $H_2S$ تولید | د $CO_2$ اړتیا |
|---|---|---|---|---|
| | Thionine (1:25000) | Basic fuchsin (1:50000) | | |
| B.abortus | – | + | ++ | + |
| B. melitensis | – | + | – | – |
| B. suis | + | – | + | – |
| B.canis | + | – | – | – |

## پتوجنیسس او پتالوژي:

که څه هم د بروسیلا هر species یو ځانگړی کوربه لري، لاکن ټول یې کولای شي چې یو زیات شمېر حیوانات د انسانانو په شمول منتن کړي. په انسانانو کې د انتان د داخلېدو عمومي لارې عبارت دي له معایي لارې (د منتن شویو شیدو خوړل)، مخاطي غشا (څاځکو) او جلد (د حیواناتو د منتن شویو انساجو سره تماس) څخه دی. ارگنزمونه د باب دخول څخه د لمفاوي کانال او ناحیوي لمفاوي عقداتو له لارې صدري قنات او وینې جریان ته پرمختگ کوي چې وروسته دا ارگنزمونه Paranchymatous غړو ته خپرېږي. په لمفاوي انساجو، ځیگر، توري، هډوکي مخ او د reticuloendo thelial system په نورو برخو کې حبیبوي یا جیوبونه جوړوي چې بالاخره په Abscessess باندې پرمختگ کوي. په دې ډول Lesions کې د بروسیلا ارگنزمونه اساساً داخل الحجروي ژوند لري. همدارنگه کله کله Osteomyelitis، Meningitis او یا Cholecystitis هم منځته راتلای شي. په بروسلوزس کې مهم هستولوژیک عکس العمل عبارت د مونو نوکلیر حجراتو ارتشاح، د فبرین اکزودیشن، Coagulation necrosis او فبروزس څخه دي. نوموړي جیبات لرونکی د Epithelioid او Giant حجراتو د مرکزي نکروزس او محیطي فبروزس سره وي. هغه خلک چې فعال بروسیلوزس ولري د بروسیلا د ترزیق شوي اندوتوکسین سره د نورمالو خلکو په پرتله ډېر واضح عکس العمل (تبه، Myalgia) ښیي چې دا ډول حساسیت د اندوتوکسین په مقابل کې ممکن په پتوجنیسس کې یو رول ولوبوي. د غواگانو، سرکوزي، پسونو او وزې پلاسنتا او د جنین غشا لرونکي د Erythritol دي چې د بروسیلا د ودې لپاره د یو فکتور دنده سرته رسوي. په حامله حیواناتو کې د نوموړي ارگنزمونو زیاتوالی د Placentitis لامل گرځي چې په دې حیواناتو کې زیان (سقط) منځته راځي، لاکن د انسانانو پلاسنتا لرونکي د Erythritol نه وي، په دې خاطر سقط په انسانانو کې د بروسیلا د انتان له کبله نه وي. (۲،۵،۷)

## کلنیکي نښې:

د دې ناروغۍ د تفریح دوره د ۱-۲ اوونیو پورې وي او د ناروغۍ منځته راتلل په ناڅاپي ډول وي چې د Malaise، تبې، ضعیفۍ، سردردۍ او خولې سره یوځای وي. تبه همېشه د ماسپښین لخوا لوړېږي او د شپې له خوا چې د زیاتو خولو سره یوځای وي، کمېږي. په دې ناروغۍ کې ممکن د معدي معایي او عصبي اعراض هم شتون ولري، لمفاوي عقدات ضخامه کوي او طحال (توری) د جس وړ وي. همدارنگه Hepatitis ممکن د زیړي سره یوځای پیدا شي؛ ژور دردونه او حرکتي نا راحتۍ خصوصاً په فقاریوي اجسامو کې چې د Osteomyelitis احتمال وربانددې کېږي، هم پیدا کېږي. په عمومي ډول د بروسیلا د عمومي انتان اعراض په اوونیو او میاشتو کې له منځه ځي، لاکن ناحیوي آفتونه او اعراض ممکن ادامه پیدا کړي. د ابتدایي انتان په تعقیب یو مزمنه صفحه پرمختگ کوي چې د ضعیفي، سردردي او نورو دردونو، ټیټه درجه تبه، عصبانیت او نور اړوند غیر خصوصي تظاهرات چې د Psychoneurotic اعراض سره شباهت لري، پیدا کېږي. په دې مرحله کې بروسیلا د ناروغ څخه تجرید کېدای نشي، لاکن د Agglutinin تایتر ممکن لوړ وي. د مزمن بروسلوزس تشخیص پرته د ځینو ناحیوي افتونو د شتون څخه ډېره مشکله وي. د Ig G یو لوړ تایتر انتي باډي د فعال بروسیلوزس څخه نماینده گي کوي. (۱م۲)

**تشخيصه لابراتواري ټيسټونه**:
وينه د کلچر سيرالوژيکي ازموينو لپاره، بيوپسي مواد د لمفاوي عقداتو، هډوکي او نورو برخو څخه واخستل شي.
الف- کلچر: وينه يا انساج په Tryptocase soy broth او Thionine-Tryptose Agar کې زرق شي، د څو ورځو په منځ جامد محيط کې چې عين ترکيب ولري، Subcultures شي. ټول کلچرونه بايد په ۱۰ فيصده کاربن داى اکسايد کې Incubate شي او مخکې له دې چې د منفي په ډول رد شي، بايد تر ۲ اوونيو پورې مشاهده او subculture شي؛ که د بروسيلا په شان ارګنزمونه تجريد شول، د H2S پيدا کېدل، د رنګونو مخنيوي کېدو او د جذب شوي سيرا په واسطه د اګلوتينيشن طريقو سره دوى پر مختلفو تايپونو جلا کېداى شي. د بروسيلا انتان د هغو ناروغانو څخه چې د ناروغۍ په حاده صفحه کې قرار ولري، يا هغه وخت کې چې د ناروغۍ فعاليت ببرته شفا موندلې وي، کلچر کېداى شي.
ب- سيرالوژي: د ناروغۍ په لومړيو مراحلو کې د Ig M انتي باډي منځته راځي، لږه موده وروسته Ig G او Blocking انتي بادي ګانې پيدا کېږي؛ که څه هم د Ig M انتي بادي وروسته له روغېدو هم شتون لري (مثلاً کله چې فعال انتان په بنفسهي ډول يا د درملنې په واسطه له منځه تللى وي)، د يوې اساسي Ig G انتي باډي تايتر شتون د يو فعال انتان او يوې فعالې ناروغۍ ښکارندوى دي. د اګلوتينشن ټسټونه اکثراً د B. canis انتان لپاره په ناکامۍ پاى ته رسېږي.
۱- اګلوتينيشن ټيسټ: ددې لپاره چې نوموړى ټسټ د باور وړ وګرځي، د اګلوتينيشن ټسټونه بايد د معيار شوي او د حرارت په واسطه وژل شوي فينول په واسطه معامله شوي د بروسيلا د ښوى انتي جنونو سره چې د بروسيلوزس مراکزو څخه تهيه شوي او په ۳۷ درجو د سانتي ګريد کې د ۲۴ ساعتو لپاره ساتل شوي وي، اجرا شي. که چېرې د Ig G اګلوتينيشن تايترونه د ۱:۸۰ څخه لوړ وي، د فعال انتان څخه نماينده ګي کوي. هغه خلکو ته چې د کالرا واکسين زرق شي، د بروسيلا په مقابل کې د اګلوتينيشن تايترونه پرمختګ کوي. که چېرې د سېروم اګلوتنيشن ټسټ په هغو ناروغانو کې چې د بروسيلا انتان لپاره قوي کلنيکي علايم ولري، منفي وي، بايد چې د Blocking انتي باډي لپاره ټسټونه اجرا شي، دا ټسټونه د Antihuman globulin د علاوه کولو په واسطه پر antigen serum mixture سرته رسېږي.
۲- (Opsonophagocytic Test): دا ټسټ د زياتو تغيراتو سره مل وي چې د باور وړ نه وي.
۳- (Blocking antibodies): د Ig A انتي باډي ګانو څخه عبارت دى چې د Ig G او Ig M په واسطه د اګلوتينيشن سره مداخله کوي او د سيرالوژيک منفي ټسټونو لامل کېږي چې د سېروم په ټيټ Dilutions کې ټسټ منفي (Prozone) وي، لاکن د سېروم په لوړ Dilutions کې ټسټ مثبت وي. دا انتي باډي ګانې هغه وخت معلومېږي چې انتان په تحت الحاد مرحله کې وي او تر ډېرو کلونو پورې پرته د کوم انتان د فعاليت د شتون څخه باقي پاتې کېږي او د Coombs antiglobulin ميتود په واسطه تعين کېداى شي.
ج- جلدي ټسټ: کله چې Brucellergen يا يو پروتين چې د بروسيلا څخه خلاص شوى وي، د جلد په منځ کې زرق شي، د اخته شويو خلکو په هغو ځايونو کې چې دغه مواد زرق شوي وي، سوروالى، ازيما او کلکوالى د ۲۴ ساعتونو په منځ کې پرمختګ کوي. جلدي ټسټ د باور وړ نه دى او نادر استعمالېږي؛ د جلدي ټسټ عملي کول ممکن د اګلوتنيشن تايتر د تنبه لامل شي. (۴م۸)

**معافیت:**

د انتان څخه وروسته د انتي بادي عکس العمل منځ ته راځي چې ممکن د راتلونکې حملې په مقابل کې یو اندازه ټینګار وښیي، د بروسیلا د حجروي دېوال د Immunogenic برخې لرونکی د یوې زیاتې فاسفولیپید و جز دی چې لایسین د اتو امینو اسیدونو په منځ کې اکثریت ځای لري او په دې ځای کې Heptose شتون نلري (په دې خاطر دغې برخې یا Fractions تو پیر د اندوتوکسین څخه کېدای شي). (۴)

**درملنه:**

څرنګه چې انتان ډېر ژر د درملو سره ټینګار کوي، نو باید څو درمل ګډ استعمال شي، لکه (Doxycycline جمع Rifampicine) د بروسیلا ارګنزمونه د تتراسکلینونو او امپي سلینونو په مقابل کې ممکن حساس وي، د درملنې څخه وروسته د یوې لړې ورځې په منځ کې چې ددې درملو سره پیل شوې ده، د اعراضو له منځه تللو لامل کېږي. څرنګه چې دوی داخل الحجروي ژوند لري، څکه دا ارګنزمونه د کوربه څخه په اسانۍ او کامل ډول له منځه نه ځي. د ښې نتیجې لپاره باید درملنه اوږده شي او د Combined په ډول درملنه ستریپتومایسین د تتراسکلین سره یوځای ممکن ګټور تمام شي. (۱،۲،۸)

**اپیدیمولوژي، مخنیوی او کنترول:**

بروسیلا اساساً حیواني پتوجنک ارګنزمونه دي چې په حیواناتو کې د غایطه موادو، ادرار، شیدو او اخته شوو انساجو د تماس په واسطه یو بل ته سرایت کوي. د انسانانو اخته کېدل په تصادفي ډول سره پېښېږي، یعنې کله چې دوی د ملوث شویو موادو سره په تماس کې شي دوی ته هم سرایت کوي. د انسانانو لپاره د انتان عمده او مهمې منابع د غیر پاستورایز شویو شیدو، د شیدو محصولات، پنیر، وظیفوي تماس (لکه بزګران، وترنران، او قصابان) او د اخته شویو حیواناتو سره د تماس څخه عبارت دي. ځینې وختونه د هوا له لارې هم سرایت کولای شي. د بروسیلا انتان د وظیفوي تماس له کبله زیاتره په نارینه وو کې پېښېدای شي، اکثریت انتانات په غیر عرضي حالت (Latent) کې باقي پاتې کېدای شي. د انتان درجې په مختلفو حیواناتو او مختلفو هېوادونو کې ډېر زیات توپیر کوي، په USA کې تقریباً ۴ فیصده غواګانې پرې اخته دي او په نسلي غواګانو کې تقریباً ۱۵ فیصده اخته شوي حیوانات لري. په سرکوزي کې انتان هم معمول دی، په نورو هېوادونو کې د انتان Prevalence ددې څخه هم زیات وي. په غواګانو کې د بروسیلوزس د له منځه وړلو لپاره داسې تدابیر نیول شوي چې دا حیوانات ټسټ او مثبت پېښې یې ووژل شي. د غیر فعال ژوندي ۱۹ سترین په واسطه د خوسکي فعال امیونایزیشن کول یا د محلول ټسټونو اجرا کول، تجرید او امیونایزیشن کول ضرور دي، غواګانې د اګلوتینیشن ټسټونو په واسطه تشخیص کېدای شي. د انسانانو لپاره د بروسیلا انتان په مقابل کې فعال امیونایزیش تر اوسه پورې د تجربې لاندې دی. ددې ناروغۍ کنترول د انتشار په محدودیت او تر امکان پورې د حیواني انتان له منځه وړل، د شیدو او د شیدو د محصولاتو پاستورایزیشن او د هغو خلکو ژغورل چې د وظیفې له کبله په تصادفي ډول د ملوث کېدو امکانات یې شته، پورې اړه لري. (۳،۴،۸)

**پایله:**

څرنګه چې نوموړي مایکرو ارګانېزم ډېر خطرناک دي او په حیواناتو کې شتون لري او له حیواناتو څخه انسانانو ته انتقالېږي چې په پای کې سربېره د نورو افتونو څخه په امیدوارو ښځو کې د زیان لامل ګرځي؛ بناءً ددې ډول حیواناتو او ددې حیواناتو د محصولاتو څخه باید ځان وساتل شي. ښه خبره داده چې د مایکرو ارګانېزم په مقابل کې مؤثر انتي بیوتیکونه شتون لري چې د درملنې سره یې زیاتره ناروغان ښه کېږي، باید استعمال شي.

**وړانديزونه:**

۱- د ناروغو حيواناتو خصوصاً د هغو د پلاسنتاو ځخه ځان ساتنه.
۲- شيدې بايد بې له جوش او پاستورايزيشن ځخه ونه خوړل شي.
۳- اشتباهي او غير صحي پنير او نور لبنيات ونه خوړل شي.
۴- حيوانات ټسټ او وروسته له ټست ځخه مثبت پېښي بې ووژل شي.
۵- د هغو خلکو ژغورل چې د دندې له امله په تصادفي ډول د ملوث کېدو امکانات شتون ولري.
۶- قصابانو، وترنرانو او بزگرانو ته بايد صحي تعليمات ورکړل شي.
۷- عامو خلکو ته هم بايد د ناروغۍ په برخه کې پوهاوی ورکړل شي.
۸- غوښه بايد ښه پخه شي.

**Abstract:**

The Brucellae microorganism causes the disease named brucellosis, which is a zoonotic disease; in fact the disease is common in animal such us cows, sheep, goats and dogs then transmits to the human that makes sinuses in lymphoid tissue, liver, spleen, bone marrow and in the other parts of RES, the sinuses are develop to abscess which causes abortion in pregnant women. Sometimes the micro organism causes Meningitis, cholecystitis and osteomyelitis in human. Generally, the sign and symptoms of brocella infection removing in weeks to months, but the local and regional lesion/symptoms may continue for long time.

**References:**

1. Braunwald Eugene, S. Fauci Anthony, L. kasper Dennis L. Hauser Stephen, L. Longo Dan, Jameson J. Larry 2001, 15th Edition Harrison's Principles of Internal Medicine, Mc Graw Hill Company.
2. Datta Bn –2004, Second Edition, Textbook of Pathology, Jaypee, New Delhi.
3. Everett Park John, 2009, Twentieth Edition , Park's Textbook of Preventive and Social Medicine, M/S Banarsidas Bhanot Publishers – Jabalpur – India.
4. F. Brooks Geo, C. carroll Karen, S.Butel Janet , Jawetz, Melnick and Adelberg's, 2007 , 24th Edition , Medical Microbiology,lange- Mc Graw – Hill Companies.
5. Kumar Vinay, K. Abbas Abul, Fausto Nelson, C.Aster Jon Robbins and Cotran, 2010, Eighth Edition, Pathologic basis of Disease –Elsevier company.
6. L. Gorbach Sherwood, G.Bartlett John, R. Blacklow Neil, 1992, International Edition, Infectious Diseases, W.B Saunders Company- USA.
7. L. Mescher Anthony, Junqueira's , 2010, 12th Edition, Basic Histology, Lange – Mc Grow Hill companies – Indiana.
8. M. Tierney Lawrence, J. Mc Phee Stephen, A. Papadakis Maxine, 2003, Forty second Edition, Current Medical Diagnosis and Treatment, Lange – Mc Graw Hill company.

پوهندوی معـــــروف شاه (شینواری)
ژبو او ادبیاتو پوهنځی- پښتو څانګه

# د ننګـــرهار د نـومونې لاملـونه

**لنډیز**:
په دې څېړنیزه لیکنه کې د ننګرهار د نوم پر بېلابېلو اړخونو رڼا اچول شوې او د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې یې د نومونې پر لاملونو خبرې شوې دي، لکه د ګندهارا Gandahara کلمه چې د دې سیمې یو لرغونی نوم دی، دا رنګه ناکي، ناکۍ یا ناکی چې اوس هم په دې نوم ګڼې ځمکې شته، په سانسګریټ کې د لارې او ممبر په مانا دي؛ یا دې ته ورته نورې د تسمیې وجهې چې په بېلابېلو وختونو کې پرې دا سیمه نومول شوې ده، په دې لیکنه کې پرې بحث او څېړنه شوې ده.

**سریزه**:
په دې علمي او څېړنیزه لیکنه کې د ننګرهار د نوم پر بېلابېلو اړخونو رڼا اچول شوې او د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې یې د نومونې پر لاملونو خبرې شوې او د دې سیمې د نوم په تړاو په کې بېلابېل نظرونه راغلي او ترې جوتېږي چې دغه لرغونی ولایت، د فرهنګي او تاریخي پلوه هم دومره د ارزښت وړ دی، څومره چې بهرنیو او کورنیو لیکوالو او ادیبانو په خپلو لیکنو کې ځای ورکړی دی او اهمیت یې په دې کې دی چې دا سیمه هم د پایتخت کابل او د پېښور لویه دروازه ګرځېدلې ده؛ له ستراتېژیک پلوه هم ننګرهار د داسې لویې لارې پر سر پروت ولایت دی چې سهیلي اسیا له منځنۍ هغې سره نښلوي، پر دې لاره تل سوداګریز کاروانونه تللي دي. له تیرې کوونکو ځواکونو سره په بېلابېلو تاریخ جوړوونکو پېرونو کې د مبارزې یو ننګیال مورچل پاتې شوی دی. پر ننګرهار او د هغې پر لرغونتیا کتابونه لیکل کېدای شي چې تاریخي، سیاسي، فرهنګي او ټولنیز ارزښت یې را وسپړل شي چې د دې لیکنې سینه هومره پراخه نه ده او دلته یې یوازې د نومونې په اړه څېړنه کوو.

**موخې**:
- د مسلک مینه والو او زده کوونکو ته په اړونده موضوع کې چې د ننګرهار د نومونې لاملونه دي، د ګټورو معلوماتو برابرول.
- د علمي ترفیع د یو شرط (مقاله لیکنې) پوره کول.

**د ننګرهار د نومونې لاملونه**:
ننګرهار د افغانستان یو لوی او تاریخي ولایت دی، د پېړۍ په پوړیو کې د دې ولایت نوم د خلکو په خولو کې اوړي را اوړي او له لرغوني زمانې سره یې خپله مینه او اړیکه ساتلې ده. د تاریخ په بېلابېلو دورو کې به یې د نوم په تلفظ کې بدلون راغلی وي، خو تر ډېره یې خپله اره معنی ساتلې ده. ګندهارا Gandahara چې په یوه لویه سیمه راځرخي، نوم یې په تاریخ کې زیات مخې ته راځي، د ګندهارا کلیمه تر ننګرهار ډېره لرغونې او په ویدي سرودونو کې راغلې ده چې د یوې لویې او سترې سیمې نوم دی، دا لویه سیمه له کابل نه تر اباسین پورې پراخه پرته ده. په ویدي سرودونو کې ګندهارا یوه ودانه او سمسوره، ډکه سیمه ګڼل شوې ده. (۱م۸۴)
ګنـدهارا د لرغـوني افغانسـتان د خـاورې خـورا مهمـه او تـاریخي برخـه وه، دغلتـه یـوه سـیمه د (نګاراهـارا Negarahara) په نامه یاده شوې ده چې دغه نوم تر دې دمه په لږ څه اوښتې بڼه (ننګرهار) شته. هغسې چې یې ښاغلي کهزاد د افغانستان د تاریخ په دویم ټوک کې لیکي: ((فـاهین Fohein او هیـوان تسـانګ Heivan Tesang نوموتو

چیني سیلانیانو هم دا سیمه یاده کړې ده او (ناګاراهارا) یې ددې سیمې سوساو ګڼلې دی. هیوان تسانګ دغه سیمه د (ناګار Nagar) په نامه هم یاده کړې ده، دی په دې باور دی چې دغه سیمه د غرونو په منځ کې پرته ده، هوا یې نسبتاً نرمه او اوسېدونکي یې د ښه خوي خاوندان دي. زیات یې په بودایي مذهب عقیده لري. د (هیلو Helou) او (Nakey) په نوم هیوان تسانګ په دې سیمه کې د دوو ښارونو یادونه کړې ده. هیلو په غالب ګومان همدغه (هډه Hada) ده چې د بودا د سرکوپړۍ او هډ یې په کې خوندي وو او ناکي هم د جلال آباد په لویدیز کې د ناکي د شېلې په نامه یادېږي.)) (۲م م۲۷-۸۸)

(ناکي) ناکی یا ناکی چې اوس هم په دې نوم ګڼې ځمکې شته، په سانسکریت کې د لارې او ممبر په مانا دي، وایي چې ددې بل نوم (پادماپور- Pad Mapoar) و، یعنې د نیلوفر د ګلونو ښار، دارنګه هیوان تسانګ د جلال آباد ښار په لویدیز کې د کابل سیند او سره رود یو ځای کېدو ځای ته نژدې د (نګار) په نامه هم د یو ښار یادونه کړې ده چې پر یوې غونډۍ برسېره اباد و او یوه پخه کلا وه. (۸)

له اوسمهالو رابرسېرنو داسې اټکل کېږي چې (پاد ماپور) ښار به همدا اوسنی (سلطانپور- Saultan Poor) وي، کوم چې په وروستیو کې یې نوم اوښتی دی. دارنګه ښایي ناکی اوسنی. درونټه Deroonta وي، ځکه درونټه هم د تلو راتلو ځای او معبر ته ویل کېږي. د اوسنۍ درونټې لویدیز ته داسې نښې او علامې شته چې زموږ دا خبره کره کوي. درونټه چې د تور غر دواړو خواوو ته د لارې پر سر پرته سیمه ده او د یو معبر په توګه ترې کار اخستل کېږي، نو ویلی شو چې د (ناکي) جغرافیایي مفهوم اوس هم د درونټې په کلیمه کې جوتېږي. (۴م۱۲۵)

موخه مو د ننګرهار له نامه ده چې دا نوم ایا درست دی؟ او ریښه یې څه وړ ده؟

له مخکنیو پلټنو جوتېږي چې د ننګرهار په نوم کې د (ر) توری په ټولو لرغونو نومونو کې شته، که د یوه ښار نوم وي او که د یوې سیمې، خو (ر) په کې په هر ځای کې څرګند یږي. د (ناګار یا نګر Nogar or Nager) په کلیمه کې هم (ر) شته چې د ښار او کوټ مانا لري. په سانسکریت کې هم نګر Nager ښار ته وایي، لکه (احمد نګر- Ahmad Nager)، سري نګر (Serey Nager)، په پښتونخوا کې هم د اشنغر- Ashnager په نامه کې دغه (نګر= نغر Nager) کلیمه ده او د اتو ښارونو یا کلو مانا ورکوي چې د پېښور د چارسدې په خوا وشا سیمو کې ودان دي. د د ننګرهار د سره رود د (نغرک- Naghrac) په کلیمه کې هم دغه ریښه شته، نغرک د واړه کلي مانا لري او (ک) یې تصغیري نښه د.

د (ناګا- Noga، نګ- Nag) ریښه هم د ننګرهار په کلیمه کې د ځینو په باور شته چې په سانسکریټ کې د غر منګور او هاتي معناوې ورکوي؛ مګر زمونږ په اند د (نګر، ناګار) ریښې قوي ښکاري. د ننګرهار د کلیمې دویم توکی (هار- Har) دی، دا کلیمه په پښتو کې د زیاتوالي او تکرار له پاره کارول کېږي، لکه په چغهار، درزهار او غرهار او نورو کلیمو کې، نو کېدای شي چې د ننګرهار معنی هم ګڼ ښارونه وي. دا رنګه د (هار- Har) کلیمه له نورو صرفي کلیمو یا روستاړو سره هم نژدېوالی لري او د پارسي له (سار- Sar)، د انګریزي له هال Hall سره نژدېوالی څرګندوي. دارنګه (سال- Sall) په سانسګریت کې د ځای مانا ورکوي، لکه (د هرم سال)، نو په دې توګه د (هار- Har)، سار Sar، سال sall او هال Hall، ټول له یوې ریښې څخه دي. د کندهار او چېرهار په کلیمو کې هم (هار) په دغه معنی څرګند شوی دی. په فارسي کې د سار د ظرفیت مثالونه غکسار، کهسار او نور دي، نو له دې څېړنې جوتېږي چې د ننګرهار لفظي معنی شهرستان چې په ګڼو ښارونو اطلاق کېږي. (۳م۵۵)

د (هار) د وروستاړي په اړه یوه بله څېړنه ښیي چې د ظرفیت مانا یې ښه پیاوړې کوي، هغه دا ده چې (هارا Hara)) د وارا Wara د کلیمې اوښتې بڼه ده، ځکه چې په پښتو کې (و، هـ) په یو بل بدلېږي، لکه چې (باهو- باوو، لاهو- لاوو) او نورو کې (وارا) په اصل کې د هغه یوځي او ټینګ ځای نوم دی چې (یاما- Yama) په بلخ کې جوړ کړی و چې د هغه (یاما پاچا) د اوسېدو ځای و، نو کېدای شي چې (هارا) د (وارا) بدل وي او بیا وروسته د ځایونو د نومونو په اخر کې راغلی وي. (۵م۱۱۷)

د ننگرهار په کلیمه کې یوه بله را برسېرنه داده چې د دغې کلیمې اول توکی (نگار- Nagar) لولو، (نگار Nagar) په فارسي قاموسونو کې د نقش، انځورنې او معشوقې مانا ورکوي، نو دا چې پښتو او فارسي دواړه اریایي ژبې دي، نو په دېرو ریښو کې سره شریکې دي. د زوی مېرمنې ته (نگور- Nagor) دا هم په لومړیو کې د یو ښکلي بت په څېر جوړېږي؛ دارنگه د انځور کلیمه هم پښتو کې د نقش او نگار په مانا ده، نو له دې لفظي او معنوي ورته والي څخه څرگندېږي چې د ننگرهار د کلیمې اول توکی (نگار) وبولو، نو له معنوي پلوه هم سمېږي او د تاریخي شواهدو له مخې دا حقیقت روښانه کېږي چې د ننگرهار یا نگاراهارا نوم هغه وخت منځ ته راغلی، کوم وخت چې د گنداهارا په ولایت کې بودایي مسلک خپور شو، دلته گریکو بودیک Greece-Bodic صنعت او ارت وده وکړه. (۷م۳۳)

د بودايي مذهب د نمانځنې په اثر د بودا مجسمې تصویرونه او بتان جوړ شول، یعنې دا علاقه د بتانو د جوړولو مرکز وگرځېدو، نو پس له هغه دغه نوم هم زیات شهرت وموند، لکه چې له تاریخ اثارو معلومېږي، د (نگارا هارا) نوم د راجه اشوک Raja Ashook له وخت یعنې د میلاد څخه مخکې دویمې پېړۍ څخه راوروسته مشهور شوی دی، نو په دې توگه د ننگرهار معنی د هغه زمانې د عقیدو له مخې د بتانو او تصویرونو ځای او سیمه کېږي، لکه څرنگه چې نن ورځ د اسلامي عقایدو په اساس د واحد او لا شریک خدای ج د عبادت لپاره د مزدک او جومات جوړول یو هوسا عمل گڼل کېږي، په هغه وخت کې د بودايي مسلک د عقیدو په اساس د بودا او نورو ځیزونو د مجسمو او تصویرونو جوړول یو غوره کار گڼل کېده، له دې کبله نگاراهارا د بتانو او تصویرونو ځای او سار ته ویل کېده چې په فارسي کې په نگارستان ترجمه کېدای شي. (۲م۴۵)

د ننگرهار دغه معنی هم په تاریخي او هم په لغوي لحاظ یو بل سره اړخ لگوي، د ننگرهار کلیمې په لومړي توکي کې د (ر) توري سهي ښکاري، د (ر) توري په دویم توکي (هار) پورې اړه نه لري. د کندهار Kandahar کلیمه هم په همدې توگه د (کند Kand) او هار Har څخه منځ ته راغلې، لکه څرنگه چې د مخه وویل شول، د ننگرهار د نامه مفهوم شهرستان یا نگارستان سره اړخ لگوي، په دې هکله دا څېړنه وروستنۍ گڼل کېږي؛ کېدای شي په راتلونکي کې په دې هکله نورې څېړنې هم تر سره شي، البته د موجوده شواهدو او تاریخي حقایقو په اساس دغه دواړه مفهومونه ورسره ډېر نږدې ښکاري، ځکه که د شهرستان مفهوم یې هم را واخلو، نو د پادماپور (سلطان پور)، ناکي (درونټه) او هیلو (هډې) ښارونه په کې راځي او که د نگارستان مفهوم یې را واخلو، نو لیدلی شو چې د ناکي او هیلو په دواړو ښارونو کې اوس هم د لرغوني زمانې اثار او شواهد شته چې زمونږ د دغې ادعا او څېړنې د تحقق سره مرسته کوي. په دغو ښارونو کې د هیلو یا هډې ښار زیاتره مذهبي بڼه درلوده، د هډې د اوسنۍ غونډۍ څخه چې کوم اثار په لاس راغلي دي دا څرگندوي چې په دې ښار کې د بودایي دین ډېر ستر مرکزونه او عبادت ځایونه ودان شوي وو؛ کله چې د اسلام سپېڅلي رڼا، د وحدانیت بربښنا او د محمدي ص غرا شریعت ځلا د افغانستان خاورې ته د الله پاک د ارادې په اساس رادننه شوې ده، د هېواد په دې څنډه یعنې نگاراهار کې هم د کفر او الحاد مرکزونه ورته ټینگ شوي نه دي، ټول له منځه تللي دي او پر ځای یې د اسلامي غورځنگ مرکزونه ودان شوي دي. د هیلو یا هډې په دغه ځمکه داسې یو انسان استوگن شوی دی، څوک چې مولوي نجم الدین اخونزاده کاکړ نومېده او د اسلام د سترو روحاني او مبارزو شخصیتونو څخه گڼل کېږي. د ۱۸ پېړۍ له پیل څخه د هدې په دغه ښار کې د اسلام د ترقۍ او پرمختگ لپاره داسې مرکز جوړ شوی دی چې تر نن ورځې جاري دی، د دغه مرکز سره د لومړي پیل څخه یو شاندار جومات او یوه مدرسه ملگري وو، دلته د اسلام د ترقۍ لپاره ډېر علما، مجاهدین او سرتېري روزل شوي دي. هډه نن ورځ هم د گندهارا په ټولو سیمو کې شهرت لري، د دې ښار اسلامي رڼا نن ورځ په ټوله گندهارا خوره ده، کومه لاره چې هډې صاحب د اسلام د پراختیا او ترقۍ لپاره خلکو ته ښودلې وه، نن هم د ننگرهار او لرغوني گندهارا په خورو ورو سیمو کې خلک د هغو په قدمونو روان دي.

**د هډې لنډه پېژندنه:**

د هډې کلی د جلال آباد ښار په سويل کې نږدې درې ميله ليرې پروت دی چې دا ځای يو اوږد تاريخ لري، د اسلام نه تر مخ د کوشانيانو په زمانه کې د يوناني او بودايي صنعت مرکز و. د هډې په شاوخوا غونډيو کې ډېرينې څېرې او بتان موجود وو، په اوسنۍ غونډۍ کې د ژويو او حيواناتو څېرې رابښکاره شوي دي چې اوس د يو موزيم حيثيت لري. هډه د ګندهارا د ارت يو لوی مرکز تېر شوی. هډې ته ځکه هډه وايي چې دلته د بودا د سر کوپړۍ انځور موجود و، کوم وخت چې د۴۰۰م په شاوخوا کې د چين مشهور سيلاني هيوان تسانګ د نګارهارا ننداره کوله، نو په دغه سيمه کې يو نيم زر عبادتخانې موجودې وې. ده په دغه ولايت کې درې ښارونه هم ياد کړي دي، اول هيلو نومېږي چې همدا هډه ده، بل ناکي نومېږي چې د جلال آباد په لويديز کې د ناکي د شيلې په نامه يادېږي، بل نګار ښار دی چې د سره رود او لغمان د سيندونو د يو ځای کېدو سيمې سره نږدې پروت دی. ددې درېو اړو ښارونو په وجه نګارهارا ته ننګرهار ويل کېږي، يعنې شهرستان، دا درېو اړه ښارونه ددغه ولايت په مخ کې پراته دي. هډې په دغه وخت کې ډېر شهرت درلود، ولې چې يوناني او بودايي صنعت هم دلته سره ګډ شوی دی او غوره ښې يې لاس ته راغلي دي. د اسلام تر راتلو وروسته هم هډې خپل شهرت ساتلی دی، په تېره د اخونزاده نجم الدين صيب په وجه يې پوره شهرت موندلی دی، نوموړی په هډې صيب باندې مشهور و، په اصل د شلګر او سېدونکی او په قام موسی خېل کاکړ و، اوړې به د کابل په تندور سازۍ کې اوسېده او ژمی به يې په هډه کې تېراوه، کله چې دده مريدان او ماذونان په ځای کې خپاره شول، نو د هډې نوم هم ډېر شهرت وموند. د هډې صاحب ماذونان دا دي:

۱- صوفي عالم ګل صاحب
۲- د ترنګزو حاجي صاحب
۳- د چکنور ملا صاحب
۴- د سرکانو ميا صاحب
۵- د سلامپور پاچا صاحب
۶- د باجوړ د بابړي ملا صاحب
۷- د تګاو ملا صاحب
۸- د هډې استاد صاحب

بيا وروسته هډې دومره شهرت وموند چې د اعليحضرت نادر شاه په وخت کې د نجم المدارس په نامه يوه مدرسه په کې جوړه شوه. ددې مدرسې سر مدرس د کامې ملا مسکين و او نور استادان يې دا دي:

۱- قاضي عبدالرشيد د بيمارو اوسېدونکی
۲- مولوي عبدالغفور د کنډې باغ اوسېدونکی
۳- د نظراباد مولوي صاحب
۴- مولوي سميع الحق صاحب

ددې مدرسې په مديرانو کې شاه محمد رشاد او سعيد افغاني مشهور کسان وو او په شاګردانو کې يې صديق الله رښتين او جنرال عبدالرحيم نوميالي کسان دي. هډه په موجوده وخت کې يو کاريز لري چې د هډې د لوی جومات په خوا کې تېر شوی دی، د جومات په کوزه خوا کې يو ډنډ دی چې ددغه کاريز اوبه په کې ډنډېږي او بيا پرې د هډې د کلي ښکته پټي اوبه کېږي. په هډې کې د جمعې په ورځ ګڼه ګوڼه زياته وي، ډېر خلک د جمعې لمانځه ته ورځي، جومات ته نږدې ميله هم جوړېږي او هر څوک په دغه ورځ په کې د اړتيا وړ توکي اخلي. د روژې د مياشتې په سر کې د هډې په دغه لوی جومات کې د قرانکريم ختم کېږي او د خواوشا سيمو ډېر نېکمرغه خلک ورته راځي. د ننګرهار د کانال په جوړېدو دغلته يو لوی فارم جوړ شوی دی چې د هډې د فارم په نامه يادېږي، په دې فارم کې د مالټو او

زيتونو ونې زياتې کرل شوي چې د زيتونو تېل او اچار ترې جوړېږي چې د پورته يادو وجوهاتو له امله هډې زيات شهرت موندلی دی.

**پايله**:

که د ننګرهار کليمه له تاريخي پلوه وکتل شي، ددې کليمې شننه او سپړنه زيات وخت او مهال ته اړتيا لري، ما د خپل توان په اندازه په دې برخې يو څه رڼا واچوله. البته د هغو سرچينو په مټ دا وړه ليکنه تر سره شوه چې زما په واک کې وې او ښايي په دې برخه کې نورې څېړنې هم وشي؛ زه دا نه وايم چې زما ليکنه به ګوندې په دې برخه کې وروستۍ وي، بلکې په دې برخه کې د لازياتو څېړنو، سپړنو او ليکنو اړتيا ليدل کېږي چې ددې لرغونې او تاريخي سيمې ارزښت لاپسې جوت او څرګند شي.


## Abstract:

Reasons of naming Nangarhar: The aim of this researching writing is to discuss different aspects of the names of Nangarhar, and the reasons of its naming in different historical periods such as the word "Gandahara" which is an ancient name. Also, "Naki" or "Nakai" that names many areas in the current time. The said word in Sansekret means "way" or "arch". Similarly, some other reasons of its naming which are used to name this area have been pointed out in this written piece of research.


**اخځليکونه**:


۱- غبار، مير غلام محمد. (۱۳۸۷). جغرافيه ملی افغانستان. مرکز نشراتی ميوند

۲- نړيوال، رازقي. (۱۳۸۲) ل. د هېواد لرغوني ښارونه او تاريخي پاڼې- دويم ټوک. ميوند خپرندويه ټولنه

۳- رشاد، عبدالشکور. (۱۳۷۹) ل. د افغانستان د ولايتونو جغرافيايي يادښتونه(لومړۍ او دويمه برخه). کندهار: علامه رشاد اکاډمي

۴- سنګروال، شهسوار (۱۳۸۴) ل. د افغانستان د تاريخي جغرافيې څرنګوالی. الازهر خپرندويه موسسه

۵- کهزاد، احمدعلی. (۱۳۲۵). روابط تهذيبی افغانستان و هند- کابل کلنۍ

۶- کهزاد، احمدعلی. (      ). افغانستان در پرتو تاريخ. کابل

۷- عارض، غلام جيلاني. (۱۳۷۹) ل. د افغانستان د ولايتونو جغرافيه، ژباړه

۸- غبار، ميرغلام محمد. (۱۳۴۲). افغانستان در مسير تاريخ. کابل: دولتي مطبعه

پوهندوی محب الله (شينواری)
طب پوهنځی- فزيالوژي څانګه

# د ECG په لوستلو کې د تېروتنو مخنيوی

**لنډيز**:

په دې علمي مقاله کې هغه تېروتنې چې د E.C.G په لوستلو کې منځته راځي او د تشخيص د غلطېدو لامل ګرځي، په ګوته شوي او دا تېروتنې په بشپړ ډول په دوه برخو کې تصادف کوي چې يو يې تخنيکي نيمګړتياوې او بل د E.C.G د موجونو ناسم تعبير د تېروتنو لامل ګرځي. همدارنګه يو لړ ناروغۍ په E.C.G کې د ورته او مشابه تغيراتو لامل ګرځي چې دا کار هم تر ډېره بريده د تشخيص د غلطېدو لامل ګرځي. پورته ټولې تېروتنې مې په دې علمي مقاله کې راټولې کړې او د هغوی د اصلاح ، سمونې او د تشخيص د غلطېدو د مخنيوي په موخه مې لازم وړانديزونه کړي دي.

**سريزه**:

ECG يوه ارزانه تشخيصيه وسيله ده چې د زړه د عضلې د حالت په اړوند ترې مهم معلومات لاسته راځي، کله ناکله د هغې په لوستلو کې يو لړ تېروتنې رامنځته کېږي چې دا تېروتنې د غلطېدو لامل ګرځي؛ له همدې امله مې وپتېيله د هغو ممکنه خطاوو د مخنيوي په موخه چې د ECG په لوستلو کې منځته راځي او د تشخيص د غلطېدو لامل ګرځي، يوه علمي مقاله ترتيب او د پوهې علمي مجلې له لارې يې د طب مينه والو او د مسلک خاوندانو ته وړاندې کړم.

**موخې**:

- د ECG په لوستلو کې د تېروتنو مخنيوی.
- په اړونده موضوع کې د مسلک خاوندانو او مينه والو ته د ګټورو علمي معلوماتو وړاندې کول.

**مواد او کړنلاره**:

د څېړنې بنه کتابتوني ده او د بېلابېلو معتبرو طبي ټکس بوکونو، مجلو او انټرنيټ پاڼو څخه په کې استفاده شوې ده چې ريفرينسونه يې د څېړنې په پای کې ليکل شوي دي.

**طبي ادبياتو ته کتنه**:

ECG)) Electro Cardiography:

ECG هغه برقي پوتنشيال دی چې د زړه د عضلې څخه منشا اخلي او د بدن په سطحه د ECG د کاغذ پر مخ د څپو په ډول رسمېږي؛ يا په بل عبارت د زړه د عضلې د برقي پوتنشال ګرافيک ثبت ته ECG وايي. (۱)

**د *ECG* د موجو پېژندل**: يوه نارمله ECG د P د موجې QRS Complex او T د موجې څخه جوړه شوې ده، د P موجه د اذيناتو د تقلص څخه دمخه د هغوی د Depolarization او د QRS Complex د بطيناتو د تقلص څخه دمخه د هغوی د Depolarization او په پای کې د T موجه د بطيناتو د Repolarization څخه منځته راځي. بناءً په ECG کې دوه ډوله موجې لرو چې يو يې د Depolarization هغه دی چې د P او QRS Complex څخه او بل يې د Repolariztion موجه ده چې د T د موجې څخه عبارت دی. (۲)

**د *ECG* ليډونه**: په دې وروستيو لسيزو کې د نوو ليډونو په کارولو سره د ECG د ليډونو شمېر زيات شوی دی، خو هغه ECG چې معمولاً زمونږ د هېواد په روغتونونو او شخصي کلنيکونو کې اخيستل کېږي، د ECG درې ډوله ليډونه په کې استعمالېږي:

۱- دوه قطبه ليډونه: دا ليډونه چې د Standard limb leads په نوم هم يادېږي، د I، II، III ليډ څخه عبارت دي چې د دې جملې څخه I ليډ د ښي لاس او چپ لاس برقي پوتنشيال راښيي چې په ښي لاس کې ايښود ل شوی الکترود منفي او په چپ

لاس کې مثبت وي؛ په دې ترتيب هغه ECG چې په دې ليډ کې رسمېږي، هم مثبته او د iso electric line څخه پورته وي، II ليډ په ښي لاس او چپې پښې کې خپور شوی برقي پوتنشيال ثبت کوي، بناً ښی لاس د چپې پښې په نسبت منفي وي، نو په دې اساس هغه موجه چې په دې ليډ کې رسمېږي، د منفي څخه د مثبت په لور او د iso electric line څخه پورته رسمېږي. (۲)

III ليډ د چپ لاس او چپې پښې برقي پوتنشيال راښيي، بناً چپ لاس د چپې پښې په پرتله منفي دی، نو ځکه جريان هم د منفي څخه د مثبت په لور ثبتېږي، نو له همدې امله په دې ليډ کې هم رسمي شوې موجې پورته او مثبتې ثبتېږي.

۲- يو قطبه ليډونه: دا ليډونه د avR، avL او avF څخه عبارت دي چې له دې جملې څخه avR په ښي لاس کې اينبودل کېږي. څرنګه چې په ښي لاس کې ټول جريان منفي وي، نو ځکه په دې ليډ کې رسم شوې موجې هم منفي او د iso electric line څخه ښکته رسمېږي. AVL چې په چپ لاس کې اينبودل کېږي، څرنګه چې په لاس کې جريان مثبت دی، نو له همدې امله په دې ليډ کې ټولې رسمي شوې موجې مثبتې او پورته رسمېږي. avF چې په چپه پښه کې اينبودل کېږي دا چې دلته هم جريان مثبت دی، نو له همدې امله رسم شوې موجې پورته او مثبت رسمېږي.

۳- Precardial leads يا Chest leads:

په دې ليډونو کې ECG په شپږو مختلفو ساحو کې د الکترودونو د اينبودلو په واسطه چې مستقيماً د سينې د پاسه اينبودل کېږي، اخيستل کېږي، دا ليډونه په ترتيب سره د V1، V2، V3، V4، V5 او V6 څخه عبارت دي. (۴)

څرنګه چې د زړه بهرنی مخ د سينې د جدار سره نږدې دی، بناءً هر الکترود هغه برقي پوتنشيال چې د زړه د عضلې څخه منشا اخلي، مستقيماً د بدن په سطحه رسموي، له همدې امله کېدای شي چې په بطيناتو کې ډېر کوچنی تشوشات هم په ECG کې د ډېرو بدلونونو لامل وګرځي. V1 او V2 د Right Chest Leads په نوم هم يادېږي؛ V1 په ښي څلورم بين الضلعي مسافه کې د Sternum هډوکي ته نږدې وي، ته اينبودل کېږي؛ V2 په چپه څلورمه بين الضلعي مسافه کې د Sternum هډوکي ته نږدې اينبودل کېږي، V3 د V2 او V4 په منځ کې اينبودل کېږي، V4 په چپه پينځمه بين الضلعي مسافه کې په Med Clavicular Line کې اينبودل کېږي، V5 په چپه پينځمه بين الضلعي مسافه کې په Ant.Axillary-line کې اينبودل کېږي او V6 په چپه پينځمه بين الضلعي مسافه کې په Med-axillary line کې اينبودل کېږي. V5 او V6 د سينې د چپو ليډونو Left-chest leads په نوم هم يادېږي. بناءً په V1 او V2 کې د QRS-complex په طبعي ډول منفي وي؛ ځکه چې دا ليډونه په ښي خوا کې د زړه د قاعدې سره نژدې اينبودل کېږي او دلته جريان منفي وي، نو ځکه په دې ليډونو کې منفي جريان ثبتېږي. په داسې حال کې چې په نورو ليډونو کې QRS-complex مثبت وي، ځکه چې دا ليډونه په چپه خوا د زړه د Apex سره نژدې اينبودل کېږي او دلته جريان مثبت وي. (۲)

## د $ECG$ د اخيستلو موخې:

ECG اکثراً د لاندې څلورو موخو لپاره اخيستل کېږي:

۱- د زړه د ischemic ناروغيو د تشخيص په منظور.

۲- د زړه د ريتم تشوشاتو د تشخيص په منظور (Arrhythmia).

۳- د الکترو لايتونو د تشوشاتو د معلومولو لپاره.

۴- د ځينې درملو د جانبي عوارضو د معلومولو لپاره.

د ECG په لوستلو کې لاندې نقطې ډېرې مهمې دي چې هغه بايد ولټول شي او د هغې څرنګوالي ته بايد ځانګړې پاملرنه وشي:

۱- د زړه ريتم او نظم (Rhythm and regularity)

۲- د P د موجې مورفولوژي

۳- P-R انتروال

۴- د QRS Complex مورفولوژي

۵- S-T segment
۶- د T موجې مورفولوژي
۷- د U موجې مورفولوژي
۸- د Q د څپې اندازه
۹- QT interval (۲)

د ECG په لوستلو کې تېروتنې په دوو برخو ويشو:
۱- تخنيکي نيمګړتياوې
۲- د ECG په تعبير کې غلطي

## ۱- تخنيکي نيمګړتياوې:

کله ناکله د ECG د اخيستلو ناسم تخنيک او په خپلو موقعيتونو کې د ليډونو نه تثبيت د ECG په تعبير کې ستونزې منځته راوړي، ځکه هر ليډ د زړه د عضلې د يوې ځانګړې ساحې د برقي پوتنشيال د ثبت لامل ګرځي، نو که چېرې يو ليډ د خپل اصلي موقعيت څخه ليرې کېښودل شي، د مربوطه ساحې د برقي پوتنشيال په ثبت کې ستونزې منځته راځي چې دا ستونزې د ECG د موجو په مورفولوژۍ کې د بدلون لامل ګرځي او د تشخيص د غلطېدو امکان منځته راوړي، نو ددې تېروتنې د اصلاح لپاره بايد ECG د يوه مسلکي شخص له خوا چې د ECG د ليډونو د توپوګرافي په اړه معلومات ولري او يا که ممکنه وي نبغ په نبغه د ډاکتر تر نظارت لاندې واخيستل شي او د ناروغ فزيکي حالت ته په کتو ECG د تعبير په اړوند قضاوت وشي.

## ۲- د *ECG* په تعبير کې غلطي:

د ECG په تعبير کې غلطي په دوو برخو ويشو:
الف- د زړه څخه بهر
ب- د زړه دننه

الف- د زړه څخه دباندې: يو لړ کلنيکي حالت او امراض د زړه څخه دباندې شته چې په دويمي ډول د قلبي عضلې برقي پوتنشيال اغېزمن او په هغه کې د بدلون او په تعقيب يې په ECG کې د بدلون لامل ګرځي، دا بدلونونه بيا د زړه د ناروغيو سره مغالطه کېږي، په داسې حال کې چې قلبي عضله روغه، خو په تالي ډول په عضويت کې د يو بل Defect په تعقيب متاثره شوې ده. د بېلګې په توګه په تبه او د بدن د تودوخې په زياتېدو سره ميتابوليزم سريع او د sinus node نقوذيه قابليت د ايونونو په مقابل کې زياتېږي، ور سره يو ځاى Tachycardia منځته راځي، په ECG کې د دوو QRS-Complex تر منځ واټن راکمېږي او ور سره يو ځاى د زړه beat سريع کېږي او د sinus tachycardia لامل ګرځي چې د زړه Rhythm په کې منظم وي. پورته حالت په anemia او د Thyrotoxicosis کې هم منځته راتلاى شي. دا ډول Sinus tachycardia بايد د نورو supra ventricular tachycardia سره چې د زړه د عضلې څخه منشا اخلي او په ECG کې د ورته بدلونونو د منځته راتلو لامل ګرځي، مغالطه نه شي. (۳)

په همدې ترتيب د الکترولايتو تشوشات هم قلبي عضله په تالي ډول متاثره کوي او د قلبي عضلې په برقي پوتنشيال کې د بدلون د منځته راتلو په تعقيب په ECG کې بدلونونه منځته راځي، د بېلګې په ډول د پوتاسيم ايون چې قلبي عضلې په Electro physiology کې مهم رول لوبوي، که د پوتاشيم (Potassium) اندازه په Extra cellular fluid کې زياته شي (Hyper Kalemia) د زړه beat به ورسره ورو او په ECG کې به د T موجه په غير نورماله بڼه او يوې تېرې څوکې (Peaked T wave) په توګه تظاهر وکړي. د P موجه به پراخه او همواره (Wide and Flat P) وي او هر څومره چې د پوتاشيم سويه لوړېږي د P موجه همواره او ورکېدو ته نژدې کېږي. (۸)

په همدې ترتيب که د پوتاشيم سويه ښکته شي (Hypo Kalemia) نو د T موجه به همواره او منفي رسمه شي او د U موجه چې په نورماله ECG کې نه څرګندېږي، د ECG د کاغذ پر مخ راڅرګنده شي، لکه څنګه چې معلومه ده د قلبي عضلې په

ischemia کې هم د T موجه سرچپه کېږي، نو ددې لپاره چې ددې دواړو حالاتو په تشخيص کې تېروتنه رامنځته نه شي، نو که په ECG کې د T د موجې د Inversion سره يوځای د U موجه تظاهر وکړي، نو د Hypokalemia خوا ته بايد فکر وشي او د پوره تشخيص لپاره بايد د ECG تر څنګ د سيروم د الکټرولايتونو اندازه (پوتاشيم) تعين شي. په همدې ډول د کلسيم په سويه کې بدلونونه هم په ECG کې د بدلونونو د منځته راتلو لامل ګرځي؛ که د کلسيم اندازه د نارمل حد څخه زياته شي (Hypercalcemia) نو په ECG کې QT interval به لنډ شي، خو که د کلسيم اندازه راکمه (Hypocalcemia) شي، نو QT interval به اوږد (Prolonged QT interval) شي. په C.OPD کې د ECG په ټولو ليډونو کې د موجو په voltage کې بدلونونه منځته راځي او موجې وړوکې (Low Voltage ECG) کېږي. (۲)

په همدې ترتيب په Pulmonary embolus کې هم په ECG کې بدلونونه منځته راځي چې ځينې ددې بدلونونو کټ مټ د زړه د عضلې د ischemia او infarction سره يو شان وي، خو په Pulmonary embolus کې د ECG په I، II، III ليډ کې بدلونونه منځته راځي، په دې ډول چې په I ليډ کې يوه لويه د S موجه په II ليډ کې ST depression او په III کې لويه د Q موجه او ور سره د T د موجې inversion منځته راځي چې د ischemia او infarction سره د تېروتنې د مخنيوي په موخه بايد يوازې د زړه په برقي ګراف تکيه ونه شي او د دواړو ترمنځ تفريقي تشخيص په منظور نورې پلټنې تر سره شي. (۲)

## ب- د زړه دننه:

په زړه کې يو شمېر ناروغۍ په ECG کې د ورته او مشابه بدلونونو لامل ګرځي چې دا ورته او مشابه بدلونونه د ناروغيو په تشخيص کې د تېروتنې لامل ګرځي، ددې ډول تېروتنو د مخنيوي په موخه تر ټولو ړومبی بايد د ECG ټول ليډونه ډېر دقيق مطالعه او وکتل شي، خو که ECG د زړه د ischemic ناروغيو د تشخيص په موخه اخيستل شوی وي، بيا هم ټول ليډونه بايد مطالعه شي، په استثنی د avR ځکه چې avR په ښي لاس کې خپور شوی برقي پوتنشيال ثبتوي، څرنګه چې په ښي لاس کې جريان منفي دی، نو ټولې موجې منفي او کښته رسمېږي او کېدای شي چې يوه نارمل ښکته رسمه شوې د R په موجې د پتالوژيکې Q موجې سره غلطه او په يو نارمل حالت د زړه د عضلې Infarction ګومان وشي. د زړه د هغو ناروغيو څخه چې په ECG کې د ورته تعبيراتو د منځته راتلو لامل ګرځي، په لنډ ډول يادونه کوو:

۱- د زړه د عضلې په ischemia کې د T موجه سرچپه کېږي، په داسې حال کې چې د چپ بطين په Hypertrophy کې هم د T موجه سرچپه کېږي، خو په Hypertrophy کې د T د موجې inversion او په ischemia کې د منځته راغلي T موجې د Inversion سره د بڼې په لحاظ توپير لري، په ischemia کې د T موجې Inversion اکثراً متناظر او Symmetrically وي؛ په داسې حال کې چې د چپ بطين په Hypertrophy کې د T موجې Inversion نه تنها دا چې متناظر نه دي، بلکې يوه اوږده بڼه اختيار وي. (۳)

۲- د زړه د عضلې په infarction کې ST-Segment–elevation صورت نيسي، په داسې حال کې په Pericardiatis کې هم د ST-Segment – elevation موجود وي، خو دا elevation د انفارکشن elevation سره د بڼې په لحاظ توپير لري، په دې ډول چې په Pericardiatis کې چې د ST-Segment elevation هموار او يا هم مقعر (Flat or Concave) او د T موجه اکثراً Baseline څخه پورته رسمېږي؛ خو په infaction کې کېدای شي چې د ST-Segment –elevation لس ملي متر او يا ددې څخه هم زيات د Baseline څخه پورته رسم شي.

۳- په Sub endocardial infarction کې د ST-Segment -depression منځته راځي، په داسې حال کې چې د زړه هغه ناروغان چې د Digital په واسطه يې درملنه صورت نيسي، د Digital د زياتوالي او تسمم په صورت کې د depression-ST-Segment صورت نيسي، خو د شکل په لحاظ دواړه توپير لري، هغه ST-Segment -depression چې د Sub endo cardial infarction په تعقيب منځته راځي، اکثراً هموار او Flat وي، په داسې حال کې چې د Digital په سير کې منځته راغلې د ST-Segment – depression يوه عجيبه تدريجي ښکته کېدونکې منحنې (Salvador Dalios Mustache) په بڼه منظره اختياروي، په دواړو صورتونو کې د تېروتنې د مخنيوي په موخه بايد د ناروغ تاريخچې او د زړه نورو Enzymatic کتنو ته ځانګړې توجه وشي. (۳)

## پایله:

د هغو معلوماتو له مخې چې په دې علمي مقاله کې راټول شوي، په خلاصه ډول دې نتیجې ته رسېږو چې ECG یوه ګټوره تشخیصي وسیله ده، نو ددې لپاره چې ددې وسیلې په واسطه دقیق تشخیص ته ورسېږو، باید د ECG د اساساتو په اړوند کافي معلومات ولرو او ټولو هغو ناروغیو ته چې د زړه نه دباندې او یا د زړه په دننه کې موجودې وي، خو په ECG د مشابه بدلونونو لامل ګرځي، ځانګړې پاملرنه وشي. په دې صورت کې باید د ECG په موجو کې د بدلونونو بڼې ته باید خاصه توجه وشي او د ممکنه تېروتنې د مخنیوي په موخه باید یوازې په ECG تکیه ونشي، بلکې تر څنګ یې نورې پلټنې هم باید ترسره شي.

## وړاندیزونه:

دا چې ECG یوه مهمه تشخیصي وسیله ده او د طبابت د هر Field لپاره مهمه ده، نو ټولو محترمو ډاکتر صاحبانو ته چې په روغتونونو او شخصي کتنځیو کې ECG اخلي او لولي، ددې لپاره چې دا ECG سمه تعبیر شي او د هغې په لوستلو کې د ممکنه تېروتنو مخنیوی وشي، لاندې سپارښتنې لازمي ګڼم:

۱- د ECG د اخیستلو په وخت کې باید هر لیډ په خپل موقعیت کې په صحیح ډول تثبیت شي، تر څو د هغو تخنیکي نیمګړتیاو مخه ونیول شي چې په تعبیر کې د تېروتنې لامل ګرځي.

۲- د ECG د لوستلو په وخت کې باید ټول لیډونه سیستماتیک وکتل شي او په انتخابي ډول د یو او یا څو لیډونو د مطالعې څخه ډډه وشي.

۳- که ECG د زړه د ischemic ناروغیو د تشخیص په موخه اخیستل شوې وي، نو ټول لیډونه باید مطالعه شي، پرته د avR څخه؛ ځکه چې په avR کې ټولې موجې په نارمل حالت کې کښته او منفي رسمېږي چې کله ناکله په یوه نارمله منفي رسم شوې د R موجې باندې د یوې پتالوژیکې Q موجې ګمان کېږي او دا کار د تشخیص د غلطیدو لامل ګرځي.

۴- د زړه دننه ټولو هغو ناروغیو ته باید ځانګړې پاملرنه وشي چې د مشابه او ورته ECG تعبیراتو لامل ګرځي، په دې صورت کې د تېروتنې د مخنیوي په موخه د ECG تر څنګ نورې پلټنې هم باید ترسره شي.


## Abstract:

I have explaind in this academictopc those errors and mistakes that occurring during reading ECG which cause mis understandhng of correct diagnosis . the errors and mistakes occure in tow parts: one of them is the lack of technical equipment . and the other one is mis interpretation or explanation of ECG. By the other hand,some diseases cause same changes,this also cause mistakes in diagnosis to come extent. I have mentioned all these errors and mistakes in this topic and finally suggested appropriate ways of their correction which may lead to correct diagnosis.


## اخځلیکونه:


۱- اپریدی، حفیظ الله (۱۳۹۰). فزیکل ډیاګنوزیس. کابل: سحر مطبعه.

2: Athnr-c Gyton-MD-Jahn.E.Hall PhD Text book of medical physiology Twelfth edition 2011,chapter 11,pp: 121,122,123,125 and 126.

3: Dale Dubin,MD Rapid interpretation of EKG, 6th edition ,2004 chapter 2,pp : 36,37,38,41,51 and chapter 9 pp: 275.

4: David Shier, Jackie Butler and Ricki Lewis Holes Human anatomy and physiology 9th edition 2002, chapter 15,page: 596.

5: K-sembulingam PhD and Prema Sembulingam Essential of medical physiology 5th edition 2010 chapter 14 ,pp: 432,533

6: William F.Ganog MD Review of medical physiology 60th edition 1991,chapter 28,pp: 498,499.

7-www.medicaltextbooksrevealed.com/files/11156-53.pdf.

8- www.mhprofessional.com/.../01-jenkins○ Ch01○p01-026...-united-states.

9-www. 4shared.net/ecg+pdf.

پوهندوی میرحاتم (نیازی)
کرنې پوهنځی- حیواني علومو څانگه

# د شیدو ترکیب او پرې اغېزمن فکتورونه

**لنډیز**:

د شیدو په ترکیب کې اوبه، پروټین، ویټامینونه، قند یا لکتوز، شحم، معدني مواد او ځینې نور مواد لکه پگمینتونه، انزایمونه او غازونه وجود لري. شیدې د انساني غذا یوه مهمه برخه ده او د پورته موادو په شتون سره د انسان د وجود لپاره تقریباً مکمل خواړه بلل کېږي. څرنگه چې شیدې د حیواناتو څخه لاسته راځي، نو باید د هغوی روزنې ته ځانگړې پاملرنه وشي، د روزنې په وخت کې جنیټیکي او محیطي فکتورونه په پام کې ونیول شي، یعنې حیوان باید له یوې خوا د شیدو د تولید ښه ارثي صفت ولري او له بلې خوا ورته د اړتیا وړ خواړه او مناسب چاپېریال برابر کړل شي.

**سریزه**:

شیدې یو سپین رنگه مایع ده چې د تي لرونکو حیواناتو څخه په لاس راځي او په خپل ترکیب کې معدني مواد، شحم، ویټامینونه او پروتینونه لري. همدارنگه شیدې په کمه اندازه ځینې مواد لکه د پگمنت دانې، انزایمونه او گازونه هم لري او د تي لرونکو حیواناتو له غولانځو څخه ترشح کېږي. د بشر د ژوند له پیل راهیسې شیدو د انسان په تغذیه کې ځانگړی ځای لرلی؛ په یو شمېر مقدسو اسماني کتابونو کې شیدو او د هغې محصولاتو ته د پنځوسو ځلو څخه زیاته اشاره شوې ده. شیدې او د هغه محصولات د نړۍ په ډېرو برخو کې د انسانانو غذایي رژیم جوړوي. شیدې د کوچنیانو، تنکیو ځوانانو، زړو کسانو، حامله ښځو، شیدې ورکوونکو ښځو او ناروغانو ته د ښه صحت په برابرولو کې مهم غذايي ارزښت لري.د (F A O) د معلوماتو له مخې په هر ځای کې چې د شیدو یا د شیدو د محصولاتو مصرف زیات وي، هلته د خلکو متوسط عمر اوږدوالی ډېر، جسمي او فکري زوړوالی کم وي.(۳)

**موخې**:

۱–دا چې شیدې د لوړ غذايي ارزښت لرونکې غذا ده او د هر عمر لرونکو انسانانو لپاره تقریباً مکمل خواړه بلل کېږي، نو باید شیدې صحي وي.

۲ - په دې پوهېدل چې سالمې او صحي شیدې د سالم حیوان څخه په لاس راځي.

۳ - محیطي او جنیټکي فکتورونه دواړه د شیدو په تولید او ترکیب اغېزه لري، باید په پام کې ونیول شي.

۴–دا چې د خامو شیدو خوراک انسان ته د ناروغیو لېږدونې سبب گرځي، له استعمال څخه یې ډډه وشي.

۵ - د خلکو پوهول چې له ناروغه غوا لشونکي او ناروغه حیوان څخه انسانانو ته ناروغي لېږدول کېږي.

**د شیدو ترکیب**:

د شیدو اصلي ترکیب اوبه، پروټین، قند یا لکتوز، ویټامینونه او معدني مواد تشکیلوي؛ همدارنگه شیدې په کمه اندازه ځینې نور مواد لکه د پگمنت دانې، انزایمونه، فاسفولیپیدونه او گازونه هم لري او که چېرې گازونه او اوبه د شیدو څخه لرې کړل شي، وچې شیدې پاتې کېږي.

**اوبه**: په منځني ډول اوبه د شیدو (۸۷) فیصده وزن تشکیلوي، نو په دې ډول اوبه په شیدو کې یوه مهمه ماده ده؛ له همدې امله شیدې د مکروبونو د ودې او ژوند لپاره ښه مناسب محیط گڼل کېږي، د شیدو څخه چې د اوبو خارجېدو څخه وروسته

کومه ماده پاتې کېږي، عبارت د وچو موادو څخه ده چې معمولاً د یو لیټر شیدو څخه د۹۰ ګرامه په اندازه وچې شیدې لاسته راځي.(۵)

**د شیدو قند**: د شیدو خاص قند یعنې لکتوز چې په وینه کې د موجوده ګلوکوز څخه جوړېږي، د غوا په یو لیټر شیدو کې یې اندازه په متوسط ډول د ۴۷ ګرامو څخه تر ۵۲ ګرامو رسېږي او د ښځو په شیدو کې د لکتوز اندازه ۶۲ ګرامه په یو لیټر کې ده، له دې امله د غوا په شیدو کې چې ماشومانو ته ورکول کېږي، باید یو څه اندازه قند واچول شي. د لکتوز قند دوه قیمته دي چې د دوه یو قیمته قندونو د راتګ له امله یعنې ګلوکوز او ګلکتوز څخه تشکیل شوي دي، په حل شوي شکل په شیدو کې موجود دي او په شیدو کې فوق العاده غذایي ارزښت لري او د عضلوي انساجو په تشکیل کې نسبت نورو قندي موادو ته مهمه برخه لري.

**د شیدو غوړ یا شحم**: له اقتصادي پلوه د شیدو غوړ یوه مهمترینه ماده ده، له دې امله په زیاتره کارخانو او فابریکو کې د شیدو قیمت د هغوی د غوړو په اندازه ورکول کېږي. د شیدو غوړ د وینې د پلازمایي شحمیاتو څخه جوړېږي. د شیدو ټول غوړ د ترکیب له پلوه الکولو او تیزابو پوښلي دي، په حقیقت کې د شیدو د غوړو مخلوط د تېزابو مختلف پوښونه دي چې هغوی ته ترای ګلیسراید وایي چې ګلیسرول د غوړو د تېزابو څخه منځته راځي. د شحمي تېزابو یو مالیکول د هایدروکاربن د یو ځنځیره او د کاربوکسیل (CooH) دیو ګروپ څخه تشکیل شوي دي، د شیدو د غوړو اسیدونه په دوه ګروپونو تقسیم شوي چې له مشبوع او غیر مشبوع تېزابونو څخه عبارت دي.

**مشبوع تېزابونه**:

مشبوع تېزابونه د بیوتریک اسید، کاپروتیک اسید، کاپري لیک اسید، کاپریک اسید، لوریک اسید، میرسیتیک اسید، پالمیتیک اسید او د استاریک اسیدونو څخه عبارت دي.

**غیر مشبوع تېزابونه**:

غیر مشبوع تېزابونه د اولیک اسید او سینولیک اسیدونو څخه عبارت دي. د شیدو د غوړو فرق له نورو سره دادی چې د شیدو په غوړو کې د بیوتریک اسید او کاپروتیک اسید مقدار یو څه اندازه ډېر دی.

**پروتینونه**:

پروتینونه چې زمونږ د ژوند ورځني غذایي مواد تشکیلوي، دا مواد په هضمي سیستم او ځیګر کې تجزیه کېږي او په ساده ترکیباتو تبدیلېږي، وروسته د بدن د حجراتو په ترمیم کې چې ضرورت ورته لري، په کار راځي. پروتینونه غټ مالیکولونه دي چې د کوچنیو واحدونو یعنې د امینو اسیدونو څخه جوړ شوي دي. د پروتین یو مالیکول چې د امینو اسیدونو د یو یا څو ځنځیرونو لرونکي دي، په یو خاص حالت او جوړښت کې قرار لري، لکه څنګه چې د امینو اسیدونو شمېر تر سلګونو ډولونو پورې پېژندل شوي دي، نو صرف (۱۸) ډوله یې په پروتینونو کې وجود لري. د شیدو پروتینونه په دوه مهمو برخو ویشل شوي دي چې عبارت دي له کازیینونو او د شیدو په سیروم کې د پروتینونو محلول څخه، چې کازیینونه په خپل منځ کې په درې برخو ویشل کېږي:

- الفا اس کازیین
- بیتا اس کازیین
- ګاما اس کاپین (۳-۴)

د شیدو پروتینونه چې د بدن د ضرورت وړ پروتینونو یوه ښه سرچینه ده، د وجود وړ پروتینونه تشکیلوي. نیم لیټر شیدې د۲۰-۲۵٪ فیصده د وجود د ضرورت وړ پروتین جوړوي. د شیدو پروتینونه چې د وجود د هاضمې توانایي یې د نورو ګیاهي پروتینونو په نسبت ښه ګټور وي او د هضم د قابلیت د لوړوالي د علت له امله دا پروتینونه د هغو کسانو غذایي رژیم کې چې د ځیګر، صفرا کیسې او شکرې په ناروغیو اخته وي، توصیه کېږي. د شیدو پروتینونه لوړ او عالي قوت لري، له دې کبله کولای شي چې د معدې د تېزابو د ډېرېدو مخه ونیسي. (۳-۷)

**انزايمونه**:

هغه انزايمونه چې په شيدو کې وجود لري له پراوکسيدايز انزايم، کتلاز، فاسفتاز او لايپيز څخه عبارت دي.

**ويټامينونه**:

ويټامينونه يو پېچلې کېمياوي جوړښت لري چې په حيواناتو او نباتاتو کې په ډېره کمه اندازه پيدا کېږي. شيدې د ډېرو ويټامينونو لرونکې دي چې تر ټولو مهم ويټامينونه د C ،B،A او D څخه عبارت دي چې د A او D ويټامينونه په شحم کې حل کېږي او نور يې په اوبو کې حل کېږي. د غذايي موادو له پلوه شيدې د ويټامينونو يوه ښه منبع ده. (۵-۵)

## د شيدو ظاهري بڼه او خواص:

د شيدو ظاهري بڼه او خواص له رنګ، بوی او خوند څخه عبارت دي:

**رنګ**: د شيدو رنګ د نژادي عواملو، د خوراک ډول، د غوړينو موادو اندازه او سپين جامد مواد چې په هغې کې دي، د سپين څخه ژېړ طلايي ته تغير کوي. د شيدو سپين رنګ د رڼا د ګډوډۍ په نتيجه کې انعکاس کوي، د غوړيو د ګلوبولونو په واسطه کلويدي ذراتو، کازيين او کلسيم فاسفيت کې اوسي. د کاروتين محلول موجوديت په غوړو کې ژېړ رنګ په شيدو کې رامنځته کوي. هغه شيدې چې غوړي ترې اخيستل شوي وي، رنګ يې سپين مګرابي ته مايل وي. رنګارنګ عوامل کولای شي چې د شيدو رنګ ته تغير ورکړي؛ مثلاً د تي د التهاب يا په هغه صورت کې چې تيونه وينه ولري، د وينې د رګونو د شلېدو په صورت کې يوه لږه اندازه وينه شيدو ته داخلېږي او د شيدو رنګ د قرمز په شکل ښکاري. د غوا د لوشلو وروسته له څنګه چې د رنګ توليدوونکي مکروبونه د اوبو په واسطه چې د شيدو لوښي پرې مينځي يا د ظروفو د ناپاکوالي او نورو لارو په واسطه شيدو ته رسېږي او وده کوي او د شيدو رنګ د مکروب د ډول په اساس وروسته د څه وخت څخه قرمز (سور)، زيړ، ابي او يا سپين شي. (۲-۷)

**بوی**: صحي او سالمې شيدې هيڅ کوم خاص بوی نه لري، شيدې د غوړيو د لرلو په سبب د چاپيريال بوی غوره کوي. کله چې شيدې په خپل سر تروې کېږي، لکتيک اسيد چې د لکتوز د تجزيې څخه حاصلېږي، تريو بوی ورکوي؛ همدارنګه د چټلېدو په مرحله کې د تريوالي او د ګازونو د توليد په اثر لکه امونيا او داسې نورې شيدې خراب بوی ورکوي. په همدې ډول د شيدو بوی د غذايي موادو د مصرف له امله لکه ګندنه، تېپر، هوږه، پياز، د سيلو وابښه او داسې نور د وينې له لارې شيدو ته داخلېږي. دغه راز د شيدو په ځينو کارخانو کې د شيدو خراب بويونه موجود وي او شيدې بدبويه کوي.

**خوند**: د شيدو بشپړه مزه د لکتوز د موجوديت له امله لږه خوږه ده او غير معمولي شيدې ممکن تروه مزه ولري. ځينې مکروبونه هم د پروتينونو، د غوړو هايدروليز، د شيدو د تريوالي او تريخوالي سبب ګرځي. د صحي طبيعي شيدو وزن د ۱.۰۲۸ څخه تر ۱.۰۳۴ د هغې د ترکيب له امله متفاوت دي او متوسط حد يې ۱.۰۳۱ قبول شوی دی.

## د شيدو (PH):

د تازه او طبيعي شيدو د PH اندازه ۶.۷-۶.۶ ده، په هره اندازه چې شيدې تروې کېږي PH يې د صفر په طرف کېږي. د تازه شيدو PH چې د سالمو څارويو څخه په لاس راځي، په پوره اندازه ثابت دي. مختلف عوامل او علتونه د تيونو عفوني يا مکروبي کېدل او د کاربونيک ګاز خارجېدل د محلول څخه وروسته د لوشلو او د بعضې PH مکروبونو وده شيدو ته تېزابي يا قلوي بدلون ورکوي. (۷-۲) د شيدو انجماد حدود د ۰.۵۹-۰.۵۲ متفاوته ده او د لکتوز، پروتين او مالګو د موجوديت پورې اړه لري. د اوبو ډېروالی په شيدو کې د انجماد د نقطې د ټيټوالي سبب ګرځي. د مالګې د تغير په صورت کې د شيدو د حرارت او انجماد نقطه هم قابل د تغير ده، مګر د کلورايدونو په زياتوالي سره ښکته کېږي.

## د شيدو په توليد او ترکيب اغېزمن فکتورونه:

هغه فکتورونه چې د شيدو په توليد او ترکيب باندې اغېزه لري، په دوه ګروپو ويشل کېږي:

۱- فيزيولوژيکي فکتورونه

۲- محيطي فکتورونه

## ۱- فيزيولوژيکي فکتورونه:

الف- نژاد: د شيدو د توليد د ظرفيت توپير، غوړ او نور ترکيبونه ارثي صفتونه دي، دا صفتونه هم په نژاد پورې اړه لري او هم له يوه سر څخه بل ته فرق کوي.

ب- د لکتيشن دوره: د شيدو په ترکيب کې غټ او عمده تغيرات پرته له وقفې، وروسته له لنګوالې د پينځو ورځو په موده کې پېښېږي. د شيدو توليد له لنګوال څخه تر يوې مياشتې زياتوالی مومي، وروسته په تدريج سره کمېږي، د دې برعکس د غوړو فيصدي يې د لکتيشن دورې په اخره کې زياتېږي.

ج- بقه طلبي او القاح: د شيدو اندازه او د هغې غوړ د بقه طلبۍ په ورځو او له هغه وروسته ممکنه ده چې کموالی پيدا کړي. د حمل د پينځمې مياشتې له شروع څخه د شيدو د توليد په اندازه کې فوق العاده کموالی راځي.

د- د دوه لنګونو تر مابينه فاصله: څېړنو ښودلې ده چې په هرو دولسو مياشتو کې لنګون اقتصادي تماميږي؛ غوا بايد دوه مياشتې په وچ حالت کې پاتې شي او کولای شي چې د دې مودې په اوږدو کې د بدن له لاسه ورکړې ذخيرې بېرته په تدريج سره پوره کړي.

و- شيدې: د شيدو وروستۍ او اخري لحظې د لومړنۍ څخه زيات ته اندازه غوړ لري.

هـ- د غوا عمر د نژاد په داخل کې: هغه غواګانې چې غټ اندام لري، نسبت هغو غواګانو ته چې کوچنی اندام لري، ډېره اندازه شيدې ورکوي.

## ۲- محيطي فکتورونه:

هر حيوان د وراثت او محيطي عواملو محصول دی؛ دې اصل ته په پام سره د اقتصادي صفتونو پراختيا لکه د شيدو توليد هغه وخت اوج ته رسېږي چې مناسب محيطي شرايط حيوان ته برابر شي. محيطي لاملونه چې په توليد باندې اغېز لري، په لاندې ډول دي:

۱- غذا: که چېرې د شيدو غوا ته غذا ورنه کړل شي او يا غذا ونه خوري، توليد به ونلري. د شيدو غوا ته بايد د ضرورت وړ پوره غذا او اوبه ورکړل شي.

۲- د وچېدلو موده: د دې لپاره چې د شيدو غوا په مناسبه اندازه او ترکيبي شيدې ورکړي، نو لازمه ده چې د حاملګۍ وروستۍ اوونۍ (۶–۸) ترې شيدې وانه خيستل شي. په دې موده کې غوا کولای شي چې لازمه مواد د شيدو د توليد لپاره په خپل بدن کې ذخيره او د شيدو غړي ترميم کړي.

۳- د لنګوال وخت کې د حيوان د بدن فزيکي وضعيت: هغه غواګانې چې د حاملګۍ مياشتو کې ښې نه وي ساتل شوې، د لنګون په وخت کې لږې شيدې ورکوي.

۴- د شيدو دفعات: هغه غواګانې چې روزانه ۳ کرته لوشل کېږي، نسبت هغو ته چې ۲ کرته لوشل کېږي، ډېرې شيدې ورکوي.

۵- د شيدو لوشونکي تغير يا تبديل: هغه غواګانې چې ډېر شيدې توليدوي، د شيدو لوشونکي د تغير يا تبديل په مقابل کې ډېرې حساسې دي او د شيدو اندازه کموي.

۶- د محيط او فصل تودوخې درجه: د شيدو د غوړ فيصدي په فصلونو کې توپير کوي، مثلاً په منې او ژمي کې د شيدو د غوړ فيصدي نسبت پسرلي او دوبي ته کمه وي.

۷- ناروغي: ځينې ناروغۍ د شيدو د غواګانو د توليد په اندازه او ترکيب باندې اغېزه کوي.

## پايله:

څرنګه چې شيدې مکمله غذا ده او د انسانانو لپاره مهم غذايي ارزښت لري، نو پکار ده چې د حيوان د لوړ توليد لپاره محيطي او جنيتيکي فکتورونه په نظر کې ونيول شي. د شيدو حيوان ته د ضرورت وړ پوره غذا او اوبه ورکړل شي. د شيدو حفظ الصحه مراعت شي؛ که چېرته د شيدو حفظ الصحه مراعات نه شي، د ډېرو ناروغيو د منځته راتلو سبب کېږي.

شيدې لوشونکی او حيوان دواړه سالم او ناروغي ونلري. شيدې بايد د حرارت په مخصوصه درجه کې وساتل شي. شيدې لوشونکی بايد مخکې د لوشلو څخه خپل لاسونه ضد عفوني کړي، يعنې په صابون دې يې ومينځي او بيا دې په پاک دستپاک وچ کړي؛ همدارنګه د شيدو لوشل بايد په پاک او ضدعفوني شوي ځای کې اجرا شي. همدارنګه خامې شيدې استعمال نه شي، ځکه چې د ناروغيو د منځته راتللو سبب ګرځي، نو پکار داده چې مخکې له استعمال څخه بنه جوش ورکړل شي او بيا دې استعمال شي.


## Abstract:

Milk is important source of human food and it could be used by all ages, children youth and elders. Milk is mainly composed of water, protein, lactose and minerals. Although milk has pigment granules, enzymes, vitamins and phospholipids. In average water percentage in milk is 87 and the other are solid materials. The factors which impact on milk production and composition are physiological and environmental. Physiological factors included breed and individual heredity, lactation period, estrus, fertilization and age of cow. Environmental factors includes: Feed, time of drying, pregnancy time, milk giving repetition, season, disease and others.


## اخځليکونه:


۱- کشتيار، ګل احمد و ضياالدين ضيا. (۱۳۷۵). مبادي مالداري. پوهنتون کابل: پوهنځی زراعت.

۲- کريم، ګيتي. (۱۳۸۰). شير و محصولات ان. انتشارات دانشگاه تهران، چاپ دوهم.

۳- کريم، ګيتی. (۱۳۸۱). تاثير شير بالای صحت انسان. انتشارات دانشگاه تهران.

۴- لالهاند، سپين جان. (۱۳۸۸) ذخيره و پروسس محصولات حيوانی. پوهنتون کابل: فاکولته زراعت.

۵- مرتضوی، سعيدعلي. (۱۳۸۰). تکنالوژی شير. مشهد: انتشارات دانشگاه فردوسی.

۶- مرتضوی، علی. (۱۳۷۲) مايکرو بيالوژی غذايی موډرن، جلد دوم، چاپ اول.

۷- محمود زاده، علی رضا. (۱۳۸۹). صحت گاوهای شيری. ايران: انتشارات دانشگاه تهران.

۸- فرخنده، عباس. (۱۳۷۷) روش های ازمايش شير و فراورده های ان، جلد اول. ايران: انتشارات دانشگاه تهران.

9- Food and agricultural organization (F A O) – United states department of Agriculture for the US and non-European – country.

پوهـــــــنـدوی عـــــــــــزت الله
ښوونې او روزنې پوهنځی- جغرافيې څانګه

# جهيلونه او د منځته راتلو لاملونه يې

**لنډيز**:
جهيلونه له هغو ولاړو اوبو څخه عبارت دي چې د ځمکې پرمخ د مختلفو طبيعي لاملونو له کبله رامنځته شوي دي، د يو جهيل د رامنځته کېدو لپاره د يوې ژورې کندې شتون چې له څلورو خواو څخه د لوړو په واسطه راګير شوی وي او هم د يوې معينې اندازې اوبو شتون چې وکړای شي دا ژوره ډکه کړي، ضروري ده. د جهيلونو د حوزو پيدا ايښت مختلف طبيعي لاملونه لري، لکه تکتونيکي جهيلونه (Tectonic lakes)، يخچالي جهيلونه (Glacier Lakes)، کارستيک جهيلونه (Korstic lakes)، اورغورځونکي جهيلونه (Volcanic lakes) او هغه جهيلونه چې د انساني کار او فعاليت په نتيجه کې رامنځته کېږي. جهيلونه د روانو سيندونو (Run Off) په څېر د اتموسفيري اورښتونو، روانو او د ځمکې سطحې لاندې اوبو څخه سرچينه اخلي. له هغو جهيلونو څخه چې سيند او يا د سيند مرستيالې منبع لري، د روانو جهيلونو او له هغو جهيلونو څخه چې کوم سيند او يا د سيند مرستياله سرچينه نلري، د تړلي جهيلونو په نامه يادېږي. د يو شمېر جهيلونو په اوبو کې مختلف املاح په مختلفو فيصديو سره منحل وي. په عمومي ډول د جهيلونو په اوبو کې (۱۲) عناصر د املاح يا منحله موادو په څېر وجود لري. د جهيلونو د اوبو تودوخه د کال موسمونو، جغرافيايي موقعيت، د جهيل د اوبو حرکت او د جهيل ژوروالي په نظر کې نيولو سره توپير لري. هغه لاملونه چې د سمندرونو د اوبو د حرکت سبب ګرځي، د جهيلونو د اوبو په حرکت کې هم خپلې اغېزې لري، همدارنګه جهيلونه لکه د روانو اوبو په څېر تخريبي او رسوبي کړنې ترسره کوي.

**سريزه**:
د هايدروسفير (Hydrosphere ) د کرې د ټولو اوبو له مجموعي څخه څه ناڅه (۲۳۰۰۰۰) کيلومتر مکعب يا په سلو کې (۰،۲) برخه د ځمکې د مخ په مختلفو ترلو ژورو حوزو کې راټول او جهيلونه يې رامنځته کړي دي. د جيومورفولوژي او جيولوجي له نظره جهيلونه د ځمکې د مخ له موقتي جوړښتونو څخه عبارت دي. که څه هم د انساني عمر په نظر کې نيولو سره دايمي ښکاري، حتی ځينې د انسان د پيدا ايښت څخه هم اوږد تاريخ لري. د دې په مقابل کې ځينې داسې جهيلونه هم شته چې د هغې پيدا ايښت او له منځه تګ څو کاله په بر کې نيسي. په هر حال جهيلونه په هر ژوروالي، پراخوالي او جغرافيايي موقعيت کې چې وي، لنډ عمر لري او له منځه ځي. (۱۰ م ۹۹)
د جهيل (Lake) د رامنځته کېدو لپاره د يوې ژورې کندې موجوديت چې له څلورو خواو څخه د لوړو په واسطه راګېره شوې وي او د يو معين مقدار اوبو موجوديت چې وکړای شي دا ژوره ډکه کړي، ضروري ده. بناءً جهيلونه په هر جغرافيايي عرض او مختلفو لوړو کې چې هلته اوبه وکړای شي د کال په زياته موده کې په مايع حالت پاتې شي، رامنځته کېدای شي. مثلاً د مړ سمندرګي جهيل د سمندر له سطحې څخه (۳۹۴) متر په ټيټه کې واقع شوی، حال دا چې د تي تي کا کا جهيل (Ti Ti ca ca lake) د پيرو او بوليويا په ګډ سرحد کې په (۳۹۰۰) متره لوړوالي کې واقع شوی دی. (۳ م۱۰۱)
د نړۍ په بيابانونو يا چېرته چې د کافي اورښت د اورېدو امکان نشته، په داسې سيمو کې جهيلونه هم نه ليدل کېږي، مګر د دې بيابانونو په اړخونو او غاړو کې ځينې لرې اوبه او کوچني جهيلونه تر سترګو کېږي. جهيلونو او د جهيلونو اوبو د انسانانو په اقتصادي فعاليتونو کې خاص اهميت لري، له خوږو اوبو لرونکو جهيلونو څخه نه يوازې د کرنيزو چارو په برخه کې ګټه اخيستل کېږي، بلکې دا جهيلونه د خپلو غاړو د اوسېدونکو پروټيني توکي هم برابروي. (۵ م۱۰۲)

**موخې:**

څرنګه چې جیوفورلوژي، جیولوژي(۱)، جیولوژي(۲) او اقلیم پېژندنه د جغرافیې څانګې له اصلي او اساسي مضامینو څخه شمېرل کېږي، نو د دې مقالې راټول شوي مواد د پورته مضامینو په تدریس کې د ممد درسي موادو په څېر کومک کوونکي واقع کېدای شي، دغه راز دا مقاله د لاندې موخو د ترلاسه کولو په خاطر لیکل شوې ده:

- د مسلک خاوندانو، مینه والو او زده کوونکو ته د جهیلونو په هکله نوې او تازه معلومات وړاندې کول، څو هغه پوښتنې او ستونزې چې په دې اړه شته، لرې شي.
- ددې مقالې په خپرېدو سره د جغرافیې څانګې زده کوونکي کولای شي چې د خپلې پوهنیزې سویې د لوړتیا لپاره ترې ګټه واخلي.
- دا مقاله د پوهندوی علمي رتبې څخه پوهنوال علمي رتبې ته د لوړېدو په موخه لیکل شوې ده.

**مواد او کړنلاره:**

د دې علمي او څېړنیزې مقالې د لیکنې په خاطر له مختلفو نویو، معتبرو او علمي اثارو څخه ګټه اخیستل شوې او کوښښ شوی چې لیکنه باید د علمي او لیکوالي تولو اصولو او معیارونو سره برابره وي. ددې مقالې د څېړنې اصلي موخه د جهیلونو په هکله نوي او تازه معلومات وړاندې کول دي، نو هڅه شوې، وپوهول شي چې جهیلونو څنګه او ترکومو شرایطو لاندې منځته راځي. باید وویل شي چې د دې مقالې په لیکلو کې د استقرایي (Induction) کړنلارې څخه ګټه اخیستل شوې او جهیلونو پورې اړوند مسایل د جز څخه کل خوا ته څېړل شوي دي.

**تعریف:**

جهیلونه له هغه مقدار اوبو څخه عبارت دي چې د ځمکې د مخ د وچې برخې کندې ډکې او سیندونو سره سیده اړیکې ونه لري، جهیلونه تر هر ځای زیات په مرطوبو اقلیمونو کې را منځته کېږي. (۹ م ۲۹۴)

په بل عبارت کله چې د ځمکې د مخ یوه کنده د لیدو وړ اوبو څخه ډکه شي، کېدای شي چې جهیل ونومول شي، ولې په دقیق ډول جهیل (Lake) له هغو ولاړو اوبو څخه عبارت دی چې اوبه ورته راځي، یعنې د اوبو د برابرولو سرچینه ولري. دا ولاړې اوبه ممکن چې خوږې یا مالګینې وي. (۱ م ۱۷۳)

او یا جهیل له هغو طبیعي کندو څخه عبارت دی چې هلته اوبه راټولې او په جهیل یې شهرت موندلی وي. جهیلونه ټول په وچو کې رامنځته، سمندر او سمندرګیو سره اړیکه نه لري. په همدې دلیل د جهیلونو او سمندرونو نباتات او حیوانات یو له بل سره توپیر لري. جهیلونه د مساحت او پراخوالي له پلوه هم یو له بل سره فرق لري، یعنې ددې جهیلونو مساحت د لسګونو کیلومتر مربع څخه تر سلګونو کیلو متر مربع پورې رسېږي. (۱ م ۱۰۲)

جهیلونه د روانو سیندونو په څېر د اتموسفیري اورښتونو، روانو او تر ځمکې سطحې لاندې اوبو څخه سرچینه اخلي. په هغو سیمو کې چې اورښت ډېر، د کنګل ویلي کېدل زیات او یا هم د ځمکې د سطحې لاندې اوبو زیرمې زیاتې وي، نو ددې سیمې جهیلونه په دایمي توګه له اوبو څخه ډک وي. د کومو جهیلونو څخه چې سیند او یا د سیند مرستیال سرچینه اخلي، د روانو جهیلونو په نامه او له کومو جهیلونو څخه چې کوم سیند او یا د سیند مرستیال سرچینه نه اخلي، د تړلي جهیلونو په نامه یادېږي. هغه سیندونه چې تړلي جهیلونو ته داخلېږي، یو مقدار مالګه هم په منحل ډول له ځان سره جهیل ته لېږدوي، ولې د تبخیر د عملیې په پروسه کې ددې جهیلونو د مالګې مقدار د هر کال په تېرېدو زیاتېږي، ددې جهیلونو اوبه په تدریج مالګینې او په مالګینو جهیلونو شهرت پیدا کوي، نو له همدې کبله د کسپین (Caspian Lake) او اورال (Aral lake) د جهیلونو اوبه مالګینې او د استفادې وړ نه دي. په نړۍ کې تر ټولو مالګین جهیل د عربستان په ټاپووزمه کې د مړ سمندرګي جهیل (بحرالمیت) په نامه یادېږي. جهیلونه مختلفې ګټې لري، څنګه چې لیدل کېږي، په یو شمېر جهیلونو کې الوتونکي او د کبانو مختلف ډولونه روزل کېږي، چې د دې جهیلونو د محصولاتو څخه کافي ګټه پورته کېږي او د مالګینو جهیلونو څخه هرکال په سوونو ټنه مالګه ترلاسه کېږي. (۱ م ۱۰۷)

### د جهیلونو د حوزې پیدایښت:

د جهیلونو خصوصیات د هغوی د حوزې پیدا ایښت پورې تړلی وي، د جهیلونو د حوزې پیدا ایښت مختلف لاملونه لري، کېدای شي چې د جهیلونو حوزه اتش فشاني، زلزلوي، صعود او نزول او یا د ناستي (لغزش) په اثر منځته راغلي وي. د ښېلګې په ډول د کسپن او اورال جهیلونه د ایپایروجیني (Epierogeny) نزولي حرکتونو په پایله کې رامنځته شوې دي. د ځمکې د مخ تر ټولو ژور جهیل لکه بایکال (Ba kal lake ) او تانګانیکا جهیل (Tanganyi ka Lake) د ځمکې د مخ په هغو درزونو کې ځای پر ځای شوي چې د تکتونیکي حرکتونو په پایله کې رامنځته شوي دي. ځینې جهیلونه داسې وي چې د مړو اتش فشانونو په خوله (Crater) کې یې ځای نیولی وي، ددې ډول جهیلونو ښېلګې د کام چټکا (Kamchatka) په ټاپووزمه کې ډېر لیدل کېږي. (۹ م ۱۹۲)

په غرنیزو سیمو کې داسې جهیلونه تر سترګو کېږي چې د دوی د حوزې پیدا ایښت یخچالي منشه لري، یعنې دا ډول جهیلونه د یخچالونو د پرله پسې تخریبي کړنو په نتیجه کې منځته راغلي وي، لکه د هودسن جهیل په شمالي امریکا یا کاناډا کې.

### د جهیلونو ډولونه:

جهیلونو د لا څېړنې او پېژندنې په خاطر کېدای شي چې د کیمیاوي، فزیکي او مورفولوژیکي خصوصیاتو په نظر کې نیولو سره په څو ډولونو ویشل شوي دي. ویلیم موري داویس (W , M Davis) په (۱۸۸۲) میلادي کال ټول جهیلونه د جوړښت او تخریبي کړنې پر اساس په دریو ډولونو ویشلي وو. ای پنګ (A pench) په (۱۸۸۲) میلادي کال او سوپان (Supan) په (۱۸۹۲) میلادي کال هم د جهیلونو ورته ډله بندي کارولې ده. (۳ م ۲۰۲، ۱۰۳)

جهیلونه د یو شمېر نورو علماو له خوا هم د مختلفو لاملونو له کبله په څو ډلو ویشل شوي چې هره طبقه بندي پر خپل ځای د اهمیت وړ ده، ولې جهیلونه د خپلې کندې د رامنځته کېدو عواملو په پام کې نیولو سره په لاندې ډولونو ویشل کېږي:

۱ ـ تکتونیکي جهیلونه (TecTonic Lakes)

۲ ـ یخچالي جهیلونه (Glacier Lakes)

۳ ـ کارستیک جهیلونه (Karstic Lakes)

۴ ـ اور غورځوونکي جهیلونه (Volcanic Lakes)

### ۱ ـ تکتونیکي جهیلونه (*Tec Tonic Lakes*):

ممکن چې تکتونیکي کړنې د ځمکې په قشر (Crust) کې د ځینې ناستې لامل او وروسته دا کندې د اوبو د ټولېدو په پای کې د جهیل په څېر رامنځته شوي وي. (۴ م ۱۷۳)

په نړۍ کې د اکثرو لویو جهیلونو بستر (تل) تکتونیکي عامل لري، خصوصاً هغه ځمکې چې په دې وروستیو دورو کې سر راپورته او د سمندرونو د اوبو له اغېزې ازاد شوي وي، لکه د ویکتوریا جهیل (Victoria Lake) په افریقا کې. (۹م ۱۱۴)

### ۲ ـ یخچالي جهیلونه (*Glacier Lakes*):

د ځمکې د کرې ځینې سیمې چې د کواترنري (Quaternary) په دور د لویو یخچالونو تر پوښښ لاندې وې او وروسته ددې یخچالونو د کړنې او فعالیتونو څخه ازادې شوې، په دې ازادو شویو سیمو کې زیات شمېر ژورې کندې لیدل کېږي چې یخچالي منشاء لري. په دې معنا چې دا کندې د یخچالي تخریبي کړنو په اثر رامنځته شوې، کله کله د یخچالي مورینونو (Galaciers Morians) شاته هم ځینې جهیلونه رامنځته کېږي. (۳ م ۲۳)

### ۳- کارستیک جهیلونه (*Karstic Lakes*):

په اهکي سیمو کې په مختلفې ژورې په مختلفو پراخوالو لیدل کېږي چې دا ټولې ژورې کندې د اهکي ډبرو د انحلال په نتیجه کې رامنځته شوې وي. د دې ژورو کندو ځینې د کافي اوبو او ورته نورو شرایطو په موجودیت په جهیل بدلېږي. د

کارستیک جهیلونه د اوبو سطحه په تغیر کې وي. د جهیل اوبو د سطحې دا تغیر د بستر (تل) سوریو او مساماتو پورې تړلی وي. که چېرې د دې جهیلونو ورودي سوري بند شي د اوبو سطحه ټیټه او که چېرې خروجي سوري بند وي، په جهیل کې د اوبو سطحه لوړیږي. کارستیک جهیلونه د ځمکې د مخ د اهکي ډبرو د مستقیم انحلال یا د لاندېنیو طبقو د انحلال او یا هم د پاسنۍ طبقې د ناستې په نتیجه کې رامنځته کېږي. په کارستیک جهیلونو کې تر ټولو ساده هغه جهیلونه دي چې گرد او ځاگانو ته ورته وي. د اهکي جهیلونو یو عمده خصوصیت د هغوی د اوبو د سطحې لوړېدنه او ټیټېدنه ده. (۱۰م ۳۴۰)

### ۴ ـ اورغورځوونکي جهیلونه (*Volcanic Lakes*):

کله چې اور غورځوونکي خپل فعالیت په دایمي یا موقت ډول پای ته ورسوي، نو د داسې اور غورځووني خوله (Grater) د اوبو څخه ډک او په جهیل بدلېږي. په جیولوژیکي څېړنو کې دا ډول جهیل د کلدیرا (Caldera) په اصطلاح نومول کېږي. د کراتري جهیلونو تر ټولو مشهور د اوریگن جهیل (Oregan Lake) دی چې (۸) کیلومتره قطر لري. (۴ م ۱۷۳)

### ځانگړې تخریبي کړنې:

ممکن چې جهیلونه د غیر معمولي فرسایش کوونکو عواملو تر اغېزې لکه باد (wind)، رواني اوبه (Run Off)، یخچالونه (Glaciers) او داسې نورو ورته کړنو په واسطه رامنځته او د اوبو تر ټولېدو وروسته په جهیل بدل شوي وي. په وچو بیابانونو کې کله کله بادونه د ځمکې مخ تر دې حده تخریب او تخریب شوي مواد له ځانه سره لېږدوي، څو د ځمکې د سطحې لاندې اوبو زیرمې رابرسېره او په تدریج سره په جهیل بدلې شي. د ځمکې سطحې د لاندې اوبو ($Co_2$) یا کاربن ډای اکساید غاز په موجودیت د اهکي ډبرو (Limestone)، گچ (GyPsum)، سودیم کلوراید او د یو شمېر نورو ډبرو او منرالونو د انحلال سبب گرځي. کله کله دا امکان شته چې د انحلال دا عملیه تر هغه ځایه پراختیا ومومي چې پاسنۍ طبقه خپله استواري له لاسه ورکړي او سقوط وکړي، نو داسې کندې هم د اوبو په راټولېدو سره، د جهیل د رامنځته کېدو سبب گرځي. (۴ م ۱۷۲، ۱۷۴)

### هغه جهیلونه چې د انساني کړنې په واسطه رامنځته کېږي:

انسان د خپلو اقتصادي کړنو په لړ کې د ځینو ژورو او یا کندو د ایستلو سبب گرځي، دغه کندې چې په هر مطلب ایستل شوي وي، کله چې د اوبو څخه ډکې شي، نو په جهیلونو بدلېږي. په همدې ډول د نړۍ په زیاتو هېوادونو کې د مصنوعي بندونو تر شا چې د اوبو بربېښنا د ترلاسه کولو او یا هم د سیلابونو د کنترول په موخه کومې کندې جوړې شوې وي، یو شمېر جهیلونه په کې رامنځته شوي. د دې جهیلونو د یو شمېر پراخوالی او ژوروالی د طبیعي جهیلونو په نسبت هم زیات دی. د جهیلونو تل د سمندرونو په څېر څنډو څخه د جهیل منځنۍ برخې ته د رسوبي موادو په واسطه پوښل شوی وي، دا رسوبي مواد د څنډو څخه مخ په دننه په ترتیب د جغلو (Gravel) شگو (sandes) خټو او کلی (Cllay) څخه جوړ شوي وي. دا رسوبي مواد یا د سیندونو په وسیله جهیلونو ته لار موندلې وي او یا د جهیل د څپو په وسیله د جهیل د څنډو څخه تخریب شوي وي. د جهیلونو په بستر کې اورگانیکي خټې او کیمیاوي رسوبات هم لیدل کېږي. د جهیلونو د رسوبي موادو مقدار او اندازه هغو سیندونو پورې تړلې وي، کوم چې جهیل ته اوبه برابروي. د جهیلونو د رسوباتو ډول د سیمه ییزو شرایطو په نظر کې نیولو سره توپیر لري او هم جهیلونه د دلتا (Delta) د رامنځته کېدو لپاره د سمندرونو په نسبت ښه ورتیا لري، ځکه د جهیلونو په څنډو کې د ساحلي جریانونو گړندۍ څپې نه لیدل کېږي. (۷ م ۱۱۵)

### د جهیلونو د اوبو املاح:

مختلف منرالونه د جهیلونو په اوبو کې په محلول ډول موجود وي، د جهیلونو د املاح ډول او اندازې د لاندې مختلفو لاملونو پورې اړه لري:

۱ ـ د هغې سیمې د تیږو منرالي ترکیب او جنسیت چې د سیند یا د ځمکې تر سطحې لاندې اوبه د هغې د مخ څخه تېرې او جهیل ته تویېږي.

۲ـ جهيل ته د داخلېدونکو او خارجېدونکو اوبو کلنۍ اندازه.
۳ـ په سيمه کې د تبخير اندازه او اقليمي شرايط.
۴ـ د سيمې جغرافيوي موقعيت او د ځمکې جوړښت.
۵ـ نباتي پوښښ.

په عمومي ډول د جهيلونو په اوبو کې (۱۲) عناصر لکه سليس، اوسپنه، سوديم، پتاشيم، مګنيزيم، سلفيت، کاربونات او د مختلفو اکسايدونو املاح موجوده وي، ولې د ځينو جهيلونو په اوبو کې د موجود املاح اندازه فوق العاده لوړه وي چې هغې ته بيا خواړه جهيلونه وايي. (۲ م ۲۱۱ـ۲۱۲)

د جهيلونو د اوبو په مالګينوالي کې د نورو عواملو ترڅنګ زمان (وخت) هم نقش لري، ځکه د زمان په اوږدو کې د جهيلونو په اوبو کې د املاح اندازه زياتېږي، مګر په يو شمېر نورو جهيلونو کې د جهيل په اوبو کې د ښورې اصلي عامل هغو اوبو سره په سيده اړيکه کې وي، کومې چې جهيل ته تويېږي. همدارنګه په هغو جهيلونو کې چې د ځمکې لاندې او د جهيل اوبو سره ګډېږي، د جهيلونو د اوبو د ښورې درجه زياته يا کموي، له بلې خوا د جهيلونو د اوبو مالګينوالی د کال او فصلونو په نظر کې نيولو سره توپير لري، د بېلګې په ډول باراني موسمونو کې د جهيلونو د ښورې درجه ټيټه، برعکس په وچکالۍ او بې اورښته موسمونو کې د جهيل د اوبو ښورې زياتې شي. د جهيلونو ژوروالی هم د جهيلونو د اوبو په ښورې کې بې اغېزې نه وي. (۳ م ۳۱۲)

## د جهيلونو تودوخه:

د لمر وړانګې د جهيلونو د اوبو سطحه ګرموي، مګر دا تودوخه د اوبو د حرکت په پايله کې د جهيل د اوبو لاندېنيو برخو ته هم انتقالېږي. د جهيلونو د اوبو تودوخه د کال موسمونو او هم جغرافيوي موقعيت په نظر کې نيولو سره توپير لري. د يو جهيل د تودوخې اندازه زمان پورې تړلې وي، خو مکاني تغيرات، جغرافيوي موقعيت، ژوروالی، پراخوالی او د جهيل شکل د تودوخې د اندازې په جذب کې بې اغېزې نه وي. د معتدلو سيمو په جهيلونو کې د تودوخې درجې کلني تغيرات د استوايي او قطبي جهيلونو په نسبت زيات وي. د جهيل د سطحې څخه مخ په ژوره د تودوخې تغيرات د کال د موسمونو په نظر کې نيولو سره هم توپير لري. (۸ م م ۱۲۷ـ۱۲۸)

د جهيل د اوبو د سطحې څخه مخ په لاندې يو ډول حرارتي ويشنه يا طبقه بندي وجود لري چې په دغه حرارتي طبقه بندۍ کې د سانتي ګريد (۴+) درجه تودوخه ډېر اهميت لري، ځکه چې په دغه تودوخه کې د جهيل اوبه د خپل اعظمي کثافت لرونکې وي. که چېرې د جهيل د اوبو د سطحې تودوخه د (۴+) درجو څخه لوړه وي، په دې حالت کې د اوبو ګرمه طبقه په پاسنۍ برخو او يخه طبقه په لاندېنيو برخو کې به موقعيت لري. که چېرې د جهيل د اوبو د سطحې تودوخه (۴+) درجو څخه ټيټه وي، حرارتي طبقه بندي به په معکوس ډول وليدل شي. په دې حالت کې د اوبو هغه طبقه چې د سانتي ګريد (۴+) درجو حرارت لري، وزن يې د اوبو تر نورو طبقو زيات وي، نو د جهيل د اوبو په لاندېنو برخو کې ځای نيسي. د جهيلونو د اوبو د تودوخې لوړېدنه او ټيټېدنه د جهيل جغرافيايي موقعيت او مورفولوژيکي جوړښت پورې اړه لري. (۳ م ۱۲۱)

سويسي عالم فورل جهيلونه د تودوخې له کبله په لاندې درې ډلو ويشلي دي:
۱ـ د استوايي جهيلونو تودوخه
۲ـ د معتدله جهيلونو تودوخه
۳ـ د قطبي جهيلونو تودوخه

کوم جهيلونه چې په استوايي اقليمونو کې موقعيت لري، معمولاً تودوخه يې د (۴+) درجو څخه لوړه او ددې جهيلونو د اوبو د سطحې تودوخه د سانتي ګريد (۲۰ څخه تر ۳۰) درجو پورې وي، ولې د تودوخې دا درجه د کال د فصلونو په نظر کې نيولو سره توپير لري. امکان لري چې د معتدله جهيلونو تودوخه د سانتي ګريد (۴+) درجو څخه

ټیټه شي. د دې جهیلونو د اوبو په تودوخه کې د اوبو سطحې څخه مخ په ټیټه اختلاف لیدل کېږي. د قطبي جهیلونو تودوخه د کال په ټولو فصلونو کې د سانتي ګرید د (+۴) درجو څخه ټیټه وي، نو د دې جهیلونو د اوبو سطحه د کال په زیاته موده کې کنګل وي. (۳ م م۱۲۲_۱۲۴)

## د جهیلونو د اوبو حرکت:

ټول هغه لاملونه چې د سمندرونو د اوبو د حرکت سبب ګرځي، پر جهیلونو هم خپلې اغېزې ښندي. په جهیلونو کې د څپو منځته راتګ او پراخوالی سمندري څپو ته ورته وي، مګر د جهیلونو د مساحت کوچنیوالی او لږ ژوروالی دا زمینه نه برابروي، څو سمندرونو ته ورته څپې رامنځته شي. په جهیلونو کې د څپو د پیداکېدو اصلي عامل باد وي، خو زلزله هم خپله اغېزه لري، ولې د مدر جذر اغېزې د جهیلونو د اوبو په حرکت راوړلو کې تقریباً ناچیزې وي. (۵ م م۱۲۷_۱۲۸)

## د جهیلونو تخریبي کړنې:

جهیلونه د روانو اوبو او سیندونو په څېر تخریبي کړنې او رسوب کېدنې عمل سرته رسوي، ولې د جهیلونو دا عمل د سیندونو په نسبت په کوچني مقیاس سرته رسېږي. د جهیلونو د غاړې جوړښتونه د جهیلونو د څپې د لګېدو په نتیجه کې سست او بالاخره تخریببږي، کومې څپې چې د جهیل تر غاړو پورې رسېږي، په دوامداره توګه د ډبرو او تیږو د پرېمینځلو سبب ګرځي. له بلې خوا جوي عوارض (Weathering) د جهیل غاړې تخریب او جهیل ته د ننه غورځېږي. په دې ډول غټې تیږې د جهیل په غاړو او وړې ډبرې جهیل ته د ننه غورځېږي. دا تخریب شوي مواد ورو ورو د جهیل د څپو په واسطه جهیل ته د ننه انتقال او د لېږد په بهیر کې په جغل (Gravel)، شګې (sand) او خاورو (Soil) بدلېږي. د تخریب شویو موادو زرې د جهیلي څپو په واسطه د جهیل منځنۍ برخو ته لېږدول کېږي. په دې ډول د جهیل غاړې په دوامداره توګه د جهیل د څپو پر اغېزې تخریببږي. (۲م۱۲۳)

## پایله:

جهیلونه د ځمکې د مخ په مختلفو عرض البلدونو، مختلفو جغرافیایي جوړښتونو، مختلفو اقلیمونو او په مختلفو لوړو کې تر خاصو شرایطو لاندې منځته راځي. جهیلونه په هر ژوروالي، پراخوالي او جغرافیایي موقعیت کې چې وي، لنډ عمر لري او معمولاً د سیندونو په واسطه د لېږدول شویو موادو، نباتي او حیواني پاتې شونو او هم د کېمیاوي رسوباتو د ګډو هڅو په پایله کې بالاخره ډک او له منځه ځي. جهیلونه نه یوازې د فزیکي، کېمیاوي او موروفولوژیکي خصوصیاتو په نظر کې نیولو سره، بلکې د خپلې حوزې د پیدا ایښت له امله هم په څو ډلو ویشل شوي دي. په همدې ډول په دې مقاله کې د جهیلونو تخریبي کړنې، د جهیلونو په واسطه د تخریب شویو موادو د لېږد او د لېږدول شویو موادو رسوب کېدنه په علمي توګه څېړل شوې او روانو اوبو سره پرتله شوې او همدارنګه په څېړنه کې ښودل شوې چې څرنګه جهیلونه د خپلو منحله موادو په لرلو یو د بل څخه توپیر لري. د تودوخې په لحاظ هم په جهیلونو کې پوره اختلافات لیدل کېږي.

## مناقشه:

کومې څېړنې چې په دې علمي مقاله کې د (جهیلونو او د منځته راتګ لاملونه یې) تر سرلیک لاندې ترسره شوې، هڅه شوې چې د موضوع پورې اړوند بېلابېل موضوعات د مختلفو منابعو څخه راټول او د عیني واقعیتونو په پام کې نیولو سره په دقیقه توګه وڅېړل شي او تر ټولو د مخه هڅه شوې چې د جهیلونو د منځته راتګ مختلف لاملونه، د جهیلونو ډولونه، په جهیلونو کې منحل شوي املاح، د جهیلونو تودوخه، د جهیلونو ډولونه، د جهیلونو تخریبي کړنې او رسوب کېدنو په هکله نوي او په زړه پورې علمي معلومات لوستونکو ته چمتو او وړاندې شي، څو لوستونکي د جهیلونو په هکله تازه معلومات تر لاسه کړي. څرنګه چې د جهیل منځته راتګ یوه موقته پدیده ده، سره له دې هم انسانان کولای شي چې په بېلابېلو طریقو له جهیلونو څخه ګټه پورته کړي.

**Abstract:**

Lakes are large areas of standing water surrounded by different natural land agents. A cavity surrounded by heights and filled with water may form a Lake. Different natural agents may cause to form Lakes on the basis of which the Lakes are classified as follows: Tectonic Lakes, Glacial Lakes, Cares tic Lakes, Volcanic Lakes, and the Lakes formed in the result of human activities. Lakes as running water, originates from atmospheric precipitation, running and underground water. Water of Lakes contains different types of salts with different percentages. The temperature of Lakes water differs with seasons, geographical situation, movement of Lake water and the depth of the Lake. Agents that cause the movement of oceanic water also affect the movement of Lakes water. Lakes are advantageous from different view of points, where in some of them birds and fish are raised. From salty Lakes hundred of tones of salt is derived that positively affect the economy of the people living around the Lakes.

**اخځليکونه**:

۱ـ اجیلوف، احمد. (۲۰۰۲) جغرافیا. دوشنبه: دانشگاه ملی تاجکستان.
۲ـ ا، دولتوف. (۲۰۰۵). اساسات ایکولوژی. دوشنبه: دانشگاه ملی تاجکستان.
۳ـ جدار عیوضی، جمشید. (۱۳۸۰). جغرافیای ابها. ایران: انتشارات دانشگاه تهران.
۴ـ خزاعی، اسماعیل. (۱۳۸۳). روابط اب و خاک، جلد اول. ایران: انشتارات دانشگاه تهران.
۵ـ روفی، فضل مولا. (۱۳۷۰). جیولوژی عمومی، جلد اول. کابل: انتشارات پوهنتون کابل.
۶ـ رفاهی، حسین قلی. (۱۳۸۲). فرسایش ابی و کنترول ان. ایران: انتشارات دانشگاه تهران.
۷ـ عارض، غلام جیلانی. (۱۳۵۹). جغرافیای فزیکی. کابل: انتشارات پوهنتون کابل.
۸ـ عاریفوف، ایوب جان. (۲۰۰۱) جیولوژی. دوشنبه: دانشگاه ملی تاجکستان.
۹ـ کردوانی، پرویز. (۱۳۷۴). جغرافیای خاک. ایران: انتشارات دانشگاه تهران.
۱۰ـ گلن ثواب او فریورت. (۱۳۷۵). مهندسی اب و خاک، ترجمه غلام حسن حق نیا. ایران: دانشگاه مشهد.

پوهـــــندوی جـــان محمد (پیغـام)
ښوونې او روزنې پوهنځی- تاریخ څانګه

# غلام محی الدین (انیس)

## په افغانستان کې د ملي خپلواکې نادولتي جریدې بنسټ ایښودونکی

**لنډیز**:

دا څېړنیـزه، علمـي او تـاریخي مقالـه چـې پـه افغانسـتان کـې د ملـي خپلـواکې نـا دولتـي جریـدې د بنسـټ ایښـودونکي غـلام محی الـدین (انیس) پـه ژوند او فـن لیکـل شـوې، پـه کـې د نومـوړي زده کـړې، مطبوعـاتي او فرهنګـي هلـې ځلـې څېـړل شـوي او پـه دې څېړنـه کـې بـه جوتـه شـي چـې نومـوړي ملـي مبـارز څـه ډول- د علامـه سید جمال الـدین افغـان او د هغـه د ملګري شیخ محمد عبـده د افکـارو نـه پـه الهـام اخیسـتنې- د ښکېلاک خـلاف مفکورې ته په خپلو مطبوعاتي او فرهنګي هلو ځلو کې ځای ورکړی ؤ.

**سریزه**:

پـه افغانسـتان کـې د ملـي خپلواکـو نـادولتي مطبوعـاتو د پیـل لـړۍ د افغانسـتان د اساسـي قـانون پـه یوولسـمه مـاده کـې د اعلیحضـرت امـان الله شـاه پـه حکـم پیـل شـوه، تـر څـو د ملـي خپلواکـو نـادولتي مطبوعـاتو لـه لارې د هېـواد دولتـي مسـئولین خپلـو دولتـي مکلفیتونـو تـه متوجـه کـړي. د لـومړي ځـل لپـاره غـلام محی الـدین انـیس پرېکـړه وکـړه، تـر څـو یـوه ملـي، خپلواکـه نـادولتي اوونیـزه جریـده د هېوادوالـو د ذهنونـو د روښـانه کولـو، خپلـو او د نـورو هېوادوالـو د حقوقـو د پېژنـدنې او د افغـان ولـس د افکـارو د تبـادلې لپـاره چـاپ تـه چمتـو کـړي. د همـدې پرېکـړې د عملي کولـو لپـاره یې پـه ۱۵ د ثـور ۱۳۰۲ کـال یـې د انیس پـه نـوم جریـده چـې سیاسـي، فرهنګـي، ټـولنیز او اقتصـادي مقـالې او مطالـب پکـې نغښـتي وو، د خپرونـې لپـاره چمتـو او د هېوادوالـو پـه واک کـې ورکـړه، مګـر د هغـې مهـال حکـومتي چـارواکو او پولیسـو د همـدې ملـي خپلـواکې نـادولتي خپرونـې د لوسـت حوصـله نـه درلـوده او پـه یـوه او بلـه بهانـه یـې غـلام محی الـدین انیس تـه د جریـدې د چـاپ پـه برخـه کـې سـتونزې رامنځتـه کـولې، پـه داسـې حـال کـې چـې غـازي شـاه امـان الله خـان غـلام محی الـدین انـیس د ملـي خپلـواکې نـادولتي مطبوعـاتي خپرونـې د رواجولـو لپـاره هڅـاوه او هغـې تـه یـې د هـر راز مـادي او معنـوي همکـارۍ ډاډ ورکـړی ؤ، ځکـه ځـوان واکمـن هڅـه کولـه چـې افغـان ولـس کـې انتقـادي روحیـه پیـاوړې شي او د ولـس پراخـه پرګنـې د دولتـي مسـئولینو پـه خپـل سـري اعمـالو نیـوکې وکـړي. د انـیس جریـدې د امـاني واکمنـۍ تـر پایـه خپـل ملـي، خپلـواک، نـادولتي مطالـب او مقـالې د افغـان ولـس د لوسـت لپـاره چمتـو کـولې او پـه ولـس کـې یـې د انتقـادي روحیـې تـر څنـګ د افکـارو د تبـادلې روحیـه هـم پیـاوړې کـړې وه. مګـر د حبیـب الله کلکـاني د واکمنـۍ پـر مهـال د ملـي خپلواکـو نـادولتي مطبوعـاتو لـړۍ پـای تـه ورسـول شـوه او د محمـد نادر شـاه د واکمنـۍ پـر مهـال یـو ځـل بیـا د انـیس جریـدې خپلـې خپرونـې پـه ملـي خپلواکـه نـادولتي توګـه پیـل کـړې، مګـر د محمـدنادر شـاه د دربـار لـوړ رتبـه مـامورینو د انـیس د جریـدې د چـاپ زغـم نـه درلـود، د انـیس جریـده یـې د دولتـي مطبوعـاتو پـورې وتړلـه او غـلام محی الـدین انـیس یـې زنـدان تـه ولېږه او پـه دې توګـه هغـه مهـال د ملـي خپلواکـو نـادولتي مطبوعـاتو لـړۍ پـه افغانسـتان کـې پای ته ورسېده.

**موخې**:

- د ملـي مبـارز او ژورنالېسـت غـلام محـی الـدین (انـیس) د ژونـد، فـن او دنومـوړي دمطبوعـاتي او فرهنګـي هلوځلـو څېړنه.
- په اړونده برخه کې لیکوالو، ژورنالېستانو او د مسلک خاوندانو ته د ګټورو معلوماتو برابرونه.

- د علمي رتبې اخستنې د يو شرط (مقاله ليکنې) پوره کول.

**غلام محی الدين انيس:**

غـلام محـی الـدين انـيس د غـلام نقشـبند زوی او د احمـدزيو قـوم تـه منسـوب ؤ ، پلرنـی ټـاټوبی يـې د غزنـي ولايـت د مقـر سـيمه وه، نيکـه يـې د اميـر عبـدالرحمن د واکمنـۍ پـر مهـال د هېـواد پرېښـودلو تـه اړ شـو ؛ نومـوړی د سـترګو د عـلاج طبيـب ؤ چـې د مهـاجرت پـه پيـل کـې مصـر تـه ولاړ او هلتـه يـې د طبابـت دنـده پـر مـخ وړلـه، مګـر لـه دې لاري يـې د خپلـې کـورنۍ ورځنـی لګښـت نـه شـو پـوره کـولی، نـو ځکـه يـې د سـوداګرۍ دنـده غـوره کـړه او د نومـوړي لـه مړينـې وروسته يې زوی غلام نقشبند هم د مصر او شام ترمنځ د سوداګرۍ په چارو بوخت شو. (۲م۱۵۲)

اميـر عبـدالرحمن خـان چـې د لويـديځ پرمختللـي فـر هنـګ سـره يـې بشـپړ بلـديت درلـود ، مګـر د افغـان ولـس د فرهنګـي پرمختـګ پـر لـور يـې کـوټلي ګامونـه پورتـه نـه کـړل، افغـان ولـس يـې پـه تـورو تيـارو کـې وسـاته او د خپلـې واکمنـۍ پـه ۲۲ کلنـه دوره کـې يـې نـه کومـه جريـده د افغـان ولـس د ذهنونـو د روښـانولو لپـاره خپـره کـړه او نـه يـې کـوم ښـوونځی د خپلـو فرهنګـي هڅـو پـه لـړ کـې تاسـيس او ودان کـړ. د اميـر عبـدالرحمن خـان د واکمنـۍ پـر مهـال ګـڼ شـمېر افغانـان د غـازي محمـد ايـوب خـان د ملاتـړ پـه تـور د هېـواد پرېښـودو تـه اړ شـول چـې پـه دې ډلـه کـې غـلام محمـد طـرزي، سـپه سـالار غـلام حيدرخان تـوخي، غـلام نقشـبند او د هغـې د پـلار يادونـه کـولی شـو چـې هغـه مهـال د هېـواد پرېښـودو تـه اړ شـول او د مهـاجرت ژونـد يـې پـه ليـرې پرتـو هېـوادو کـې پيـل کـړ. د همـدې واکمنـۍ پـر مهـال د انـدړ قـوم د مـلا مشـک عـالم پـه مشرۍ د اميـر عبـدالرحمن خـان د واکمنـۍ پـر مهـال د برتـانوي هنـد د اسـتعماري ظالمانه سياست پر خلاف پاڅېدلي ؤ او د امير د حکم له مخې د اندړ قوم ۳۰۰۰ تنه ووژل شول. (۳ م ۹۸_۹۷ )

غـلام محـی الـدين انـيس پـه مصـر کـې د خپـل پـلار غـلام نقشـبند پـه لارښـوونه د هغـې مهـال د علـم او پـوهې د زده کـړې پـه موخـه هڅـې پيـل کـړې، د خپـل وخـت مروجـه علـوم يـې ولوسـتل او د عربـي ژبـې او ادب سـربېره يـې پـه عصري علومو کې خپلې زده کړې بشپړې کړې. (۲م۲۳)

د غـلام محـی الـدين انـيس د زده کـړې او کـوچني والـي دوره د (۱۲۵۸-۱۲۷۹) ل کلونـو تـر مـنځ اټکـل کـولی شـو چـې پـه ډېـره مينـه يـې خپلـو زده کـړو تـه ادامـه ورکـړه او د يـو روڼ انـدې پـه توګـه يـې خپـل ځـان د ټـولنې د مظلومـو او اسـتعمار لانـدې ولسـونو خـدمت تـه چمتـو کـړ. غـلام محـی الـدين انـيس د سـيد جمال الـدين افغـان او د شـيخ محمـد عبـده لـه علمـي، ادبـي او فرهنګـي پـوهې څخـه پـه بشـپړې ګټـې اخسـتنې د هغـوی اسـتعماري ضـد مفکـورې تـه پـه خپلـه تګـلاره کـې ځـای ورکـړ او د هغـوی د پيـاوړو او تکـړه شـاګردانو څخـه وګڼـل شـو ، ځکـه چـې د هغـو د ملـي او نړيوالـو فرهنګـي او د اسـتعمار ضـد هڅـو د پلـې کولـو پـر لـور يـې کـوټلي ګامونـه واخسـتل او لـه ښـکېلاک څخـه د مظلومو ولسونو خلاصون يې خپله ايماني او وجداني دنده وګڼله. (۳م ۹۷-۹۸)

کلـه چـې اسـماعيل افنـدی د افغانسـتان د دولـت لـه خـوا پـه (۱۹۲۱م کـال چـې د ۱۳۰۰) لمريـز کـال سـره سـمون خـوري، د ورځپـاڼو د چـاپ د ماشـينونو (مطبعـې) د رانيولـو لپـاره مصـر تـه ولېـږل شـو او هلتـه يـې د غـلام محـی الـدين انـيس سـره وکتـل او لـه پېژنـدګلوی وروسـته يـې هغـه تـه د افغانسـتان جـاري سياسـت او د فرهنګـي هڅـو پـه اړه بشـپړ معلومات ورکولو ترڅنګ يې د افغانستان پر لور د تګ بلنه هم ورکړه. (۲م م۳۹-۴۲)

غـلام محـی الـدين انـيس د هغـه بلنـه ومنلـه او پـه (۱۳۰۲) لمريـز کـال افغانسـتان تـه راسـتون شـو او د هـرات د سعيديه پـه مدرسـه کـې يـې اسـتوګنه غـوره کـړه او هلتـه د هغـه مهـال نـامتو ژورنالېسـت سـرور جويـا سـره اشـنا شـو او لـه هغـه څخـه يـې د دري ژبـې او ادبيـاتو زده کـړه پيـل کـړه او هـم يـې د هـرات ځوانـانو تـه د عربـي ژبـې او ټـولنيزو علومو زده کړه پيل کړه. (۳م م۹۷-۹۸)

پـه هـرات کـې لـه دوه کلنـو زده کـړو وروسـته پـه (۱۳۰۴ل) کـال کابـل تـه راغـی او پـه کابـل کـې يـې د روښـنفکرانو سـره اړيکـې ټينګـې کـړې، دا مهـال د عبـدالهادي داوي پـه هڅـو پـه کابـل کـې يـوه ادبـي ټولنـه جـوړه شـوې وه او د غـلام محـی الـدين انـيس پخـوانۍ فرهنګـي هڅـې د کابـل د ادبـي ټـولنې د غړيـو د تاييـد وړ ګرځېـدلې وې، نـو ځکـه يـې

نوموړې ته په ادبي ټولنه کې د غړيتوب بلنه ورکړه او د بلنې له منلو وروسته د ادبي ټولنې په غړيتوب ومنل شو. (۲م م۲۳-۲۴)

غلام محی الدين انيس ته په ادبپوهنې او ژورنالېزم کې د ځانګړې استعداد او تجربې له مخې د کابل د ادبي ټولنې د مشرانو له خوا د ملي خپلواکې نادولتي جريدې د تاسيس او خپرونې سپارښتنه وشوه، نوموړې هم دغه وړانديز ومانه او د ادبي ټولنې غړيو ته يې ډاډ ورکړ، ترڅو په حقيقي بڼه د يوې ملي خپلواکې نادولتي جريدې د مسئول په توګه خپل ناپېيلي دريځ ژوندی وساتي او د جريدې د خپرونې لپاره يې هڅې پيل کړې. په همدې مهال غلام محی الدين انيس ته د کابل د ادبي ټولنې يو تن مشهور ليکوال او ژورنالېست علامه محمود طرزي د هر راز مادي او معنوي همکاريو ډاډ ورکړ. غلام محی الدين انيس په (۱۳۰۵) لمريز کال د کابل د مراد خانې د يو تن اوسېدونکي د ګدا احمد جان خان د لور سره واده وکړ چې له دې مېرمن څخه يې درې اولادونه (دوه لوڼې او يو زوی يې د فريد احمد) په نوم وزېږېدل. د امير حبيب الله کلکاني د واکمنۍ پر مهال د انيس د خپلواکې ملي نادولتي جريدې مطبوعاتي دفتر وتړل شو او د نوموړې واکمنۍ پر مهال د حبيب الاسلام د جريدې د مسئول مدير په توګه وټاکل شو، مګر د حکومتي چارواکو د بدامنۍ او ګډوډۍ له امله يې نوموړې دنده پرېښوده او پکتيا ته ولاړ او هلته يې د انيس جريده د ګستتر ماشين په واسطه چاپ او خپروله (۳م۹۹)

څرنګه چې غلام محی الدين انيس د اماني واکمنۍ پر مهال د روښنفکرانو او ځوان نسل د باور وړ ګرځېدلی ؤ، خو د محمدنادر شاه د واکمنۍ پر مهال غلام محی الدين انيس خپل باور له لاسه ورکړی و، ځکه نوموړی د حبيب الله کلکاني د واکمنۍ پر مهال يو څه موده د حبيب الاسلام د دولتي رسمي جريدې مسئول مدير ټاکل شوی و او بله مهمه خبره دا وه چې نوموړې د خپلواکې او وطنپالې مفکورې تر څنګ انتقادي قلم هم درلوده؛ له دې امله د محمدنادر شاه د دربار لوړ رتبه مامورينو په مطبوعاتي بهير کې غلام محی الدين انيس ته د ګډون اجازه نه ورکوله. کله چې محمدنادر شاه انتصابي لويه جرګه راوبلله او د مطبوعاتو د ازادۍ قانون چې د اماني واکمنۍ پر مهال نافذ شوی و، باطل اعلان کړ، د دولت اساسي اصول يې تصويب او د مطبوعاتو ازادي يې له منځه يوړه، غلام محی الدين انيس د (۱۳۱۰ل) کال د سنبلې په ۱۵ نېټه د شنبې په ورځ په دويمه ګڼه کې د تل لپاره د انيس د خپرولو سره خدای په اماني وکړه. (۲م۴۲)

کله چې غلام محی الدين انيس د محمدنادر شاه د دربار د پرېکړې له مخې د مطبوعاتي بهير څخه ګوښه شو، د هغه وطپرستانه احساس له مخې چې د افغان ولس سره يې درلوده، د حقيقت په نوم پټخوانۍ دولتي ورځپاڼه يې دويم ځل د شبنامې په توګه د چاپ لپاره د حبش خان کندک مشر په مسئوليت د خپرونې لپاره چمتو کړه. دا مهال د غلام محی الدين انيس د مطبوعاتي بهير څخه (مير مسجدي، مير عزيز، زمان سياه، محمود، اميرمحمد او زمان دراز) په ګډون په يو اتفاق د حقيقت ورځپاڼه د شبنامې په بڼه د لوستونکو په واک کې ورکړه. کله چې د نوموړې جريدې دفتر حکومت ته څرګند شو، غلام محی الدين انيس، د هغه ورور خالد د حکومتي پوليسو له خوا ونيول شو او احمد راتب باقي زاده د ميرعزيز د خاله (ترور) په مرسته د پوليسو له منګولو څخه وژغورل شو. (۲م م۴۲-۴۴)

غلام محی الدين انيس غوښتل چې د دهمزنګ په زندان کې هم افغان ولس ته د خدمت مصدر وګرځي، مګر د ژوند تر وروستي مهاله په زندان کې ولچک او زولانه وساتل شو او د خدمت کولو لاسونه يې حکومتي چارواکو تړلي وو او د ژوند تر پايه نوموړې مظلوم ژورنالېست ته د ليکلو او د افکارو د تبادلې زمينه برابره نه شوه. کله چې غلام محی الدين انيس زندان ته ولېږل شو، د نري رنځ ناروغۍ پرې غلبه وکړه، مګر د ناروغۍ پرمهال هم ورته له زندان څخه د خوشې کېدو اجازه ورنکړل شوه او د ولس د عامه ذهنونو د غلي کولو لپاره يې د انيس جريده د دولت پورې وتړله او د دولتي خپرونې په توګه يې خپرونې او چاپ ته چمتو کړه. (۲م۲۸۲)

د هېواد د خپلواکو ملي نادولتي مطبوعاتو مظلوم مبارز (غلام محی الدين انيس) د اعليحضرت محمد

نادرشاه د واکمنۍ او د محمدهاشم د صدارت پر مهال په (۱۳۱۷) لمريز کال د دهمزنګ په زندان کې په داسې حال کې مړ شو چې سر يې په زنګنونو ايښې و؛ کله چې حکومت د مظلوم مبارز او د مطبوعاتي بهير د لاروي غلام محی الدين انيس له مړينې څخه خبر شو، د هغې جسد يې د دهمزنګ د مسافرو په هديره کې په پټه توګه د حکومت د پرېکړې له مخې خاورو ته وسپاره. (۲م۳۲-۴۲)

## د غلام محی الدين انيس فرهنګي او مطبوعاتي هڅې:

د افغانستان اساسي قانون په (۱۹۲۴م) تصويب شو چې د همدې قانون په رڼا کې د ملي خپلواکو نادولتي خپرونو د چاپ لپاره زمينه برابره شوه، د مطبوعاتو د قانون په رڼا کې لومړنۍ نادولتي خپلواکې جريدې د انيس په نوم خپلې خپرونې د غلام محی الدين انيس په مسئوليت په (۱۹۲۷م) کال د مې په مياشت کې پيل کړې. (۸م۲۹۲)

د افغانستان د اساسي قانون د (۱۱) مادې د حکم له مخې د ملي خپلواکو نادولتي نشراتو د خپرونې لپاره يې لاره هواره کړه او په(۱۹۲۷م ) کال د لومړي ځل لپاره د انيس اوونيزې د مطبوعاتو او کورنيو خبرونو د ځانګړې نظامنامې له مخې خپرونې پيل کړې. (۷م۷۹۳)

که څه هم د خپلواکو ملي نادولتي مطبوعاتي بهير د خپرونو غورځنګ ډېر ناوخته (د اماني واکمنۍ په وروستي مهال) پيل کړ، مګر د نړيوالو مطبوعاتي خپرونو په پرتله يې ډېر ناوخته خپرونې پيل کړې، مګر همدا مهال د ملي خپلواکو نادولتي مطبوعاتو پيل ډېر پوښ او د افغانستان په تاريخ کې خورا ستر ارزښت لري. (۴م۱۹۳)

د اعليحضرت امان الله خان په لارښوونه د هېواد خپلواکي وګټل شوه، د مدني ټولنې د جوړونې پر لور هڅې پيل شوې، جريدې او ورځپاڼې د چاپ لپاره چمتو شوې، د اساسي قانون له تصويب وروسته قانونيت او عدالت په بېلابېلو برخو کې تصويب او نافذ شو. (۵م۲۰۲)

غلام محی الدين انيس د اماني واکمنۍ پر مهال د کابل د ادبي ټولنې د پرله پسې سپارښتنې له مخې په (۱۵/ثور/۱۳۰۲) نېټه د يو ملي خپلواکې نادولتي جريدې د خپرونې لپاره خپل چمتووالی څرګند کړ او په (ده افغانان) کې يې د عبدالرحيم غوريو خرڅوونکي په سرای کې د انيس د جريدې دفتر په رسمي توګه پرانست. د همدې ملي نادولتي خپلواکې جريدې د پرانستلو له پرېکړې څخه د هېواد ځوان واکمن اعليحضرت امان الله خان خبر شو چې يو تن ملي شخصيت چې تازه د مصر څخه د هېواد د آبادۍ او رغونې لپاره راستون شو او غواړي چې د يو ملي خپلواکې نادولتي جريدې له لارې د مطبوعاتو د ازادۍ د قانون په رڼا کې يوه ملي خپلواکه نادولتي خپرونه د هېوادوالو د لوست لپاره چمتو کړي؛ غازي امان الله خان د انيس د جريدې دفتر ته ورغی او غلام محی الدين انيس ته يې وويل: خبر شوی يم د افغان ولس د ذهنونو د روښانه کولو لپاره مو غوڅه پرېکړه کړې چې يوه ملي خپلواکه نادولتي جريده د افغان ولس روښانفکرانو په واک کې ورکړئ، ستاسې دا پرېکړه زما د خوشالۍ سبب ګرځېدلې او دا ډول اوچت خيال او آرزو چې تاسو يې د افغان ولس د بېدارۍ لپاره لرئ، زه هم په بشپړه توګه ستاسې د دې پرېکړې ملاتړ او هرکلی کوم او د خپرونې لپاره له تاسې سره مادي او معنوي مرستو ته خپل چمتووالی څرګندوم. غلام محی الدين انيس د شاه امان الله غازي له روغ نيت او ډاډګيرنې څخه مننه وکړه او ځوان واکمن ته يې ډاډ ورکړ چې د انيس د مطبوعاتي خپرونې له لارې غواړم چې افغان ولس د معاصرې نړۍ له علمي، سياسي، تخنيکي او ټولنيزو پرمختګونو څخه خبر کړم او هم د همدې جريدې له لارې د عدالت او قانون له را ژوندي کولو سربېره د بشري ټولنو د فکري اړيکو پياوړتيا هم خپله ايماني افغاني دنده بولم او

غـوارم چې د انـیس پـه جریـده کـې سیاسـي، فرهنګـي، ټـولنیزې او ادبـي خپرونـې د افغـان ولـس او نړیوالـو د لوست لپاره چمتو کړم. (۲م۱۹۰-۲۰۰)

غـلام محـی الـدین انـیس د اسـتقلال لېسـې زده کـوونکی عبد الرشـید(لطیفـي) د خپـل مطبوعـاتي همکـار پـه توګـه وټاکـه او هغـې تـه یې لارښـوونه وکړه چې د علمـي زده کړو تـر څنګ د فرانسـوي ژبې زده کړه هم پـه هغـه ښـوونځي کـې بشـپړه کـړي، تـر څو پـه راتلونکي کـې د فرانسـوي ژبې د ښـه ژبـاړونکي پـه توګـه افغـان ولـس تـه د خدمت مصدر وګرځي او هـم یـې نوموړي تـه د عربـي ژبې د زده کـړې مسـئولیت پـه خپلـه غـاړه واخسـت. انـیس جریـدې د (۱۵/ثـور/۱۳۰۲) نېټـه پـه کابـل کـې خپلـې خپرونـې پیـل کـړې او لـومړنۍ ملـي خپلواکـه نـادولتي ګڼـه یې د هېوادوالـو د لوست لپـاره چمتـو کـړه چې د همـدې ګڼې پـه خپرېـدو د افغانسـتان د مطبوعـاتو پـه تـاریخ کـې نـوی بـاب پرانسـتل شـو او د لـومړنۍ ګڼې پـه لـومړۍ سرمقاله کـې د (انـیس یـو نـوی زېږېـدلی ماشـوم دی) ترسرلیک لاندې خپره کړه او پـه خپـل مطبوعـاتي بهیـر کـې بـه د انـیس خپرونـې پـه راتلونکـو کـې لـوړو پوړیـو ته ورسوي، تر څو د انیس جریده د نړیوالو مطبوعاتو د سیالۍ جوګه وګرځي. (۱م۹۳)

د انـیس جریـدې د خپلـې خپرونـې مطالـب پـه (۱۲پـاڼو ) کـې چمتـو کـړل، دغـه د خپلواکـو نـادولتي مطبوعـاتو اوونیزه جریده د افغانستان د روښانفکرانو د تایید او ملاتړ وړ وګرځېده. (۷م۷۹۳)

کله چې انـیس جرېدې خپلـې خپرونـې پیـل کـړې، د ګـڼ شـمېر لوسـتونکو د پـاملرنې وړ وګرځېـده، ځکـه چـې د انـیس جریـدې هر یـو لیکـوال د بې عـدالتۍ، ظلم او بشـري تېریـو پـر خلاف پـه زړه پـورې مطالـب پـه داسـې حـال کـې خپـرول چې د افغـان ولـس ګټـې پکـې نغښـتې وې، د انـیس د جریـدې لـومړنۍ ګڼـه کـې چـې د مطبوعـاتو د قـانون پـه رڼـا کـې د ( ۱۵/ ثـور/۱۳۰۲) نېټـه یـې خپلـې خپرونـې پیـل کـړې او د نـاپېیلي نـادولتي مطبوعـاتي بهیـر څېـره پکـې د غـلام محی الـدین انیس تـر مړینـې وروسـته هم تـر ډېره وختـه ژونـدۍ او خونـدي سـاتل شـوې وه. د انـیس د جریـدې سیاسـي او ادبـي خپرونـې د دولتـي مـامورینو روحیـې، ټـولنیز او ورځنـي ژونـد تـه هـر اړخیـزه پاملرنـه کولـه او یـوه مقالـه یـې هغـه مهـال د قـانون تـر سـرلیک لانـدې خپـره کـړه، د اداري حقـوق، د قـانون پـه اړه علمـي بحثونـه او د اساسـي قـانون د فلسـفې پـه اړه یـې ګټـور معلومـات چمتـو کـول او هـم یـې د قـانون اصـول، د قـانون تطبیـق، ټـولنیزې او علمـي مقـالې خپرونـې لپـاره چمتـو او برابرولـې. همدارنګـه د انـیس نشـراتي خپرونـه کـې د پارلمـاني خپرونـو د سـرلیک لانـدې د اساسـي قـانون پـه ګـډون د دولـت د هـر یـو اداري واحـد ځـانګړي قـوانین یـې خپـرل، علمـي اطلاعـات او ذهنـي مطالـب یـې د هېوادوالـو د لوسـت لپـاره چمتـو کـول، د کـور د سمبالښـت لپـاره یـې روغتیـایي خـواړه، لبـاس او اسـتوګنځي سربېره یـې د ښـکلا پـه اړه ګټـور معلومـات د لوسـتونکو پـه واک کـې ورکـول چې پـه دې ډول مطـالبو کـې د مېرمنـو او نارینـه و کـورنۍ دنـدې یې پـه ځـانګړې توګـه پـه ګوتـه کولـې. انیس اوونیـزې جریـدې پـه انفرادي معلومـاتو کـې د دولـت کـورني تشـکیلات، د مـامورینو ټاکنـه، سیاسـي خبرونـه، کـورنۍ او بهرنـۍ پېښـې او هـم یـې د دولتـي او پارلمـاني خپرونـو سـربېره علمـي، فنـي، ادبـي، فرهنګـي خبرونـه او ځینـې مهمـې پېښـې د انـیس جریـدې لـه لارې د لوسـتونکو پـه واک کـې ورکـولې. د انـیس د جریـدې پـه تحلیلـي مطـالبو کـې د نـړۍ سـترې خـونړۍ پېښـې د تـاج او تخـت پـه سـر د ولسـونو قربـانۍ چې دې نړیوالـو مطـالبو تـه د انـیس جریـدې لـه۱۱ ګڼې وروسـته د نـړۍ د سـترو پېښـو پـه اړه سیاسـي تبصـرې او خبرونـو پـه اړه مطالـب خپـرول او هـم یـې ځینـې زړه پـورې شـعرونه او انتقادي طنزونه لوستونکو ته چمتو کول. (۱م۹۳_۹۷)

د انـیس جریـدې د امـاني واکمنـۍ پـر مهـال د ( پاسبانان بیـدار خـواب بـود ) تـر سـرلیک لانـدې یـوه انتقـادي مقالـه چې د (س. دیـن) پـه قلم چمتـو شـوې وه، د (۲۱وري۱۳۰۷) نېټـه یـې پـه داسـې حـال کـې خپـره کـړه چـې اعلیحضـرت امـان الله خـان د اروپـایي او اسـیایي هېوادونـو پـه سـفر بوخـت ؤ او د حکومـت د پرېکـړې لـه

مخې د انیس جریدې همدا ګڼه مصادره شوه. په دې مقاله کې چې د(س، دین) په قلم لیکل شوې وه، په حکومتي چارواکو او په ځانګړې توګه په پولیسو کلکې انتقادي نیوکې شوې وې چې همدې انتقادي مقالې د کابل امنیتي او اداري مسئولین په قهر او غوصه کړل، د کابل د امنیې او پولیسو مسئولین چې د مطبوعاتو د ازادۍ سره یې بلدیت نه درلود، د انیس د جریدې دې انتقادي مقالې یې کینه راوپاروله، د انیس جریدې اداري ته ورغلل او هغه دفتر یې مهر لاک کړ او غلام محی الدین انیس یې ولچک او زولانه زندان ته ولېږه. کله چې د کابل ښاریان د انیس جریدې د دفتر د تړلو او د غلام محی الدین انیس زندان ته له لېږلو خبر شول، په لاریونونو یې لاس پورې کړ، د سلطنت کفیل محمد ولي خان بدخشي د کابل ښاریانو څخه بخښنه وغوښته او غلام محی الدین انیس یې له زندان څخه راخوشې کړ. د انیس جریدې په خپله (۱۸ګڼه) کې د کابل ښاریانو څخه مننه وکړه او د حکومت دې چلند د انیس سره د کابل ښاریانو اړیکې نورې هم پیاوړې او ټینګې کړې چې له همدې نېټې وروسته د انیس جریدې له نوښته ډک مطالب د افغان ولس د لوست لپاره چمتو کول. همدې اوونیزې جریدې د اماني واکمنۍ پر مهال ډېرې حساسې او مهمې خپرونې چمتو کولې او دولتي مامورینو به په پټه او ښکاره توګه د انیس ملي خپلواکې نادولتي اوونیزې جریدې سره مادي او معنوي مرستې او همکارۍ کولې. (۲م۲۸۲)

غلام محی الدین انیس د محمد نادرشاه د واکمنۍ پر مهال په خپلواکه او ناپېیلې توګه لیکنې نشوې کولې. د نوموړي واکمن د واکمنۍ پر مهال یې څو ګڼې په خپلواکه توګه خپرې شوې، مګر ډېر ژر حکومتي لوړ رتبه مامورینو خپله حوصله له لاسه ورکړه، ځکه چې د انیس د انتقادي لیکنې زغم یې نه درلود او هغه یې د سیاسي فشار لاندې ونیوه، د انیس د جریدې مطبوعاتي دفتر یې مهرلاک کړ او د مطبوعاتو د قانون په رڼا کې د انیس جریدې او نورو مطبوعاتي خپرونو ته د تل لپاره په راتلونکي کې د بیان د آزادۍ زمینه برابره نه شوه. (۳م۹۹)

**پایله:**

خپلواکې ملي نادولتي مطبوعاتي خپرونې د لومړي ځل لپاره د شاه امان الله خان د واکمنۍ پر مهال پیل شوې چې همدا خپلواک ملي نادولتي مطبوعاتي بهیر د افغانستان د ولسواک دولت هدف ؤ چې په افغان ولس کې د انتقاد روحیه پیاوړې، د افکارو له تبادلې او نړیوالو سترو فرهنګي او علمي پېښو څخه هېوادوال اګاه او خبر شي. د خپلواکو ملي نادولتي مطبوعاتو له رواجولو څخه بل هدف دا ؤ چې افغان ولس د دیموکراسۍ او د بیان د آزادۍ پر لور وهڅول شي. ددې خبرې د ثبوت لپاره مونږ د(۲۱/حمل/۱۳۰۷) نېټې هغه سوله ییز لاریون ته اشاره کولی شو، کوم چې کابل ښاریانو د غلام محی الدین انیس او د انیس جریدې د خپرونو پر ملاتړ کړی و. حکومتي چارواکو او پولیسو د انیس جریدې دفتر مهرلاک کړ او غلام محی الدین انیس یې زندان ته ولېږه؛ د کابل ښاریانو د هڅو او سوله ییز پاڅون په لړ کې غلام محی الدین انیس له زندان څخه راخوشې شو چې د انیس په خپلې نشراتي خپرونه کې د کابل ښاریانو د سوله ییز پاڅون او ملاتړ څخه مننه وکړه. د غلام محی الدین انیس د یادو ملي او سیاسي لیکنو نتیجه وه چې هېوادوال یې په خپلو او د نورو په حقوقو وپوهول او هم یې په خپلو خپرونو کې هر ځل د دیموکراسۍ او د بیان د آزادۍ په اړه د مطالبو او مقالو لیکلو سربېره په طنزیه ډول او یا هم په انتقادي توګه په حکومت نیوکې کولې چې د همدې ملي خپلواک نادولتي مطبوعاتي بهیر نتیجه وه چې د حکومت پر خلاف د کابل ښاریانو سوله ییز پاڅون او مظاهره وکړه چې حکومت یې خپلو نیمګړتیاو ته متوجه او غلام محی الدین انیس یې له زندان څخه را خوشې کړ.

## Abstract:

**Ghulam Mohammad Anis:** He was son of ghulam Naqshban and related to ahmmadzai tribe and was from maqoor of ghazni province and his grandfather was ,am to leave the country in the kingdom of Amir Abdurrahman, after long suffering settled in Egypt ghulama mahidin anis was instructed for learning by ghulam naqshban the custim education was studied by him of the time and beside of Arabic language and literature either was completed study of modern science. his childhood period can be estimated between 1258-1279 solar at the time he got absolute advantage from said jamaluddin afgan and sheikh mohammad abda's academic, literary and cultural knowledge, he was invited for coming to fatherland on 1300 solar(1921 A.C) by esmmail Afghani and returned on 1302 solar to Afghanistan and setted on siadia madrasa in heart province, after his familiarity with famous journalist sarwar juya, he learned dari language and literature from, him. Ghulam mahaidin anis cam to Kabul on 1304 solar and Kabul literary association accepted him membership by attempts of abdul hadi dawi, he married with a duaghter of gaga ahmad janan, who was the resident of the Kabul morad khani on 1305 solar, he was persuaded to publish nongovernmental maganzine by the name of meli khpalwaki according to the constitution of Afghanistan 11 article, durinf these attempts anis magazine office was opened in Abdurrahman oil selling in da afghanan, he prepared the first number of the anis magazine for the readers, for a long time as a nongovernmental independent magazine he rendered objects and subjects for readers and eager in the light if independent media law.


**اخځلیکونه**:


۱-آهنگ، محمد کاظم. (۱۳۲۹) مطبوعات افغانستان در دهه های اول استقلال. کابل: اتحادیه ژورنالیستان افغانستان

۲- ارشاد، اورنگزیب. (۱۳۸۴). افغانستان پېژندنه- انیس. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه

۳-تنویر، محمد حلیم. (۱۳۸۰). د افغانستان تاریخ او خپروني. پېښور: صبور اسلامي نشراتي مرکز

۴- جنبش، داود. (۱۳۸۷). افغانستان په شلمه پېړۍ کې. جرمني: د افغانستان کلتوري ودې ټولنه

۵- حافظي، ازرخش. (۱۳۸۷). افغانستان (په شلمه پېړۍ کې)- توسعه و رشد افغانستان در سده بیستم. جرمني: د افغانستان کلتوري ودې ټولنه

۶- روهینا، کریم. (۱۳۲۷). غلام محی الدین انیس. کابل: اتحادیه ژورنالیستان

۷- غبار، میر غلام محمد. (۱۳۴۲). افغانستان در مسیر تاریخ. کابل: دولتي مطبعه

۸- هېواد دوست، یوسف.(۱۳۸۴). غازي امان الله خان دافغانستان دخپلواکۍ ستوری.جرمني: دافغانستان کلتوري ودې ټولنه

پوهندوی عبادالرحمن (مومند )
انجنيري پوهنځی- سيول څانګه

# لوړ مقاومت لرونکی او ځانګړی کانکريټ

## ( High Strength and Special Concrete)

**لنډيز**:

له ډېرې مودې را په دې خوا له کانکريټ څخه د يوې مهمې ساختماني مادې په توګه د ساختمانونو لکه د ودانيو، پلونو، تونلونو، برجونو او د نورو ځانګړو ساختمانونو د جوړولو له پاره ترې ګټه اخستل کېږي. ډېری وختونه کانکريټ د فشاري قوو په وړاندې د مقاوم په توګه پېژندل کېده، خو په دې وروستيو کلونو کې له کانکريټو څخه په لويو پروژو کې د بېلابېلو عناصرو جوړولو پراخه څېړنو او د نويو موادو په ګډولو د ازماينېتونو په پايله کې د دارنګه کانکريټو په لاسته راوړلو بريالي شوي چې د مقاومت له لوړېدلو سربېره د نورو ښو ځانګړتياوو لکه پايښت(دوام)، د کار وړتيا، نرمۍ، اور، د هوا او چاپېريال په وړاندې پوره مقاومت لري. د کانکريټو د جوړېدونکو موادو د ښه والي او بدلونونو سربېره د ځينو مواد لکه اليافونو او ايرو چې ارزښت يې ډېر لږ دی او د چاپېريال د ککړتيا لامل کېږي، په ګډولو سره د نويو ښو ځانګړتياوو لرونکو کانکريټو د لاسته راوړنې لامل شوي دي. په اوسپنيز کانکريټو کې سربېره د کانکريټو په بدلونونو، په فولادي سيخانو کې هم بدلونونه رامنځته شوي دي؛ د بېلګې په ډول په ځينو سيمو کې فولاد ژر زنګ وهي، نو بايد چې هلته په کانکريټو کې د زنګ ضد فولاد وکارول شي، خو پرځای يې اوس د نويو څېړنو له مخې پلاستيکي او پوليمري اليافونه په څېړنيز ډول استعمال شوي دي چې لومړنيو څېړنو يې ښه پايله لرله، خو په دې اړه د لا نورو ښو پايلو د لاسته راوړلو له پاره په پرله پسې توګه دا ډول څېړنې روانې دي، کېدای شي چې په راتلونکو پېړيو کې يې د څېړنې لړۍ لا هم پسې وغځېږي.

**سريزه**:

له ډېرو کلونو را په دې خوا کانکريټ د يوې مهمې ساختماني مادې په توګه چې لوړ فشاري مقاومت لري، د بېلابېلو ساختماني عناصرو په جوړونه کې ترې ګټه اخستل کېږي. د دې لوړ ارزښته ساختماني مادې نيمګړتيا تر ډېره حده د کشش په وړاندې له سيخانو څخه په ګټې اخستنې جبران کېږي. په دې وروستيو کلونو کې د اوسپنيز کانکريټو پرله پسې پلټنو او څېړنو په ځانګړې توګه په لندو او مرطوبو سيمو کې د کانکريټو د ډېری کار پېژندونکو او کاروونکو پاملرنه دې ته اړولې ده چې کانکريټ يوازې د مقاومت په واسطه نه شي کولی چې د کانکريټو ټول خواص په ځانګړې توګه د هغې پايښت(دوام) ته ځواب ووايي، لازمه ده چې په بېلابېلو سيمو کې د کانکريټو په طرحه کې سربېره پر دې چې د ګټې اخستنې په موده کې د مقاومت او د بارونو د وړلو مسئلې په پام کې ونيول شي، په ځای پاتې کېدنه او پايښت(دوام) يې هم بايد په پام کې ونيول شي. په اوسني وخت کې د کانکريټو د بېلابېلو موادو په ګډولو او د هغې د مخلوط د طرحې په بدلون سره کولی شو داسې کانکريټ په لاس راوړو چې په مقاومت کې د پام وړ بدلون څخه پرته به ډېر پايښت هم ولري. په دې وروستيو کلونو کې د نړيوالو پاملرنه تر ډېره بريده د چاپېريال ککړتيا او چاپېريال ساتنې ته اوښتې ده، نو د کانکريټو په مخلوط کې د داسې موادو کارول چې د هغې په جوړېدنه کې چاپېريال ته لږه ککړتيا لېږدول کېږي او همدارنګه د داسې طبيعي مسالې استعمالول چې چاپېريال لږ تخريبوي، د ځانګړې پاملرنې وړ ګرځېدلي دي. د دې له پاره د ډکونکو موادو د استعمال محدوديت، نويو موادو ته لاسرسی، هغه مواد چې په کارخانو کې جوړ شوي وي او د چاپېريال د نه ککړېدونکو موادو څخه د کانکريټو د جوړولو له پاره کارول کېږي، د ډېرو هېوادونو د څېړنو په سر کې ځای نيولی دی. په دې وروستيو کلونو کې د کانکريټو او د هغې د ګډونکو (مخلوطېدونکو ) موادو سربېره د هغو

فولادي سيخانو په اړه چې په اوسپنيزو کانکريټو کې کارول کېږي، هم بدلونونه راغلي دي، د بېلګې په ډول په لمدو او مرطوبو سيمو کې د زنګ ضد فولادو له استعمال څخه د مخنيوي په موخه د بېلابېلو پلاستيکي او پوليميري اليافونو څخه ګټه اخستل کېږي چې د لا ښو لاسته راوړنو له پاره په پرله پسې ډول په دې اړه څېړنې لاهم پسې روانې دي.
په دې مقاله کې د نويو کانکريټو چې په دې وروستيو کلونه کې د بېلابېلو ساختماني عناصرو په جوړېدنه کې کارول کېږي، کتنه شوې ده او د هغو نويو موادو په اړه چې په کانکريټو کې ترې ګټه اخستل کېږي او لا تر اوسه هم په پرله پسې توګه له څېړنې لاندې دي، تر مطالعې لاندې نيول شوي دي چې د ډېر لوړ مقاومت لرونکې، غښتلي او ډېر پايښت لرونکي کانکريټ پکې ځانګړی ځای لري. د کانکريټو په مخلوط کې د اليافو او بېلابېلو موادو استعمالول د هغې د نرمۍ د ډېرولو، د ضربه ييزو بارونو او زلزلې قوو په وړاندې د مقاوم کېدلو د ځانګړو کانکريټو بل اړخ دی. د کانکريټو پايښت (دوام) او د لازمي مقاومت تامينولو مسئلې ته په ډېره ژوره کتنه د کانکريټو استعمالول د پورتنيو موخو د لاسته راوړلو له پاره چې کار يې اسانه کوي له ډېرو مرکزونو د کړنلارې په سر کې ځای نيولی دی چې ځينو له دې ډول کانکريټو څخه د بېلابېلو علاوه کوونکو موادو په ډېرونې سره د کانکريټو صنعت ته ورګډېږي.

## موخې:

د دې څېړنې موخه د کانکريټو او اوسپنيز کانکريټو وروستيو لاسته راوړنو او په اړه يې په راتلونکو کلونو کې د څېړنو د دوام څرنګوالی دی، په ځانګړې توګه د ډېر لوړ مقاومت لرونکو کانکريټو چې مقاومت يې د ( 100 MPa) ميګا پاسکال څخه لوړ وي او همدارنګه د غښتلو او د ښو خواصو لرونکو کانکريټو د لاسته راوړلو او بدلونونو په هکله معلومات په کې تشريح او توضيح شي. په همدې توګه له کانکريټو سره د علاوه کونکو اليافونو په پايله کې د نرمو کانکريټو په هکله چې د زلزلې او ډينامېکي بارونو په وړاندې د جوړېدونکو عناصرو مقامت لوړ وي، معلومات ورکړل شي. همدارنګه د هغو کانکريټو په هکله چې ډېر کارول کېږي او ډېرې لړزې ته اړه نه لري او لوړ مقاومت لري، اشاره وشي. په بله برخه کې به دا هم واضح شي چې له کانکريټو څخه په ګټې اخستنې په څه ډول د چاپېريال ککړتيا کمېږي. په وروستۍ برخه کې د فولادي سيخانو په ځای د کاربني، پوليميري او پلاستيکي اليافونو استعمالولو وروستنۍ پايلې او د هغې په اړه به څرګندونې هم توضيح او تشريح شي.

### ۱- لوړ مقاومت لرونکی کانکريټ (*High strength Concrete*):

د کانکريټو د رواجي ټکنالوژۍ له مخې د لوړ مقاومت لرونکي او د انتظاره لرې کانکريټو مخلوط جوړونه چې د رواجي عناصرو د جوړولو له پاره ترې ګټه اخستل کېږي، سره له دې چې ډېری د کانکريټو مقررې لا هم د کانکريټو مقاومت تر (60 MPa ) ميګا پاسکال پورې محدودوي، خو اوسنۍ ډېرې ساختماني مقررې يې له ( 105 MPa ) ميګا پاسکال څخه لوړ په پام کې نيسي. [5]
د (120 MPa ) ميګا پاسکال او له دې څخه د لوړ مقاومت لرونکيو کانکريټو جوړول په پرمختللو هېوادونو کې د لوړ پوړو ودانيو او ساختمانونو له پاره ډېر استعمالېږي. د دې ډول کانکريټو له پاره د داسې سمنټو څخه ګټه اخستل کېږي چې په هغې کې ډېر ميده او فعال مواد تر هغه حده ګډوي چې فشاري مقاومت يې د ( 200MPa ) او (800MPa ) ميګا پاسکال ترمنځ وي او کششي مقاومت يې د( 30MPa) او( 150MPa ) ميګا پاسکال تر منځ وي، عملاً په څېړنيزو مرکزونو کې لاسته راغلي دي. د دې ډول لازمي مقاومتونو د لاسته راوړلو له پاره د کانکريټو د مخلوط په طرحه کې له نويو ګډونکو موادو څخه په ګټې اخستنې بدلون راځي. دې ډول مقاومت ته د رسېدلو له پاره د ډېرو مقاومو ډکونکو موادو (ډېرين کريړو ) څخه ګټه اخستل کېږي او د کانکريټو په مخلوط کې د هغې د ډېری يو شان کېدلو له پاره تر ډېره بريده پورې د ډکونکو موادو (ډېرين کرېړ) د اندازې کمول مهم لامل دی. همدارنګه کولی شو چې له ډېرو ميده دانه لرونکو موادو څخه چې اندازه يې د ميکرون د لسمې څخه کوچنۍ وي، د تراکميت اندازه يې لوړه او تخلخل (منفذونه) يې لږ او لوړ مخصوص وزن ولري، برابر کړو. په لوړ مقاومت لرونکو کانکريټو کې د اوبو او سمنټو نسبت (W/C) کمېږي، کله چې د اوبو او سمنټو نسبت(W/C = 0.18 ) وي، نو په دې حالت کې د سمنټو ځينې دانې نه هايدريشن کېږي

او د میده دانه ډکونکو موادو اندازه ډېرېږي او په پایله کې د کانکریټو د مقاومت د لوړېدو لامل کېږي. د دې ډول لړاوبو لرونکو مخلوطونو د کار د وړتیا یا تحرک د لوړېدلو له پاره به دا ښه وي چې په کانکریټو کې د ډېرو میده دانه ذرو څخه ګټه واخستل شي. همدارنګه د دې ډول کانکریټو د نرمولو (د ماتېدنې په وړاندې یې د مقاومت لوړلو) له پاره کولی شو لنډ الیافونه ورزیات کړو. د دې ډول کانکریټو په جوړولو سره د فشار او تودوخې لاندې د سختېدلو طریقې څخه د کانکریټو د جوش خوړلو او د لوړ لومړني مقاومت د لاسته راوړلو له پاره ګټه اخستل کېږي.

۱- جدول: د کاناډا په مونټرال کې په یوه لوړ پوړیزه ودانۍ کې د لاندېنیو ځانګړتیاوو لرونکې کانکریټ کارول شوی دی. [2]

| د کانکریټو خواص | د کانکریټو په یو مترمکعب حجم کې د مخلوط طرحه |
|---|---|
| تحرک (Slump)<br>(0.25mm) | د اوبو او سمنټو نسبت یې<br>(W/C = 0.25) |
| هوا<br>(4.4% ) | داوبو مقدار<br>(135) لیتره |
| د اوو ورځو فشاري مقاومت یې<br>(77MPa) | دلومړي ډول سمنټ<br>(500 kg/ $m^3$ ) |
| د (28) ورځو فشاري مقاومت یې<br>(92.3MPa) | سلیسوا ېري<br>(30 kg/ $m^3$ ) |
| د (90) ورځو فشاري مقاومت یې<br>(106MPa) | د کریږ (جغل) د دانو غټه اندازه (10mm)<br>(1100 kg/ $m^3$) |
| یوکلن فشاري مقاومت یې<br>(119.4MPa) | دطبیعي کریږو (جغلو)<br>(700 kg/ $m^3$ ) |
| | د جوش خوړلو ورو کونکې کېمیاوي علاوه کونکو مقدار<br>( 1.8 Lit/ $m^3$) |
| | د تحرک (Slump) زیاتونکي کېمیاوي علاوه کونکو مقدار<br>(14Lit/ $m^3$) |

## ۲- د لوړ کاري وړتیا لرونکی (ځاني متراکم کېدونکی) کانکریټ (High work ability (Self compacted) Concrete):

په اوسنیو وختونو کې په ځینو هېوادونو په ځانګړې توګه په جاپان کې داسې کانکریټ چې ټپک کولو او متراکم کولو ته اړتیا نه لري او خپله په ځاني ډول متراکم کېږي جوړ شوی او د ځینو پرژو په ځینو برخو کې ترې ګټه اخستل کېږي. سره له دې چې د کاري وړتیا اندازه یې ډېره لوړه ده، خو د سمنټو له مخلوط شوي خمېږ سره نه بېلېږي او په عین حال کې د لوړ مقاومت او ډېر پایښت (دوام) لري. د دې ډول کانکریټو د مخلوط په طرحه کې د کریږ (جغل) اندازه د کانکریټو د جامدو موادو د حجم (50%) سلنه او په هغې کې کریږ (جغل) د کارېدونکو کانکریټو د حجم د (40%) سلنه، د اوبو او د خواصو له مخې د میده دانه موادو او پوډرو نسبت چې د دانو میده والی یې د (0.9) او (1) ملي متر تر منځ ټاکل شوی دی. [2, 3]

## ۳- د ډکونکو موادو بیا استعمالېدونکی کانکریټ (Reused Aggregates Concrete):

د ټولنو پرمختګ او په لویو ښارونو کې د فضا ستونزو ته په پاملرنې د ساختماني عناصرو د جوړولو له پاره لازمه ده چې پخواني ساختمانونه تخریب او پر ځای یې لوړ پوړیزه نوي ساختمانونه او ودانۍ جوړېږي. په جاپان او اروپایي هېوادونو کې چې ځمکه او فضا یې د ساختمانو او ودانیو د جوړولو له پاره ځانګړې ارزښت لري، همدارنګه د ساختمانونو د

تخریب له اغېزې د چاپېریال له ککړتیا څخه د مخنیوي له پاره، د نویو ساختمانونو په جوړولو کې د هغې په مسالې او په کانکریټو کې د بیا استعمالېدونکو ډکونکو موادو (د پخوانیو کانکریټو کوچنې کول او هغه بیا په نویو کانکریټو کې د ډکونکو موادو په توګه استعمالول) په اړه پراخه څېړنې روانې دي، د بېلګې په ډول هر کال د هالنډ په هېواد کې د لس میلیونو ټنو مسالې له تخریب شویو کانکریټي ساختمانونو څخه چې د اړتیا وړ کانکریټو حجم (1/3) برخه برابروي، تولید بېږي چې د دې نیمایې په نویو کانکریټو کې کارول کېږي. په اوسني وخت کې د دې ډول کانکریټو په متراکم کېدلو، غځېدنې (خزش) او پایښت (دوام ) څېړنې روانې دي، تر څو په یوېشتمې پېړۍ کې له هغې څخه په پراخه پیمانه د ګټې اخستنې وړ وي.

## ۴- لوړه نرمې لرونکی کانکریټ:

اوس د هغو کانکریټو د کار وړتیا چې لوړه نرمي ولري چې پرته له ماتېدنې ډېر زیات تغیر او بدلون تحمل کړي، د پاملرنې وړ ګرځېدلې دی. ډېرې پراخې څېړنې د بېلابېلو الیافونو په شتون کې د کانکریټو د لازمې نرمۍ د تامینېدلو او حتی د سیخانو د حذف کولو په اړه روانې دي. په کانکریټو کې د الیافو د استعمال او کارونې بنسټیزه موخه د کانکریټو د کششي مقاومت د لوړولو، د درزونو د پراختیا کنترولولو او د سختۍ (Toughness) لوړولو څخه ده، تر څو کانکریټ د وارده بارونو له اغېزې په یوه درز لرونکې مقطع کې چې زیات د شکل تغیر هم ولري، په ډېره اندازه فشار تحمل کړای شي. په وروستیو کلونو کې الیاف لرونکي کانکریټ په ډېرو بنسټیزو ساختمانونو کې لکه سرکونو، هوایي ډګرونو، په لویو تهدابونو کې، په ډېره زیاته اندازه د شکل په بدلونه کې او په ځانګړې توګه د تونلونو په پوښښونو کې کارول شوی دی. د تونلونو په جوړښت کې الیافي کانکریټ د تونلونو په جدار د پاشلو په واسطه شکل نیسي. په وروستیو وختونو کې د تونلونو په پوښښونو کې د درزونو له منځه وړلو له پاره، له وړاندې جوړ شویو، پرته له سیخانو د الیاف لرونکو کانکریټو چې ټوټه یې جوړښت لري، کارول کېږي. دا ډول کانکریټ له درزونو د پیدا کېدلو څخه مخنیوی کوي. ډېر نوی ډول د کانکریټو چې د هغې په واسطه کېدای شي کانکریټ ډېره نرمي حاصله کړي، د الیافو په مخ د سمنټو دوغ اب پاشلو طریقې څخه ګټه اخستل کېږي. په دې طریقه کې لومړی الیاف اچول کېږي او بیا وروسته د الیافو تر منځ ازاده فضا د سمنټو دوغاب په واسطه ډکېږي چې په دې ډول کانکریټو کې د الیافو اندازه (10%) ته رسېږي. د دې ډول مسالې په واسطه پرته له درزونو او غیر قابل نفوذ محافظوي لایې جوړېږي. په دې قطعو کې د زیاتې نرمۍ له امله د شکل بدلونې غښتلتیا د سیخانو لرونکو پوښښ تختو تر حده رسېږي. د دې ډول کانکریټو فشاري مقاومت د (85MPa) څخه تر (110MPa) میګا پاسکال او کششي مقاومت یې د (35MPa) څخه تر (45MPa) میګا پاسکال حدونو پورې وي. د دې لایو څخه نه یوازې د کوچنیو محافظوي لایو په ډول ګټه اخستل کېږي، بلکې په هوایي ډګرونو کې په رینویو کې د ضربو په وړاندې هم د ځانه پوره وړتیا ښایي. کېدای شي چې په ودانیو کې د دې ډول لایو څخه د پخوانیو کانکریټو په مخ بې له درزه په لنډه موده کې وکارول شي. [2]

## ۵- پرته له فولادي سیخانو سیخبندي شوی کانکریټ (Without steel Reinforced Concrete):

په وروستیو کلونو کې په ډېره محدوده اندازه د پرته له فولادي سیخانو کانکریټو څخه ګټه اخستنه پیل شوې ده، سره له دې چې د دې ډول سیخانو د اوږدې مودې کړنې په اړه ډېرې پراخې او هر اړخیزې څېړنې روانې دي. دا سیخان چې الیاف لرونکي پلاستیکي (Fiber Reinforced Plastic) یا (FRP) دي چې له بېلابېلو الیافو لکه د ارامیدي الیاف (AFRP)، ښیښه یي (GFRP) (Glasses Fiber Reinforced Plastic) او کاربني الیاف (CFRP) څخه جوړېږي.

۲- جدول د بېلابېلو الیافي سیخانو میخانیکي خواص. [1]

| د الیافو ډولونه | کششي مقاومت په میګا پاسکال (MPa) | د شکل بدلېدنه % | د څېړنې وخت |
|---|---|---|---|
| آرامید | 2700 – 3400 | 73 - 165 | 04.Apr.2002 |
| ښیښه E | 3500 | 75 | 03.May.2002 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ښیښه S | 4500 | 87 | 04-05.May.2002 |
| د ټیټ مودل کاربن | 3900 – 3200 | 250 | 01.Jun-2001 |
| د لوړ مودل کاربن | 2700 – 2300 | 400 | Jun-2000 |

د دې ډول سیخانو بنسټیزې ځانګړتیاوې چې د هغې د کړنې لامل شوی دی، د زنګ خوړلو په وړاندې مقاومت دی چې ډېر لوند او مرطوب چاپېریال یې له ډېر پخوا څخه لري. سربېره پر دې لوړ مقاومت، د سترپا په وړاندې مقاومت، د ارتجاعي شکل بدلېدنې په وړاندې وړتیا، لوړ الکتریکي مقاومت او ټیټ مقناطیسي هادي توب د دې موادو له ګټو څخه شمېرل کېږي. ماتېدنه یا د ماتېدنې په وړاندې لږ مقاوم، ډېره غځېدنه او د تودوخې انبساطي ضریب یې د عادي کانکریټو په پرتله د پام وړ توپیر، د دې له نیمګړتیاوو څخه شمېرل کېږي. [1]
په دې وروستیو وختونو کې الیافونه د جالونو په ډول لکه د منظمو سیخبندي شویو جالونو (meshes) په ډول د کانکریټو په سطحه د درزونو د کنټرولولو او د هغې د عرض د کمولو او همدارنګه د نماګانو په کانکریټي دیوالونو کې ترې ګټه اخستل کېږي. د انحنایي عناصرو یانې په ګاډرونو او پوښښ تختو (Slabs) او په ځانګړې توګه په پلونو کې د فولادي سیخانو په ځای د الیافونو د استعمالولو په هکله څېړنې روانې دي چې کاربني الیاف د دې غښتلتیا له پاره ډېر رواج موندلی دی، په جاپان او په ځینو اروپایي هېوادونو کې ډېر کارول کېږي. [7]

**۶- نوښت شوی کانکریټ**(*Innovated concrete*):

په ځینو حالتونو کې د کانکریټو د ترکیبي موادو په بدلون او په نوښتي طریقو کولی شو چې له کانکریټو څخه نامطلوبه خواص له منځه یوسو. دا ددې لامل کېږي چې ځانګړي خواصو لرونکی کانکریټ په لاس راوړو. کولی شو په اوسنیو وختونو کې د زیات مقاومت لرونکو کانکریټو بېلګه یاده کړو چې ډېر کارول کېږي. د لوړ مقاومت لرونکي کانکریټ په جوړولو کې د ډېرو سمنټو، د سمنټو او اوبو لږ نسبت او له سمنټو سره د سلیس د ایرې (دوده) څخه ګټه اخستل کېږي. په عین حال کې ددې کانکریټو د سختېدلو او د سمنټو د هادریشن له پاره د پوره اوبو د نه شتون له امله یوه اندازه اوبه د بیروني سطحې په واسطه دننې سطحې ته د پورتني عمل د بشپړېدلو له پاره رسېږي، نو ځکه د لوړ مقاومت لرونکي کانکریټو د سختېدلو په لومړیو ساعتونو کې د پام وړ ځاني (ذاتي) راټولېدو سره مخ کېږي. په دې کانکریټو کې کېدای شي چې د درزونو د پیداکېدلو نوري حساسي منفي اغېزې ولیدل شي، دا نیمګړتیاوې کېدای شي چې په ډېره اسانه طریقه له منځه یوړل شي. په یو نوښتي عمل کېدای شي چې (25%) سلنه په حدودو کې د ډکونکو موادو حجم د سپک وزنه ډکونکو موادو په واسطه کم کړو چې دا په کانکریټو کې ډکونکي مواد د اوبو د ذخیره کولو لامل کېږي او د جوش خوړلو له پاره لوند چاپېریال برابروي. د اوبو په واسطه د مشبوع شویو ډکونکو دانو د علاوه کولو په پایله کې په لوړ مقاومت لرونکو کانکریټو کې د ځاني (ذاتي) د راټولېدلو کمښت مومي او نرې (د ویښتانو په ډول) درزونه له منځه وړي. همدارنګه د دې ډول کانکریټو ډېر متراکمیت د اور په وړاندې د دې کانکریټو مقاومت کموي چې دا د یوې نیمګړتیا په توګه شمېرل کېږي. په ډېره لوړه تودوخه کې د سمنټو د خمیرې کېمیاوي اوبه تبخیرېږي، خو د لوړ مقاومت لرونکو کانکریټو ډېر تراکمیت له امله دا اوبه بیرون نه شي وتلی، په پایله کې کانکریټ پانه پانه کېږي او د بار وړلو توان یې کمزوری کېږي. د یو نوښتي کار له مخې د پروبیلني الیافو په کانکریټو کې د علاوه کولو سره په لوړه تودوخه کې له کانکریټو څخه د اوبو د بخارونو د بیرون کولو له پاره د ویلې شویو الیافو او کانالونو څخه ګټه اخستل کېږي او د کانکریټو د پانه پانه کېدلو څخه مخنیوی کېږي. [6]

**پایله**:

په دې وروستیو کلونو کې د کانکریټو په تکنالوژۍ او د نویو کانکریټو په پیدا ایښت کې وړ بدلونونه راغلي دي، دا بدلونونه د ډېر لوړ مقاومت لرونکو کانکریټو، لوړه نرمي لرونکو کانکریټو، د غیر فلزي سیخانو لرونکو کانکریټو، د لوړ کاري وړتیا لرونکو کانکریټو، د پخوانیو استعمال شویو کانکریټو څخه د ډکونکو استفاده کونکو کانکریټو او د

نوښت شویو (Innovated concrete) کانکریټو د لاسته راوړلو لامل شوی دی. په څرګنده توګه ویلی شو چې د روانې پېړۍ د وروستیو کلونو څېړنې او د هغې دوام به په راتلونکو پېړیو کې وکولی شي چې کانکریټو ته د زیات ارزښت لرونکي ساختماني مادې په توګه د پاملرنې وړ وګرځي او دا څېړنې به ددې لامل شي چې کانکریټ د داسې ساختماني مادې په حیث چې یوازې په فشار کې لوړ مقاومت ولري ونه پېژندل شي، بلکې دا نظریه به بېخي بدلون ومومي، ځکه چې کانکریټ به له نویو خواصو سره د استعمال وړ وګرځي او هغه چې د لویو پروژو په جوړولو کې بوخت دي، خپله پاملرنه به ددې ډول کانکریټو استعمال ته راواړوي.


## Abstract:

Since long period concrete is used as a significant antigen in construction of all together buildings, bridges, tunnels, towers, and all other special construction circumstances, most of the time concrete is recognized as a sustainable item against compressive strength. Recently the study shows that various materials for concrete structure have been used in implementation of big projects as well as by mixture of different concrete testes where in finally the result has been successful. To ensuring durability for other specifications such as continuance of durability and softness against fire, air and environment, aside from changing of concrete material amelioration for some of the material like alphorn and ash which is not important and effects badly the environment but give more durability to the concrete. In RCC beside the changes in steel reinforcement is also observed, as a typical of example in some areas steel is stained therefore anti-stain material has to be used in RCC. But in recent studies instead of anti-stain, plastic and polymeric alphorns has been used after case study, where the studies had satisfactory result. But to have realistic fulfilment; further studies are going on regular basis which would possible continue to next centuries too.


## References:


1. A. Nanni. (1993). Fiber-Reinforced Plastic (FRP) reinforcement for concrete structures. Properties and applications. Elsevier. London. PP (59-66).
2. G. Konig ET. Al. (1998). New concepts for high performance concrete with improved ductility. Proceeding of the 12th FIP congress on challenges for concrete in the next millennium. PP (49-53).
3. H. Okamura. (November 1996). Self compacting high performance concrete. Ferguson Lecture at ACI convention (New Orleans). PP (312-317).
4. H. Okamura and K. Ozawa. (Dec 1995). Mix design for self compacting concrete. Concrete library International. Japan. No.25. PP (23-25).
5. Norwegian standard NS3473. (1989). Concrete Structures Design rules. Oslo. PP (205-209).
6. R. Breitenbucher. (May 1996).High strength concrete C 105 with increased fiber resistance due to polypropylene fibers. 4th international symposium on the utilization of high strength-high performance concrete. Paris. PP (571-577).
7. Taerwe. (1995). Non-Metallic (FRP) reinforcement for concrete structures. RILEM proceeding, No. 29, E & FN Spon. London. PP (102-107).
8. Tachitana, D. Imai, M. Yamazaki, N. Kawai, T. and Inada. (2005). High Strength Concrete Incorporating Several Admixtures. *Proceedings of the Second International Symposium on High Strength Concrete.* SP-121. American Concrete Institute. Farmington Hills. Michigan. PP (309 - 330).

پوهندوی فضل ولي (ناګار)
ژبو او ادبياتو پوهنځی- پښتو څانګه

# د ارواښاد پوهاند رښتين

## په اثارو کې انتقادي روحيه او د ويښتابه پيغام

**لنډيز**:
د پښتو ژبې او ادب اوسنی بهير که پر چا وياړي، نو له شک پرته چې پوهاند صديق الله رښتين يې په ړومبي کتار کې راځي. ارواښاد پوهاند رښتين مؤرخ، ژبپوه، عالم، شاعر، ليکوال او پر دې ټولو سربېره يې ژور فکر د عرفان او فلسفې ځرکونه هم لري. د قدرمن استاذ ژبنيو اثارو ته ډېره پاملرنه شوې، خو دده افکار او د پښتنې ټولنې د رغښت لپاره يې ژور مفاهيم لکه څنګه چې ښايي، نه دي څېړل شوي. پدې څېړنه کې د درانه استاذ د ارماني او هدفمنې ټولنې د جوړېدا پر هيلو او افکارو خبره شوې، چې څه ډول يې ورته پخپلو ادبي تخليقاتو کې انعکاس ورکړيدی.

**سريزه**:
ارواښاد پوهاند صديق الله رشتين زموږ په ټولنه کې د پښتو ادب او ژبې د پيبڅګونو بنسټ ايښودونکو له ډلې ګڼل کېږي او دغه مقام يې پر دې لا ډېر درووند دی، چې پر ادب سربېره د ژبپوهنې مؤسس هم دی. خو چې دده اثار وکتل شي، نوموړی استاذ د خپلې ټولنې د رغښت لپاره د بل هر مفکر او فيلسوف غوندې پاخه او منطقي افکار هم لري، چې تر اوسه ورته پوره کتنه نه ده شوې. پدې ليکنې کې د درانه استاذ د ارماني او هدفمنې ټولنې د جوړېدا پر هيلو او افکارو څېړنه شوې، چې څه ډول يې ورته پخپلو ادبي تخليقاتو کې انعکاس ورکړيدی. دا مقاله به د استاذ علمي او فلسفي دريځ روښانه او د څېړونکو او محصلينو لپاره به د ګټې وړ وي.

**موخې**:
- د ارواښاد پوهاند رښتين د علمي او فلسفي دريځ شننه.
- په اړونده برخه کې څېړونکو، محصلينو او ادب مينه والو ته د ګټورو معلوماتو برابرونه.

**د ارواښاد پوهاند رښتين په اثارو کې انتقادي روحيه او د ويښتابه پيغام**:
د پښتو ژبې او ادب اوسنی بهير که پر چا وياړي، نو له شک پرته چې پوهاند رښتين يې په ړومبي کتار کې راځي، او د پښتو د نوي ادب معمار يې ګڼلی شو. د تخليق او تحقيق د ماڼۍ چې کوم پاخه تاداوونه استاذ رښتين او د هغه ځلورو نورو ملګرو کېښودل؛ د افغان ولس د نن او سبا نسلونه به پرې د ادب مېناروونه هسکوي. حيرانوونکې دا ده چې پوهاند رښتين ته خدای ؒ د تحقيق او تخليق په دواړو ډګرو د الوت ځواک ورکړی ؤ. که د لومړي ځل لپاره يې د پوهنتون او اکاډميکو ټولنو لپاره ګرامر او داسې ژبنۍ څېړنې وکړې چې تر اوسه د پښتون څېړونکي لپاره بنسټ دی، نو د ادب پر نورو اصنافو يې برلاسي په هيڅ ډول له ژبنيو څېړنو کمه نه ده. (۱م۱۵)
پوهاند رښتين زموږ په ټولنه کې له يوه مفکره زيات د عالم په توګه پېژندل شوی دی؛ خو که دده تش دوه نثري ټولګې (د ژوند پلوشې) او د (ښکلا ورمه) وکتل شي، نو جوتېږي چې د پښتو ادب دغه معمار د يوې مثالي پښتنې ټولنې د رغښت لپاره ډېرې لوړې هيلې، ژور فکر، ستره انتقادي روحيه، درانه فلسفي مفاهيم او د فکر و فن اسمانڅکي وړانديزونه لري. استاذ رښتين (پښتون) ته د ژوند هر کمال او جمال ورغاړيستل غواړي او د خوشال بابا د دستارنامې غوندې مشرتابه ته دا سپارښت کوي، چې د نړۍ هېڅ قايد تر هغې د مشرتابه پر دريځ نه دی ور

پورته شوی، چې ادیب نه وي او دغسې سیاست او ادب سره غاړه غړې کوي؛ د سیاست دغه تشه چې عاطفه نه لري، په ادب ډکوي. (۲م ب)
هغه پښتون یو ځل بیا له خپلې وياړمنې ماضي سره نښلوي، او چې په کومه ژبه منظرکشي او انځورګري کوي، د ده د لوړ فن او عالي فکر هېنداره ده؛ د پښتون د تاریخ ننداري دا څو کرښې:
(( درې نیم زره کاله پخوا زه د ویدا په سندرو کې ستایلی شوم. هغه مړنی وم، چې په ویر او سندرو کې به یادېدم. خپل ټبر او ټول قام- قبیل په ما ښایسته او زما په نامه سرلوړي ؤ. زه د شریفانو، پاکانو او اصیلانو په نسل کې چې ارین یې بولي، د لسو خېلونو او قبیلو سر سترګې وم. زما له خواړه نوم یانې پښت څخه د ویدا سندرې خوږې او خوندورې وې. د پکتها او توروایانا ځلمي پاچا تاجونه زما په سر پراته وو، او ډېر ښکلي او ښایسته ښکارېدل. زه د باختر او بلخ په زرینه زانګو کې کلونه- کلونه زنګېدلم. د سپین غر، هندوکش، پامیر او کشمیر نرم او پاسته پلازونه زما لپاره ښکلي او جړاو شوي وو. د امو او اباسین تر منځ د بخدیا، پارتیا، پښتیا، اراکوزیا او ګندهارا په ځمکو ټول شنه بخملي فرشونه زما دپاره هوار غوړېدلي وو..... هغه وخت زما د فتحې او سوبې جنډې د هندوکش په لوړو څوکو رپېدې، اریایي سرودونه غړېدل........ )). (۳م۳)
پوهاند رښتین په نوښتګر فن او جادوګرو توریو پښتون ته خپل تشخص وریادوي، او د کمترۍ د احساس هغه ګردونه چې د زمانې تاړاکونو پرې ښندلي، د یوه حکیم او طبیب غوندې په اروایي درملنه تداوي کوي. هغه د خپلې ارمانې ټولنې هر پښتون مهذب، ایماندار، د سترو او غوره اخلاقو خاوند، ویښ او بیدار غواړي. هغه د هر یرغل په وړاندې پېش بین او لرلیدونکی دی. همدغه ځای دی، چې فکر یې پر فن برلاسی شوی، هغه د لوی عارف حمزه بابا غوندې نه وایي، چې:

تـه اســــلام- پښـــتو گـــنه دوه، زه وایم
خدای ج هم که انسان وی، نو پښتون به ؤ (۴م۲۲۳)

حمزه بابا له پښتونه عارف جوړوي، چې بې له شکه همدغه د انسان د خلقت غایه او هدف دی؛ خو پوهاند رښتین د ټولنې د یوه مفکر معمار په توګه په پیلامه کې دی، او د کلتوري یرغلونو له وېرې معاصر تمدن او د مفکرینو افکار یې په ډېر انتقادي شکل خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. پوهاند رښتین په دې باب چې د ژوند هدف څه دی، د یوه ژمن مسلمان فیلسوف په توګه ادیان او فلسفي عقاید تر کره کتنې لاندې راولي. هغه وایي، که د نړۍ په ټولو مذهبونو او فلسفي ګروهو نظر واچوو، نو د ژوند کوم اتفاقي او مثبت مقصد لاس ته نه راځي. د یو جانس کلبي لذت پرښېودل سعادت بولي، خو اپیقور یوناني روغتیا، مال او دولت غوره ګڼي. ځینې (مثلِ اعلی) ته رسېده بری بولي؛ بودېزم او جین مت د ساکښ په توګه د مار وژل هم روا نه بولي. سقراط، اپلاتون، ارسطو، فیثاغورث، زردشت او ګوتم بد پورې د ژوند د موخو په باب نظریې لري، خو ناسمې دي. که د اروپا د پخو فیلسوفانو لکه کانټ، بېکن، دکارت نظریې او هم د مارکس و لینن د ژوند فلسفه وڅېړو، د ژوند ربړه نه حلوي. د ډاروین د پایښت د جګړې فلسفې ته ډېر خلک په کرکه ګوري. موږ وینو، چې د ډاروین د فکر له کبله نړۍ په سرو لمبو کې سوځي. (۳)
پوهاند رښتین د نړۍ ګردې فلسفې تر نیوکې لاندې راولي، او په دې باور دی، چې ټولو د ژوند د موخې په باب په خپل عجز اقرار کړی، خو دغه ربړه ناحله نه پرېدې، او غواړي، خپل لوستونکی په خپل روحاني او ایماني فیض یوې داډمنې فضا ته بوځي؛ نو پیغام یې دا دی، چې یوازې د اسلام د مقدس دین په لارښوونه له دې سرګردانۍ ځان ژغورلی شو. ولې چې د اسلامي ګروهې له انده رښتینی سعادت د خدای ج په عبادت کې د زړه د یقین په لاس ته راوړو پورې تړلی دی. د اسلام اخلاقیون او متصوفین د کشف و مشاهدې درجې ته رسېدل سعادت بولي، ځکه دا وخت زړه ډاډ پیدا کوي، او دغه سکون د اسلامي تصوف په نظر کې سعادت دی. (۵م م۸۷-۸۸)

ارواښاد استاذ د خپلې مثالي او ارماني ټولنې د رغېدا لپاره پښتون دا سې روزي، چې د نفس تزکيه او لوړ روحاني مورال ولري، او دا هله ممکن دي، چې د (( أدخلوا فى السلمِ كافة )) پيغام په عمل کې پلی شي. ښايي همدا لامل ؤ، چې په نژدې ماضي کې د افغانانو تر ټولو ستر ګتيات چې لويديځ د پېړۍ معجزه وباله، په يوې حيرانوونکې ماتې بدل شو. پوهاند رښتين د خپلې علمي او فلسفي کره کتنې په ترڅ کې نړيوال مدنيتونه څېړي، او په دې ګروهه دی، چې د روښانه مدنيت له لومړي مرکز مصر نه علم و پوهه يونان او روم ته وغځېده، او دغه تمدن څو پېړۍ وځلېده؛ خو د تمدن کوم مثالونه چې په لويديځ کې د (پېړني) له غرونو د ختيځ (چين) تر غاړو مورګو پورې اسلام وځلول، نو د ژوندانه د ښستېيزو اصولو او د جګو او لوړو اخلاقو خزانې را برسېره شوې، او د نړۍ په تاريخ کې يوه ځلانده دوره پيل شوه. هغه د اتلسمې او نولسمې پېړۍ په اوږدو کې د اروپا نوي مدنيت ته کتنه کوي، چې د تخنيک په زور پورته اسمان ته وختل، او لاندې د سمندر تل ته کوز شول؛ خو د نورې نړۍ استحصال او استعمار حيواني نظريه ګڼي، چې ددې تخنيک له غروره وزېږېده، او د دوو سترو نړيوالو جنګونو تباهي يې پايله شوه. هغه ډېر کلونه وړاندې امريکا ته اخطار ورکوي، چې د ژوند په لوړو منارو دې د لوړتيا انګازې بايد د نورو د ايللو پلمه نه شي، ګڼې خامخا به په مخ ځپېږه وخوري. استاذ د صنعت و تخنيک د غرور په نيلي سپرلۍ ښخې د فطرت مخالفه ګڼي، او د پرځېدا وړاندوينه يې کوي. (۲م۸۰)

ارواښاد استاذ رښتين د ادب يو مهم توکي (شعر) ته هم په ډېر ارزښت قايل دی، چې د ټولنيزو موضوعاتو په ترڅ کې يې کره کوي. شاعران په دوو ټوليو (فطري او کسبي) ويشي. هغه طبيعي شاعران لکه د انځر د ګل ډېر لږ ګڼي، نو ورسره د شعر د څومره والي (کميت) ربړه هم حل کېږي. د څرنګوالي (کيف) په باب يې نظريه داده، چې شاعران بايد د ژوند اړتيا او د زمانې غوښتنه په پام کې ولري. ملي پاخه شاعران د ولس د ويښتيا به او ټولنې ته د لوړو اخلاقو پيغام لرونکي بولي. په خوږو ترانو او نغمو خلکو ته حرکت ورکول، عشقي او تصوفي اشعار ويل، د طبيعي مناظرو انځورګري ځکه اړينه ګڼي، چې پدې صورت کې د شعر فن او هنر خپل کمال ته رسي. د انسان د معنوي قوتونو يو ستر ځواک خپله جلوه ښکاره کوي، او د انسانيت يو لوی حکمت را څرګند يږي.

د شعر د کره کتنې په ترڅ کې که هر څو طبيعي شاعران مثتثنی ګڼي، خو ځوانانو ته د خوشال خټک، رحمان بابا، حميد مومند، عبدالقادر خټک، کاظم خان شيدا، ميرزا خان انصاري او نورو لويو پښتنو شاعرانو دېوانونه ټکي په ټکي کتل او په شعري ښېګڼو يې پوهېدل اړتيا ګڼي. استاذ د خپلو فلسفي څرګندونو په ترڅ کې شعر او موسيقي د يوه کالبوت دوه روحه ګڼي، بلکې له روحه يې هم زيات په لطافت ګروهمن دی؛ ځکه چې د دواړو د حلول ځای روح دی. دغه وينا يوه بله ربړه هم حلوي، او هغه دا چې سالم شعر غريزه نه پاروي، بلکې روح په وجد راولي، او کله چې روح له نفساني ګردونو سپېځلی شو، نو پر دماغ او زړه د معنوياتو بارانونه راوريږي. (۷م۲۰۰)

هغه پر وزن او اهنګ يوازې د شعر مانۍ ولاړه نه، په حقيقت کې نړۍ پرې ودانه ګڼي؛ که له نړۍ تول، وزن يعنې برابري او عدل ورک شي، نو هر څه به ګډوډ او د کايناتو ټول نظام به تس نس شي. د درانه مشر استاذ رښتين نيو که پر شعر ډېره سخته بريښي؛ شعر د ژوند تفسير او تعبير ګڼي، او په دې عقيده دی، لکه چې څنګه ژوند بې هدفه نه دی، دغسې د ژوند تصوير او تفسير هېڅکله بې هدفه کېدلی نه شي. دا هم مني، چې په لوړ ادبي شعر يا نثر کې کله کله هدف څرګند نه په کنايي ډول وي، خو يو لوړ عالي او ټولنيز مطلب د استعاري او کنايې د وينا پوره ځواک او مهارت غواړي. ولې هغه نظمونه او نثرونه چې نه ترې د بلاغت او وضاحت د اصولو پر بنسټ په کنايي ډول کومه موخه څرګنديږي، او نه په څرګنده کوم لوړ هدف سندريز کولی شي، په کلکه غندي، او د داسې بې هدفو شتون او نه شتون د ټولنې او نړۍ لپاره يو شان ګڼي. (۸م۱۴۲)

د پوهاند رښتين دغه نظر د روښاندي کولتوري نسل لپاره د يوه تاريخي سبق حيثيت لري، چې ژوندی ادب په دماغونو کې د سياست رښا اچولی شي او سياسي قوت په کې د ودې او ترقۍ روح پوکي. ادب بشري ژوند له فنا

ځخه ساتي، او ولسونه له ورکېدو ژغوري. همدغسې یوازې په شعر کې نه د ژوند هر اړخ له تقلید ژغورلی غواړي، او دا یې نظر دی، چې که څوک په کولتوري او ثقافتي چارو کې د نورو پښنې پیل کړي، او د بل خم رنګ واخلي، هغه ملت په حقیقت کې خپله ازادي وبایلله.

**پایله**:

د اروابناد پوهاند رښتین د اثارو څېړنه د سترو پوهانو او اکاډمیو کار دی؛ دی یو مؤرخ، ژبپوه، عالم، شاعر، لیکوال او پر دې ټولو سربېره یې ژور فکر د عرفان او فلسفې ځرکونه هم لري. د قدرمن استاذ ژبنیو اثارو ته ډېره پاملرنه شوې، خو دده افکار او د پښتنې ټولنې د رغښت لپاره یې ژور مفاهیم لکه څنګه چې ښایي، نه دي څېړل شوي. له همدې کبله ورته په دې ماتو ګوډو ټکیو کې نغوته وشوه؛ دا لړ په ډېر ومنئ. زما وړاندیز دا دی، چې د استاذ رښتین د علم له سمندره دې د پښتونخوا پر ځمکه د علم او عرفان دغه ویالې هم راروانې شي. استاذ ډېر عالم دی، که ډېر مفکر؟ هیله ده، راتلونکی نسل به د دغه نابغه شخصیت د مقام پر ټاکلو خامخا پرېکړه کوي.


## Abstract:

Professor Sadiqullah Riekhteen is undoubtedly the pride of contemporary tides of Pashto language and literature. His valuable contributions and dedications to Pashto Language as an Author, Linguist, Historian, and Poet are greatly appreciable that deserve a prominent states in the entire string literary creativity. Besides, His deep and immense thoughts have beautifully touched and added some ornamental beauty to sophism and philosophy. Though, His language related publications have been greatly appreciated and broadly illustrated, the other constructive and reformative thoughts regarding the formation of society have not been elucidated to the extent that ought to be. In this peculiar work of research, an attempt has been made to shed light upon the hopes and thoughts of the prominent Professor regarding the formation of a purposeful society that have been vividly reflected in his literary creative works.


**اخځلیکونه**:


۱- ډاکتر راج ولي شاه خټک.(۱۹۹۷). د ښکلا ورمه، سریزه. پېښور یونیورسټي: پښتو اکیډمي.
۲- خوشال خټک. (۱۳۴۵). دستارنامه، د پوهاند رښتین سریزه. کابل: پښتو ټولنه.
۳- پوهاند رښتین. (۱۹۹۵). د ژوند پلوشې. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.
۴- حمزه شینواری. (۱۳۸۹). کلیات، غزلې. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.
۵- پوهاند رښتین. (۱۳۷۴). د ژوند پلوشې. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.
۶- پوهاند رښتین. (۱۳۷۴). د ژوند پلوشې. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.
۷- پوهاند رښتین. (۱۹۹۷). د ښکلا ورمه. پېښور: پېښور یونیورسټي، پښتو اکیډمي.
۸- پوهاند رښتین. (۱۳۷۲). پیاوړي شاعران. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.

پوهندوی فضل الرحیم (شګیوال)
طب پوهنځی- جــراحي څـانګه

# په کوچنیانو کې قبضیت او د هغې پایلې

**لنډیز:**
څرنګه چې قبضیت د غټانو په زیاتو ناروغیو کې د یو عرض په ډول ښکاره کېږي، ولې په ماشومانو کې د یوې عامې ناروغۍ په ډول ښکاره کېږي چې د قبضیت څخه وروسته د یو شمېر زیاتو ناروغیو لامل ګرځي چې درملنه یې سخته او څینې وخت د خطر څخه ډکه وي. که په لومړي وخت کې د ماشوم د قبضیت مخنیوی وشي او یا په لومړنیو وختونو کې تداوي شي، ماشوم او کورنۍ د لوی ناورین څخه ژغورل کېږي.

**سریزه:**
څرنګه چې قبضیت د ماشومتوب دورې یوه عامه ستونزه ده، باید لومړې د قبضیت څخه مخنیوی وشي او که چېرې قبضیت رامنځته شي او ژر درملنه ونشي، د یو شمېر ناروغیو لامل ګرځي. د بېلګې په توګه د ګېډې دوامداره مزمن درد، Anal Fissure، Rectal Prolaps، Mega Colon، Malnutration، Fecal Incontenance او داسې نور. که چېرې موږ د قبضیت په فیزوپتالوجي معلومات ترلاسه کړو، په اسانۍ سره کولای شو ددې ناروغۍ مخه ونیسو او په اسانه ډول یې درملنه وکړو.

**موخې:**
څرنګه چې د قبضیت په لومړۍ مرحله کې په ساده ډول مخنیوی کېږي او که چېرې ځنډنی شي، د یو شمېر ناروغیو لامل ګرځي چې درملنه یې مشکله او زیات وخت ته ضرورت پیدا کوي. په لومړي وخت کې کمه پاملرنه د یو لوی ناورین څخه مخه نیولی شي چې د څېړنې موخه د ماشوم والدین او طبي پرسونل ته ددې ښودنه ده چې په ګډه د ناروغۍ څخه په کم لګښت، کم وخت او لږه پاملرنه د ناوړه اختلاطاتو مخنیوی کولای شي.

**مواد او کړنلاره:**
د ماشومانو جراحي کتابونو، طبي ژورنالونو او انترنیت څخه ګټه اخستل شوې او همدا ډول عملاً ناروغان د روغتون په OPD، IPD او شخصي کتنځي کې د نظر لاندې نیول شوي، د سبب لټه شوې، په خپل وخت تشخیص شوي او د وقایې او درملنې لپاره یې په عملي ډول کار شوی او همدا ډول د اختلاطاتو په صورت کې هم ناروغان تداوي او جراحي عملیات شوي دي.

**قبضیت کوم حالت ته ویل کېږي او څه پایلې لري؟**
قبضیت د کولمو د نظم خرابوالي ته ویل کېږي چې غایطه مواد په ریکتوم کې کلک شي، د کولمو حرکات کمېږي او غایطه مواد په ځند سره خارجېږي. په لومړنۍ مرحله کې امکان لري یوازې د غایطه موادو قوام کلک او وچ وي، وروسته د کولمو حرکات کمېږي او د غایطه موادو د کتلې له کبله د غټو کولمو لومن لوی او د زیاتو غایطه موادو د جمع کېدو لامل ګرځي او بالاخره اختلاط یا پایېږي کوي چې د ګېډې د دوامداره درد، Anal Fissure، Rectal Prolaps او د التهاب رامنځته کېدو لامل ګرځي.

**د قبضیت پتو فیزیولوژي:**
زیاتره مهال په ماشومانو کې رکتم خالي وي، خو کله چې د غایطه موادو کتله رکتم ته ورسېږي Mass Reflax له کبله غایطه مواد یو یا دوه ځلې د ټیله کېدو سبب شي چې په رکتم کې د غایطه مواد شته والی سبب ګرځي چې د رکتم د عضلي طبقې د کش کېدو لامل ګرځي چې Pressure Receptors تنبه او د Defection Reflex او د Afferent arc د پیلېدو سبب ګرځي او غایطه موادو د اطراح احساس پیدا کوي چې Afferent Arc د رکتم د تقلص او د معصرو د استرخا سبب ګرځي او

د ګېډې د عضلاتو د تقلص په وسيله د غايطه مواد د تخليه کېدو پروسه بشپړه کېږي (چې د رکتم او مقعد معصره په ارادي او غيري ارادي وسيله صورت مومي) نو موړې تړوله پروسه د Stretch د تنبه په اثر چې د رکتم په جدار کې واقع دی، پیل او تر هغه چې Collapse په حال پاتې شي او بيا غايطه مواد رکتم ته داخل شي. په حاده مرحله کې قبضيت د لنډې مودې لپاره د بېلګې په ډول د Appendectomy څخه وروسته په ماشوم کې پيدا کېږي. رکتم خپل مقويت ساتي او د غايطه موادو خارجېدل په اسانۍ سره د Laxative شافو او امالي سره صورت مومي، ولې په Chronic Constipation حالت کې د Rectal Inertia موجود وي او د رکتم جدار زيات کش شوی وي او Receptors ستړي او ستومانه وي او تنبه نه اخلي او شاف او Laxative دوا ورباندې اثر نه کوي او غايطه مواد په څنډ پاتې کېدو له کبله او به يې نورې هم په چپ کولون کې جذب او غايطه مواد وچ او کلکېږي چې د وچ کلک او غټې غايطي کتلې تېرېدل د درد لامل ګرځي چې اکثر وخت د مخاطي غشا د څيرې کېدو (Anal Fissure) سبب ګرځي او ماشونه غواړي چې دردناک تغوط وکړي چې ددې له کبله غايطه کتله نوره هم زياتېږي او د Inertia سبب ګرځي او يو معيوب حالت رامنځته کوي او کله هم د مزمن Colitis په ډول التهابي سيروزي (Enco Presis) چې Incontinence په ډول د ماشوم پرتوګ د غايطه مواد سره ککړوي (Fecal Soiling) ميکونيم د زيږون څخه 6-8h وروسته 80% ماشومانو کې خارجېږي، امکان لري زياتره ماشومان په 24H کې ميکونيم خارج کړي. تر دوه کلنۍ پورې ماشومان غايطي کنترول نه لري، وروسته د 4-2 کالو پورې معايي حرکات او تغوط کنترول کېږي، نو په دې بنياد د تغوط کولو تربيه Toilet Training دوه کالو وروسته ماشوم ته شروع شي. Toilet Training بايد تدريجي مخکې يوړل شي او جبري ډول اجرا نه شي چې روحي فشار پيدا نکړي چې د دوامدار قبضيت سبب ګرځي. (۱م۱۳۲)، (۵م۱۰۴۰)

**هغه فکتورونه چې د مزمن قبضيت سبب ګرځي:**

۱- هغه وخت چې د کولمو د حرکاتو بې نظمي رامنځته شي، د قبضيت لامل ګرځي.

A- عصبي اسباب:

- د نخاع شوکي ابنارملتي لکه Spina Bifida او يا د نخاع ترضيض

- د Ganglions پرابلم لکه Aganganlionosis (په Hirschsprung's) او Dysganglionosis (Neuro intestinal dysplasia). (۳م۵۰۲)، (۳م۲۷)

B- ميتابوليک افات، لکه Poisoning، Hypocalciumia، Hypervitaminusis D، Hypothyroidisim (د سرپو تسمم)

C- دواګاني او خواړه، لکه کم فايبر لرونکي خواړه او اضافي اوسپنه ، Opiods او Anti convulsion دوا.

۲- اناتوميک بندښت، لکه د Anus تنګوالی، قدامي Ectopic anus او Anorectal Achalasia

۳- د تغوط د ميکانېزم ګډوډي

A- د تغوط غوښتنې يا اشتها اغېزمنېدل:

- درد، لکه په Anal Fissure کې.

- Psychogenic لکه په زور Toilet Training يا د بل ماشوم د زيږون له کبله چې د مور توجه د ماشوم څخه ګرځي. (۱م۲۳۲)، (۴م۲۴۹)

- مکتب ته د تللو تشويش (چې ماشوم ته د تغوط لپاره اجازه ورنکړل شي او يا وخت پيدا نکړي او يا ماشوم شرمېږي)

- په زياته اندازه د مور او پلار سره مينه لرل.

B- د تغوط ناکافي غوښتنه يا اشتها:

هغه ماشومان چې دماغي تاخر او ناروغۍ اخته وي چې د رکتم د ډکوالي احساس کموالی یا کولمو حرکاتو کموالی، د معصري کمزور کنترول، غیر منظمه غذا او ځای په ځای ناسته. په ذکر شوو سببونو کې د غایطه موادو جمع کېدل د مصعري د کشش سبب ګرځي چې د بې اشتهايئ سبب کېدای شي چې د قبضیت د وخیم کېدو لامل ګرځي.




قبضیت او د هغې سببي فکتورونو یو د بل پسې ځانګړتیاوې.

**وقایه**:

ددې لپاره چې ماشوم د قبضیت څخه وساتل شي، باید لاندې ټکو ته پاملرنه وشي:

۱- ماشوم ته باید د هغه د عمر سره مناسب خواړه ورکړل شي.

۲- تر هغه چې ماشوم د تغوط عادت پیدا کړي، باید د تغوط لپاره وهڅول شي.

۳- د ناروغیو او عملیاتو وروسته څومره چې ژر وي، ماشوم د تغوط د عمل لپاره وهڅول شي او د تغوط عمل بیا تامین شي.

۴- په نورمال حالت کې ماشوم ته د Toilet لپاره سهار او ماښام وخت ورکړل شي او که تغوط هم ونکړي، د (۱۵) دقیقو لپاره د تغوط عمل لپاره کېنول شي. (د غذا خوړلو وروسته د Gastro Intestinal Reflex تنبه لپاره ښه وخت دی). (۱م۱۳۲۲)، (۳م۵۱۰)

**درملنه**:

په هغه صورت کې چې ماشوم په مقعد برخه کې اناټومیکه نقیصه (Defect) ولري، که مقعدي تنګوالی او قدامي Perianal anus موجود وي، د جراحي عمل سره تداوي شي؛ په هغه صورت کې چې Hersch Sprung's ناروغي ولري، د Aganglonic برخه قطع او لرې شي، ولې که نور لاملونه د قبضیت موجود وي، باید د درملنې پروګرام ورته و سنجول شي او لاندې سوالونه ځواب کړو:

- د درملنې هدف څه شی دی؟

تغوط باید بې درده، غایطه مواد نرم، د کولمو او معصرو حرکي او تقلصي فعالیت نورمال نظم پیدا کړي.

- داکتر د ناروغ لپاره څه وکړي؟
د ناروغانو والدينو او يا ماشوم که پوهېږي، د ناروغۍ په پايلو وپوهول شي او درملنې پروګرام ورته تشريح شي، ترڅو د درملنې جذباتي او اخلاقي ملا تړ ترلاسه شي.
- د درملنې پروګرام څه شی دی؟
کامیابه درملنه هغه ده چې د رکتم توسع له منځه یوړل شي، غایطه مواد نرم کړی شي او تغوط عمل بې درده شي، تر څو د Laxative موادو څخه په غير نورمال تغوط صورت ونيسي.

۱- **په هغه صورت کې چې ناروغ ملايم قبضيت ولري**: که ماشوم د غوا شيدو او نورو څخه استفاده کوي چې د قبضيت لامل يې ګرځېدلي وي، بايد قبض کوونکي غذا تدريجي کمې او فايبر لرونکي خواړه زيات شي او په شيدو کې Maltogen مواد اضافه شي. په لويو ماشومانو کې د نس ناستې (مسهل) دواګانو لکه Senokit څخه استفاده وشي، دغه دوا په ماشومانو کې ښه زغمل کېږي.

۲- **په هغه صورت کې چې ماشوم شديد قبضيت ولري**: ناروغ ماشوم په Rectal Anertia اخته وي، په پرمختللي حالت کې معصري هم مقويت له لاسه ورکړی وي، په دې صورت کې د کولمو ميخانيکي تخليې ته ضرورت دی، امالي او شاف څخه استفاده وشي، يا په روغتون کې د انيستزي لاندې د غايطه مواد د ګوتو په وسيله تخليه شي، وروسته د مسهل موادو او د خوړو رژيم تغير او په موضعي ډول د شاف او امالي سره څو اوونۍ حتی مياشتې تداوۍ ته ادامه ورکړل شي. هغه وخت چې تغوط بې درده شي، نو تداوي به مثبته وي، په دې صورت کې لاندې ډول تعقيب شي:
- تغوط هره ورځ په معين وخت چې د ماشوم او کورنۍ لپاره کافي وخت موجود وي او مسترح اوسي چې غذا څخه وروسته غوره ګڼل کېږي چې ګاسترو کوليک عکسه پيل کېږي.
- که ماشوم **۵-۱۰** دقيقو پورې تغوط ونکړي، بيا ورته اماله ورکړل شي.
- رکتم بايد هره ورځ خالي وساتل شي، ترڅو د کولمو نظم تدريجي فعال شي.
- ناروغ ماشوم **۳-۴** هفتې وروسته معاينه او وارزول شي چې تداوي څومره موثره تمامه شوې ده.
په منځني ډول ٪۸۰ ماشومان ددې تداوۍ سره تر درېو مياشتو پورې ښه کېږي، خو بايد **۲-۸** مياشتو پورې تعقيب شي. (**۲م م ۲۰۲-۵۱۳**)

**د قبضيت پايلې**:

۱- Clonic inertia: يا د غټو کولمو عطالت چې په زياته پيمانه غايطه مواد په رکتم کې ټولېږي، ولې کوم عضوي افت موجود نه وي، ولې مزمن قبضيت رامنځته کېږي چې د Hirsch sprung's ناروغۍ کې هم منځته راځي، ولې برخلاف په مزمن قبضيت کې هغه وخت چې ماشوم بيت الخلاء ته ځي، ناروغي پيدا کېږي. neonat درد کې موجود نه وي او هم د Barium Enema سره د رکتم توسع تر Spincter پورې رسېږي. که Biopsia واخستل شي، نو نورماله Gangilun موجود وي.

۲- د غايطه مواد incontinence يا fecal Soiling د مزمن قبضيت يو عمده علت جوړوي چې د کلکې غايطې کتلې په شاوخوا نرم مواد د کولمو افرازادو سره په خپل سر بې ارادې خاريجېږي Rectal exam په وخت کې غايطه موادو کې کتله جس کېږي.

۳- د ګېډې درد او هم امکان لري، د ګېډې معاينې په واسطه هم کتله جس شي. د مزمن قبضيت سره امکان لري، ډول ډول د ګېډې دردونه پيدا شي او موقعيت کې هم فرق کوي، امکان لري په دواړو Fossa Iliac کې اوسي چې والدين يې د Appendicitis خوا ته فکر کوي، امکان لري کوليکي درد د کولمو د حرکاتو شديدوالي سره موجود وي، د درد په وخت کې ګېډه Resonance حالت لري. امکان لري Left Fossa Iliac درد ناک وي، يا ټول کولون په جس سره

دردناک وي. کله چې ماشوم د کم وخت وروسته تکرار معاينه شي Tenderness کم او ورکېږي، که غايطه مواد تخليه صورت ونيسي، درد له منځه ځي، يو تعداد نور اختلاطات منځته راځي.

**پايله**:

دا چې قبضيت يو ډېر عادي مرض دی چې د ځينو ناروغيو په وخت رامنځته کېږي، ولې که درملنه يې ونه شي زياتې ناخوالې رامنځته کوي. زمونږ په دې ليکنه کې د قبضيت زياته پېښېدنه په ماشومانو کې د مهلکو ناروغيو لامل ګرځي چې لاملونه يې په ګوته شوي دي او هم د هغې د مخنيوي لارې ښودل شوي دي او ښې اسانه لارې چارې چې هر ډاکتر او طبي کارکوونکی حتی د کورنۍ غړي کولای شي د قبضيت او د قبضيت د ناخوالو په اسانۍ مخه ونيسي او په هغه حالت کې چې قبضيت دوامداره او اختلاطي شي، ډاکتران په ځانګړې ډول د ماشومانو جراح يې په ښه توګه درملنه وکړي، ترڅو د کورنۍ او ټولنې د اوږو بار ونه ګرځي.


## Abstract:

Constipation is as a symptom in some diseases in adults but in Children it is as a common illness who must be prevented in the bossiness because it can be the cause of some disease that there treatment is difficult. Easy way to treated Contipation by Changing diet , Toilet Ttaining , adopting , Healty bowel habits and Taking latives .


## References:


1-Bennibga MA, Bullar HA, Taminau JA! Bio Feedback Training in Constipation.Arch Dis Child. 68:126.1993

2- Hussain S2, Lorenzo CD: Motitlity disarder: diagnosis and treatment For Paediatric Patient. PaediatrclinnN.Am49; 27-51,2002

3- Weinberg G. Boley SJ: Anorectal contenance and management of constipation in paediatric surgery Eds Ashcraft KW.Pub WB Sounder Company philadelphia 2000 P502-510

4- Weaver LT, stainer H: bowel habits of young children, Arch Dis child 59:649, 1984

5- Simpson BB etal: surgical evaluation and management of re factor constipation in older children Jr pediatric surg 31:1040 1996

6- Jones's wp: clinic pediatric surge diagnosis and treatment of constipation 12: 117: 1992

7- GHAI .Essential pediatric 6th edit Diagnosis for constipation child .49-102 .2004

8- WEB WWW. Nationwide childerns, org / Constipation

پوهـــــندوی دوکـــــتور غـــــلام نبی (ســــیدی)
پوهنځی زراعت- دیپارتمنت اقتصاد و توسعه زراعتــــی

# رشـــد نفوس و تامین مواد غذایی

**خلاصه:**

نیازمنـدی و ضـروریات انسـان بـرای زنـدگی مرفـه و ارام بسـیار زیـاد بـوده لـیکن دسترسـی بـه مـواد غـذایی متـوازن یکـی از نیازمندی هـای عمـده جامعـه بشری بـرای بقـای حیـات انسـان شـمرده مـی شـود. بـه همـین دلیـل تـامین مـواد غـذایی بـرای نفـوس در حـال رشـد در راس پالیسـی دولـت هـا در اکثـر کشـورهای جهـان قـرار داشـته، کـه توسـط فعالیـت هـای زراعتـی تهیـه و عرضـه میگـردد. یکـی از چـالش هـای عمـده در تـامین مـواد غـذایی عبـارت از افـزایش رشـد سـریع نفـوس بـوده کـه فعـلاً نفـوس جهـان ۷.۷ بیلیـون میباشـد و دانشـمندان بـه اسـاس رشـد نفـوس جمعیـت جهـان را الـی سـال۲۰۵۰ م یـازده بیلیـون تخمـین و پـیش بینـی مینماینـد. تهیـه و تـامین مـواد غـذایی الـی شـروع قـرن بیسـتم بـا بکـار بـردن زراعـت عنعنـوی و توسـعوی صـورت گرفتـه، لـیکن عرضـه ثابـت زمـین غـرض افـزایش محصـولات زراعتـی و همچنـان محـدودیت روز افـزون زمـین هـای زراعتـی در نتیجـه توسـعه شـهرها، خانـه هـای مسـکونی و شـاهراه هـا انکشـاف زراعـت توسـعوی را در تـامین مـواد غـذایی بـه مشـکلات مواجـه سـاخت، بنـاءً از نیمـه دوم قـرن بیسـتم انکشـاف زراعـت تشـدیدی یعنـی بـالابردن حاصـلات فـی واحـد زمـین بـا بکـار بـرد و اسـتعمال مقـدار زیـادتر سـرمایه، کـار و عوامـل تولیـد و دسـت اوردهـای انقـلاب سـبز در اکثـر کشـورهای پیشـرفته جهـان اغـاز گردیـد. زراعـت تشـدیدی در تـامین مـواد غـذایی رول عمـده داشـته لـیکن در صـورت عـدم احتیـاط تـاثیرات منفی را بالای محیط زیست و ایکو سیستم ها در قبال دارد.

**مقدمه:**

اصـطلاح نفـوس یـا (Population) عبـارت از یـک جمعیـت از مـردم اسـت کـه در یـک محـل، شـهر و یـا کشـور خـاص زنـده گـی مـی نماینـد. موضـوع رشـد نفـوس (population growth) عبـارت از فیصـدی تغیـر سـالانه نفـوس یـک کشـور اسـت، کـه بـه اسـاس تفـاوت تعـداد توالـدات و وفیـات سـنجش میگـردد، بنـاءً رشـد نفـوس مـی توانـد مثبـت و یـا منفـی باشـد. بـر مبنـای رشـد نفـوس تغیـر در تمـام نیازمنـدی هـا و ضـروریات مـردم یـک کشـور پـیش بینـی و تعـین میگـردد، مـثلاً تغیـرات در سـاختمان هـای زیربنـایی، خـدمات اجتمـاعی، مـواد غـذایی، اب، بـرق، فرصـت هـای استخدام و غیره. (۸)

در ایـن مقالـه تنهـا رابطـه بـین رشـد نفـوس و دسترسـی بـه مـواد غـذایی متـوازن یعنـی تـامین مـواد غـذایی (Food security) مـورد تحقیـق و مطالعـه قـرار گرفتـه اسـت. تـامین مـواد غـذایی بـه ایـن مفهـوم اسـت، کـه تمـام مـردم یـک کشـور در همـه اوقـات بـه مـواد غـذایی کـافی و قابـل اطمینـان دسترسـی داشـته باشـند؛ بـدون شـک تـامین مـواد غـذایی بـا انکشـاف و چگـونگی زراعـت در یـک کشـور ارتبـاط دارد. قابـل یـاداوری اسـت کـه سـکتور زراعـت در تـامین مـواد غـذایی، تولیـد و عرضـه نباتـات صـنعتی، اسـتخدام قـوای بشـری و جـذب اسـعار خـارجی در اقتصـاد اکثـر کشـورهای جهـان نقـش عمـده دارد، بـه اسـتثنای چنـد کشـور عمـده تولیـد کننـده نفـت، زراعـت عمـده تـرین بخـش تولیـد مجمـوعی اجتمـاعی، تولیـد ناخـالص داخلـی و وسـیله معیشـت اکثریـت نفـوس تمـام کشـورهای رو بـه انکشـاف را تشـکیل میدهـد. انکشـاف زراعـت غـرض تـامین مـواد غـذایی مـوازی بـه رشـد نفـوس صـورت گرفتـه، لـیکن در بعضـی از کشـورهای نـادار انکشـاف زراعـت از رشـد نفـوس عقـب مانـده و اکثریـت نفـوس ایـن کشـورها هنـوز هـم بـه غـذای کـافی و متـوازن دسترسـی ندارنـد. افغانسـتان هـم از جملـه کشـورهای رو بـه انکشـاف بـوده، کـه

با سیستم زراعت عنعنوی موجوده غله جات مورد نیاز جامعه را تولید نموده نمیتوانند و در سال ۲۰۱۲م به اندازه ۲.۵ میلیون متریک تن گندم وارد نموده است. در کشورهای پیشرفته انکشاف زراعت و سرعت افزایش مواد غذایی از رشد نفوس به مراتب بالاتر بوده و بعضی از این کشورها مقدار زیاد مواد غذایی خصوصاً غله جات را به ممالک رو به انکشاف و نیازمند صادر مینمایند. انکشاف زراعت الی مرحله زراعت تشدیدی و تجارتی چهار مرحله تاریخی را طی نموده است: مرحله قبل از تاریخ (Prehistoric)، دوران تاریخی زراعت (Historic Agriculture) که بنام دوران امپراطوري روم (Roman Period) یاد میگردد، زراعت فیودالی و زراعت علمي (Scientific agriculture). زراعت علمي از قرن شانزدهم با رشد سریع نفوس در اروپا اغاز گردید و بعد از جنگ دوم جهانی انکشاف زراعت تشدیدی یا متراکم با استفاده از دست اوردهای انقلاب سبز به خاطر تامین مواد غذایی در کشورهای پیشرفته جهان اغاز گردید. (۴ص۱۱)

## اهداف:

تحقیق و تحریر این مقاله تحت عنوان رشد نفوس و تامین مواد غذایی اهداف ذیل را در بر دارد:

- تحلیل سرعت رشد نفوس جهان از ادوار قبلی الی سال ۲۰۵۰م.
- تشخیص پرابلم های که به ارتباط تامین مواد غذایی موجود است و سفارشات به ارتباط حل انها.
- (رشد نفوس و تامین مواد غذایی) عمده ترین موضوع مورد بحث بوده، بناءً تحقیق و تحریر این مقاله برای اهل مسلک، علاقه مندان و محصلین دیپارتمنت اقتصاد و توسعه زراعتی اثر مفید بوده و مورد استفاده قرار گرفته میتواند.

## مواد و میتودولوژی:

تحریر این مقاله علمی جنبه تحقیق کتابخانه یی داشته و از کتاب ها، منابع معتبر علمی و صفحات انترنیت که به موضوع ارتباط داشته اند، استفاده گردیده است. در تحریر مقاله سعی گردیده تا موضوعات مربوط به آن با در نظر داشت تمام اصول، قواعد و معیارهای علمی و تحقیقی ترتیب و تنظیم گردند، یعنی اول اثار علمی مربوط به موضوع مطالعه شده و معلومات مورد نیاز جمع اوری و بعداً به صورت سیستماتیک در مقاله تنظیم گردیده اند. در تحریر این مقاله اول موضوع رشد نفوس و بعد مسایل مربوط به تامین مواد غذایی مورد بحث قرار گرفته است.

## دورنمای رشد نفوس:

نفوس یا (Population) عبارت از یک دسته یا گروهی از ارگانیزم خاص بوده که در یک منطقه و یا اکو سیستم مشخص زندگی می نمایند، لیکن این کلمه به ارتباط انسانها عبارت از یک جمعیت از مردم است که در یک محل، شهر و یا کشور خاص زنده گی میکنند. کلمه نفوس از یک لغت لاتین (Populus) گرفته شده که معنای ان مردم (People) میباشد. موضوع رشد نفوس و افزایش مواد غذایی برای بار اول توسط توماس رابرت مالتوس (Thomas Robert Malthus) در سال ۱۷۹۸ مطرح و مورد تحلیل قرار گرفت و چنین نتیجه گیری نمود که نفوس به اساس تصاعد هندسی (۱،۲،۴،۸،۱۶،۳۲) و تولید مواد غذایی به اساس تصاعد حسابی (۱،۲،۳،۴،۵،۶) افزایش مي یابد و یا اینکه رشد نفوس از افزایش مواد غذایی سریعتر میباشد، به این اساس وی به کنترول نفوس تاکید می نمود. (۵ ص۱۹۵)

نفوس جهان از سال ۱۷۵۰ الی ۱۹۰۰ سه برابر گردید. رشد نفوس با توسعه و افزایش خدمات صحی در جریان قرن بیست سریعتر گردید و از سال ۱۹۰۰ الی ۱۹۸۰ نفوس کره زمین باز هم سه برابر افزایش یافت و به ۴.۴ بیلیون رسید. قابل یاداوری است، که نفوس جهان طی سالهای (۱۹۵۰ـ۱۹۸۰) سالانه ۱.۹ فیصد رشد را نشان میدهد؛ روزانه هزارها طفل نوزاد به نفوس جهان افزود میگردد و نفوس موجوده کره زمین بیشتر از ۷.۲ بیلیون می

باشد. نفوس جهان الی سال ۲۰۲۵ میلادی به ۸ بیلیون و تا سال ۲۰۵۰ به ۱۱ بیلیون افزایش خواهد یافت. (۲ص۴۵)

به اساس معلومات دست داشته نفوس افغانستان در سال ۲۰۱۲ بیشتر از ۳۰ میلیون بوده و رشد آن ۲.۲۲ فیصد می باشد. راپور احصایه ثبت نفوس نشان میدهد که سالانه ۵۰۰ هزار طفل نوزاد به نفوس کشور افزوده میگردد. (۸)

نظر به معلومات بانک جهانی کثافت نفوس در فی کیلومتر مربع در افغانستان ۴۲ نفر می باشد ، که با بازگشت مهاجرین به کشور نفوس مجموعی و کثافت نفوس افزایش خواهد یافت. رشد سریع و مداوم نفوس جهان توجه همه دانشمندان را در رابطه به افزایش و تامین مواد غذایی و مواد خام زراعتی، همچنان به ارتباط تهیه و عرضه هر چه بیشر خدمات اجتماعی برای جامعه بشری را به خود معطوف نموده است، زیرا ۲/۳ حصه نفوس جهان هنوز هم به ضروریات عمده و معیاری دسترسی نداشته و به اساس راپور ملل متحد ۸۵۰ میلیون انسان در جهان به فقر و گرسنگی امرار حیات می نماید. (۲ص۲)

مسئله صحرایی شدن زمین های خشک و بایر (Land desertification) در دنیا که توسط انسانها صورت گرفته، پرابلم های جدی محیطی، اجتماعی و اقتصادی را به میان اورده است. اضافه از ۲۵۰ میلیون انسان در جهان در نتیجه صحرایی شدن اراضی مستقیماً متاثر گردیده اند و قریب یک بیلیون انسان در صد کشور دنیا در معرض خطر قرار دارند. افغانستان یکی از جمله کشورهای است که از صحرا شدن زمین های خشک به صورت جدی تهدید گردیده و از این ناحیه مردم آن رنج می برند ، این پرابلم ساحات وسیع از کشور خاصتاً مناطق جنوب غرب را در بر میگیرد. (۳ص۲۱)

## تامین مواد غذایی:

یکی از نیازمندیهای عمده جامعه بشری برای بقای حیات انسانها دسترسی به مواد غذایی متوازن بوده، که توسط فعالیتهای زراعتی تهیه و عرضه میگردد. از ابتدا الی شروع قرن بیستم افزایش تولیدات زراعتی با توسعه و افزایش ساحه تحت کشت یا زراعت توسعوی (Extensive Agriculture) صورت گرفته و حاصل فی واحد زمین یک حالت تقریباً ثابت را داشته است. انکشاف سریع زراعت در جریان قرن بیستم با استفاده از دست اوردهای علمی و تخنیکی اغاز گردید و حاصل فی واحد زمین افزایش دوامدار و گراف صعودی را نشان میدهد. (۴ص۱۲)

در ایالات متحده امریکا افزایش محصولات زراعتی الی سال ۱۹۴۰م با توسعهٔ ساحه تحت کشت صورت میگرفت، لیکن بعد از سال ۱۹۴۰ دانشمندان و محققین زراعت به افزایش حاصلات فی واحد زمین زیاد کوشش نمودند ، چنانچه الی سال ۱۹۵۷م حاصلات برنج فی واحد زمین ۵۸ فیصد و گندم ۹۰ فیصد افزایش یافت. (۴ص۱۳)

لیکن بعداً نظربه نوسانات قیمت محصولات زراعتی در مارکیت ها ، زارعین به افزایش تولید محصولات زراعتی علاقمندی زیاد نداشتند و به ثبات قیم محصولات تاکید میگردید ، زیرا ثبات قیم باعث افزایش عواید زارعین و ارتقای سطح زنده گی آنها میگردد. (۵ص۲۱۱)

بعد از جنگ دوم جهانی انکشاف و توسعه شهرها ، پارکها ، ساحات مسکونی، میدانهای هوایی، خطوط آهن، شاهراها و بنادر تجارتی ساحه زمین های تحت کشت و انکشاف زراعت توسعوی را محدودتر ساخت، بناً افزایش محصولات زراعتی با استفاده و استعمال زراعت متراکم یا زراعت تشدیدی (Intensive Agriculture) به عنوان مناسبترین فرصت با استفاده از دست اوردهای انقلاب سبز (Green Revolution) آغاز گردید.

## زراعت تشدیدی (*Intensive Agriculture*):

یکی از روشهای موثر در تهیه و عرضه مقدار بیشتر مواد غذایی برای ۲.۷ بیلیون نفوس جهان که به صورت دوامدار در حال افزایش است، عبارت از انکشاف و بکار برد زراعت متکاثف و یا تشدیدی میباشد. زراعت متکاثف یا تشدیدی عبارت از یک سیستم از تولید زراعتی است، با استعمال ماشین الات و مقدار زیاد نیروی مصرف شده (Inputs ) مانند سرمایه و کار و همچنان استعمال مقدار زیاد کود کیمیاوی و ادویه جات کشنده آفات (Pesticides )، حشره کش ها (Insecticides )، گیاه کش ها (Herbicides ) و ادویه جات کشنده فنگس ها (Fungicides ) در فی واحد زمین مشخص میگردد. (۷)

در نتیجه زراعت متراکم و تشدیدی حاصل فی واحد زمین بالا رفته و فرق برجسته را با زراعت عنعنوی و توسعوی که مقدار نیروی مصرف شده و همچنان حاصل فی واحد زمین کمتر است، نشان میدهد. با انکشاف تشدیدی زراعت استعمال مقدار کار در فی واحد زمین بالا رفته تا آنکه نیروی کار کارگر توسط استعمال ماشین الات زراعتی (Energy Inputs) تعویض گردد. زراعت متکاثف و تشدیدی از جمله تدابیر موثر در مقابل رشد نفوس بوده، که با تطبیق آن مقدار زیاد مواد غذایی از عین قطعه زمین تولید شده میتواند اشکال عصری زراعت تشدیدی در بخش تولید محصولات نباتی با استعمال ماشین الات زراعتی، کود کیمیاوی، هارمون های تنظیم کننده رشد نباتات، حشره کش ها و ادویه جات کشنده آفات، مشخص گردیده که در نتیجه حاصل فی واحد زمین نسبت به زراعت توسعوی چندین مراتبه بیشتر میباشد.

### فارم های تشدیدی مالداری (Intensive Animal Farming):

عبارت از نگهداری تعداد زیاد حیوانات در یک ساحه محدود احاطه شده با عرضه مقدار زیاد مواد غذایی حیوانی، آب و ادویه جات که برای نمو سریع و صحت حیوانات ضروری بوده و در نهایت مقدار بیشتر محصولات حیوانی تولید گردد، میباشد. فارم های متراکم مالداری در ایالات متحد امریکا و بعضی از کشور های پیشرفته جهان زیاد معمول بوده، که اکثراً بنام (Factory Farming) یا (Industrial Farming) یاد میگردند.

انواع فارم های تشدیدی عصری در بخش تولیدات مالداری (حیوانات اهلی Livestock، مرغداری و پرورش ماهی) که اکثراً به صورت مصنوعی تغذیه و پرورش میگردند، در بعضی از کشورهای پیشرفته جهان پیشرفت قابل ملاحظه نموده و در تولید و عرضه مقدار زیاد محصولات حیوانی نقش عمده دارند. فعالیت تولیدی این فارمها طوری تنظیم گردیده که با کمترین مصارف تولیدی زیاد ترین مقدار محصول را باید تولید و در مارکیت عرضه نمایند، برای این مطلب در فارمهای تشدیدی مالداری ماشین الات و ادویه جات معیاری مناسب مورد استفاده قرار گرفته و از مزیت اقتصادی مناسبترین سایز فارم و تجارت یک نوع محصول در خرید و فروش و تمویل فارمها نفع می برند. این فارمها در بعضی از کشور های پیشرفته زیاد توسعه یافته و قسمت زیاد گوشت، شیر، تخم و محصولات نباتی که در سوپر مارکیت ها موجود است به این روش تولید میگردند. فارمهای متکاثف مالداری به اساس پائین بودن معیار ارامش و اسایش حیوانات، آلوده گی محیط زیست و موضوعات صحی همواره از طرف دانشمندان حفاظه محیط زیست مورد انتقاد و اعتراض قرار میگیرند. (۹)

زراعت تشدیدی دارای مزایای اقتصادی بوده، لیکن در صورت عدم احتیاط تاثیرات منفی را نیز در قبال دارد که ذیلاً مفیدیت و بعضی از اضرار آن طور خلاصه توضیح میگردد.

### الف- مزایای زراعت تشدیدی (Advantages):

۱- حاصل فی واحد زمین، فی واحد کارگر و فی واحد مصارف پولی به مقایسه زراعت توسعوی طور قابل ملاحظه زیادتر میباشد.

۲- با پائین بودن مصارف تولیدی مقدار بیشتر مواد غذایی به دسترس مستهلکین قرار میگیرد.
۳- عین ساحه زمین قادر خواهد بود که مقدار بیشتر مواد غذایی را برای جمعیت بیشتر عرضه نماید و در نتیجه خطر قحطی و گرسنگی کمتر میشود.
۴- با زراعت متراکم و تشدیدی مناطق جنگلی و ساحات که درختان بصورت متراکم روئیده اند، حفظ و نگهداري میگردند؛ در حالیکه با زراعت توسعوی جنگلات از بین برده شده و به زمین زراعتی مبدل میگردد. همچنان با زراعت تشدیدی که از قطع نمودن جنگلات جلوگیری میگردد، نفوذ گازات کاربن ډای اکساید که موجب تشویش و هراس انسانها میگردد، کمتر شده، ایکو سیستم ها نگهداری گردیده و زمینه مصروفیتهای کاری دوامدار را مساعد می سازد.
۵- در فارمهای متکاثف مالداری (Intensive Livestock Farming) گازات تولید شده میتان که یک تهدید برای صحت انسانها و هم سبب گرم شدن کره زمین میگردد تحت کنترول آمده و غرض تولید انرژی حرارتی و یا تولید انرژی برقی مورد استفاده قرار گرفته و از مصرف مواد محروقاتی دیگر صرفه جویی میگردد. (۹)

## ب- اضرار زراعت تشدیدی (Disadvantages):

زراعت تشدیدی اگر چه محیط را به طرق مختلف تغیر میدهد، لیکن عمده ترین اضرار آن قرار ذیل میباشد:
۱- استعمال کود های کیمیاوی سیستم بیولوژیکی دریاها و جهیل ها را تغیر داده میتواند.
۲- حشره کش ها در عین زمان که حشرات مضره را از بین میبرند، حشرات مفیده را هم نابود می سازند.
۳- اگر در زراعت تشدیدی منجمنت به شکل درست دنبال نگردد، سبب زهرالود شدن زمین های زراعتی گردیده و انواع نباتات از بین رفته و بالاخره به زمین ها لا مزروع و صحرایی تبدیل خواهد شد.
۴- در این نوع زراعت غرض تولید، انتقال و استعمال کودهای کیمیاوی و ادویه جات کشنده آفات به مقدار زیاد عامل انرژیکی (Energy Inputs) ضرورت است که غیر اقتصادی میباشد.
۵- مواد کیمیاوی استعمال شده یا در مزرعه باقیمانده و یا توسط جریان آب به آبهای دریاها و خلیج ها یک جا شده و یا در آبهای زیر زمینی نفوذ نموده و تاثیرات منفی را با ایکوسیستم ها و صحت انسانها به وجود میآورد.
۶- استعمال Pesticides تاثیرات منفی گوناگون بالای صحت و سلامتی کسانی وارد مینماید که انرا در مزرعه استعمال می نمایند و همچنان کسانی که نزدیک ساحه استعمال شده و یا اینکه به سمت پاین جریان باد زنده گی می نمایند، شدیداً متاثر میگردند. مواد غذایی الوده شده به حشره کش ها بالای صحت و سلامتی مصرف کننده گان نیز اثرات منفی دارد، لیکن مدیریت سالم در زراعت میتواند تاثیرات منفی فوق الذکر را کمتر ساخته به عنوان اخرین وسیله عملی در فعالیتهای تولیدی و تصمیم گیری زارعین موثر تمام شود. (۱ص۱۲)

## نتیجه گیری:

از مطالعه رشد نفوس و تآمین مواد غذایی چنین نتیجه گیری میگردد، که:
۱- سرعت رشد نفوس بطی تر گردیده و تولید مواد غذایی به سرعت بیشتر در حال افزایش است، بناءً نظریه مالتوس رد میگردد.
۲- علت فقر و غربت در کشورهای رو به انکشاف ناشی از توزیع غیر عادلانه مواد غذایی میباشد.
۳- حاصلات فی واحد زمین در زراعت تشدیدی به مقایسه زراعت توسعوی و عنعنوی چندین مراتبه بیشتر است.
۴- زراعت متراکم یا تشدیدی در بخش مالداری به ارتباط ازدیاد تولید نتایج خوبتر را نشان میدهد.

۵- چون زراعت تشدیدی مصارف زیاد را ایجاب مینماید، بناءً در اکثر کشورهای رو به انکشاف کمتر معمول است.

۶- زراعت تشدیدی در صورت عدم احتیاط سبب الوده گی محیط زیست گردیده و به ایکو سیستم ها و منابع آب زیان اور است.

## سفارشات:

۱- زارعین برای تمویل مزارع خویش و استفاده از زراعت تشدیدی به منابع قرض دهنده به شرایط سهل باید دسترسی داشته باشند.

۲- در انکشاف زراعت تشدیدی استعمال مواد کیمیاوی باید به دقت و احتیاط و همچنان مشوره با متخصصین زراعت صورت گیرد.

۳- غرض کنترول آفات نباتی، اصلاح حاصلخیزی خاکهای زراعتی و استفاده موثر از آن دهاقین باید تناوب زراعتی را مراعت نماید.

۴- برای استفاده موثر از منابع تولیدی در مدیریت فارمها و تصدی های زراعتی باید اصلاحات لازم صورت گیرد.

**Abstract:**

Population growth and food security by Associate Professor Dr. Ghulam Nabi "Sayedi"

Introduction: Human being demand for better life is about unlimited , but access to balance food which is the needed of human society for the continuation of better life is vital important , for this reason food supplying according to population growth comes in the priorities of government policy in the world which provided by Agriculture activities. During past centuries many people have discussed the link between population growth and food production. First of all Malthus studied this link and came to the conclusion, that population increases faster than food production. Actually after World War II by (GreenRevolution) begin intensive Agriculture and intensive Animal farming and food production increases faster than population growth in developed countries. Intensive agriculture plays important role in food production but if it doesn't care about the application of chemical materials such as fertilizer, pesticides, herbicides and so, it may put negative effect on environment and all ecosystems.

## ماخذها (References):

۱- دهقانیان، سیاوش. (۱۳۷۴). مدیریت کشاورزی. ایران: دانشگاه فردوسی مشهد.

2- Barlow Raleigh, Land Resource Economics, 4thEdition,USA, Michigan University 1986

3 - Lijiayang, ICARDA, Human and Nature, working together for sustainable development of dry land, 2006

4 - Malik M.Asif and M.I.Chohan, Agriculture Economics, Pakistan - Lahore, 2009

5 - Shahid A.Hamid, Agriculture Economics, Pakistan - Lahore, 2012

6 - Vaseer Habibullah, Fundamentals of Economics, partI, Pakistan – Lahore 2006

7 - BBC School Fact sheet on Intensive Farming.

8 - CIA World Fact book, Afghanistan Population Growth, Feb/21/2013

9 - Intensive Farming , Google, Free Encyclopedia.

10 – Food Security, Google, Free Encyclopedia.

پوهــــــندوی مستعــــــلي (نیــــازی)
ښوونې او روزنې پوهنځی- تاریخ څانــگه

# ننگـــرهار د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې

**لنډیز**:
ننگرهار ولایت د تـاریخ پـه هر دور کې د ځانگړي ستراتیژیک موقعیت څخه برخمن و او د امپراتورانو پـه اداري واحـدونو کې یې د یـو لـوی اداري واحد پـه توگـه شـتون درلـود ، پـه ځـانگړي ډول د لرغـونې دورې امپراتـوران د مجبوریت او د دې ولایت د ځانگړي جغرافیایي موقعیت په اساس له دې ولایت څخه تېرېدلو وروسته د هند هېواد ته رسېدلي دي. ننگرهار ولایت کې د لرغونو تمدنونو د شتون له امله یو بډایه ولایت دی، خو دغه لرغوني اثار تر ډېره حده خوندي پاتې نشول، خو بیا هم ننگرهار خپل تاریخي اهمیت ساتلی دی؛ یوازې د ننگرهار او جلال اباد د کلیمې د ترکیب او لرغونتوب په اړه په تاریخي کتابونو کې مهم او د پام وړ لاسوندونه شتون لري.

**سریزه**:
نوې ټکنالوژۍ د تاریخي څېړونو لپاره ښه زمینه برابره کړې ده چې پر مټ یې باید ددې ولایت د لرغونو تـاریخي سیمو اثارو څېړنه ترسره شي او د لرغون پېژندنې د اصولو او روشونو څخه د گټې اخستنې پـه واسطه هغـه اثـار او ځمځې چې د منځـه تللو پـه حـال کې دي، د هغـوی د لیکنې او کینـدنې نېټـه معلومـه شـي، د هغـوی د سـاتنې او سیلانیانو او سیاحینو لپاره زمینه برابره شي او په ټوله کې یې ساتنې ته جدي پاملرنه وشي، ځکه د ننگرهار ولایـت لرغوني اثار د هېواد د نورو سیمو په څېر د نابودۍ له گواښ سره مخ دي. د هند د وروسیتو جغرافیه لیکونکو څخه یو کس مرتضی حسین بلگرامي په صدیقة الاقالیم کتاب کې چې په دولسمه هجري پېړۍ کې یې لیکلی، خراسـان تر سرلیک لاندې د لاندېنیو ښارونو او سیمو نومونه اخلي:
مروه شاهجان، نسیا ، سرخس، بلخ، ججکتو ، میمنه، اندخوی، ختلان، بدخشان، کابل، غوربند ، ستالف، خحاک، ریگ روان، بامیان، غزنی، کندهار د زابل پـه نامـه او د خراسان د پاچاهـانو پخوانۍ پلازمېنـه، لـوگر، زمینداور، کافرستان (نورستان)، هزاربچه، ننگرهار، جلال اباد، چهارباغ، باجوړ، سوات، هیکلپو (لعل پوره)، بگرام، پېښور، (شینډنډ) اسفزاین، جنوشان، او بسطام ښودلی دی چې په دې کې ننگرهار او جلال اباد سیمې شاملې دي. (۷م۲۱)
په ذکر شوي کتاب کې ننگرهار او جلال اباد د خراسان د محلي واکمنانو د پلازمېنې په توگه ذکر شوي، په دغه مقاله کې کوښښ شوی چې د ننگرهار او جلال اباد د ښار تاریخ په مختلفو مرحلو کې په کرونولوژیک توگه تشریح شي.

**موخې**:
- دا چې د افغانستان تاریخ د تاریخ پـه څانگـه کې د اصلي مضمون او د افغانسـتان معاصر تاریخ د ننگرهـار پوهنتون په نورو پوهنځیو کې تدرسېږي، د دې مقالې لیکنه د مسلک خاوندانو او نورو مینه والو سره د ننگرهار د تاریخ د ځینو تاریخي پېښو سره اشنایۍ کې پوره مرسته کولای شي او د تاریخ د څانگې محصلینو سره د درسي مرستندویه موادو په توگه مرسته کوي.
- ددې مقالې لیکنه کېدای شي چې نور لیکوال وهڅوي چې د ننگرهار ولایت د تاریخ او فرهنگ پـه نـورو برخو کې څېړنې تر سره کړي.
- دا مقاله د پوهندوی علمي رتبې څخه د پوهنوال علمي رتبې ته د لوړېدو لپاره لیکل شوې ده.

## د ننګرهار نومونه:

ګندهارا د افغانستان لرغوني سيمه او د اريانا د مهمو ولايتونو څخه ګڼل کېده چي په خپل وخت کې د علم او فرهنګ زانګو او اوسنی ننګرهار د ګندهارا د مدنيت پلازمېنه وه. (۷م۱۹۹)

د ګندهارا مهم ښارونه کابل، پېښور، اټک، چاريکار، نوښار، کوټ، بره رکی راجان، جلال اباد، د لغمان مندروړ، چارباغ، اسمار، ښېوه، لالپوره، چغه سرای او نور. اوسنی جلال اباد ښار هيوان تسنګ په خپلو ليکنو کې د ناګار په نوم ثبت کړی او په همدې نوم پېژندل شوی. د اسلام څخه مخکې هم د ننګرهار کليمه د نګارا په بڼه ليکل شوې ده. (۵م۳)

(نګار) يا (نګارا) يا (ناګارا) د (ناګارهار) يا (ننګرهار) سيمې يو مهم ښار و، ډېر امکان لري چي ددغه ښار د نامه د شهرت پر بنسټ به د (ناګاراها) نامه عموميت پيدا کړی وي او سيمه به يې رانغاړلې وي. سيمه يزي کيسې (په ځانګړي ډول د کونړ دري کې) وايي چي (ننګر) يا (نګر) يا (نګار) اصلاً يو پاچا و او که دا مسئله حقيقت ولري د (هار) کليمه زمونږ د ډېرو ښارونو نومونو په پای کې راغلې ده، نو کولی شو چي هغه د (نګار ښار) وګڼو، (نګر- نګار)، (نګارا) ځينو يوازې ښار ژباړلی دی، ځينې په هغه کې د نګ (Nag) (نک- Nak) کليمه ويني چې د سانسکريت له (ناګا- Naga) څخه راوتلې او څو ماناوې لري لکه غر، ماروفيل ځينو (نګرکوتی) ښار چي البېروني يې د کابل پاچاهي په لړۍ کې يادونه کړې ده، هماغه (نګار) ګڼي چي د اشوکا په ستوپه کې چي (۲۰۰) ګامه لوړوالی يې درلود، د نوموړي ښار د لويديز په نيم ميلي کې پرته وه. (نخاره غونډۍ) په نامه ستوپې يادونه کوي. (نګار) د پير پلازمېنې په نامه هم ياد شوی دی. ګټګهم د هيوان تسنګ د پير پلازمېنه چي نګار دی، جلال اباد د لويديز په دوه ميلي د بګرام سيمې ته مخامخ ګڼي، خو سن مارتن د هغه موقعيت لږ د بګرام لويديز لور ته په هغې لوړې ښيي چې کابل سيند او سور رود (سرخرود) سره يو ځای کېږي. (۸-م م۱۰۹-۱۱۰)

همدارنګه د هډې حفرياتو په اړه په ۱۰۲۳موسيو الفرد فوشه فرانسوي د حفرياتو د ډلې رئيس وړاندوينه وکړه چې ګودار په ۱۹۲۳ شروع وکړه او د (۱۹۲۲-۱۹۲۸) کلونو تر منځ موسيو پرتو پراختيا ورکړه. همدې د غونډيو د معبدونو څخه خصوصاً د هغې نقطې څخه چي د لويې غونډۍ په نوم يادېږي، د بودا او بوديس ګچي هيکلونه، د فرعي ارباب النوع راهبين، بودايي اساطير او مختلف حيوانات کشف شول.

هيلو Hilo: د پخوانې تلفظ هغه ته (ناګاراهار) وايي او هيوان تسنګ چيني سيلاني هغه (ناکي لوهر- Nakie_ lo_ HO) په نامه ياد کړی دی چي هغه فرعي ارباب النوع راهبين بودايي اساطير او مختلف حيوانات کشف شوي وو، دغه ښار يې هيلو باله. د هغو څېړنو له مخې چي د هغه ځای شاوخوا کې شوي دي، هغه جلال اباد او سنی هډه وه، د چيني سيلاني يادښتونو کې شرح شوي دي. نوموړي ښار ۴-۵ لي پراخوالی درلود، پر لوړه پروت و او چاپېره تري ښکلي بڼونه وو، په هغه وخت کې چي د هيلو ښار ودان و، (نګار) ښار هم له هغه سره سيالي کوله او هغه دواړه ودان وو، د پلازمېنې په نامه هم ياد شوي. ډېر امکان لري چي (نګار) د پخوانۍ زمانې پلازمېنه او (هيلو) د بودايي پير مرکز وي. له څېړنو څخه دا پايله لاسته راځي چي هيلو به هډه وي، ګننګهم انګريزي په دې فکر دی چي دا نوم سنسکريت له (هډه- Hadda) کليمې څخه چي د (هډوکي) مانا لري، اخستل شوی چي د بودا د کوپړۍ هډوکی د هغې په يوه ستوپه کې و، په دې نامه مشهوره شوه. هډه د اوسني جلال اباد ښار د سويل په ۸ کيلو مترۍ کې پرته ده او ودانيو يې اوس مهال د يوه کلي بڼه خپله کړې ده. (۸م۱۱۰)

د پخوانيو ليکنو او معتبرو اسنادو پر بنسټ د ننګرهار لرغوني ولايت خپل موجوديت د تاريخ په اوږدو کې ساتلی دی، له لومړۍ قبل الميلاد پېړۍ څخه تر شپږمې ميلادي پېړۍ پورې د کوشانيانو د پراخې امپراتورۍ په دوره کې په تېره بيا د کنشکا په واکمنۍ کې د بوديزم دين او مذهب په ننګرهار کې پرمختګ وکړ او له ۱۵۰۰۰ پنځلس زرو

څخه زیاتې ورې او غټې مجسمې (بتان) یوازې د هډې ښار له شاوخوا سیمو څخه لاس ته راغلي چې له میلاد څخه مخکې پېړیو پورې اړه لري. نوموړي تاریخي اثار ددې سیمې د لرغوني مدنیت استازیتوب کوي، له بده مرغه اوس ددغه تاریخي اثارو ډېره برخه په ناقانونه توګه نورو هېوادونو ته وړل شوې ده. د هډې ښار د هندي بودايي ښارونو او بامیانو تر منځ یو ستر تاریخي ښار و چې اوس یې د وروستیو ناورینونو له کبله یوازې کنډوالې تر سترګو کېږي. (۲م۴)

## جلال اباد ښار:

د جلال اباد د اوسني ښار بنسټ ډېره په (۹۸۹_۹۹۰ هـ ق، ۱۵۰۷ز کال) د ګورګاني مغولي امپراتور جلال الدین اکبر په حکم د کابل مستوفي خواجه شمس الدین خوافي په واسطه کېښودل شوه. پخوا تر دې دغه ځای جوی شاهي بلل کېده او شیخ ابوالفضل علامي چې د اکبر پاچا وزیر ؤ، په اکبر نامه کې د جوی شاهي یادونه داسې کړې ده: ((تابوت میرزا هندال را در جوی شاهی......)). د جلال اباد ښار د ننګرهار ولایت مرکز دی او د کابل- پېښور د لویې سوداګریزې لارې په اوږدو کې پروت دی چې ۲۳۶ کیلو متره مربع په شاوخوا کې پراختیا لري او د افغانستان د لویو ښارونو په ډله کې راځي. په منځنۍ توګه یې د کلني ورښت اندازه ۱۴۶ ملي مترو په شاوخوا کې اټکل شوې ده، د بوټو د ودې او نمو لپاره خورا مناسب او مساعد اقلیم لري، ددې ښار په شاوخوا کې کرنیزې ځمکې زیاتې دي چې په پراختیا کې یې اغېزمنه ونډه لري. (۱م۲۱۹)

د جلال اباد ښار له جوړېدو وروسته تقریباً درې پېړۍ منظم پرمختګ وکړ، د انګریزانو لومړي یرغل (۱۸۳۹ز کال) پر مهال (چې د امیر دوست محمد خان په واکمنۍ کې) نوموړی ښار وران شو او ډېر زیان یې ولید؛ دویم ځل په (۱۸۴۲ز کال) د یوې زلزلې له امله دوباره وران شو. د انګریزانو یرغل له امله په (۱۸۷۸ز کال) د امیر شېرعلي خان د دویم ځلي واکمنۍ پرمهال نوموړي ښار سخت زیان ولید او په (۱۸۸۰ز کال)، د یو سیلاب له امله تر نیمايي زیاته برخه یې ورانه شوه، خو د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال (۱۹۰۱_ ۱۹۱۹ز کال) په دې ښار کې ځینې ماڼۍ او ښونه جوړ شول، اما د ګډوډۍ پر مهال (۱۳۰۷ل کال) د امان الله خان پر ضد شورشونو کې په (۱۳۰۸ل کال) ددې ښار ځینې ودانۍ وسوځول شوې. (۲م۲۳۰)

جلال اباد ښار د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال (۱۹۰۱-۱۹۱۹ز کال) د هېواد ژمنۍ پلازمېنه وه، د هغه تر مړینې وروسته سردار نصر الله خان په دې ښار کې ځان د پاچا په توګه اعلان کړ. د ننګرهار ولایت د مختلفو سیمو خلکو د امان الله خان د واکمنۍ پر مهال (۱۹۱۹-۱۹۲۹ز کال) د خپلواکۍ په جګړه کې فعاله ونډه واخسته چې د دولتي ځواکونو ملاتړ یې وکړ او انګرېزان یې په هر ځای کې کلابند کړي وو؛ دلته د ځینو غازیانو نومونه اخلم، لکه شیخ پاچا اسلامپوري، میر صاحب جان، د چکنور ملا صاحب، میر سعید پاچا، سید احمد پاچا، د کونړ میر زمان خان، د سرکانو میاصاحب سردارخان مهمند، حیدرخان غازي ساپی، مولوي حبیب کاموي، د شینوارو صوفي صاحب زوی؛ د شینوارو ملکانو لکه حیات خان، عظیم خان، حضرت خان، میرافضل خان او نورو د انګلیسانو پر ضد جهاد پیل او تورخم پورې ورسېدل چې د دوی د رسېدو سره سم انګلیسانو د (۱۹۱۹ز کال) د جون په دریمه د متارکې اعلان وکړ. (۲م۷۲۰)

په (۱۳۰۱ل کال) په جلال اباد کې یو لویه جرګه د (۸۷۲) تنو استازو په ګډون دایره شوه او د هېواد لپاره یې اساسي قانون تصویب کړ. د جلال اباد ښار د (۱۳۸۰_۱۳۹۱ل) کلونو کې ډېر پرمختګ وکړ، ځینې ښونه بیا جوړ شول، د ننګرهار پوهنتون په خوا کې ځینې د خصوصي زده کړو موسسې او یو زیات شمېر خصوصي ښوونځي او د زده کړو کورسونه جوړ او د ځوان نسل په تربیه کې یې ونډه واخسته. د جلال اباد د ښار څېره اوس د بدلون په حال کې ده او

پخوانۍ ودانۍ په کې ډېرې کمې تر سترګو کېږي، که دغه د پرمختګ پروسه مخکې ولاړه شي او سياسي وضعيت پرې بده اغېزه ونه کړي، جلال اباد ښار او ننګرهار ولايت به نور پرمختګ هم وکړي.

**پايله:**

د ننګرهار ولايت او جلال اباد ښار د تاريخ په اوږدو کې د هر واکمن د پام وړ وو او د خپل ستراتېژيک موقعيت په درلودلو سره يې د سترو فاتحينو توجه جلب کړې. د بوديزم د دين او تبليغ پر مهال د هډې ښارګوټی د هند او باميانو تر منځ يو مهم او د ارزښت وړ مرکز و؛ د اسلام مقدس دين له همدې لارې هند ته ورسېد او د انګرېزانو د دوو يرغلونو پر مهال د هغوی لښکرې له همدې ولايت څخه د کابل په لوري تېرېدلې، خو د ګندمک (۱۸۷۹ز کال) او ډيورنډ (۱۸۹۳ ز کال) د تړونونو په واسطه دې ولايت ډېرې سيمې له لاسه ورکړې او ددې ولايت مېشت قومونه د ډيورنډ د کرښې په واسطه په دوه برخو ووېشل شول. د ننګرهار ولايت د تاريخ په مختلفو مرحلو کې د هېواد د نورو لرغونو سيمو په څېر ځلاند تاريخ لري او د هېواد په اقتصادي، سياسي او ټولنيز پرمختګ کې يې د پام وړ ونډه اخستې ده.

## Abstract:

In every period of history. Nangarhar province had a unique strategic location. And it was the separate administration A moung the different conguerier administrations. Especially the pervious amprators were needed to go to India in the land of Nangarhar. And Nangarhar is one of the reach and developed provinces it is the only province which has maintained its historic worth. Both ningarhar and jalalabad have importance in the history books; there for it need the new technologies to describe each village.

**اخځليکونه:**

۱- تڼيوال، محمدظريف. (۱۳۹۱ل). د افغانستان عمومي جغرافيه. ننګرهار: مومند خپرندويه ټولنه

۲- رحمتی، محب الله. (۱۳۶۴ هـ ش). جغرافيای بشری افغانستان. کابل: پوهنتون کابل

۳- سنګروال، شهسوار. (۱۳۸۴ل). د افغانستان د تاريخي جغرافيې څرنګوالی. پېښور: الازهر خپرندويه موسسه

۴- رشاد، عبدالشکور. (۱۳۸۴ل). د سيمو تاريخي جغرافيه، مرکه کوونکی- صديق الله بدر. کندهار: ميوند کلتوري ټولنه

۵- عزت الله. (۱۳۷۸ ل). د کوز کونړ سيمه ييزه جغرافيه، د پوهندوی علمي ترفيع څېړنيز اثر. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون

۶- غبار، ميرغلام محمد. (۱۳۴۲هـ ش). افغانستان در مسير تاريخ. کابل: مطبعه دولتی

۷- غبار، ميرغلام محمد. (۱۳۹۰ ل). خراسان، ژباړن: رحمت الله هوتک.

۸- کهزاد، احمدعلی. (۱۳۹۱ ل). اريانا، ژباړونکې: ملکه مشتري. ننګرهار: همدرد کتاب پلورنځی

پوهـــــندوی احـــــسان الله (ثاقب)
ښوونې او روزنې پوهنځی- فزیک څانګه

# د فوتو الـکتریک (فـوتو افکت) اغېز

**لنډیز:**

فوتوالکتریک پېښنه د لومړي ځل لپاره د هرتز لخوا کشف شوه، ملیکان یاده پېښنه د زیاتو فلزاتو لپاره د نور په مختلفو فریکونسیو کې وڅېړله؛ وروستۍ څېړنه د انشتاین لخوا ترسره شوه چې نوموړې پېښنه یې د فزیک له نظره تشریح کړه. کله نور د القلي فلزاتو په سطحه ولګېږي، د فلزاتو له سطحې څخه الکترونونه خپرېږي، نوموړي الکترونونه د فوتوالکترونونو او منځته راغلې پېښنه د فوتو الکتریک په نامه یادېږي. کله چې عادي نور په یوه فلزي سطحه ولګېږي، له فلز څخه الکترونونه ازادېږي چې ازاد شوي الکترونونه په برقي دوره کې د جریان د منځته راتللو سبب کېږي. د فوتو الکترونو حرکي انرژي د وارده تشعشع شدت، وارده تشعشع فریکونسي او د استعمال ور فوتومیتال تابع ده. د فوتوالکتریک حادثې تجربوي مشاهداتو څخه نتیجه کېږي چې د خپرو شویو الکترونو حرکي انرژي د صفر او یو اعظمي قیمت په منځ کې قرار لري؛ د شروع کېدو له فریکونسي څخه ښکته فریکونسي نه شي کولی چې له کتود څخه الکترون ازاد کړي. که د انود لوحه له مثبت او د کتود لوحه له منفي قطب سره وتړو، ولتاژ یو مثبت قیمت لري. فوتو جریان د منفي چارجداره ذراتو په واسطه منځته راځي، اعظمي جریان د وارده نور له شدت سره متناسب دی. فوتو جریان د نور په قطع کېدو سره سم قطع کېږي او د نور له رسېدو سره سم شروع کېږي. د فوتو الکتریک پېښې څخه د کمرې په فلش کې، په فضایي بېړیو، ګیراجونو په خلاصولو او داسې نورو کې استفاده کېږي.

**سریزه:**

برېښنا یو له هغو انرژیو څخه ده چې انسان ورته تر هرڅه ډېر ضرورت لري او د خپل ژوند اړتیاوې د هغو ماشینونو په وسیله پوره کوي چې د برېښنا په وسیله کار کوي. په نړۍ کې برېښنایي انرژي د مختلفو انرژیو څخه په لاس راځي، لکه بادي، پوتانسیالي، کیمیاوي، لمریزه او داسې نور؛ خو تر ټولو اسانه لاره د لمریزې انرژۍ څخه برېښنایي انرژي لاسته راوړل دي، ځکه چې لمریزه انرژي نه موسمي ده او نه د نورو انرژیو په شان ډېرو وسایلو ته ضرورت لري. په لومړیو کې ساینس پوهان او د تخنیک کارکوونکي په دې هڅه کې شول چې یوه داسې لاره پیدا کړي چې لمري انرژي په برېښنایي انرژۍ تبدیله کړي، ځکه د لمریزې انرژۍ تبدیل په برېښنایي انرژۍ باندې یوه داسې پروسه ده چې محیط نه ککړوي او په هر ځای کې هر څوک ورڅخه په اسانۍ بې له دې چې د خطر احساس وکړي، ګټه پورته کولی شي. افغانستان په څېر له نوې تکنالوژۍ څخه یو وروسته پاتې هېواد هم له دې نعمت څخه بې برخې نه دی او د هېواد په ګوټ ګوټ کې له نوموړې پروسې څخه استفاده کېږي. د نوموړي موضوع د ارزښت په نظر کې نیولو سره ما هم د (فوتوالکتریک افکت) موضوع د علمي مقالې او څېړنې لپاره انتخاب کړه، ځکه چې یاده پروسه له همدې پېښې څخه سرچینه اخلي او د تخنیکي کارکوونکو لپاره د ډېرو خنډونه په هوارولو کې مرسته کوي.

**موخې:**

د فوتوالکتریک اثر په اړه د معتبرو علمي او نویو موادو راټولول او توحیدول دي چې په اړونده موضوع کې د مسلک د خاوندانو او مینه والو مشکل د حلولو لپاره مرستندوی تمام شي او همدارنګه د راتلونکو علمي ترفیعاتو لپاره یې د یو فرعي اثر په توګه استعمال کړم.

## مواد او کړنلاره:

بېلابېل داخلي او خارجي موثق علمي کتابونه او همدارنګه د انټرنټ معتبر سايټونه د مقالې د ليکلو له موادو څخه عبارت دي له دغو موادو او يا له دغو مختلفو منابعو څخه په انفرادي او جلا جلا ډول سره د مقالې اړوند مواد راټول او وروسته په سيستماتيک ډول سره ترتيب او تنظيم شوي دي.

فوتو الکتريک افکت (Photoelectric effect):

د فوتوالکتريک پېښه د لومړي ځل لپاره په۱۸۸۷ميلادي کال کې د هرتز (*Hertz*) لخوا چې يو جرمني فزيکدان و ، کشف شوه. نوموړي د جستو په لوحه باندې د ماوراي بنفش نور په واردولو سره چې د موج طول يې ($200 - 300nm$) پورې دی، کشف کړل؛ خو هرتز (*Hertz*) د فوتوالکتريک حادثه د فزيک له نظره تشريح نه کړای شوه. وروسته دا پېښه د زياتو ساينس پوهانو په واسطه لکه *J – JThomson Alexander staletov Wilhelm Hallwach, Lenard*, او *Millican* وڅېړل شوه. په پای کې مليکان په (1868 – 1953) ميلادي کال کې دا پېښه د زياتو فلزاتو لپاره د نور په مختلفو فريکونسيو کې وڅېړله او د قناعت وړ پايلې يې لاسته راوړې چې ددې کشف په نتيجه کې په ۱۹۲۳ ميلادي کال کې مليکان د نوبل جايزه واخيسته؛ خو دا داسې پېښه نه وه چې يوازې يې مليکان تر نوبل جايزې پورې ورساوه، د معاصر فزيک پلار انشتين د فوتو الکتريک حادثه د فزيک له نظره تشريح کړه او نوموړي هم د نوبل جايزه ترلاسه کړه .(م.4، م.م. 85 – 86 )

**تعريف:** که چېرې عادي نور د القلي فلزاتو (سوديم، پتاشيم، ليتيم او داسې نورو ) په سطحه ولګېږي، له سطحې څخه يې الکترونونه خپرېږي چې دا الکترونونه د فوتوالکترونونو په نوم او منځته راغلې پېښه د فوتوالکتريک په نوم يادېږي. له پورته تشريحاتو څخه د فوتوالکتريک پېښه په دې ډول تعريفوو: کله چې نور د فلزاتو په سطحه ولګېږي، نوري فوتونونه خپله انرژي چې مقدار يې بايد له لسو څخه تر دوه سوه کيلو الکترون ولټ پورې وي، د مربوطه فلزاتو الکترونونو ته چې کلک تړل شوي وي، ورکوي او په نتيجه کې الکترونونه له فلزاتو څخه ازادېږي يا ايونايز کېږي او په نتيجه کې په برقي دوره کې جريان منځته راځي چې دا پېښه د فوتوالکتريک پېښې په نوم يادېږي. (1، م. 78 ). (5، م. 81 )




پورته شکل د تجربې کړنلاره رانښيي چې د فوتو الکتريک پېښه په کې څېړل شوې ده. *A* او *B* د سوديم او پوتاشيم لوحې په يوه محفظه کې چې له هوا څخه خالي ده، ځای پرځای شوې دي؛ د *B* لوحه د ويشونکي ولتاژ له مثبت قطب سره د يو امپير متر له لارې تړلې ده، کله چې نور د *A* په لوحه وارد نشي د برقي دورې څخه د برق جريان نه تېرېږي. کله چې مونوکروماتيک نور د *A* په لوحه وارد شي، د امپير متر ستن کوږوالی ښيي، يعنې په دوره کې برقي جريان منځته راځي چې دا جريان د فوتو جريان *photo current* په نوم يادېږي. له پورتنيو تشريحاتو څخه دا نتيجه لاسته راځي: هغه وخت چې نور په يوه فلزي لوحه ولګېږي، له فلز څخه الکترونونه ازادېږي چې دا ازاد شوي الکترونونه په يوه برقي دوره کې د

جریان د منځته راتللو سبب کېږي. له بلې خوا د فریکونسي په ثابت ساتلو او د نور شدت ته په تغیر ورکولو سره د الکترونونو خپربدل زیاتوالی پیدا کوي چې په نتیجه کې د فوتو الکترونونو جریان زیاتېږي. [9 م 152 – 151]
اوس که چېرې د دوو الکترودونو ترمنځ د پوتنسیال توپیر په کافي کچه زیات کړو ، په دې حالت کې هغه فوتوالکترونونه چې د $A$ لوحې یعنې کتود په واسطه خپاره شوي د $B$ لوحې یعنې انود ته رسېږي چې په همدې حالت کې د فوتوالکترونونو جریان اعظمي قیمت اخلي. که د پوتانسیل توپیر نور هم زیات کړو د فوتوالکترونونو جریان ثابت پاتې کېږي او تغیر نه کوي. ځکه هغه شمېر الکترونونه چې د $A$ لوحې څخه جلا شوي، د ولتاژ د زیاتېدو په نتیجه کې $B$ لوحې یعنې انود ته رسېږي اوس که ولتاژ نور هم اضافه کړو، نو زیات الکترونونه وجود نه لري چې د فوتوالکترونونو په جریان کې زیاتوالی رامنځته کړي یعنې د $A$ لوحې د الکترونونو تولید توقف کوي چې د نور په شدت پورې اړه لري. (13)
د فوتوالکتریک په پېښه کې له دوو مسئلو سره مخامخ کېږو:
1- که د پوتانسیال توپیر صفر کړو په دې صورت کې د فوتوالکترونو جریان په عین جهت خپرېږي. له دې څخه دې پایلې ته رسېږو چې وارد شوی نور نه یوازې د برقي هدایت سبب کېږي، بلکې یوه الکترو مقناطیسي قوه هم منځته راوړي.
2- که چېرې د پوتانسیال توپیر معکوس شي، یعنې د $A$ لوحه په مثبت قطب یعنې انود او د $B$ لوحه په منفي قطب یعنې کتود پورې وتړو، نو په دې صورت کې د پوتنسیال د کوچني قیمت لپاره جریان په عین لوري شتون لري او دا په اثبات رسوي چې الکترونونه د $A$ لوحې څخه په یو معلوم سرعت خپرېږي او د مقابل لوري څخه ورباندې یوه مخالفه قوه عمل کوي چې له دې قوې څخه د الکترونونو حرکي انرژي زیاته ده او په نتیجه کې جریان نه صفر کېږي چې دا مخالفه قوه د الکترونونو له دفعې څخه منځته راځي. که د منفي پوتانسیال توپیر نور هم زیات کړو د فوتو الکترونونو جریان کموالی پیدا کوي او بالاخره د پوتانسیال په یو توپیر یعنې د څو ولټو په شاوخوا کې د فوتوالکترونونو جریان صفر کېږي. د پوتانسیال دغه توپیر چې د جریان شدت په کې صفر کېږي، د خنډ پوتنسیل یا $(Cut\ off)$ د وارد شوي نور په شدت پورې اړه نلري، بلکې د وارد شوي نور په فریکونسي او د $A$ الکترود په جنس پورې اړه لري. [6 م 110 – 109]




پورته شکل د فوتو الکتریک جریان ښیي چې د ولتاژ تابع دی او د یوې ثابتې فریکونسي لپاره رسم شوی دی. له پورته ګراف څخه معلومېږي چې د ولتاژ په زیاتېدو سره یو زیات شمېر فوتوالکترونونه د $B$ په لوري حرکت کوي او جریان زیاتېږي. تر هغه وخته پورې چې جریان زیاتېږي د کتود یعنې $A$ په واسطه ټول خپاره شوي الکترونونه د $B$ یا انود په واسطه جذب او وروسته جریان ثابت پاتې کېږي. د ازاد شوو الکترونونو اعظمي حرکي انرژي د انرژي د تحفظ د قانون له مخې په لاندې ډول ده:

$$(1)T_{max} = \frac{1}{2}mv_{max}^2 = ev_0$$

په پورته فورمول کې $m$ د فوتوالکترون کتله $V_{max}$ د خپور شوي الکترون اعظمي سرعت او $e$ د الکترون له چارج څخه عبارت دي. له پورته تشریحاتو څخه دې پایلې ته رسېږو چې فوتوالکترونونه او د خپاره شوي فوتوالکترونو حرکي انرژي د لاندې فکتورونو تابع دي:

1- د وارده تشعشع شدت

2- د وارده تشعشع فریکونسي
3- د استعمال وړ فوتومیتالي (*Photometalic*). [3 م 141]

**١- د وارده تشعشع شدت:** په دې حالت کې د تېرې برخې په شان عین الکترون خپروونکی فلز په کار وړو، نور په عین فریکونسي واردوو، خو د نور شدت ته تغیر ورکوو، په نتیجه کې یو ه ډله منحني ګانې چې جریان د ولتاژ په تابع رسم شوې دي، لاسته راځي. لکه څنګه چې په لاندې انځور کې ښودل شوی دی دا منحني ښیي چې قطع کوونکی پوتنسیل او خپروونکو الکترونونو اعظمي حرکي انرژي د نور له شدت څخه ازاده او د نور په شدت پورې اړه نلري؛ خو لاسته راغلی جریان او خپروونکي فوتو الکترونونه د نور له شدت سره نېغه اړیکه لري، یعنې مستقیماً متناسب دي.




پورته شکل جریان د وارده تشعشع د شدت په تابع ښیي. له دې انځور څخه دا پایله لاسته راځي چې د شدت په زیاتېدو سره د فوتوالکترونونو شمېر زیاتوالی پیدا کوي او د هغې په نتیجه کې جریان زیاتېږي. [6 م 109]

**٢- د فریکونسي اغېزه:** په دې حالت کې هم د خپروونکو الکترونونو کټ مټ فلز د نور په عین شدت سره په نظر کې نیسو او د وارد شوي نور فریکونسي ته تغیر ورکوو. د قطع کوونکي پوتانسیال قیمت د هر وار فریکونسي سره اندازه کوو. د فریکونسي په تابع د قطع کوونکي پوتانسیال ګراف رسموو چې په لاندې انځور کې ښودل شوی دی:




د انځور پایله له ورایه مستقیم خط ښیي چې میل $\frac{h}{f_0}$ ښودل شوی دی چې د $f$ فریکونسي محور د $f_0$ په نقطه کې قطع کوي چې په همدې $f_0$ نقطه کې قطع کوونکی پوتانسیال *Cut off* صفر دی او همدا فریکونسي د *Threshold* فریکونسي په نوم یادېږي. *Threshold* فریکونسي هغه فریکونسي ته وایي چې د هغې تر تاثیر لاندې الکترون یوازې د فلز سطحې ته رسېږي او له فلز څخه نه شي جلا کېدای، د فوتو الکتریک حادثه له دې فریکونسي څخه په لوړه فریکونسي کې واقع کېږي او له دې فریکونسي څخه په ټیټه فریکونسي کې د فوتوالکتریک پېښنه امکان نلري. [2 م 288]

**۳- د فوتو میتالي اغېزه:** په دې مرحله کې هغه فلز ته چې الکترونونه ورڅخه خپرېږي، تغیر ورکوو او د نور شدت او فریکونسي ثابت ساتو، یو ګراف لاسته راځي چې یو مستقیم خط دی او د مختلفو فلزاتو لپاره مختلف ځایونه نیسي.
پورتنی انځور د *Threshold* فریکونسي د فوتومیتال په تابع راښیي، له انځور څخه معلومېږي چې خطونه د عین میل لرونکي دي، خو د $f$ له محور سره د تقاطع نقطې مختلفې دي له دې ځایه نتیجه اخلو چې د *Threshold* فریکونسي د فوتومیتال خاصیت تابع ده د زیاتو فلزاتو لپاره د *Threshold* فریکونسي د ماوراي بنفش *Ultra violate* چې د موج طول یې $(200-300nm)$ په شاوخوا کې دی، ښودل شوي دي، اما د سیزیم اکساید او د پوتاشیم لپاره د *Threshold* فریکونسي د لیدلو وړ *spectrumVisible* چې د موج طول یې د $400-700nm$ پورې دی، قرار لري. (11م920-917)

**د فوتوالکتریک حادثې تجربوي پایلې:** د فوتوالکتریک حادثې له تجربوي مشاهداتو څخه لاندې پایلې لاسته راځي:
۱- د خپرو شویو الکترونونو حرکي انرژي د صفر او یو اعظمي قیمت په منځ کې قرار لري چې دا اعظمي حرکي انرژي د وارده فریکونسي تابع ده چې د فریکونسي په زیاتېدو سره د فوتو الکترونونو حرکي انرژي زیاتېږي، خو د نور د شدت په زیاتېدو سره ثابت پاتې کېږي، یعنې د فوتو الکترونونو اعظمي حرکي انرژي د نور د شدت تابع نه ده.
۲- د *Threshold* د فریکونسي $f_0$ څخه ښکته فریکونسي نه شي کولای چې د کتود څخه الکترون ازاد کړي.
۳- کله چې انود یا د $B$ لوحه له مثبت قطب او کتود یا $A$ لوحه له منفي قطب د منبع سره وتړو $v$ یو مثبت قیمت لري چې ددې مثبت ولتاژ په زیاتېدو سره په اول کې جریان زیاتېږي او وروسته ثابت پاتې کېږي، ځکه هغه فوتوالکترونونه چې د $A$ لوحې په واسطه خپرېږي، د کتود په واسطه جذب او زیات ولتاژ په نتیجه کې زیات الکترونونه وجود نلري چې د کتود په واسطه جذب شي او په جریان کې زیاتوالی رامنځته کړي. [7م 958]
۴- فوتو جریان د منفي چارجداره ذراتو په واسطه منځته راځي چې نور هغه له کتود څخه خارجوي.
۵- اعظمي جریان یا مشبوع جریان د وارده نور له شدت سره متناسب دی.
6- فوتو جریان د نور په قطع کېدو سره سمدلاسه قطع کېږي او د نور په رسېدو سره سمدلاسه فوتو جریان شروع کېږي.(14)

**د فوتوالکتریک حادثې په اړه د انشتاین څېړنه:**
د 1905 میلادي کال په شروع کې چې انشتاین 25 کلن ځوان و او په عین حال کې د سویس په څېړنیزه اداره کې په څېړنه بوخت و، د همدې کال په ختمېدو سره درې مهمې پېښې د فزیک له نظره تشریح کړې چې په لاندې ډول یې بیانوو:
1- د براوني حرکت څېړنه.
2- د فوتوالکتریک حادثه چې د همدې حادثې په تشریح کولو سره یې د نوبل جایزه ترلاسه کړه.
3- د نسبیت تیوري.
په 1905 میلادي کال کې انشتاین د پلانک کوانټي تشعشع تیوري په پراخه کچه وڅېړله چې د فوتوالکتریک حادثه په ښه ډول روښانه کړي، د انشتاین تیوري د پلانک د کوانت د فرضیو پر بنسټ ولاړه ده چې په لاندې ډول بیانېږي:
1- د الکترومقناطیسي تشعشع انرژي په متمادي ډول د موج په څېړه کې نه ده خپره شوې، لکه د مادي میخانیکي موجونو انرژي. ځکه دلته انرژي د $hf$ کڅوړو (پاکتونو) په شکل خپرېږي، په داسې حال کې چې $f$ د واردې شوې تشعشع فریکونسي او $h$ د پلانک ثابت په نوم یادېږي چې قیمت یې $h=6.62\times10^{-34}Joule.sec$ دی. [9م155]
دا د انرژي کڅوړې چې د نوري کوانت او یا فوتون په نوم یادېږي او د نور په سرعت حرکت کوي د لوړې فریکونسي په درلودلو سره د لوړې انرژۍ او ټیټې فریکونسي په لرلو سره د کمې انرژي لرونکي دي، یعنې د فوتون انرژي له فریکونسي سره نېغه اړیکه لري.

۲- د انرژي هره کڅوره $hf$ داسې په پام کې نيول شوې چې کولای شي خپله ټوله انرژي الکترون ته انتقال کړي، يا په بل عبارت د فوتو الکتريک په حادثه کې يو نوري فوتون د الکترون په واسطه په مکمل ډول جذبېږي چې په پايله کې الکترون کوانتي انرژي اخلي او د فلز له سطحې چاپېريال ته خپرېږي.

3- د فوتو الکتريک حادثه د فوتون او هغه الکترون چې له اتوم سره ټينګه اړيکه لري، د متقابل عمل پايله ده. د انشتاين د نظريې پر بنسټ کله چې فوتون د $hf$ په انرژي سره د فلز په سطحه وارد شي خپله انرژي د اتوم په داخل کې الکترون ته ورکوي او د اتوم په داخل کې په دوو برخو ويشل کېږي، يوه اندازه انرژي د اتوم څخه د الکترون د ازادولو لپاره په مصرف رسېږي او پاتې انرژي د همدې الکترون په حرکي انرژي اوړي، له پورته تشريحاتو څخه لاندې پايله لاسته راځي:

$$hf = w + \frac{1}{2}mv_{max}^2 = w + T_{max}$$

$$\Longrightarrow T_{max} = hf - w$$

$$(2)\frac{1}{2}mv_{max}^2 = T_{max} \Longrightarrow \frac{1}{2}mv_{max}^2 = hf - w$$

په داسې حال کې چې w د فلز د کار تابع $(Work\ function)$ او $T_{max}$ د خپور شوي الکترون اعظمي حرکي انرژي ده. [8م546]

دويمه معادله د انشتاين د فوتو الکتريک معادلې په نوم يادېږي چې د فوتو الکتريک حادثې ټولې تجربوي پايلو ورانديينه کوي، څکه دا رابطه په روښانه ډول راښيي چې د الکترونونو اعظمي حرکي انرژي د فريکونسي په کموالي سره کموالی پيدا کوي، په اخر کې داسې يوې مرحلې ته رسېږي چې د الکترون اعظمي حرکي انرژي $T_{max}$ د يوې معلومې فريکونسي لپاره صفر کېږي. همدا فريکونسي چې د الکترون اعظمي حرکي انرژي په کې صفر ده، د $Threshold$ فريکونسي په نوم يادېږي او په $f_0$ سره ښودل کېږي، په اخر کې کله چې د اولې معادلې څخه $T_{max}=0$ شي:

$$(3)T_{max} = hf - w \Longrightarrow hf_0 - w = 0 \Longrightarrow hf_0 = w$$

لاسته راځي، له دويمې معادلې څخه دې پايلې ته رسېږو چې يو فوتون په همدې انرژي سره يوازې الکترون د فلز سطحې ته رسولای شي او د فلز څخه يې ازادولای نشي. څنګه چې د فوتو الکترونونو شدت د فلز په سطحه د وارده تشعشع له تېزوالي سره متناسب دی، خو د الکترونونو په حرکي انرژۍ کې زياتوالی نه شي راوړی، څکه د الکترونونو حرکي انرژي له فريکونسي سره اړيکه لري. [9م156]

که چېرې $f < f_0$ وي د وارده نور شدت تشعشع به هيڅ اغېزه ونه لري او که چېرې د نور شدت ډېر کم وي او فوتون $f > f_0$ فريکونسي سره د فلز په سطح ولګېږي، د الکترون د خپرېدلو احتمال موجود دی. مخکې مو ولوستل چې لومړۍ رابطه د خپرو شويو الکترونونو اعظمي حرکي انرژي راښيي، پس هغه الکترون چې په کمه انرژي سره خپرېږي، شايد خپله حرکي انرژي د ټکر په اثر له لاسه ورکړي او ونه شي کولای چې د فلز له سطحې بهر ووځي او يا ممکن په اول کې د $W$ څخه د لږې زياتې انرژي درلودونکې وي، په دې حالت کې اوله معادله په لاندې شکل ليکلای شو:

$$T_{max} = \frac{1}{2}mv_{max}^2$$

$$W = hf_0$$

$$(4)T_{max} = hf - w \Longrightarrow hf - hf_0 \Longrightarrow T_{max} = h(f - f_0)$$

که چېرې $v_0$ قطع کوونکی پوتانسيال وي، په دې حالت کې لرو:

$$(5)T_{max} = \frac{1}{2}mv_{max}^2 = ev_0$$

د (4) او (5) معادلو له پرتلې څخه لرو:

$$(6)h(f - f_0) = ev_0 = v_0 = \frac{h}{e}(f - f_0) \Longrightarrow v_0 = \frac{h}{e}f - \frac{h}{e}f_0$$

په پورته رابطه کې $h$ او $e$ ثوابت دي او په عين حال کې $v_0$ د راکړل شوي فوتوکتود لپاره ثابت دي، پس (6) معادله راښيي چې توقف کوونکی پوتانسيال $v_0$ او د $f$ فريکونسي ګراف يو مستقيم خط دی چې ميل يې $\frac{h}{e}$ دی او د $v_0$ محور د $c$ په نقطه کې قطع کوي چې په لاندې ډول بيانېږي:

$$\left.\begin{array}{r} c=-\frac{h}{e}f_0 \\ m=\frac{h}{e} \\ y=mx+b \end{array}\right\} \Rightarrow v_0=\frac{h}{e}f-\frac{h}{e}f_0 \Rightarrow v_0=mf+c$$

$$\left.\begin{array}{r} v_0=0 \\ f=\frac{c}{m} \end{array}\right\}\left\{\begin{array}{l} f=0 \\ v_0=c \end{array}\right.$$

[6 م 115].(12)

## د مليکان څېړنه، د انشتاين د فوتو الکتريک معادله او د هغې پرتله د پلانک له ثابت سره:

د انشتاين معادله د لومړي ځل لپاره په تجربوي توګه د مليکان په واسطه وڅېړل شوه، مليکان د خنډ پوتانسيال تو پير د وارده نور د فريکونسي په پراخه سيمه کې د مختلفو القلي فلزاتو د فوتوالکترونونو لپاره اندازه کړه. د مليکان تجربوي کړنلاره په لاندې شکل کې ښودل شوې ده:

[9 م 35]




پورتنی شکل د $Dram$ لرونکی دی چې په يو چمبر يا محفظې کې چې کاملاً له هوا څخه خالي دی، قرار ورکړل شوی دی او کولای شو چې له بهر څخه دوران ورکړو. د $Dram$ په داخل کې يو شمېر حساسې فوتوني فلزي سطحې قرار لري چې دا سطحې د هر فلز لپاره د يو تېز چاقو ($k$) په واسطه پاکوو او وروسته د کوارتيزي کلکين ($w$) مخ ته راوړل کېږي چې د کلکين څخه مونوکروماتيک نور په يوه معلومه فريکونسي سره د فلز په پاکه شوې سيمه وارديږي. په نتيجه کې خپاره شوي فوتوالکترونونه د انود ($A$) په واسطه جمع کېږي او د فوتوالکتريک جريان د امپير متر په واسطه اندازه کېږي. (12) وروسته نور په مختلفو فريکونسيو سره واردوو او پوتانسيال په هره مرحله کې اندازه کوو، اوس که د خنډ پوتانسيال $v_0$ ګراف د $f_0$ فريکونسي په تابع رسم کړو، نو ګراف به يو مستقيم خط وي، لکه په لاندې شکل کې د مختلفو فلزاتو لپاره موازي مستقيم خطونه لاسته راځي چې د خنډ پوتانسيال او $f_0$ فريکونسي محورونه په مختلفو نقطو کې قطع کوي. ددې پايله داده چې د $cut\ off$ فريکونسي او خنډ پوتانسيال د وارده نور تابع دي. فرضوو چې د خنډ پوتانسيال د وارده نور د $f$ فريکونسي مربوط دي او د اعظمي حرکي انرژۍ له مخې کولای شو د انشتاين معادله په لاندې شکل وليکو:

$$\left.\begin{array}{r} \frac{1}{2}mv_{max}^2=hf-hf_0 \\ \frac{1}{2}mv_{max}^2=ev_0 \end{array}\right\} \Rightarrow hf-hf_0=ev_0$$

$$(7)v_0=\frac{h}{e}f-\frac{h}{e}f_0 \Rightarrow v_0=\frac{h}{e}(f-f_0)$$

په پورته معادله کې $h$ او $e$ دواړه ثابت دي او $f_0$ هم د راکړل شويو فلزاتو لپاره ثابت دی، پس ويلای شو چې د $v_0$ ګراف د فريکونسي په تابع يو مستقيم خط دی. دا په حقيقت کې هغه حالت راښيي چې د مليکان په واسطه په تجربوي ډول سرته ورسېدل چې په پايله کې د انشتاين د فوتوالکتريک معادله په ثبوت ورسېده.[9 م 155]

## د فوتو الکتريک حادثې په اړه د موجي کلاسيکې نظريې ناکامې پايلې:

د موجي کلاسيکي نظريې سره جوخت هغه انرژي چې د موج په واسطه انتقالېږي، په پرلپسې او متجانس ډول د موج په څپه کې توزيع کېږي او کله چې موجي څپه د فلز په سطحه وارده شي، په متجانس ډول انرژي ټولو الکترونونو ته خپروي چې د الکترونونو په واسطه اخيستل شوې انرژي د موج له شدت سره متناسبه ده. که چېرې شدت کم وي، زيات وخت ته اړتيا ده تر څو الکترونونه کافي انرژي واخلي او د فلز له سطحې څخه خارج يا ازاد شي، له دې څخه د موجي کلاسيکې نظريې ناکامي په روښانه ډول معلومېږي، ځکه که چېرې شدت ډېر کم وي، ډېر زيات وخت ته اړتيا ده تر څو انرژي په متجانس ډول د فلز په سطحه کې توزيع شي او د فوتوالکتريک حادثه منځته راوړي. د پورته تشريحاتو په پام کې نيولو سره ويلای شو چې هغه ټول الکترونونه چې د فلز په اخري مدار کې شتون لري، بايد په يوه وار ازاد شي، خو په عمل کې داسې څه نه شي واقع کېدای، ځکه له يوې خوا هغه تجربوي پايلې چې مخکې بيان شوي دي، د موجي کلاسيکې نظريې په واسطه نه شي تشريح کېدای. بل دا چې موجي کلاسيکه نظريه د ټيټو سرعتونو څخه چې سرعت يې د يو پر لسمې برخې $\left(\frac{1}{10}\right)$ د نور له سرعت څخه ښکته وي، بحث کوي او له دې څخه لوړ سرعت لرونکي پېښې نه شي تشريح کولای، پس ويلای شو چې د فوتو الکتريک حادثه د موجي کلاسيکې نظريې په واسطه نه شي تشريح کېدای، يوازې د کوانت فزيک او د اتوم فزيک چې د کوانت فزيک يوه څانگه ده، ددې پېښې په اړه مثبتې پايلې وړاندې کولای شي. (10م 1469-1472)

## فوتوالکتريک حادثې د استعمال ځايونه:

فوتوالکتريک حادثه چې د اتوم او کوانت فزيکونو په واسطه تشريح کېدای شي، زيات د استعمال ځايونه لري چې د ټولو تشريح کول ستونزمن کار دی، خو د نمونې په ډول يو څو په گوته کوو. په فوتو سيل *photocell* حادثه کې هغه هادي چې له نور سره حساس وي *Photo conductive* يا نوري هادي، په نوري دايود کې (کله چې په دايود باندې نور ولگېږي الکترونونه کوولانسي اړيکې شلوي او هغه ازادېږي) او هغه وسيله چې نوري وړانگې په برقي جريان تبديلوي، *Solar cell* د کمرې په فلش، فضايي بېړيو او داسې نورو کې زيات د استعمال ځايونه لري. (14)

## پايله:

- که نور د القلي فلزاتو په سطحه ولگېږي، د فلزاتو له سطحې څخه الکترونونه ازادېږي چې نوموړي الکترونونه د فوتوالکترونو او منځته راغلې پېښه د فوتوالکتريک په نامه سره يادېږي.
- که چېرې دغه ازاد شوي الکترونونه په يوه برقي دوره کې جريان توليد کړي، دغه جريان د فوتو جريان په نوم سره يادېږي.
- د فوتوالکترونو حرکي انرژي د وارده تشعشع شدت، وارده تشعشع فريکونسي او د استعمال وړ فوتوميټال تابع دي.
- د ازاد شويو الکترونونو انرژي د صفر او يو اعظمي قيمت په منځ کې قرار لري.
- د *Threshold* له فريکونسي څخه ښکته فريکونسي نه شي کولی چې له کتود څخه الکترون ازاد کړي.
- فوتو جريان د نور په قطع کېدو سره سم قطع کېږي او د نور په لگېدو سره سم شروع کېږي.

**Abstract:**

Photo electric phenomenon has been discovered for first time by Hertz. Then Millikan researched photo electric in different lights frequencies for more metals. The latest research was done by Einstein who explained the photo electric event by physics view point. When the light hit on the alkaline surface as a result, electrons release. These released electrons are called photo electron. As mentioned above when light reaches to metallic surface electrons are released from the metal which then causes electric current in electrical circuit. The energy of photo electron depends on the frequency, reached the metal and use able photo metal. Result can be taken from the observation of photo electric events that the energy of released electrons exists between zero and a maximum. Frequency under the threshold Frequency can't release an electron from cathode. If anode board is linked with board positive pole. And cathode is linked with the negative pole. Consequently the voltage has a positive number. Photo current exist by negatively charged particle. Maximum the severity of current of released light is proportional cuts or

symmetrical. Photo current interrupts when light is cut. And start as light reaches. The process of photo electric, light is utilized in camera's flash, space shuts, and in car garage's doors, which helps to open and shut them, And etc.

## اخځليکونه:


1. ځدران سلطانزی، نظرمحمد. ځدران سلطانزی، حاجي محمد. ځدران سلطانزی، غازي محمد. (1386). سرطان او د چاپېريال راديو اکتيويتي. جرمني.

2- ديويد هاليدي، رابرت رزنيک، جرل واکر. مترجمان: جليليان نصرتی، محمدرضا. عابدينی، محمد. خوش بين خوش نظر، محمدرضا. (1385). مبانی فزيک- جلد سوم. تهران: انتشارات صفار–اشراقی.

3- سرز و زيمانسکی. ترجمه: فروتن، فضل الله (1383). فزيک دانشگاهی- جلد چهارم. تهران: نشر علوم دانشگاهی.

4- فرداد، ابوالفضل. ندا حجازی. (1387). ميکانيک کوانتومی- جلد اول. ايران: دانشگاه شهيدروجانی.

5- نظيفي، عبدالحی. تنها، محمد رحمت الله (1386). د تطبيقي هستې اساسات. کابل پوهنتون: ساينس پوهنځی.

6- هنری سمت، جان ر، آلبرايت. ترجمه: بخشايی خسرو. (1367). اشنايی با فزيک اتومی و هسته ای- جلد اول. تهران: مرکز نشر دانشگاهی.

7- David Halliday, Robert Resnick, Jearl Walker, (2002). Fundamentals of PHYSICS.. PRINTED IN USA.

8- N. SUBRAHMANYAM, BRIJLAL, M.N. AVADHANULU. (2006). A TEXTBOOK OF OPTICS.. PRINTED IN INDIA

9- R. MURUGESHAN, Er. KIRUTHIGA SIVAPRASATH. (2012). Modern Physics. PRINTED IN INDIA.

10- Sears and Zenansky's( 2003). university Physics. 11Th edition. California

11- Serway faughn (1991). College Physics. 3Th edition. USA

12 - http // www. application of photoelectric effect . com

13- http // www. hopa. com

14- *http // www. Wikipedia .com*

پوهنمل سيد شېرآقا (سيدي)
ښوونې او روزنې پوهنځی- رياضي څانگه

# په قطبي مختصاتو کې د مارپيچي حلزوني منحنياتو پېژندنه

**لنډيز**:
د قطبي مختصاتو په سيستم کې د څلورګونو حلزونونو (پشوګۍ يا اوښکۍ) له ډلې څخه يوازې يو ډول پشوګۍ چې مارپيچونه Spiral's نومېږي، وړاندېز شوې دي. مارپيچونه Spiral څلور ډوله دي، د ارشميدس مارپيچي، هيپربوليک مارپيچي، لوګاريتميک مارپيچي او اکسپوننشيل لوګاريتمي مارپيچي چې په دې مقاله کې دا څلور واړه ډولونه معرفي او رسم شوې دي.

**سريزه**:
په 1650 –1595 او 1665 –1606 ميلادي کلونو کې فرانسوي رياضي پوهانو دکارت او فرمت د يو نوي سيستم په رامنځته کېدلو سره چې دکارتي قايمو وضعيه کمياتو سيستم په نوم يادېږي، په رياضياتو کې يوه نوې څانګه د تحليلي هندسې په نوم رامنځته کړله. لږ څه وروسته نور سيستمونه هم رامنځته شول چې يو له هغوی څخه قطبي وضعيه کمياتو سيستم دی. د O يوه نقطه او د $(\rho)$ OA يوه شعاع د اوږدوالي مقياسي واحد په پام کې نيولو سره يو سيستم جوړوي چې قطبي وضعيه کمياتو سيستم په نوم يادېږي. د O نقطې ته قطب او د OA شعاع ته قطبي محور (قطبي شعاع) وايي؛ البته د شعاع دوران جهت د ساعت عقربې حرکت په مطابق منفي او مخالف لوري ته مثبت دی. په قطبي سيستم کې $(\rho, \theta)$ د يوې نقطې موقعيت ټاکي. له دې امله که چېرې $(\rho, \theta)$ د منحني کومه نقطه وي، نو د منحني معادله صدق کوي او که نه وي نو د منحني معادله صدق نه کوي. له دې سببه که چېرې د منحني معادله ځرګنده وي، وضعيه کميات يې په مستوي کې د هغو نقطو له هندسي محل څخه عبارت دي، کومو چې معادله صدق کړېده. (۱-۵۷)، (۲-۱۷۱).

**موخې**:

- د مارپيچي ډول ډول پشوګانو (حلزونونو) رسمول.
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او مينه والو ته د معلوماتو برابرول.

**مارپيچونه** (*Spiral*):

يوې منحني ته چې د خپلې مبدا په شاوخوا په نامحدود ډول پيچلې وي او $\rho$ په معمول ډول يو نواخته متزايد يا متناقص او $\theta$ متزايده وي، مارپيچي وايي.

د $\rho=\frac{a}{\theta}$ يا $(\rho\theta=a)$ ، $\rho=a^{\theta}$ ، $\rho=ae^{\theta}$ ، $\rho=a\theta$ ، $\rho=ae^{b\theta}$ شکل معادلې مارپيچي دی او د $\theta\geq0$ ، $\rho=a\theta$ يا $\theta<0$ ، $\rho=a\theta$ ډول مارپيچي معادلو منحني ته د ارشميدس مارپيچي Spiral of Archimedes وايي.

۱. د ارشیمدس مارپیچونه (The Spiral of Archimedes):

دا چې $\rho=a\theta$ , $(o<a\in R)$ معادلې منحني د ارشمیدس مارپیچي منحني په نوم شهرت لري، نو مونږ د منحني د رسمولو لپاره لومړی $\theta$ او $\rho$ تر منځ د اړیکو څرنگوالی ښیو، یعنې کله چې $\theta=0$ , $\rho=0$ ده. نو وایو چې مبدا په منحني باندې پرته ده، یا په بله وینا، منحني له مبدا څخه تېرېږي او قطبي محور له مارپیچي سره په مبدا کې مماس دی. له دې امله ویلی شو چې د $\rho$ قیمت د $\theta$ له قیمت سره مستقیماً اړیکه لري. او س د منحني $M(\rho,\theta)$ یوه متحوله نقطه دا رنگه په پام کې نیسو چې له قطب څخه شروع په حرکت کوي او خپل حرکت ته د قطب په شاوخوا دوام ورکوي او د ساعت عقربې په مخالف لور په هر حرکت سره یوه مارپیچي (حلزون یا پیشوگۍ) منحني انځوروي چې دغه منحني د ارشمیدس منحني په نوم نومول شوې دي. (۱-۸۲)، (۲-۱۸۱،۱۹۲).

که مونږ د $M(\rho,\theta)$ یو مکمل دوران دیو واحد په حیث قبول کړو، نو $\theta$ په خپل هر حرکت سره د $2\pi$ په اندازه او $\rho$ د $2\pi a$ په اندازه اولني موقعیت ته زیاتېږي، نو له دې امله د ارشمیدس مارپیچي منحني قطبي شعاع په مساوي برخو باندې ویشي (د قطبي مجاوري شعاع نه په غېر) ددې ډلې له ټولو خطونو څخه د هرې ټوټې اوږدوالی ثابت او له $2\pi a$ سره مساوي دی. د OX له محور سره تقاطع $(\theta=0,\pi,2\pi,3\pi,\cdots)$ په نقطو کې $\rho=0,\pi a,2\pi a,3\pi a,\cdots$ او د 0y له محور سره تقاطع $(\theta=\frac{\pi}{2},\frac{3\pi}{2},\frac{5\pi}{2},\cdots)$ په نقطو کې

$$\rho=\frac{\pi a}{2},\frac{3\pi a}{2},\frac{5\pi a}{2} \text{ دی } \quad a<0 \quad , \quad a\geq 0 \quad , \quad \rho=a\theta$$

1 - جدول د ارشیمدس د مارپیچونو Spirals د انځورولو ټاکل شوي کمیات:

| $\theta$ | 0 | $\frac{\pi}{6}$ | $\frac{\pi}{4}$ | $\frac{\pi}{3}$ | $\frac{\pi}{2}$ | $\frac{2\pi}{3}$ | $\frac{3\pi}{4}$ | $\frac{5\pi}{6}$ | $\pi$ | $\frac{7\pi}{6}$ | $\frac{5\pi}{4}$ | $\frac{4\pi}{3}$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $\rho$ | 0 | $\frac{\pi a}{6}$ | $\frac{\pi a}{4}$ | $\frac{\pi a}{3}$ | $\frac{\pi a}{2}$ | $\frac{2\pi a}{3}$ | $\frac{3\pi a}{4}$ | $\frac{5\pi a}{6}$ | $\pi a$ | $\frac{7\pi a}{6}$ | $\frac{5\pi a}{4}$ | $\frac{4\pi a}{3}$ |
| $\rho$ | 0 | 052a | 0.785a | 1.04a | 1.57a | 2.09a | 2.35a | 2.61a | 3.43a | 3.66a | 3.93a | 4.19a |




**1**- شکل د ارشمیدس مارپیچي Spiral.

یادونه: که چېرې $\rho$ قیمت منفي وي، نو د $\rho$ مخالف جهت یا د ساعت عقربې حرکت مطابق جهت په پام کې نیول کېږي.

## ۲. هیپربولیک مارپیچونه (The Spiral of Hyperbolic):

د $\rho = \dfrac{a}{\theta}$ معادلې منحني ته هیپربولیک مارپیچي منحني وايي. (3.R.PP169-170)، (7.R.P221) ، (6.R.P28).

۱. فرضوو چې $\rho = \dfrac{a}{\theta}$ , $0 < a \in R$ او هم $\theta = \dfrac{\pi}{2}$ ده، په دې فرض کولو مونږ د معادلې د منحني یوه نقطه لاسته راوړو، یعنې $M(\rho,\theta) = M(\dfrac{2a}{\pi}, \dfrac{\pi}{2})$ که چېرې د $\theta$ قیمت ورو ورو زیات شي، $\theta \to \infty$ نو د $\rho$ قیمت معکوساً کمېږي، یعنې $\rho \to 0$ په دې حالت کله چې منحني $M(\rho,\theta)$ یوه نقطه چې د قطب مثبت لور ته د قطب په شاوخوا دوران کوي، خورا زیاته قطب ته نژدې کېږي، یعنې که چېرې $\theta$ د $\dfrac{\pi}{2}$ څخه په حرکت شروع وکړي او ورو ورو د صفر په لور تناقص وکړي، نو په دې صورت کې $\rho$ لایتناهي ته نژدې کېږي یعنې $\theta \to 0$ ، $\rho \to \infty$ ، او د $M(\rho,\theta)$ نقطه هم په لایتناهي فاصلې لرې کېږي. ددې موخې د سپیناوي لپاره په قطبي محور باندې د M نقطې د حرکت مرتسم ټاکو او هغه د P توري په واسطه په نښه کوو، لرو چې:

$$PM = \rho \, Sin\,\theta \qquad , \qquad \rho = \frac{a}{\theta}$$

$$= \frac{a}{\theta} Sin\,\theta$$

$$= a \frac{Sin\,\theta}{\theta}$$

$$= a \qquad , \qquad (\lim_{\theta \to 0} \frac{Sin\,\theta}{\theta} = 1)$$

له دې څخه دا نتيجه په لاس راځي کله چې $\theta \to 0$ , $\rho = a$ . له دې امله د راکړ شوې معادلې منحني مخ پورته د قطبي محور او کوم خط چې له قطبي محور سره موازي دی او د a په فاصله لرې پروت دی، ايسار کړ شوی دی.

$$\rho = \frac{a}{\theta} \qquad , \qquad a > 0$$

۲- جدول د هيپربوليک مارپيچونو Spirals د انځورولو تاکل شوي کميات.

کـه چېـرې جـدول تـه ځیرشـو ، حقیقتـاً دا ښکارنـدېږي چې $\theta \to \infty$ ، نـو $\rho \to 0$ او کلـه چـې $\theta \to 0$

| $\theta$ | 0 | $\frac{\pi}{6}$ | $\frac{\pi}{4}$ | $\frac{\pi}{3}$ | $\frac{\pi}{2}$ | $\frac{2\pi}{3}$ | $\frac{3\pi}{4}$ | $\frac{5\pi}{6}$ | $\pi$ | $\frac{7\pi}{6}$ | $\frac{5\pi}{4}$ | $\frac{4\pi}{3}$ | $\frac{3\pi}{2}$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $\theta$ Rad | 0 | 0,52 | 0,78 | 1,04 | 1,57 | 2,09 | 2,35 | 2,61 | 3,14 | 3,66 | 3,93 | 4,19 | 4,71 |
| $P$ | $\infty$ | 1,92a | 1,28a | 6,96a | 0,63a | 0,47a | 0,43a | 0,38a | 0,31a | 0,28a | 0,25a | 0,24a | 0,21a |

نو $\rho \to \infty$



2- شکل هيپربوليک مارپيچي Spiral.

### ۳- لوګاريتمي مارپيچونه (Spiral of Logarithmic):

د $\rho = a^{\theta}$ معادلې منحني ته لوګاريتمي مارپيچي منحني (لوګاريتمي حلزون ) وايي. (۲-۱۸۰)، (4.R.P221).

کله چې $\theta \to \infty$ ، نو $\rho = a^{\theta} \to \infty$ .

الف: $\Re \ni a > 0$ دی. په دې صورت کې د منحني $M(\rho, \theta)$ يوه نقطه د قطب مثبت لور ته او د قطب په شاوخوا دوران کوي او ورو ورو له قطب څخه بې نهايته لرې کېږي، په دې ترڅ کې که چېرې د M نقطې مکمل دورانونه په پام کې ونيسو، نو په هر دوران کې د $2\pi$ په اندازه په قطبي زاويې باندې علاوه کېږي، يعنې قطبي زاويه د $2\pi$ په اندازه لوېږي او قطبي شعاع په $a^{2\pi}$ باندې ضرب کېږي، يعنې $a^{\theta}.a^{2\pi} = a^{\theta+2\pi}$ له دې ځايه څخه دا نتيجه په لاس راځي چې د $\theta$ په هر دوران سره قطبي شعاع د قطب په شاوخوا باندې يو هندسي تصاعد چې شريک نسبت يې $a^{2\pi}$ دی، منځته راوړي او که چېرې $\rho \to 0$ , $\theta \to -\infty$ نو په دې حالت کې د M نقطه قطب په شاوخوا منفي جهت په لور دوران کوي او قطب ته نژدې کېږي.

ب: که چېرې $0 < a < 1$ وي؛ په دې حالت د $\rho = a^{\theta}$ معادلې منحني د الف حالت معکوس يو لوګاريتمي مارپيچي منحني ده (3 شکل وګورئ). نو په دې صورت کې کله چې M د قطب مثبت جهت په شاوخوا دوران کوي قطب ته نژدې کېږي او که چېرې منفي جهت په شاوخوا دوران وکړي، له قطب څخه لرې کېږي. له بل پلوه څنګه چې $0 < a < 1$ دی، نو څه وخت چې $\theta \to \infty$ , $a^{\theta} \to 0$ او کله چې $\theta \to -\infty$ ، نو $a^{\theta} \to \infty$. او که چېرې $a = 1$ شي، نو د $P = a^{\theta}$ معادله د يوې دايرې معادلې ورانده کوي، دا ځکه د $\theta$ په هر قيمت $\rho = 1$ دی. $\rho = a^{\theta}, a = 2 > 0, -\infty < \theta < \infty$

۳- جدول د لوګاريتمي مارپيچونو Spirals د انځورولو لپاره کل شوي کميات:

| $\theta$ | $-\infty$ | ... | $-\pi$ | $-\frac{5\pi}{6}$ | $-\frac{3\pi}{4}$ | $-\frac{2\pi}{3}$ | $-\frac{\pi}{2}$ | $\frac{-\pi}{3}$ | $\frac{-\pi}{4}$ | $\frac{-\pi}{6}$ | 0 | $\frac{\pi}{6}$ | $\frac{\pi}{4}$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $\theta$ *Rad* | $-\infty$ | ... | -3.14 | -2.61 | -2.35 | -2.09 | -1.57 | -1.04 | -0.78 | -0.52 | 0 | 0.52 | 0.78 |
| *P* | 0 | ... | 0.113 | 0.163 | 0.196 | 0.235 | 0.336 | 0.486 | 0.582 | 0.697 | 1 | 1.433 | 1.717 |

د جدول څخه څرګندېږي، کله چې $\theta \to 2n\pi$ او $n(n \in \Re)$ لايتناهي ته تقرب وکړي، نو $\rho \to \infty$ همدارنګه که چېرې $\theta \to -\infty$ , $\rho \to 0$. د ب حالت لپاره کله چې $a = \frac{1}{2}$ او $\theta \to 0$ وکړي، نو $\rho \to \frac{1}{2}$ تقرب کوي.




3- شکل لوګاريتمي مارپيچي Spiral.

## ۴- اکسپوننشيلي لوګاريتمي مارپيچي منحني:

د $\rho = ae^{\theta}$ شکل معادلو ته اکسپوننشيلي لوګاريتمي مارپيچي حلزون (اوښکې يا پيشوګۍ) وايي. (۲-۱۸۰)، (4.R.P.221).

که چېرې $a > 0$ او $\theta > 0$ وي، نو کله چې $\theta \to \infty$ , $\rho \to \infty$ او که چېرې $\theta \to -\infty$ ، نو $\rho \to 0$.

$$\rho = ae^{\theta} \quad , \quad \theta > 0 \quad , \quad a = 1 > 0$$

۴- جدول د اکسپوننشيلي لوګاريتمي مارپيچونو د انځورولو ټاکل شوي کميات:

$$(\pi = 3.141592654\ \ldots, e = 2.7182818\ \ldots, 1\,Rad = 57^{\circ}, 2957', 795''\,d)$$

| $\theta$ | 0 | $\frac{\pi}{6}$ | $\frac{\pi}{4}$ | $\frac{\pi}{3}$ | $\frac{\pi}{2}$ | $\frac{2\pi}{3}$ | $\frac{3\pi}{4}$ | $\frac{5\pi}{6}$ | $\pi$ | $\frac{7\pi}{6}$ | $\frac{5\pi}{4}$ | $\frac{4\pi}{3}$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $\theta\ Rad$ | 0 | 0,52 | 0,78 | 1,04 | 1,57 | 2,09 | 2,35 | 2,61 | 3,14 | 3,66 | 3,92 | 4,19 |
| $e^{\theta}$ | 1 | 1,68 | 2,19 | 2,84 | 4,80 | 8,12 | 10,55 | 13,70 | 23,13 | 39,05 | 50,74 | 65,93 |
| $P$ | 1 | 1,68 | 2,19 | 2,84 | 4,80 | 8,12 | 10,55 | 13,70 | 23,13 | 39,05 | 50,74 | 65,93 |




4- شکل اکسپوننشيلي لوګاريتمي مارپيچي Spiral.

## پايله:

دا چې په رياضي او فزيک کې په ځانګړې توګه په فزيک او هندسه کې حلزوني منحنيات ستر ارزښت او رول لري، نو له دې امله مې په دې مقاله کې د څلور ګونو حلزوني (پشوګۍ يا اوښکۍ) منحنياتو له ډلې څخه يوازې د مارپيچونو (ارشميدس مارپيچي، هيپربوليک مارپيچي، لوګاريتميک مارپيچي او اکسپوننشيل لوګاريتميک مارپيچي) په برخه کې معلومات راټول او انځور کړل. هيله ده چې د مسلک خاوندانو او زده کوونکو ته به ګټور تمام شي.


## Abstract:

There are many usages of coordinate Systems in Mathematics. But two of them which is most popular and used in Mathematics and Geometry are Rene' Descartes Cartesian System of coordinates and Polar System of coordinates the Topic I want to explain and write about belongs to the Polar Systems of coordinates. In the Polar Systems of coordinates from four kinds of Snails, one Kind of them is presented here that is called Spiral. Spiral is divided by following four Kinds, Archimedes Spiral, Hyperbolic Spiral, logarithmic Spiral and exponential logarithmic Spiral. Her all four Kinds of Spirals are introduced and drawn. Studying and exploration of Spiral or Archimedes Spiral is very useful and is a good chance for achieving information to every student and Learner. The Polar Systems of coordinates arenotanly utilized and used in Geometry and Analyse, But they utilized in physics and many Subjects.

## اخځلیکونه:

۱- جورج ب. توماس. فيني. موريس د. وير. مترجمين: فرزين حاجى جمشيدي و ديگران. (۱۳۸۳). حساب ديفرنسيل و هندسه تحليلی- جلد۲. ايران: انتشارات صفار اشراقي.

۲- لطفی، طاهر. (۱۳۸۳). حساب ديفرنيشيل و انتيگرال و هندسه تحليلی- جلد دوهم قسمت اول. ايران: انتشارات دانشجويان همدانی.

Quaid .i. Azam University, 3. D. S. M. Yusuf, 1980, T. L Calculus and Analytic Geometry, Islamabad. Prof. Muhammad Amin Goverment College, Lahore, Publishers, Ilmikitabkhana.

4. Dr. N. H. Zaidi Pro.ShahidHussainzaidi, Dr. MumtazulIman, Dr. S.M.kerawala, Dr. M.AfzalKazi, Dr. M.N.M. Talpur

1982, Calculus and Analytic Geometry For. B.A./B.ScStudents Printed and Publishered by Abdul Salam at Ferozsons (PVT) LTd Lahore- Pakistan1 (P217-221-223).

5. Georg B. Thomas, jr, Massachusetts Institute of Technology Calculus and Analytic Geometry (P751-752-756).

6. N. piskunow, By Georg Yankosky, 1981, Differntial and Calculus Vol.1Mir Publishers Moscow. (28-27-26).

7. Roland E. Larson, Robert P. Hostetler, 1990, The Pennsylvania state University The Behrend College Bruce H. Edward, University of Florida Calculus with Analytic Geometry, Fourth Edition. D.C. Heath and Company Lexington, Massachusetts, Toronto. (PP676-681-698).

8. V.A. Kudryavtsev and B. P. Dimidovich, 1981, translated from Russian by Leond Levant a Brief Course of higher Mathematics Mir Publishers Moscow. (P72).

پوهنمل محـــمد ايمـــل (حقمل)
حقوقو او سياسي علومو پوهنځی
عـــامه حـــقوقو څـــانګـه

# د روم- جرمن حقوقي سيستم په هېوادونو کې
## قضايي رويه او د هغې د رامنځته کېدو لاملونه

**لنډيز:**

د روم- جـرمن حقـوقي سيسـتم پـه غـړو هېوادونـو کـې د حقـوقي قواعـدو تـر څنـګ چـې د مقنن لـه خوا وضع کېـږي او مـوږ يـې د قـانون پـه نـوم پېژنـو ، قضـايي رويـه هـم وجـود لـري چـې د محـاکمو او قضـاتو لـه خـوا د قـانون د تفسـير پـه نتيجـه کـې منځتـه راځـي چـې پـه دې حقـوقي سيسـتم کـې د ثـانوي قواعـدو او يـا تفسـيري قواعـدو پـه نـوم هـم يـادېږي. پـه دې ليکنـه کـې د روم- جـرمن پـه حقـوقي سيسـتم هېوادونـو کـې د حقـوقـو د منبـع پـه توګـه د قضـايي رويـې د رامنځتـه کېـدو عوامـل، د حقـوقي منبـع پـه توګـه د هغـې د موقـف څرنګـوالی، د حقـوقي قاعـدې او قضـايي قاعـدې تـر منـځ تـوپير، د قضـايي رويـې د نـه لازمـي والـي دلايـل، د قضـايي قـوې تشـکيلات او د قضـاتو انتخاب د څېړنيزې مطالعې او بحث لاندې نيول شوي دي.

**سريزه:**

روم- جـرمن حقـوقي سيسـتم چـې پـه انګليسـي ژبـو هېوادونـو کـې د (Civil Law) او پـه لاتينـي ژبـه کـې د (Romano-German Law) پـه نـوم يـادېږي، نومـوړی حقـوقي سيسـتم پـه قـاروي اروپـا (Europe Continental) کـې رامنځتـه شـوی او د نننـۍ نـړۍ يـو لـه هغـو لويـو حقـوقي سيسـتمونو څخـه دی چـې د نـړۍ اکثـره هېوادونـه تـرې يـا پـه مکمـل ډول پيـروي کـوي او يـا يـې هـم يـوه برخـه پـه خپـل حقـوقي نظـام کـې ځـای کـړې ده. لـه دې جملـې څخـه زمـوږ ګـران هېـواد افغانسـتان هـم دی چـې د نومـوړي حقـوقي سيسـتم لـه شـکلي حقوقـو څخـه اسـتفاده کـوي. پـه علمـي لحـاظ د نومـوړي حقـوقي سيسـتم د جوړولـو کـار پـه (۱۳) ز پېـړۍ کـې د اروپـا پـه پوهنتونونـو کـې د روم لـه حقوقـو څخـه پـه الهـام اخسـتنې پيـل شـو، تـر (۱۸) ز پېـړۍ پـورې پـر دې حقـوقي سيسـتم ډکتـرين (د حقوقپوهـانو نظريـات) مسـلط ول، آمـا پـه (۱۹) ز پېـړۍ کـې پـه دغـه حقـوقي سيسـتم کـې د کـود جـوړونې (Codification) يـا د قوانينـو د مجموعـو جوړولـو لـه طريقـې څخـه اسـتفاده شـروع شـوه. پـه دې توګـه ډکترينـو خپـل ځـای قوانينـو تـه پرېښـود او نـن ورځ قـانون پـه دې حقـوقي سيسـتم کـې د حقوقـو لـومړنۍ اصـلي منبـع ده، ولـې د قـانون تـر څنـګ د حقوقـو ځينـې نـورې منـابع هـم پـه نومـوړي حقـوقي سيسـتم کـې وجـود لـري چـې عبـارت دي لـه عـرف او عـاداتو ، قضـايي رويـې، ډکتـرين او د حقوقـو عمـومي اصـولو څخـه. لکـه څرنګـه چـې پورتـه يادونـه وشـوه چـې قضـايي رويـه د روم- جـرمن حقـوقي سيسـتم د منـابعو لـه جملـې څخـه ده، ولـې قضـايي رويـه پـه روم- جـرمن حقـوقي سيسـتم کـې د پرنيسـپ لـه لحاظـه د قـانون پـر خـلاف د الزامـي يـا اجبـاري جنبـې لرونکـې نـه ده. ولـې د دې بـاوجود قضـايي رويـه د روم- جـرمن حقـوقي سيسـتم پـه هېوادونـو کـې پـه ځينـې برخـو کـې د اولـې درجـې نقـش لرونکـې ده؛ ځکـه د روم- جـرمن حقـوقي سيسـتم پـه هېوادونـو کـې مقنـن معمـولاً حقـوقي قواعـد (قـوانين) کُلـي وضـع کـوي او د موضـوعاتو او مسـايلو پـه جزيـاتو پسـې نـه ګرځـي، همدارنګـه قـانون ممکنـه ده چـې ټولـو هغـو مسـايلو او موضـوعاتو لپـاره چـې پـه ټولنـه کـې رامنځتـه کېـږي، حـل لارې نـه وي پېشـبيني کـړې، پـه دې صـورت کـې قاضـي کـولای شـي د تفسـير لـه طريقـو څخـه پـه اسـتفادې د شخړو او مسـايلو د حـل لپـاره خپلـه رايـه صـادره کـړي. مـثلاً د سـويس د مـدني قـانون د لـومړۍ مـادې دويـم بنـد پـه دې مـورد کـې داسـې حکـم کـوي: (قاضـي بايـد د هغـې قاعـدې لـه مخـې حکـم وکـړي چـې

کـه چېرتـه پـه خپلـه قـانون جـوړونکی وای، نـو هغـه بـه يـې وضـع کـړی وای). پـه دې توګـه د روم- جـرمن حقـوقي سيسـتم پـه هېوادونـو کـې قاضـي د دې صـلاحيت لـري چـې قـانون تفسـير کـړي او پـه يـوه موضـوع کـې يـې تطبيـق کـړي، کلـه چـې پـه راتلونکـو مشـابه موضـوعاتو کـې نومـوړی تفسـير خپلـه د همـدې محکمـې لـه خـوا او يـا هـم د نـورو محـاکمو لـه خـوا تکـراراً تطبيـق شـي، قضـايي رويـه ايجـادېږي. د محـاکمو لـه خـوا رامنځتـه شـوې قضـايي رويـې معمـولاً پـه ليکلـي ډول پـه کتـابونو کـې راټـولېږي. د روم- جـرمن حقـوقي سيسـتم پـه هېوادونـو کـې د قضـايي رويـو مجمـوعې پـه عملـي لحـاظ د خـاص اهميـت لرونکـې دي، حتـی د ځينـې هېوادونـو قضـايي رويـه د اهميـت لـه لحاظـه يـوازې د هغـه هېـواد پـه جغرافيـوي حـدودو پـورې محـدوده نـه پـاتې کېـږي، مـثلاً د فرانسـې د قضـايي رويـې اهميـت پـه هـېڅ وجـه د فرانسـې د قلمروپـه حـدودو پـورې محـدود نـه دی. د فرانسـې د تميـز دېـوان او دولتـي شـورا فيصـلې پـه مختلفـو نـړېدې او لـرو هېوادونـو کـې چـې پـه فرانسـوی ژبـه خبـرې کـوي، تـر مطـالعې لانـدې نيـول کېـږي او نفـوذ لـري، حتـی لـه دې هېوادونـو څخـه عـلاوه پـه ځينـې نـورو اروپـايي او نـا اروپـايي هېوادونـو کـې يـې هم نفوذ کم نه دی.

## موخې:

- د قضايي رويې د رامنځته کېدو د عواملو په ګوته کول.
- د حقـوقي قاعـدې او قضـايي قاعـدې تـر مـنځ د توپيرونـه او اهميـت لـه لحاظـه د دوی څخـه د مهمـې قاعدې مشخص کول.
- د روم- جرمن د حقوقي په هېوادونوکې د قضايي قوې د ځانګړتياو په ګوته کول.
- پـه اړونـده برخـه کـې د حقوقـو مسـلک خاونـدانو، زده کوونکـو او مينـه والـو تـه د نويـو او ګټـورو معلوماتو برابرول.
- د علمي رتبې د اخستنې په موخه د يو شرط (مقاله ليکنه) پوره کول.

## د قضايي رويې تعريف:

قضـايي رويـه پـه عـام مفهـوم سـره لـه قضـايي فيصـلو څخـه عبـارت ده، يـا پـه بـل عبـارت د محکمـې هـر تصـميم او فيصـلې تـه پـه عـام مفهـوم سـره قضـايي رويـه ويلـی شـو، آمـا پـه خـاص مفهـوم قضـايي رويـه د محـاکمو يـا پـه خصوصـي ډول د عـالي محـاکمو د هغـو فيصـلو څخـه عبـارت ده چـې پـه مشـابه قضـاياو کـې پـه خپلـه د عـين محکمې يا د نورو محاکمو له خوا څو ځل تکراراً تطبيق شوې وي.

## د قضايي رويې د ايجاد عوامل:

څرنګـه چـې مخکـې يادونـه وشـوه، پـه روم- جـرمن حقـوقي سيسـتم کـې د پرنسـيب پـه لحـاظ قضـايي رويـه د الزامـي قـوت لرونکـې نـه ده، ولـې پـه عمـل کـې د دوه دلايلـو لـه مخـې د قضـايي رويـې د ايجـاد زمينـه رامنځتـه کېږي:

لومړی- رواني عوامـل: کـه چېرتـه يـوه محکمـه او يـا قاضـي پـه يـوه موضـوع کـې تصـميم ونيسـي او يـا حکـم صـادر کـړي، لـه هغـه څخـه حمايـت د خپـل حيثيـت د سـاتنې لپـاره لازم ګڼـي او همدارنګـه دا ډول تصـاميم او فيصـلې د زيـاتو کوښښـونو او تـلاش پـه نتيجـه کـې ايجـادېږي، نـو پـه طبيعـي ډول د هـر قاضـي خـواهش دا وي چـې پـه اسـانۍ سـره هغـه لـه لاسـه ورنـه کـړي او د خپـل مخکښـي زحمـت لـه حاصـل څخـه پـه راتلونکـو مشـابهو دعـواوو کـې استفاده وکړي. همدارنګـه کـه چېرتـه قضـات او محـاکم پـه مشـابه وروسـتيو قضـاياوو کـې د خپـل مخکښـي حکـم

پر خلاف فیصله صادره کړي، په حقیقت کې به یې د خپل مخکېني حکم نامنطقي والی ثابت کړی وي، نو د پورته دلایلو په نظر کې نیولو سره قضات کوښښ کوي چې د خپلو فیصلو د پرستیژ (اعتبار) د ساتنې په خاطر په بعدي (وروستیو) مشابه قضایاوو کې هغه په نظر کې ولري او تطبیق یې کړي؛ د همدې روش په تکرار سره یوه قاعده منځته راځي چې د قضایي رویې په نوم یادېږي. (۱م۱۳۵)

دویم- د محاکمو د طبقه بندۍ عوامل: د روم- جرمن حقوقي سیستم په هېوادونو کې په عمومي ډول د ابتدایي او لاندېنیو محاکمو تصامیم او فیصلې نهایي نه وي، بلکې هغوی د پورتنۍ یا عالي محاکمو د تصامیمو او فیصلو تابع وي، له همدې امله د دې لپاره چې د لاندېنیو محاکمو تصامیم او فیصلې د عالي محاکمو له خوا رد نه کړل شي او هغه نامعقوله ونه شمېرل شي، لاندېني محاکم همېشه کوښښ کوي چې د فیصلو په جریان کې سلسله مراتب په نظر کې ونیسي، نو په دې ترتیب هغه سلسله مراتب چې د محاکمو تر منځ وجود لري، د قضایي رویې د ایجاد موثر عامل دی، ځکه لاندېني محاکم د معمول له مخې د عالي محاکمو له نظر څخه پیروي کوي، په دې خاطر چې عالي محاکم هغه محاکم دي چې بالاخره د یوې دعوا سرنوشت ټاکي، په دې توګه د ابتدایي محاکمو له خوا د عالي محاکمو د فیصلو متواتر تکرار د قضایي رویې د ایجاد لامل ګرځي. (۱م۱۳۲)

## د قضايي رويې او قانوني قاعدې ترمنځ توپير:

په روم- جرمن حقوقي سیستم کې د حقوقي قواعدو جوړول اساساً د قضایه قوې کار نه دی او د قاضي په نظر دا د قانون جوړونکي (مقنن) او د هغه اداري مقاماتو کار دی چې د دې کار صلاحیت ورکړل شوی دی. که چېرته دا فرض کړو چې قاضیان د دې قانع موقف سره سره بیا هم حقوقي قواعد جوړوي، نو آیا د هغو حقوقي قواعدو چې د قضاء له خوا جوړېږي او د هغو حقوقي قواعدو چې قانون جوړوونکي یې جوړوي، ترمنځ به کوم توپیر وجود ولري؟ دلته دوه مهم توپیرونه موجود دي:

لومړی توپیر: په هر هېواد کې د قانون او قضا په اهمیت پورې تړلی دی، په دې مفهوم چې د روم- جرمن حقوقي سیستم په هېوادونو کې د قضا له خوا د حقوقو د موندلو فعالیت یوازې په هغه چوکاټ کې صورت نیسي چې قانون جوړونکي (مقنن) ورته ټاکلی دی، حال دا چې د قانون جوړونکي د فعالیت ساحه ډېره پراخه ده او د قضایي رویې د ایجاد لپاره د قاضي د فعالیت لپاره چوکاټ ټاکي، له همدې امله د قضایي رویې د حدودو ساحه محدوده ده. په دې برخه کې د روم- جرمن حقوقي سیستم وضع برعکس د هغه حالت ده چې د کامن لا حقوقي سیستم په هېوادونو کې منل شوې ده. (۲م۴۵)

دویم توپیر: په روم- جرمن حقوقي سیستم کې هغه حقوقي قواعد چې د قضایي رویې په واسطه منځته راځي، د هغه اعتبار او چلند د قوت لرونکي نه دي چې د قانون جوړونکي له خوا ایجاد شوي حقوقي قواعد یې لري. د قضایي رویې په واسطه جوړ شوي قواعد هر وخت د نویو مسایلو په سبب له منځه تللی او یا تغیر کولای شي. یوه محکمه د حقوقي پرنسیپ له مخې مجبوره نه ده چې هغه قضایي رویه چې په خپله د ده له خوا ایجاد شوې، رعایت کړي او که قاضیان په یوې نوې فیصلې کې داسې یوه قضایي قاعده چې پخوا له دې تطبیق شوې وي، تطبیق کړي دا په دې دلیل نه تطبیقېږي چې پخوا له دې تطبیق شوې وه، حتی یوه ابتدایي محکمه هم مکلفیت نه لري ترڅو حتمي او ضروري د خپل صلاحیت په ساحه کې په مشابه قضایاوو کې د عالي یا پورتنیو محکمو فیصلې په نظر کې ونیسي او عملي یې کړي. بناءً قضایي رویه الزامي جنبه نه لري، قاضي پرته له دې چې ځان مجبور وبولي کولای شي هغه تایید او رعایت کړي. (۲م۴۵)

قضایي رویه یوازې هغه وخت موجودیت لري او قابل د تطبیق ده چې قاضي هغه وړ بولي، نو په داسې شرایطو کې هغو قواعدو ته چې د قضایي رویې له خوا منځته راغلي دي، په زغرده یا مستقیم ډول حقوقي

قواعد ویل کېدای نه شي؛ نو د کامن لا حقوقي سیستم پر عکس په روم- جرمن حقوقي سیستم کې د دې اصل ردول چې (قاضي دې په مشابه موضوعاتو کې د هغو فیصلو رعایت وکړي چې پخوا د قضاء له خوا په یوه ځانګړې مسئله کې منځته راغلي وي) کومه اتفاقي خبره نه ده، ځکه په روم- جرمن حقوقي سیستم کې له منځنیو پېړیو څخه راپدېخوا عنعنوي نظریه دا ده چې باید حقوقي قواعد د قانون جوړونکي (مقنن) یا د حقوقو له علماو (دکترینو) څخه سرچینه واخلي، بناءً په روم- جرمن حقوقي سیستم کې د موجودې نظریې پر اساس قاضي باید پر قانون جوړونکي تبدیل نه شي، نو که څوک له ډېر دقت څخه کار واخلي وبه وایي چې په روم- جرمن حقوقي سیستم کې قضایي رویه د (حقوقي قواعدو) منبع نه ده، آما دا به صحیح نه وي چې وویل شي قضایي رویه د (حقوقو) منبع نه ده، ځکه که څېرته قضایي رویه په دې حقوقي سیستم که حقوقي قواعد نه ایجادوي، ولې ثانوي حقوقي قواعد (قضایي رویه) رامنځته کوي چې د دې حقوقي سیستم په تکمیل او عملي تطبیق کې ډېر مهم نقش ترسره کوي. دلته باید په خلص ډول وویل شي چې قضایي رویه په دې حقوقي سیستم کې د حقوقو یوه فرعي یا نامستقیمه منبع ده. (۴م۲۲)

لکه څرنګه چې قضایي رویه د محاکمو له خوا رامنځته کېږي، نو ښه به دا وي چې د روم- جرمن حقوقي سیستم په غړو هېوادونو کې د قضایه قوې په تشکیلاتو او د قضاتو په انتخاب رڼا واچوو.

## د قضایه قوې تشکیلات او د قضاتو انتخاب:

الف: د قضایه قوې تشکیلات: د قضایه قوې تشکیلات د روم- جرمن حقوقي سیستم په مختلفو هېوادونو کې متفاوت دي، آما له استثناتو څخه په صرف نظر، په ټولو یادو شویو هېوادونو کې قضایه قوه د یو ډول سلسله مراتبو لرونکې ده. کله چې یوه موضوع پېښېږي په لومړۍ مرحله کې ابتدایه محکمې ته راجع کېږي چې د ابتدایي محاکمو شمېر ډېر زیات دی، په دویمه مرحله کې د مرافعې محاکم وجود لري چې د هغو تعداد کم دی، په درېیمه مرحله کې د دې ټولو محاکمو په سر کې یوه عالي (ستره محکمه) قرار لري. ولې د دې هېوادونو تر منځ د محاکمو په هره مرحله کې نظر تعداد، وظایفو او صلاحیتونو ته خاصتاً د ابتدایه محاکمو په برخه کې توپیر وجود لري، ځکه ممکنه ده د دې محاکمو شمېر په ځینو هېوادونو کې ډېر زیات او په ځینو هېوادونو کې کم وي، ممکنه ده په یو هېواد کې د دعوا د ماهیت او اهمیت له نظره څو ډوله محاکم وجود ولري، اختصاصي محاکم لکه د تجارت محاکم، د فامیل د مسایلو د حل محاکم او د کار او ټولنیزو چارو د تامین محاکم په ځینو هېوادونو کې امکان لري موجود وي او په ځینو نورو هېوادونو کې موجود نه وي. په مرافعه محاکمو کې هم د هغو شرایطو په برخه کې چې په کې مرافعه غوښتنه امکان لري، د دې هېوادونو ترمنځ توپیر وجود لري. په همدې ډول عالي (ستره) محکمه په ځینې هېوادونو کې د عالي استیناف وظیفه ترسره کوي، حال دا چې په نورو کې یوازې د تمیز نقش پر غاړه لري او نه شي کولای چې د دعوا پر ماهیت رسیده ګي وکړي. یوه بله پېچیده ګي د مختلفو هېوادونو په فدرالي جوړښت پورې تړلې ده، د فدرالي هېوادونو قضایه قوه اکثراً د عضوه واحدونو (ایالتونو، کانتونونو) په صلاحیت کې ده او د هغوی په راس کې یو یا څو فدرالي محاکم وجود لري؛ دا وضع په المان، سویس او برازیل کې لیدل کېږي. په مقابل کې په وینزویلا کې د فدرال له محاکمو پرته نور محاکم وجود نه لري. په مکسیکو او ارجنټاین کې د امریکا د متحدو ایالتونو په شان د محاکمو دوه سلسله مراتب د یو بل په مقابل کې قرار لري، له یو طرف نه د ایالتونو او ښاري محاکمو سلسله او له بل طرف څخه د فدرال د محاکمو سلسله وجود لري. (۵م۱۳۳)

د محاکمو له هغو سلسله مراتبو څخه بهر چې په پورته ډول ترې یادونه وشوه، په ځینې هېوادونو کې داسې محاکم وجود لري چې مستقل دي، مثلاً په اکثره هېوادونو کې زیات شمېر اداري محاکم وجود لري چې ځانته ځانګړي او خاص سلسله مراتب لري، لکه المان، اتریش، بلژیک، فنلینډ، ایټالیا، لیختن اشتاین،

لوکزامبورک، موناکو، سويډن، فرانسه او د لاتيني امريکا په مختلفو هېوادونو (کلمبيا، مکسيکو، پاناما او يورگوای) کې چې په فرانسه کې د دې اداري محاکمو په راس کې د فرانسې دولتي شورا وجود لري.

په ځينو نورو هېوادونو کې لکه هسپانيه، سويس او د افريقا په هغو هېوادونو کې چې په فرانسوي ژبه خبرې کوي، اداري محاکم وجود لري، مگر مستقل نه دي، بلکې د سترې محکمې په چوکاټ کې د همدې محکمې تر نظارت لاندې يوه ځانگړې اداري محکمه وجود لري. آما په ځينې هېوادونو کې لکه ډنمارک، ناروې، جاپان، ارجنټاين، برازيل، چيلي، پيرو او وينزويلا کې اداري محاکم وجود نه لري. همدارنگه د روم-جرمن حقوقي سيستم هېوادونه قضايي او اداري محاکمو ته د دعواوو په رسيده گۍ کې د ورکړل شوي صلاحيت په برخه کې هم يو له بل سره توپير لري. (۳م۷۴)

ب: د قضاتو انتخاب:

د روم- جرمن حقوقي سيستم په هېوادونو کې قضات عموماً حقوقپوهان دي چې په دايمي ډول د قضاء په شغل پورې تړلي دي (په دې برخه کې د روم د حقوقو عنعنه نه ده ساتل شوې، په پخواني روم کې قضات معمولاً حقوقپوهان نه وو). هغه پرنسيپ چې په دې برخه کې وجود لري، ځينې استثنات هم لري، په ځينې هېوادونو کې داسې قاضيان وجود لري چې د يو ټاکلي وخت لپاره انتخابېږي، ممکن حقوقپوهان نه وي، لکه د سويس په کليوالي کانتونو او د فرانسې د تجارت په محاکمو کې. همدارنگه له قاضي سره معاون او يا قضايي منصفه هيئت په جزايي او حتی په مدني مسايلو کې يو ځای وي. قضات معمولاً د ټول عمر لپاره ټاکل کېږي او د نه تغيرېدو امتياز د هغوی د استقلال د اساسي تضميناتو له جملې څخه دی، آما په سويس، المان او ايټاليا کې د دې پر عکس حالت وجود لري، مثلاً سويس کې د فدرال قضات د (۲) کلونو لپاره انتخابېږي. د لاتيني امريکا په هېوادونو کې د عالي محاکمو قضات يوازې په ارجنټاين، برازيل او چيلي کې د ټول عمر لپاره ټاکل کېږي، په داسې حال کې چې د نومورو سيستم په ځينې نورو هېوادونو کې له (۳) څخه تر (۱۰) کلونو پورې ټاکل کېږي. د روم- جرمن حقوقي سيستم په هېوادونو کې قضات د خپل عملي ژوند په پيل کې د قضاء شغل غوره کوي او ندرتاً داسې واقع کېږي چې قضات له هغو وکيلانو څخه چې زيات شهرت يې حاصل کړی، انتخاب شي؛ لکه څرنگه چې د دې پر عکس حالت په کامن لا حقوقي سيستم کې ليدل کېږي. (۲م۸۰)

**پايله**:

په نتيجه کې ويلای شو چې په روم- جرمن حقوقي سيستم کې قانون په عامه مانا نن ورځ په ظاهره د روم-جرمن حقوقي سيستم د حقوقو اصلي او تقريباً انحصاري منبع گڼل کېږي. د نومورې حقوقي سيستم ټول غړي هېوادونه د مدونو حقوقو (ليکلو حقوقو) هېوادونه بلل کېږي. په دې هېوادونو کې حقوقپوهان تر هر څه وړاندې دا کوښښ کوي چې د موضوعاتو او مسايلو لپاره حل لارې د هغو قوانينو او مقرراتو د متن له مخې لاسته راوړي چې د مقننه قوې او صلاحيت لرونکو حکومتي مقاماتو له خوا نافذ شوي دي. لکه څرنگه چې په دې حقوقي سيستم کې حقوقي قواعد (قوانين) د قانونگزار له خوا نسبتاً کُلي وضع کېږي او په ډېرو جزياتو پسې نه گرځي او کله داسې حالات هم منځته راځي چې د ځينو موضوعاتو لپاره په قانون کې حل لارې نه وي پېشبيني شوې؛ نو په دې ډول حالاتو کې محاکم او قضات د روم- جرمن حقوقي سيستم په هېوادونو کې قانون تفسيروي او پر پام وړ موضوع باندې يې تطبيقوي. کله چې همدا تفسير شوی حالت تکراراً په راتلونکو مشابه موضوعاتو باندې تطبيق شي، قضايي رويه منځته راوړي، په دې توگه قضايي رويه په روم- جرمن حقوقي سيستم کې د حقوقو د يوې فرعي منبع په حيث تبارز او د دې حقوقي سيستم د حقوقي نظام په تکامل کې د نورو حقوقي منابعو تر څنگ خپل نقش ترسره کوي. په دې توگه د روم- جرمن حقوقي سيستم په غړو هېوادونو کې د حقوقي قواعدو ترڅنگ چې د مقنن له خوا وضع کېږي او مورږ يې د قانون په

نوم پېژنو، قضایي رویه هم وجود لري چې د محاکمو او قضاتو له خوا د قانون د تفسیر په نتیجه کې منځته راځي چې په دې حقوقي سیستم کې د ثانوي قواعدو او یا تفسیري قواعدو په نوم هم یادېږي، نو په دې توګه د روم- جرمن په حقوقي سیستم کې حقوق یوازې په حقوقي قواعدو چې د قانونګزار له خوا منځته راغلي، منحصر نه دي، بلکې د قضاتو له خوا د مقنن د قانوني عبارتونو په تفسیر کې هم حقوق موندلای شو.

دلته کېدای شي داسې سوال واقع شي چې آیا پورتنی نظر د دې خبرې ارزښت نه کموي چې د روم جرمن د حقوقي سیستم په هېوادونو کې حقوقي قاعده نسبتاً مجرده او کلي بڼه لري؟ آیا له قضایي رویې څخه استفاده، هغه روش ته د نږدې کېدو په معنا نه ده چې حقوقي قواعدو ته د منفردو (ځانګړو) مسایلو په سطحه کې قرار ورکوي، کوم چې د کامن لا په حقوقي سیستم کې لیدل کېږي؟ د دې سوال په ځواب کې باید ووایو چې که څېرته قضایي فیصلې ته د قانوني قاعدې (حقوقي قاعدې) په اندازه او ارزښت قایل شو، د روم- جرمن حقوقي نظام ته به مو ژور تغیر ورکړی وي او د کامن لا له حقوقي سیستم سره به مو تړلی وي. ولې برعکس د روم- جرمن په حقوقي سیستم کې د قضایي رویې یا ثانوي حقوقي قواعدو موجودیت د دې لامل نه دی ګرځېدلی چې دا حقوقي نظام په قضایي فیصلو (قضایي رویې) ولاړ یو نظام کړي، یا دې نوموړي نظام ته تغیر ورکړي، ځکه دا یو حقیقت دی چې قضایي رویه چې د قاضي له خوا منځته راغلي، که هر څومره ارزښت ولري، بیا هم د حقوقي قواعدو پر وړاندې یې ارزښت کم دی. آما بیا هم باید ووایو چې سره له دې چې د قانوني قواعدو (حقوقي قواعدو) د حقوقو لپاره استواره او له بحث څخه پرته یو چوکاټ یا ساختمان ورکوي او د دې باوجود حقوقي قواعد په هغه ډول چې د دې حقوقي سیستم د مقنن او حقوقپوه له خوا د حقوقو لپاره مناسب او مطلوب ګڼل کېږي، پرته له شکه په یوازې ډول د حقوقو د درک او پېژندنې لپاره کافي نه دي؛ بلکې قضایي رویه (ثانوي حقوقي قواعد) هم د هغو د تکمیل او روښانه کولو لپاره لازمي دي. دلته یوه بله خبره هم د یادونې وړده، هغه دا چې په هغو هېوادونو کې چې د هغوی حقوق د قضایي رویې پر اساس جوړ شوي، کله چې یوه قاعده اصلاح یا فسخه کوي، حقوقپوهان له تردید سره مخ کېږي؛ ځکه هغه نتایج چې دا ډول فسخ یا اصلاح د ټول سیستم لپاره منځته راوړي، مشخص او روښانه نه وي. آما د روم- جرمن د حقوقي سیستم په غړیو هېوادونو کې د دې ډول اصلاحاتو راوستل اسانه دي، ځکه په روښانه ډول لیدلی شو چې کوم قواعد تغیر خوري او کوم قواعد پرته له لاس وهلو پاتې کېږي. دا ډول اصلاحات په خاصه توګه د حقوقو په (ثانوي قواعدو) کې په ډېرې اسانۍ سره صورت نیسي. بنا پر دې څرنګه چې د روم- جرمن د حقوقي سیستم په هېوادونو کې په قضایي رویې کې اصلاحات د نظام اساساتو ته صدمه نه رسوي، نو د خطر او عدم اطمینان حالت هم نه ایجادوي، نسبت هغو هېوادونو ته چې په هغوی کې د روم- جرمن د حقوقي سیستم د قبلونې په څېر حقوقي قاعده نه ده منل شوې، لکه د کامن لا حقوقي سیستم هېوادونه.

## وړاندیزونه:

لکه څرنګه چې له پورته څېړنې څخه ثابتېږي چې د روم- جرمن د حقوقي سیستم په غړیو هېوادونو کې قانون د حقوقو اصلي او تقریباً انحصاري منبع ده، په نوموړي وضعي سیستم کې نورې منابع هم شتون لري چې له هغې جملې څخه قضایي رویه د دې باوجود چې د حقوقو منبع ده، ولې یوه فرعي او غیر الزامي منبع ده، نو په دې حقوقي سیستم کې قاضي په خاص ډول کوښښ کوي ترڅو له هر څه نه وړاندې قانون مطلق تطبیق کړي او هڅه یې دا وي چې د مقنن اراده د هرې دعوا په حل کې منعکسه کړي، ولې برعکس ښه به دا وي چې په دې حقوقي سیستم کې د حقوقو نورو منابعو د اهمیت زیاتوالي ته هم توجه وشي. له دې څخه علاوه قاضي باید یوازې کوښښ ونه کړي ترڅو د متهم عمل له قانون سره منطبق کړي، بلکې هڅه یې دا وي چې د متهم د عمل واقعیت د هغه د فردي شخصیت او د خپلې ټولنې د موجوده زمانې له واقعیتونو سره منطبق کړي. قاضي باید د دعوا اوراقو او د قانون له عباراتو څخه په مخکې تللو سره، ټولنیز ملاحظات یا واقعیتونه او د متهم

شخصيت ته پاملرنه ولري، يا په بل عبارت له قانون څخه را منځته شوي خپل تفسير ته اهميت ورکړي او د قضايي رويې د ايجاد کوښښ وکړي، ترڅو په دې وسيله د قانون له تحجر څخه يو قدم لرې شوى وي او د خپل هېواد حقوقي نظام د انجماد او رکود مخه يې نيولې وي، نو پکار ده چې د روم- جرمن حقوقي سيستم د غړيو هېوادونو قضات د قانون علاوه د حقوقو نورو منابعو د هغې جملې قضايي رويې ته توجه وکړي او له قانون څخه يوازې د يوې وسيلې په حيث د تولنې د اصلاح او د عدالت تطبيق لپاره استفاده وکړي، نه دا چې د هغوى هدف يوازې د قانوني قواعدو مطلق تطبيق وي.


## Abstract:

Precedent: in civil law countries:Civil law is often referred as Roman or Romano-German law. The term civil law is the English translation of the Latin term Jus Civil meaning citizen's law that was the term used to describe its judiciary. Civil law is a legal system originating in Europe Continental, intellectualized within the framework of late Roman law, and whose most prevalent feature is that its core principles are codified into a referable system which serves as the primary source of law. In civil law, Statutes are the primary source of law and judicial jurisdiction. In addition, there are some secondary sources such as custom of the community, superior courts decisions (precedent), opinion of the experts (doctor in), and the general principles of law. Statutes are codified and have many provisions to cover general and substantial issues, thus, it may not include minor issues or may not have provision about some problem. To address the issue, judges, therefore, are expected to interpret the statute and apply it to the case in hand. This does not only enable the courts to solve similar future cases, but also set precedent if applied by inferior courts and if the decision is not challenged and over turned by superior courts. Superior courts decisions (precedent) are one of the secondary sources of the Romano-German or civil law legal system and play its role in shaping and developing of the legal system. Precedents are kept in special series, which are of particular importance in the legal system


## اخځليکونه :


۱- رنه دويد.(۱۳۷۵ هـ ش). نظام هاى بزرگ حقوق معاصر. تهران: مركز نشر دانشگاهى

۲- ر.ک، داکتر افشار. (۱۳۸۱هـ ش). كليات حقوق تطبيقى. تهران: كتابخانه ملى ايران

۳- زنجانى، عباس على. (۱۳۸۲هـ ش). درامدى بر حقوق تطبيقى اسلامى. تهران: نشر ميزان

۴- شريف، على. (۱۳۸۲هـ ش). كليات حقوق تطبيقى. تهران: نشر بشارت

۵- صفايى، داكتر سيدحسين. (۱۳۸۴هـ ش). درامدى بر حقوق تطبيقى. تهران: نشر ميزان

۶- كاتوزيان، داكتر ناصر. (۱۳۸۱هـ ش). فلسفه حقوق (جلد اول). تهران: شركت سهامى انتشار

۷- www.wikipedia.com

۸- www.naghabel.com

پوهنمل غلام فاروق (رحیمي)
طب پوهنځی- سترګو څانګه

# پر سترګو د ویټامین A د کموالي اغېزې

**لنډیز**:
د WHO د احصایې له مخې په نړۍ کې تقریباً 228 ملیونه ماشومان د ویټامین A په متوسط او شدید کموالي اخته دي. د ویټامین A کموالی یوه ناروغي ده چې په خوړو کې د ویټامین A د کموالي او د ویټامین A د نه جذبېدلو له کبله پیدا کېږي چې دا ناروغي په سترګو کې د night blindness (د شپې له خوا څخه نه لیدل)، xerophthalmia (د سترګو وچوالی)، bitot's spots او که افت ډېر پرمختللی وي keratomalacia ژر رامنځته کېږي، د نښو او اعراضو په واسطه پېژندل کېږي. په دې څېړنه کې د ویټامین A د کمښت له امله په سترګو کې د راپیدا کېدونکو ستونزو او د هغې د وقایې او درملنې په اړه بحث شوی دی.

**سریزه**:
د نړۍ ۱.۲۱ سلنه د ښوونځي د عمر مخکې ماشومان او ۲.۵ سلنه امیندوارې ښځې د ویټامین A په کموالي اخته دي چې د عامې روغتیا غټه ستونزه جوړوي او د نړۍ ۱۱۸ هېوادونو څخه ډېر یې ددې ستونزې سره مخ دي. د ټولو وګړو ۱۴۰-۲۵۰ ملیونه هغه ماشومان چې عمر یې د ۵ کلنۍ څخه کم دی، د ویټامین A په کموالي اخته دي. هر کال د نړۍ په کچه ۳ ملیونه ماشومان د ویټامین A د کموالي له کبله د سترګو لید له لاسه ورکوي او ۱،۵ ملیونه ماشومان د سترګو ړوندوالي وروسته د دولس میاشتو په موده کې مړه کېږي چې د مړینې لامل یې د ویټامین A تر څنګ نورې ناروغۍ لکه اسهالات، شری، ملاریا او خوارځواکي ده.
همدارنګه هر کال نږدې ۸۰۰۰۰۰ ماشومان او ښځې د ویټامین A د کموالي له کبله خپل ژوند له لاسه ورکوي چې تقریباً په هر سلو تنو کې ۲۰-۲۴ ماشومان د ویټامین A د کموالي سره د ملاریا، شرې او اسهالاتو له کبله مري چې ډېرې پېښې یې په افریقا او اسیا کې لیدل کېږي، د نوموړو پېښو ۲۰ سلنه پېښې د دې وړ دي چې مخنیوی یې وشي. (2)

**موخې**:

- د ویټامین A ارزښت او د کموالي په صورت کې یې د سترګې په برخه کې د راپیدا کېدونکو ستونزو په اړه عامه پوهاوی.
- په اړونده برخه کې طبي کارکوونکو، زده کوونکو او د مسلک مینه والو ته د نویو او ګټورو معلوماتو برابرونه.

**طبي ادبیات**:
ویټامین A په شحمونو کې منحل ویټامین دی چې بدن یې د غذا له لارې اخلي او په ځیګر کې ذخیره کېږي. د عمر او جنس له نظره د ویټامین A ورځنۍ اړتیا توپیر لري، په کوچنیانو کې یې اړتیا ۱۰۰۰-۱۵۰۰ بین المللي واحده، په لویانو کې د ورځې ۵۰۰۰ بین المللي واحده او په امیندوارو او شیدې ورکوونکو میندو کې د ورځې ۸۰۰۰ بین المللي واحده اټکل شوې ده. (2)

**د ویټامین A دندې**:

1. د سترګو لید لپاره ډېر اړین دی (د شپې او ورځې له خوا د لید له پاره او د رنګونو په بېلولو کې).
2. د وجود په وده کې ډېر رول لوبوي.
3. په نارینه و کې د سپرمونو په جوړولو کې ونډه اخلي.

4. هغه حجرات چې مخاط افرازوي، ويټامينA يې په نورماله فزيالوژۍ کې ډېره ونډه اخلي.
5. د جنين د اورګانونو په پښېدلو کې مهمه ونډه اخلي.
6. Antioxidantدنده لري.
7. د مور څخه ماشوم ته د HIV مستقيم انتقال کموي.
8. د معافيتي سيستم په دنده کې مهمه ونډه اخلي. (1)

د ويټامين A منابع په دوه ګروپونو ويشل شوې دي چې له حيواني او نباتي سرچينو نه عبارت دي. (1, 2)

1. نباتي منابع:
a. هغه نباتات چې تياره شنې پاڼې ولري لکه شين مرچ، رومي، پياز، بانجان او داسې نور.
b. هغه نباتات چې زيړ رنګې پاڼې ولري لکه ګازرې، کچالو، نارنج، مالټه، تورنج او داسې نور.

2. حيواني منابع:
a. د مور شيدې.
b. ځيګر.
c. ماهي او د ماهي د ځيګر تېل.
d. د هګۍ زيړ.
e. شيدې او د شيدو محصولات.

ويټامين A د مور څخه ماشوم ته د حاملګۍ په اخرو مياشتو کې انتقالېږي. د حاملګۍ وروستۍ درې مياشتو کې د ويټامين A اړتيا ماشوم ته ډېرېږي، ځکه چې په دې وخت کې د ماشوم د وجود غړي پښېږي. که مور د ويټامين A د کمښت سره مخ وي، نو د ماشوم د وجود په غړو ډېره بده اغېزه پرېوځي. (1)

ويټامين A په شحم کې منحل ويټامين دی چې په خوړو کې په دوه ډوله اخيستل کېږي، لومړی ډول يې retinol دی چې له حيواني منابعو اخيستل کېږي او دويم ډول يې provitamin carotene دی چې د نباتي منابعو اخيستل کېږي او په وړو کلمو کې د کلمو د مخاطي حجراتو په واسطه جذبېږي چې carotene په retinol بدل او په ځيګر کې ذخيره کېږي. (1, 7)

ويټامين A د سترګې په ميتابولېزم کې دوه مهمې دندې په retina او منظمې کې لري:

1. Retina: ويټامين A د هغه صباغ يا rhodopsin په جوړېدلو کې مهمه ونډه اخلي چې د نور په مقابل کې ډېر حساس او کومې عصبي سيالۍ چې په photoreceptors کې جوړېږي، په منځته راتګ کې مهم رول لري.
2. د منظمې د اپيتل حجراتو د نورمال ساتلو له پاره اړين ويټامين دی، همدارنګه د glycoprotein په جوړېدلو کې ونډه اخلي چې نوموړي پروټين د منظمې د مخاط او د قرنيې د ستروما په نورمال ساتلو کې ډېر رول لري. (6)

Retina دوه جلا photoreceptors سيستمونه د rods او cones په نومونو لري. Rod حجرات په تياره کې د ليد دنده لري او Cone حجرات د رنګونو په فرق او د ورځې له خوا د ليدلو دنده لري، ويټامين A د نوموړو حجراتو له پاره د ملا د تېر حيثيت لري.

کله چې سترګه د رڼا سره مخامخ شي rhodopsin په اتومات ډول تخريب کېږي، کله چې شخص د رڼا څخه تياره ته راځي rhodopsin په اتومات ډول بيا جوړېږي، نو کله چې شخص د رڼا څخه تياره ته راځي، د ډېر کم وخت له پاره څه نه ګوري، ځکه چې د rhodopsin جوړېدل څو ثانيې وخت نيسي او هغه کسانو کې چې د ويټامين A په کموالي اخته وي rhodopsin نه جوړېږي، نو ناروغ په تياره کې څه نه ګوري. (4)

د هغو ماشومانو لپاره چې د مور شيدې اخلي د ويټامين A يوازينۍ ښه او قوي منبع د مور شيدې دي، که مور په خوارځواکۍ اخته وي، شيدې د نورمالې اندازې کمېږي او د ويټامين A غلظت په شيدو کې ښکته کېږي او ماشوم د ويټامين A د کموالي سره مخ کېږي. (9)

د ويټامين A د کموالي لومړني سريري نښې د منظمې وچوالی، Bitot's spots د شپې له خوا نه ليدل يا night blindness دي. د ۱۴۰-۲۵۰ مليونه هغه ماشومان چې عمر يې د ۵ کلنۍ څخه کم وي، د ويټامين A د کموالي له خطر سره مخ دي چې ډېری يې اسيايي او افريقايي وچو کې دي. (1)



لومړی شکل (۱)Biotot's spot

ماشوم هغه وخت د ناروغۍ له کبله د مرګ د ګواښ سره مخ کېږي چې په نس ناستې او measle اخته شي.

## د ويټامين A د کموالي معمول اختلاطات دا دي:

1. د سترګو تغيرات.
2. د اپيتل حجراتو تغيرات.
3. د پوستکي تغيرات.
4. د تنفسي سيستم تغيرات.
5. د هضمي سيستم تغيرات.
6. د تناسلي سيستم تغيرات.
7. د سکيلېټ تغيرات.
8. د بولي سيستم تېرې.
9. د مکروبونو په مقابل کې د مقاومت کمېدل، د ويټامين A په کموالي کې د وجود مخاطي غشا نرۍ او وچېږي. (1,2)



دويم شکل (۱)Bil corneal scar

د ویټامین A د کموالي له کبله سترګه وچېږي ( xerophthalmia ) WHO د xerophthalmia کلنیکي نښې په لاندې ډول طبقه بندي کړي دي چې معمولاً قرنیه، منظمه او retina یا شبکیه په افت اخته کوي:

XN Night blindness
X1A Conjunctival xerosis
X1B Bitot's spots
X2 Corneal xerosis
X3A Corneal ulceration-keratomalacia involving one-third or less of the cornea
X3B Corneal ulceration-keratomalacia involving one-half or more of the cornea
XS Corneal scar
(1, 10).XF Xerophthalmic fundus

## د شپې له خوا ړندوالی یا(night blindness):

ویټامین A د سترګې په photoreceptor دنده کې اساسي رول لري، نو د کموالي په صورت کې یې معمول او د ناروغ لومړنۍ ګیله د شپې له خوا څه نه لیدل دي. که ناروغ ته د خولې له لارې ویټامین A شروع شي، په ۲۴-۴۸ ساعتو کې ځواب وايي. (4, 8)

**منظمه:** (X1A) xerosis د سترګې د مخاطي غشا یا منظمې په وچوالي دلالت کوي، د ویټامین A په کموالي کې د منظمې مخاط افرازوونکي حجرات سکامس حجراتو ته metaplasia کوي، xerosis معمولاً په temporal برخه، interpalpebral برخه او bulbar منظمه کې پیدا کېږي، منظمه پېړه او د صابون د ځګ په شکل ښکاري. (3, 5)

Bitot's spots د منظمې مثلثي ډوله keratinization دی چې ځینې وخت د عمومي خوارځواکۍ له کبله هم پیدا کېږي او که لامل یې د ویټامین A کموالی وي، د ویټامین A په ورکړې ژر له منځه ځي. (3)

**قرنیه:** په xerophthalmia کې قرنیه تیاره او روښوالی له لاسه ورکوي، په نقطوي ډول د قرنیې حجرات په التهاب اخته کېږي چې لامل یې د اوښکې د صفحې بې ثباته کېدل دي، یاد افت معمولاً دواړو سترګو کې وي. نوموړې دواړه نښې په هغو خلکو کې معمولاً ډېر لیدل کېږي چې night blindness او Bitot's spots ولري. د درملنې سره د یوې اوونۍ په موده کې ناروغ ښه کېږي او که درملنه شروع نشي، د قرنیې ستروما برخه ازیمای او keratinization په کې پیدا کېږي چې په نتیجه کې د قرنیې په محیط کې د پزې طرف ته کوچنی زخم پیدا کېږي چې څنډې یې تېرې وي. که افت پرمختګ وکړي او مخنیوی یې ونه شي، ناروغ د keratomalacia مرحلې ته داخل او قرنیه په ټول ضخامت کې نیکروزي او سورۍ کېږي. (2, 10)

**درملنه:**

د درملنې هدف د ویټامین A بېرته ذخیره کېدل دي، په خفیفو حالاتو کې د خولې له لارې 200000 IU ویټامین A په لومړۍ او دویمه ورځ ورکول کېږي. په ماشومانو کې چې د پروټینو په شدیده خوارځواکۍ اخته وي، د خولې له لارې 200000 IU په هرو دوه اوونیو کې تر هغه ورکول کېږي چې د مریض عمومي وضعه ښه شي. (1, 10)

که د قرنیې افت شدید وي او یا ناروغ په malabsorption اخته وي 100000 IU عضلي زرق کېږي. د ثانوي انتاناتو د مخنیوي په خاطر موضعي درمل (د مکروب ضد څاڅکي او ملهم) ناروغ ته توصیه کېږي. د قرنیې د سکار په صورت کې جراحي مداخله ضروري ده. (7,9)

**وقایه:**

د ویټامین A د سوبې برابرول د ماشومانو مړینه او ړندوالي خطرات کموي، په وقایوي ډول ویټامین A له دوه لارو اخیستل کېږي، د هغو خوړو زیات خوړل چې ډېر مقدار ویټامین A ولري او په وقفوي ډول د ویټامین A د مستحضراتو توصیه کول. (2)

نوي زېږېدلي ماشومان باید IU 50000، هغه ماشومان چې عمر یې د یو کال پورې وي IU 100000 هر ۴-۶ میاشتو کې باید واخلي، کاهلان او هغه ماشومان چې عمر یې له یو کال زیات وي IU 200000 په هرو ۴-۶ میاشتو کې باید واخلی. حامله ښځې او شیدې ورکوونکې میندې هره اوونۍ باید IU 20000 ویټامین A واخلي. (3, 4)

د عامې روغتیا وزارت باید د صحي تبلیغاتو له لارې د عامه پوهاوي کچه لوړه کړي، تر څو خلک هغه ترکاري او خواړه ډېر استعمال کړي چې د ویټامین A څخه غني وي؛ همدارنګه ځینې ناروغۍ لکه اسهالات، شرى او خوارځواکي چې د ویټامین A د کموالي په صورت کې د مړینې کچه لوړوي، کنترول او له منځه یوسي. (1, 6, 10)

همدارنګه هغه میندې چې روغتیایي مرکزونو ته مراجعه کوي او په خوارځواکۍ او د ویټامین ای په کموالي اخته وي، باید ویټامین A ورته توصیه شي.

## پایله:

د ویټامین A کموالی یوه ناروغي ده چې په خوړو کې د کم مقدار ویټامین A له اخیستلو او د ویټامین A د نه جذبېدلو له کبله پیدا کېږي چې دا ناروغي په سترګو کې د night blindness (د شپې له خوا نه لیدل)، xerophthalmia (د سترګو وچوالی)، bitot's spots او که افت ډېر پرمختللی وي keratomalacia ژر پیدا کېږي. (4)

هر کال د نړۍ په کچه ۳ ملیونه ماشومان د ویټامین A د کموالي له کبله د سترګو لید له لاسه ورکوي او ۱.۵ ملیونه ماشومان د سترګو د ړندوالي وروسته د دولس میاشتو په موده کې مړه کېږي چې لامل یې اسهالات، شرى، ملاریا، خوارځواکي او نورې ناروغۍ دي. همدارنګه هر کال نږدې ۸۰۰۰۰۰ ماشومان او ښځې د ویټامین A د کموالي له کبله خپل ژوند له لاسه ورکوي چې تقریباً په هرو سلو تنو کې ۲۰-۲۴ ماشومان د ویټامین A د کموالي سره د ملاریا، شرى او اسهالاتو له کبله مري چې ډېرې پېښې یې په افریقا او اسیا کې لیدل کېږي، د نوموړو پېښو ۲۰ سلنه پېښې د دې وړ دي چې مخنیوی یې وشي.

### وړاندیزونه:

1. د عامې روغتیا وزارت دې د عامه پوهاوي په موخه په ډله ییزو رسنیو کې خلکو ته د ویټامین A د اهمیت په هکله لارښوونه وکړي.
2. د عامې روغتیا وزارت دې د عامه پوهاوي کچه لوړه کړي، تر څو خلک له هغو خوړو څخه ډېره استفاده وکړي چې له ویټامین A غني وي.
3. د عامه پوهاوي له لارې میندې په دې خبره وپوهول شي چې د مور شیدې د ماشومانو لپاره د ویټامین A یوازینۍ ښه او قوي منبع ده. که مور په خوارځواکۍ اخته وي، شیدې له نورمالې اندازې کمېږي او د ویټامین A غلظت په شیدو کې ښکته کېږي او ماشوم د ویټامین A له کموالي سره مخ کېږي.
4. د عامه پوهاوي په موخه په ډله ییزو رسنیو، جوماتونو او ښوونځیو کې هغه ناروغۍ چې د مخنیوي وړ دي، تبلیغ شي چې کوچنیانو ته د کوچنیوالي د دورې واکسینونه منظم تطبیق شي، خوارځواکي باید له منځه یوړل شي او د ملاریا د کنټرول پروګرامونه نور هم وهڅول شي. که د نوموړو ناروغیو مخنیوی ونه شي او ماشوم د ویټامین A په کموالي اخته شي، د سترګو په دایمي معیوبیت اخته کېږي.
5. ټول محترم طبي پرسونل چې ناروغان ورته مراجعه کوي او په تیاره کې د نه لیدلو څخه شکایت کوي، په سترګه کې Bitot's spots ولیدل شي، باید ناروغ ته ویټامین A ورکړي.

## Abstract:

Vitamin A deficiency is the leading cause of childhood blindness worldwide. It is most prevalent in developing countries, with the word Health Organization estimates of approximately 228 million children affected by moderate to severe deficiency. At greatest risk are the malnourished children born to vitamin A deficiency mothers, particularly if they are affected concurrently by other biological stressors, such as diarrhea or measles. Although rare in the United States, vitamin A deficiency has been known to occur as a result of poor dietary intake, liver diseases, and gastrointestinal malabsorption. The spectrum of ocular disease arising from vitamin A deficiency is known as xerophthalmia. Ocular ulceration and melting ( kerotomalacia ), night blindness ( nyctalopia ) and retinopathy. In addition to its importance in the function of the eye, vitamin A is necessary for proper immune function. Vitamin A deficiency is associated with a high degree of morbidity and mortality, mainly because affected children are more susceptible to respiratory and intestinal infections.


## References:


1. Donald S. McLaren, MD, PhD, FRCP and Martin Frigg, PhD 2001 SIGHT AND LIFE MANUAL ON VITAMIN A DEFICIENCY DISORDERS (VADD) Nutritional Blindness Prevention Programme, International Centre for Eye Health, London, UK. Page 50-61
2. Jogi. Renu 2001 Basic Opthalmology 4th Edition Publish Jaypee brother's India. Page 324-326.
3. Kanski. Jack.J 2011 Clinical Ophthalmology 7th Edition London educational and professional publish page 138 .
4. Khurana. A.K 2007 Ophthalmology 2nd Edition New Age International.P Limited Publish New Delhi page 444-447.
5. Miller. Stephen J.H 2001 Persons diseases of the Eye 18th Edition London page153-155 .
6. Nema. H, Nema N 1998 Textbook of Ophthalmology 3rd Edition Jaypee brother's Publish India page 396-398.
7. N Nuwan, A Nick. March 2008 Community Eye Health journal. available www.cehjournal.org
8. R. Palao, I. Monge, M. Ruiz, J.P. Barret 2009 Pathophysiology and treatmen tjournal homepage: www.elsevier.com/locate/burns
9. Riordan. E P, P. W J Vaughan and Asbury's 2004 General Ophthalmology 16th Edition Long Medical Books USA.
10. Smith Janine, MD and Steinemann L Thomas, MD 2008 21:65 vitamin A deficiency and the eye. Community eye health journal page 1-9.

پوهنمـــل حســـــين (ارمـــان)
کرنې پوهنځی- د نباتاتو حفاظې څانګه

# د ستروسو د جرب ناروغي او مخنيوی يې

## لنډيز:

د ستروسو د جرب ناروغي يوه خطرناکه ناروغي ده چې د ستروسو حساسو ډولونو ته ډېر زيان رسوي؛ نوموړې ناروغي د کوربه بوټي پاڼې او مېوې دواړه ناروغه کوي چې په نتيجه کې د مېوو کيفيت او کميت راټيټېږي. ددې ناروغۍ عامل يو فنګس دی چې په ګرمه او مرطوبه هوا کې د ستروسو ونې په خاصه توګه حساسې نوعې تر حملې لاندې نيسي چې له يوې خوا د ستروسو ونو د ضيايي ترکيب عمليه چې د مېوې په ښه کيفيت او لوړ کميت کې رول لري، زيان مومي. له بلې پلوه د مېوې پخېدنه په خپل وخت نه ترسره کېږي، مېوه يا نه توليد يږي او که چېرې په کمه پيمانه سره توليده هم شي، ډېره بې کيفيته او بې مزې وي. ددې ستونزې د له منځه وړلو لپاره ضرورت احساسېدلو چې د ناروغۍ عامل، ښېي، د ژوند دوران او د مخنيوي په لارو چارو يې ځان وپوهوو، ترڅو وکولای شو په راتلونکي کې د ستروسو د ونو څخه د ښه کيفيت لرونکې مېوې لاسته راوړو.

## سريزه:

له هغه مهال راهيسې چې انسان د ځمکې پر مخ پر کښت او کر پيل کړی، د نباتاتو ناروغۍ او افتونه هم ورسره خوا په خوا په طبعي ډول منځته راغلي دي او بشر يې د غذايي موادو د کمبود سره مخامخ کړی دی. ستروس چې زمونږ د ګران هېواد افغانستان خصوصاً د ننګرهار ولايت يوه مهمه او با ارزښته مېوه ده، د ډول ډول ويټامينونو او منرالونو لرونکي دي؛ له بله پلوه د ستروسو د کورنۍ ونې تل شنې وي او سيمې ته زرغونتيا ورکوي، په همدې اساس د ننګرهار سيمه د همېشه بهار په نامه يادېږي، نو لازمه ده چې د ستروسو د ناروغيو د مخنيوي لپاره ځانګړې پاملرنه وشي. د ستروسو ناروغۍ ډېرې زياتې دي، چې له دې جملې نه يوه د ستروسو د جرب ناروغي ده چې د ستروسو د حساسو ډولونو پاڼې، مېوې او کوچنۍ څانګې تر اغېز لاندې راولي او د هغوی حاصل کموي. د ستروسو د جرب ناروغي د لومړي ځل لپاره د امريکا د متحده ايالاتو د فلوريدا په ايالت کې رامنځته شوه، دا پېښه د سپتمبر په ۳۰ په ۱۹۱۲ميلادي کال کې د فلوريدا د ايالت د يوې نرسرۍ د څېړونکي لخوا د ستروسو د Trifoliata د ډول په هغه وړو نيالګيو کې راڅرګنده شوه چې د جاپان څخه راوړل شوي وو، تر دې وخته پورې دا ناروغي نه وه پېژندل شوې چې وروسته بيا د نباتاتو د ناروغيو د مختلفو متخصيصينو لخوا د ستروسو د جرب ناروغۍ په نوم ياده شوه. (۱،۲،۴)

## موخې:

۱- بڼوالو او د مسلک خاوندانو ته په اړونده برخه کې د معلوماتو برابرول.

۲- د ناروغيو څخه د پاکو او د لوړ کيفيت لرونکو مېوو د توليد له لارې د بڼوالو د کورنيو او ملي اقتصاد پياوړتيا.

## د ناروغۍ عامل:

د ناروغۍ عامل يو فنګس دی چې د Elsinoe fawcettii په نوم يادېږي.

د ناروغۍ د عامل طبقه بندي:

| | |
|---|---|
| Kingdom | Fungi |
| Phylum | Ascomycota |
| Class | Dothideomycetes |
| Subclass | Dothideomycetidae |
| Order | Myriangiales |
| Family | Elsinoaceae |
| Genus | Elsinoe |
| Species | Fawcettii |

دا يو نباتي پتوجن دی او ډېرې نوعې د دې جنس د نباتاتو د ناروغيو عاملين دي، هغه ډولونه چې د دې جنس پورې اړه لري او د نباتاتو د ناروغيو عاملين گڼل شوي دي، د Elsinoe batatas , Elsinoe australis , Elsinoe randii mangiferae , Elsinoe څخه عبارت دي. E. Fawcettii د سپورونو او کونيديا په واسطه تکثر کوي چې کونيديا يې په زياته پيمانه په لوند سکيب باندې واقع وي او لوند سکيب د اتوموسفير په (۲۰-۲۸) سانتي گريد تودوخه کې منځته راځي. کونيديا چې د E.fawcettii تکثري واحد دی، ټوکېدنه او انفکشن يې اوبو ته اړتيا نه لري او د پرخې کېدو لوړ رطوبت په پايله کې يې انفکشن او ټوکېدنه صورت نيسي چې انفکشن يې د (۲.۵-۳.۵) ساعتونو پورې د لنده بل اندازې ته اړتيا لري او د ټوکېدنې لپاره د تودوخې منا سبه اندازه د (۱۳-۳۲) درجه د سانتي گريد پورې ده، په داسې حال کې چې انفکشن يې د ۱۴درجه سانتي گريد نه په ټيټه درجه حرارت کې صورت نه نيسي؛ همدا رنگه د **۲۵** درجه د سانتي گريد نه په لوړه درجه حرارت کې هم انفکشن نه واقع کېږي. مېوې او پاڼې هغه وخت زياتره متاثره کوي چې ځواني وي، د Incubation period موده يې د پينځو ورځو نه کمه ده، چې تقريباً څلور ورځې حسابېږي او د ناروغۍ د پرمختگ لپاره يې متوسطه تودوخه د (۲۰-۲۱) درجه د سانتي گريد پورې ده. (۳،۷،۵)

## د ناروغۍ نښې:

د ستروسو د scab د ناروغۍ علايم په پاڼې باندې د انفکشن نه څلور ورځې وروسته ظاهرېږي چې معمولاً په پاڼې باندې دايروي او راوتلي داغونه او زخمونه جوړوي چې زخمونه شايد په ځانگړي ډول يا په غيرمنظم گروپي شکل باندې وجود ولري او کله چې پاڼې انکشاف وکړي، نو دا تاثيرات د پاڼې په يو اړخ باندې پړسوب پيدا کوي، لکه د ستروسو د grapefruit نوعې په پاڼې باندې دغه پړسوب او زخمونه ليدل کېږي. ځينې وختونه د پاڼې هغه ساحه چې د سکيب د ناروغۍ په واسطه متاثره شوې وي، په هغې باندې زخمونه او زخې ته ورته داغونه راوتلي وي چې عموماً د کارکي انساجو په واسطه چې زيړ بخن رنگ لري پوښل شوي وي او پتري شوی شکل يې غوره کړی وي.
اغېزمنه شوې پاڼه چې د قيف شکل لري



او ځينې وختونه تياره رنگه وي، په هغه صورت کې چې د بل فنجي په واسطه اغېزمنه شوې وي چې د متاثره شوې ساحې داغونه اکثره يوځای خپرېږي او يوه لويه ساحه راگېروي چې کارکي او پتري شوی شکل لري، په ناوړه او شديده توگه متاثره شوې پاڼې راتاوې، گونجې او بې ډوله شوې وي او ودې يې ښه پرمختگ نه وي کړی، ځکه چې د ودې مخه يې نيولې وي چې د عادي پاڼو سره ډېر کم ورته والی لري. ځنې وختونه هغه پاڼې چې د سکيب د ناروغۍ په واسطه متاثره شوې وي، د قيف شکل يې غوره کړی وي او هغه

کوچنۍ ځانګې چې د جرب ناروغۍ په واسطه متاثره شوې وي، د هغوی په سطحه باندې سپين زيړ رنګه راوتلي کارکي کتلې وجود لري. د ستروسو د جرب ناروغۍ علايم په مېوې باندې د انفکشن نه (۷) ورځې وروسته ظاهرېږي چې په مېوې باندې د جرب د ناروغۍ علايم د غير منظم پترې شکله داغونو څخه شروع کېږي، کوم چې په ځوانو مېوو کې د کريمي رنګ نه پيکه زيړ بخن رنګ ته اوړي، په شکل کې د temple ورايټي په مېوې باندې د جرب د ناروغۍ علايم چې کريمي رنګ لري ليدل کېږي چې د وخت په تېرېدو سره کم رنګه نصواري يا خړ زيتون رنګه رنګ ته تغير خوري چې دا بدلونونه د رنګونو په هغه سطحه باندې چې د جرب د ناروغۍ په واسطه اخته شوې وي، د سپروفايت فنجي وده او انکشاف دی چې د هغې د ودې او انکشاف په واسطه د رنګونو دا تغيرات منځته راځي. (۷،۸،۱۰)
همدا رنګه کله چې مېوه يې ځوانه وي او په خطرناکه توګه د جرب ناروغۍ په واسطه تر حملې لاندې راغلې وي، اکثره بدشکله شوې وي او ناوړه شکل يې غوره کړی وي چې په زياتو غوټو او زخو باندې پوښل شوې وي. په شکل کې د grapefruit د ورايټي په ځوانې مېوې باندې د جرب ناروغۍ اغېزې وينو:



د grapefruit اغېزمنه شوې ځوانه مېوه
په ځينې وختونو کې د سطحې څخه يې مخروطي شکله وده راوتلي وي چې خصوصاً د temple او grapefruit په ډولونو کې ليدل کېږي چې متاثره شوې ساحه د پلنېدو او خپرېدو ميلان لري او زخمونه يې د خلاصو زخمونو او ټپونو سره ورته والی لري. (۲،۸،۱۱)

## د ناروغۍ دوران:

انساج يوازې په هغه صورت کې د جرب ناروغۍ په مقابل کې حساس وي، کله چې ځوان وي او پاڼې په هغه وخت کې چې د نوي توليد شو و تېغونو څخه راوځي، د جرب ناروغۍ په مقابل کې تر ټولو زياتې حساسې وي، خو کله چې د خپل وروستني پلنوالي يو پر څلور (۱/۴) برخې ته ورسېږي، نو د جرب ناروغۍ په مقابل کې مقاومت پيدا کوي، په داسې حال کې چې مېوې د ګلبرک ( petal) د غورځېدو نه وروسته تر دوه مياشتو پورې د جرب ناروغۍ په مقابل کې حساسې وي، دا په هغه صورت کې چې د سپورونو دومره تعداد موجود وي چې حساس انساج متاثره کړي. او به هغه عامل دی چې د سپورونو په توليد، ټوکېدنې او خپرېدو کې مرسته کوي او د ناروغۍ په پر مختګ کې مهم رول لري. سپورونه د باران او اوبخور په واسطه خپرېږي، بادونه هم کولی شي چې په زياته اندازه سپورونه د ناروغو انساجو څخه روغو انساجو ته انتقال کړي او پرخه کولی شي چې د زياتو سپورونو د توليد سبب شي، د سپورونو د تشکيل ټوکېدنې او انفکشن لپاره متوسطه تودوخه د سانتي ګريد (۲۴-۲۸) درجې ياد فارنهايت (۷۵-۸۲) درجې پورې ده. د ناروغۍ د عامل هغه سپورونه چې ځوانې، نوې مېوې او پاڼې تر حملې لاندې نيسي، د تېر شوي کال د هغو مېوو او پاڼو څخه چې د جرب ناروغۍ په واسطه اخته شوې وي، په لاس راځي او يا هغه ژمي تېرېدونکي زخمونه چې په مېوو، پاڼو يا د هر هغه منبع نه چې د جرب

ناروغۍ په واسطه متاثره شوې وي، د هغې په نتیجه کې هم د پسرلي نوې وده بیز ګلان پاڼې نوې تېغونه او کوچنۍ څانګې تر اغېز لاندې راځي، د ناروغۍ عامل د ستروسو د مېوو په پاتې شونو باندې ژوند کوي. هغه زخمونه چې په نویو تولید شوو پاڼو، ګلانو او کوچنیو څانګو باندې منځته راغلي وي، ډېر په بیړه سره د ناروغۍ عامل ته انکشاف ورکوي. دا پروسه هغه وخت ډېره تېزه وي، کله چې باران یا Sprinkler Irrigation سیستم وجود ولري؛ همدارنګه سپورونه د اوبو شیندلو په واسطه هم تیتېږي. د Elsinoe fawcettii سپورونه د ټوکېدنې لپاره د لنده بل د (۲-۳) ساعتونو ته اړتیا لري، دا ناروغي د اوږې په وده کونکو نودو باندې ډېر زخمونه منځته راوړي چې د هغې په نتیجه کې د ونې وده متاثره کېږي. (۴،۵،۲)

## د ناروغۍ د مخنیوي لارې چارې:

الف- کرنیزې لارې:

۱- باید د پېژندل شوې منبع څخه د ستروسو نیالګي ترلاسه شي.

۲- په خپل وخت سره باید باغ ته اوبه ورکړل شي.

۳- هغه پاڼې چې د ستروسو د ونې نه غورځېدلې وي او هم هغه هرزه ګیاوې چې د ستروسو په باغ کې وجود ولري، وسوزول شي.

۴- د ناروغۍ په مقابل کې باید جنیتیکي کنترول ترسره شي.

۵- د ژمي په موسم کې باید باغ قلبه او حیواني سره ورکړل شي.

۶- د باغ د جوړولو لپاره داسې نیالګي انتخاب شي چې ریښې یې روغې او مکملې وي.

۷- په باغونو کې د تولیدوونکو بوټو ترڅنګ د ستروسو د ونو څخه شین دیوال جوړ شي.

۸- د ستروسو د بوټو تر منځ نور بوټي (Intercropping) چې د ستروسو کورنۍ پورې اړه ونلري، وکرل شي. (۱۱،۳،۹)

ب -کېمیاوي لارې:

ددې ناروغۍ د ښه کنترول لپاره باید فنګس وژونکي په درېو مختلفو وختونو کې استعمال شي چې اول ځل د پسرلي په لومړیو، دویم ځل د ګلبرک (petal) د غورځېدو په وخت او درېم ځل د دویم ځل استعمال نه درې اوونۍ وروسته باید صورت ونیسي چې په اول ځل کې باید د Gem, Abound ,ferbam , Enable او Headline فنګس وژونکي استعمال شي، ځکه چې دا هغه فنګس وژونکي دي چې په زړو زخمونو کې کولی شي د ناروغۍ عامل له منځه یوسي او دویم ځل استعمال چې د ګلبرک د غورځېدو په وخت کې صورت نیسي، په دې کې باید د Headline, Gem, یا Abound فنګس وژونکي استعمال شي او درېم ځل استعمال چې درې اوونۍ وروسته صورت نیسي، ددې لپاره د Abound, Gem, Headline او همدارنګه د Copper فنګس وژونکو څخه یو انتخاب شي (2lb/acer) ، هغه څېړنه چې د فلوریدا په پوهنتون کې په۱۹۹۱کال سرته رسېدلې، ددې ناروغۍ د مخنیوي لپاره بینومیل (Benomyl) درمل (درې پونډه په یو ایکر ځمکه کې) ښه نتیجه ورکړې ده.

## پایله:

دا چې افغانستان یو کرنیز هېواد دی او زیات شمېر خلک یې په کرنه او مالدارۍ بوخت دي، له بله پلوه ستروس چې زمونږ د ګران هېواد افغانستان او په ځانګړې توګه د ننګرهار ولایت یوه مهمه او باارزښته مېوه ده چې مختلف ډولونه ویټامینونه او منرالونه لري، د نوموړې ناروغۍ د مخنیوي لپاره لاندې ټکي باید په پام کې ونیول شي:

۱- هغو ونو ته چې پینځه کاله یا د پینځو کالو نه زیات عمر ولري، په کال کې درې ځلې، یو ځل د جنوري دویم ځل د مۍ او درېیم ځل د اکتوبر په میاشت کې مګنیزیم لرونکي سره ورکړل شي.

۲- د ونو مقاوم ډولونه انتخاب شي.

۳- په قوریو او باغونو کې د فنګس وژونکو استعمال په فني توګه تر سره شي.

۴- د کورېه پاتې شونې راټول او وسوزول شي.

## وړاندیزونه:

١- د ستروسو د باغ جوړول په فني ډول سره.
٢- د ستروسو د مقاومو ډولونو انتخاب.
٣- د قرانطین اصول مراعتول.
۴- د وحشي بوټو د کرلو څخه مخنیوی.
٧- د پسرلي د نوې ودې څخه وړاندې د تېر کال د مېوو راټولول.
٨- په فني شکل د فنجي وژونکو استعمال، لازم وخت او مناسب دوز سره.
٩- د اوبو ورکول د اړتیا له مخې.
١٠- د ناروغیو په کنترول کې د IPM قوانین مراعتول.
١١- د حفظ الصحې مقررات په نظر کې نیول.
١٢- د ناروغۍ او د هغې د خپرېدلو په اړوند د عامه پوهاوي ترسره کول.


## Abstract:

Citrus scab is very harmful disease and affects citrus susceptible nonresistance verities the disease affect host plant leaves, fruits and resulted low quality and quantity of fruits. The disease pathogen is a fungal which survives in hot and humid weather attack on citrus susceptible verities especially causes declaim in citrus photosynthesis which play vital role in high quality and quantity fruit production delay fruit maturation and product, if fruit set occur in low quantity in produce low quality awful fruits.


## References:


1- Adams, D.B., Me-Meil, J., Hanson-Merz, B.M., McCarthy, D.Fand stokes, J.2003. The estimation of latent infection in oranges. Aust. J. Sci Res. Ser. B. 2:1-18pp.

2- Basantharam and Naidu, R.2008.Evalaution of powdery mildew of citrus. pesticides 12(7): 28-31.pp.

3- Devarjan,, M.R. 2005. Powdery mildew in orange in Coorg. Indian Farming 4:303-304.pp

4- Devarakam.M.R. and Aiyappa, K.M. 2006. Leaf fall andTheir Control. MccCraw Hill Book Co. New York and London> 656pp.

5- Fawcett, H.S. 2005.Citrus Diseases and Their Control. McGraw Jill Book Co. New York and London, 656pp.

6- Gupta V.K. and Satish K.Sharma.2005.Diseases of Fruit Crops. New Delhi. 52-56. pp.

7- Pandey, B, P.Plant Pathology. Printed in India, New Delhi, 1982.p, 173-195. http://www.cbwinfo.com/Biological/PlantPath/PG.html

8- Пересыпкин , в, ф. Атлас Болезнеи Полевых культур. Перевод сУраинского Издательство Уражай, 1981. с 16 -19, 3-4.

9- Пересыпкин, в,ф.Селъскохозяйственная фитопаталогия.- з-е,изд ;перераб.и доп.- м ; колос, 1982. с 24 -30.

10- Дьяков, ю.т., дементьева,м.и., семенкова,и.г. и др.общая Селъскохозяйственная фитопаталогия. Москова , колос, 1984. с 192 -197.

11- Яковлева ,н,п.Фитопаталогия.программированное обочение.-М.колос,1983. С, 128-132.

پوهنمل فـضل الــــرحیم (ناصـري)
طب پوهنځی- عقلي، عصبي څانګه

# د ژور خپګان تشوش

# (Major depressive disorder)

**لنډیز**:

د دوره یي خپګان ګډوډي چې په یو قطبي خپګان هم مشهور دی، نښې یې باید لږ تر لږه دوه اوونۍ ادامه ولري او د پخوانۍ ګړنې د کچې د بدلون ښودونکې وي او په ښځو کې د نارینه و نه دوه ځله زیات وي. په ۲۵ سلنه ناروغانو کې پخواني تېزوونکي عوامل شتون لري، د شپې او ورځې بدلونونه او د ورځې په لومړیو وختونو کې د نښو ډېرښت، Psycho motor پارونه او سستي شتون لري؛ نباتي نښې (Autonomic Sign) او د خلق سره یو ډول هزیانات او برسامات ممکن شته وي. د پیل منځنی عمر ۴۰ کلنې ده، لاکن په هر عمر کې ممکن پیل شي چې Genetic (جنتیکي) لاملونه په کې رول لري.

**سریزه**:

زمونږ ګران هېواد افغانستان له تېرو څه دپاسه دري لسیزو راهیسې د جګړې او ناخوالو ډګر ګرځېدلی چې د دغو جنګ- جګړو له امله یې وګړو ته د رواني ناروغیو ټول لاملونه لکه مهاجرتونه، د شتمنیو له منځه تلل، د کورنۍ غړي یا د بدن د غړو دلاسه ورکول او نور برابر شوي دي. Depression یا خپګان یو د هغو رواني ستونزو څخه ده چې ډېری وګړي ورسره مخ دي او هره ورځ په لسګونه وګړي د همدې ناروغۍ د ببلابېلو ډولونو له امله کتنځیو، دولتي روغتونونو او کلنیکونو ته مراجعه کوي. له بلې خوا د یادې ناروغۍ ډېرې نښې او ګیلې د جسمي ناروغیو په څېر دي چې توپیر یې ستونزمن کار دی، له همدې امله مې لازمه وګڼله چې ددې ناروغۍ په اړه د نړیوالو غوره تکس بوکونو او د انټرنیټ پاڼو څخه معلومات راټول او خپلو هېوادوالو ته یې وړاندې کړم.

**موخې**:

روغتیایي کارکوونکو، د مسلک مینه والو، ناروغانو او د هغوی د کورنۍ غړیو ته د ژور خپګان ناروغۍ د رامنځته کېدو لاملونو، ګیلو او نښو، مخنیوي او درملنې په اړه د نویو او ګټورو معلوماتو وړاندې کول.

**د ژور خپګان تشوش** (Major depressive disorder):

د ژور خپګان ګډوډي چې د پرله پسې خپګان ګډوډي، کلنیکي خپګان، یو قطبي خپګان یا یو قطبي ګډوډۍ په نومونو هم یادېږي، یو رواني تشوش دی او متصف دی په خپه یا ټیټ مزاج، inferiority چې د کم ارزښتۍ د احساس او په ورځنیو چارو کې د مینې دلاسه ورکولو سره یو ځای وي، کوم ته چې رواني سوړوالی ویل کېږي. اساسي خپګان یوه اصطلاح ده چې د امریکې د اروا پوهانو لخوا په ۱۹۸۰م کال په DSM-III کې د خلقي ګډوډۍ یو د ټولي لپاره وکارول شوه. د Depression کلیمه یوه ورکه کلیمه ده چې ډېر د پورته ګیلو لپاره استعمالېږي، لاکن کېدای شي د مزاج نورو ګډوډیو یا د ټیټ مزاج حالتونو ته چې کلنیکي ارزښت نلري، هم اشاره وکړي. (۱، ۲)

د ژور خپګان ګډوډي يو ناتوانوونکی حالت دی چې د يوه شخص کورني ژوند، د ښوونځي ژوند، دنده، خوب، د خوراک عادت او عمومي روغتيا په ناوړه توګه اغېزمنه کوي او د شخص په فردي، ټولنيز او وظيفوي ژوند کې د ليدو وړ وروسته والي سبب کېږي. په متحده ايالتونو کې 3.4 سلنه وګړي د ژور خپګان په لړلو سره د ځان وژنې هڅه کوي او هغه وګړي چې د ځان وژنې هڅه يې کړې وي، تر ۶۰ سلنه پورې د خپګان ناروغي يا د مزاج کوم بل ډول تشوش لري. (۳،۲)

## د ژور خپګان لاملونه:

د ژور خپګان د طبعيت او لاملونو پېژندنې سلونه کلونه نيولي، خو بيا هم دغه پوهه پوره نه ده او ددې ناروغۍ ډېر اړخونه يې د بحث او څېړنې لپاره پرې ايښي دي، وړاندې شوي لاملونه ارثي، بيالوژيکي او رواني ټولنيز فکتورونه په بر کې نيسي. (۴)

## I- جنتيک:

په Mono zygotic دوه ګونو کې د ډيپريشن منځته راتلل ۴۵سلنه او په ډېرو Dizygotic دوه ګونو کې 19-14 سلنه ده چې د جنتيکي عامل رول څرګندوي. څېړونکو څو جينونه چې ممکن د دوه قطبي ګډوډيو سره تړاو ولري، په ګوته کړي دي او دوی په هغو جينونو پسې ګرځي چې د ډيپريشن د ډېرو ډولونو سره تړاو ولري، لاکن ټول هغه وګړي چې د ډيپريشن کورنۍ تاريخچه ولري، په دې تشوش نه اخته کېږي. (۷)

## *II*- بيالوژيکي عوامل:

a. کيمياوي بدلونونه: بيالوژيکي نظريه په زياته کچه په مونو امين کيمياوي موادو (نيوروترانسمترونو) لکه سيروتونين، ناراپي نيفرين او ډوپامين ولاړه ده، کوم چې په طبيعي ډول په مغزو کې موجود او د عصبي حجرو د اړيکي سره مرسته کوي. د خپه ناروغانو د ساينپس په برخه کې د نيو روترانسمترونو تشوش ليدل کېږي. د بيوژنيک امينو (ناراپي نيفرين، سيروتونين، ډوپامين) د فعاليت کموالی په ډيپريشن کې موجود وي.

b- درمل: د ځينو درملو لکه د فشار ضد درمل، د خوب ګولۍ او په ځينو ښځو کې د حاملګۍ ضد درملو استعمال په ډيپريشن نبغه اغېزه لري.

c- ناروغي: په ځنډنۍ ناروغۍ اخته کېدل لکه د زړه سکته، دماغي سکته، ديابت، سرطان، الزايمر او ميګرين ددې لامل ګرځي چې شخص ته ډيپريشن ډېر کړي. ډيپريشن په ډېرو هغو ناروغانو کې چې قلبي حمله يې تېره کړې وي، منځته راځي؛ څېړنو د ډيپريشن او قلبي ناروغيو ترمنځ يو نه ثابت شوی تړاو په ګوته کړی دی. نه تداوي شوی ډيپريشن کولای شي، شخص د قلبي سکتې څخه وروسته په لومړيو کلونو کې د مړينې خوا ته يوسي، د تايروئيد د فعاليت کموالی که چېرې لږ هم وي، د ډيپريشن د ښکاره کېدو سبب کېږي. (۲،۷)

d- هورمونونه: په عمومي ډول neuro-endocrine ګډوډي احتمالاً هيپوتلاموس ته د بيوژنيک امينو د اړيکې سستوالی منځته راوړي. په ډيپريشن کې د هيپوتلميک -هايپو فيزس- ادرينل محور د فعاليت کموالی د کورتيزون د افراز (ترشح) د زياتوالي سبب کېږي، همدارنګه په ډيپريشن کې د Thyroid stimulating هورمون Growth (TSH),هورمون (GH) ، Folicule stimulatingهورمون ((FSH) , leutinizing هورمون (LH او د تستسترون کموالی ليدل کېږي. د معافيتي عملونو بدلونونه (کموالی) هم په ډيپريشن کې ليدل کېږي. (۴،۳،۲،۱)

### III- رواني ټولنيز (psycho- social) عوامل:

a- رواني عوامل:

سترس: د ژوند د سترس نه ډکې پېښې په ځانګړې توګه د يو په زړه پوري شخص يا دندې له لاسه ورکول، يا له لاسه ورکولو تهديد کولای شي ديپريشن وپاروي.

رواني ناروغي: اضطراب (Anxiety)، ذهني وروسته والی، Dementia ، د مخدره توکو خوړل او خراب استعمال د ديپريشن لامل ګرځي. (۵،۴)

### b- ټولنيز عوامل:

د ټولنې څخه ناخوښي او د ټولنې سره تړلي رواني عوامل هم کولای شي رول ولري.

شخصيت: د خاص شخصيت لکه بل پورې تړلي شخصيت، ځان ټيت احساسول، د استرس په مقابل کې حساسيت او کرکه کولای شي شخص د خپګان په مقابل کې مستعد وګرځوي. وسواسي شخصيت، منظم، کريک او Dependent کولی شي، په ديپريشن اخته کېدل ډېر کړي.

د ژوند ناکامي: په کار کې ناکامي، واده کولو کې ناکامي او يا نورو سره په اړيکو کې ناکامي د ډيپريشن د ښکاره کېدو لامل ګرځي. د نژدې خپلوانو د يوه مړينه او يا نه شتون، د يوه مهم څيز (دنده، کور، شتمني) له لاسه ورکول، د دندې بدلون او يا يوه نوي ځای ته تلل، د ځينو جراحي عملياتونو لکه د سرطان له امله د تيونو لرې کول، د ژوند د يو پړاو نه بل پړاو ته تېرېدل لکه په ښځو کې مينوپوز ته تلل او يا تقاعد کېدل کولای شي د ديپريشن لامل وګرځي. (۲،۳،۴)

### پېښې (Incidences):

د ناروغۍ منځته راتلل په ښځو کې د نارينه و په پرتله دوه برابره ډېره ده، په نارينه و کې د اخته کېدو کچه ۱۲-۱۵سلنه او په ښځو کې ۱۴-۱۹ سلنه ده. د ناروغۍ د ښکاره کېدو عمر د ۲۰-۳۰ کلنۍ ترمنځ وي او کېدای شي چې ۳۰ او ۴۰ کلونو ترمنځ هم په زياته کچه منځته راشي. (۲)

### ګيلې او نښې:

د ناروغ د تاريخچې (HX) نه لاسته راغلي معلومات په لاندې ډول دي:

a. د خوند د احساس نشتوالی (anhedonia).
b. د خپلوانو او کورنۍ څخه لرې والی (کناره ګيري)
c. No motivation، د ناکاميو په مقابل کې لږ زغم

Autonomic نښې په لاندې ډول دي:

الف: د جنسي ميل نشتوالی.

ب: د اشتها او وزن له لاسه ورکول.

ج: زيات خوړل او د وزن زياتوالی، په يوه مياشت کې ۵ سلنه د ځانګړي غذايي رژيم پرته.

د: د انرژۍ ټيټه کچه او ستړتيا.

هـ: په ښځو کې د مياشتني عادت خرابوالی.

و: سهار وختـي لـه خوبـه پاڅېـدل (د شپې د اخرې برخې بې خوبي) نژدې ۷۵سلنه د ژور خپګان ناروغان د خوب ستونزې لري، يا د خوب د نشتوالي او يا د خوب د زياتوالي په ډول؛ د خوب زياتوالی په ۱۵سلنه ناروغانو کې ليدل کېږي.

ز: د ورځې او د شپې بدلونونه (سهارني علايم خراب وي).

a. قبضيت
b. د خولې وچوالی
c. سردردي

۲- د ناروغ د رواني وضعيت د معاينې (MSE) نه لاسته راغلي معلومات په لاندې ډول دي:

الف: د ناروغ کړنه او ظاهري بڼه: رواني حرکي سستي يا پارېدنه، د سترګو کمزوری تماس، بې دليله اوښکې بهېدل او ژړا، غمجن حالت او مراويتوب، ستړتيا، ناارامي، ژر خفه کېدل، د خوب ستونزې (په ويده کېدو کې ستونزې، ډېر او ناارامه خوب).

ب: محدوده او قوي عاطفه موجوده وي.

ج: mood: د Depressed، Sad، irritable، Frustrated (د حقارت احساس) په ډول وي.

د: د خبرو کموالی يا نشتوالی، يو سيلابه خبرې کول، په خبرو کې اوږد چوپوالی، لنډې خبرې، ورو خبرې.

و: د فکر محتوی: د ژور خپګان ۲۰ سلنه ناروغان د ځان وژنې افکار لري او ۱۵سلنه يې ځان وژنه کوي، ذهني وسواسي افکار، نهيلي، د کم ارزښته او خيالي څيزونو لپاره د ګناه احساس، د تصميم نه درلودل، د فکري محتوی فقر، د نه شتون برسامات او هزيانات (Nihilism)، د زور زياتي احساس او ذهني وسواسي بوختيا موجوده وي.

هـ: حسي نظام (sensorium): Destructibility ځيرتيا ستونزې، د يادښت کمزوري، کنکسيت او Abstract تفکر، خصوصاً په لويانو کې موجود وي.

ز: judgment او insight: د درک د بدلون له امله ګډوډ شوي وي. (۳، ۲، ۱)

په Depression کې په سن پورې تړلې ځانګړتياوې په بېلابېلو عمرونو کې په بېلابېلو ډولونو ښکاره کېږي:

۱. د بلـوغ نـه مخکـې: جسـمي ګيلـې، تهـيج، د اوربـدو برسـامات د يـوه اواز پـه شـکل، اضـطرابي حالـت او Phobiaګانې، خپګان په کوچنيانو کې کېدای شي د Attention Deficit Hyperactivity Disorder (ADHD) سره يو ځای وي چې دا حالت د دواړو تشخيص او درملنه پېچلې کوي.

۲. نوې ځواني: د موادو خراب استعمال، د ټولنې ضد کړنې، د مکتب نه تېښته، روغتيا ته نه پاملرنه کول. (۴، ۲)

۳- لويـان: Cognitive disorder (د يادښت ګډوډي، د وخت او ځای نه پېژندل) دروغجن Demance يا د خپګان د Demance سندروم، Apathy او حواس الوتل.

**تشخيص:**

د ژور خپګان تشخيص د شخص په واسطه د قصه کولو، د خپلوانو او ملګرو په واسطه د شخص د کړو وړو د راپور ورکولو او د رواني حالت (MSE (Mental Status Exam د معاينې له مخې تر سره کېږي. (۲، ۱)

**درملنه:**

که څه هم ددې ناروغۍ په کمزورو او منځنيو پېښو کې د درملو ورکول د پوښتنې لاندې دي، خو بيا هم په وصفي ډول سره ناروغان د انتي ديپرسانت درملو په واسطه تر درملنې لاندې نيول کېږي او پـه زياتو پېښـو کې ناروغان سايکو

تراپي او مشوره هم تر لاسه کوي. د ناروغ بستر کول په هغه وخت کې لازم ګڼل کېږي کله چې خپل ځان او نورو ته د زیان رسولو لوی خطر موجود وي.(۷، ۲)

۱- درمل د اساسي ډیپریشن په نورو حالاتو کې لازم او د Dysthymia په یو شمېر پېښو کې هم ممکن اجرا شي.

۲- د Hetrocyclic درملو د Testing dose سره د ډیپریشن ضد درمل پیل او ۲-۳ اوونیو وروسته کنټرول کېږي. د درملنې ځواب معمولاً په څلورو اوونیو کې ښکاره کېږي، ۷۵ سلنه ناروغان درملنې ته مثبت ځواب وایي. که چېرې د ۴-۲ اوونیو وروسته بیا هم نښې پاتې وي، په سېروم کې د درملو کچه باید اندازه شي.

۳- Tri-iodothyronin (T3)، lithium، Amphetamine د Heterocyclic تاثیراتو د پوره کولو لپاره زیاتېږي. که چېرې بیاهم نښې وغزېږي، نو کولای شو د کومې بلې کورنۍ د ډیپریشن ضد Heterocyclic درملو څخه ګټه واخستل شي.

۴- که چېرې نښې بیاهم پاتې وي د MAO نهې کوونکو نه ګټه اخستل کېږي، د MAOI د کارونې په وخت کې هغه غذایي رژیم وکارول شي چې تیرامین لرونکې مواد ونه لري، نسبتاً بې ضرره دي.

۵- که چېرې اړین وي د Anti cholinergic اغېزو نه مخنیوی وکړو، ددې لپاره د نویو Serotonergic خپګان ضد درملو نه ګټه اخستلی شو. (۴، ۳)

۶- د بابیزي د مخنیوي لپاره د درملنې ساتل تر شپږو میاشتو پورې اړین دي، اوږده درملنه د اساسي ډیپریشن په بابیزي کوونکو ناروغانو کې جواز لري. داسې ښکاري چې lithium د بابیزي کوونکي اساسي ډیپریشن د درملنې لپاره د مرسته کوونکي درمل په توګه ښه اغېزمن دي.

۷- Electro Convulsive Therapy (ECT) د اساسي ډیپریشن په مقاومو ډولونو کې د اساسي درمل په توګه ګټور دي، په هغو حالاتو کې چې د درملنې څټکه اغېزه یا د اړخیزو اغېزو وېره وي، ECT د لومړۍ کرښې د درملنې په توګه د مناسبې کچې نه په لږه اندازه په کار وړل کېږي.

۸- که چېرې په کورنۍ کې د کوم ځانګړي درمل د مثبت اغېز سابقه شتون ولري، هماغه درمل دې و ازمول شي.

۹- د دوه قطبي ګډوډۍ د ډیپریشن په درملنه کې lithum باید لومړنۍ کرښه کې وي، د اړ کېدو په صورت کې یو Heterocyclicدرمل، MAOI یا T3 د Lithum سره ور زیاتېږي. (۲، ۱)

**پایله:**

د پورتنیو مالوماتو څخه دا جوته شوه چې ژور خپګان د بدن ټول غړي اخته کوي، ډول ډول ګیلې او نښې منځ ته راوړي، همدارنګه په انسانانو کې د خوند د احساس کمزوري، د خپلوانو او کورنۍ څخه لرې والی (کناره ګیري)، No motivation، د ناکامیو په مقابل کې لږ زغم، د جنسي میل نشتوالی، بې اشتهایي، زیات خوړل، د انرژۍ ټیټه کچه، ستړي کېدل، د میاشتني عادت خرابوالی، سهار وختي له خوبه پاڅېدل (د شپې د اخرې برخې بې خوبي)، نژدې ۷۵سلنه د ژور خپګان ناروغان د خوب ستونزې لري، یعنې بې خوبي او یا د خوب زیاتوالی لري؛ د ورځې او شپې بدلونونه (سهارنۍ نښې خرابې وي)، قبضیت، د خولې وچوالی، سر دردي او رواني ستونزې شته وي.

**وړاندیزونه:**

د ناروغۍ د پوره او مکملې درملنې لپاره ناروغانو، ناروغ لرونکو او درنو طبي کارکوونکو ته لاندې سپارښتنې لرم:

۱- ناروغ باید په خپل وخت او د ناروغۍ د پیل سره سم درملنې ته وهڅول شي.

۲- ناروغان باید خپلې ستونزې د کورنۍ د غړو سره شریکې کړي، تر څو د هغوی د ستونزو په حل کې ورسره مرسته وکړي.

۳- درملنه لکه څرنګه چې لاژمه ده تر پوره وخته پورې صورت ونیسي.

۴- درمل باید پرله پسې واخستل شي، تر څو د ناروغۍ د بابیرې مخنیوی وشي.

۵- د ناروغ د معاینې په وخت کې باید د ناروغ څخه د جسمي ګیلو، روحي نښو او ګیلو ډېرې پوښتنې وشي.

۶- کورنۍ باید د ناروغ سره مرسته وکړي، څو ناروغ د روحي، جسمي تېتوالي څخه وژغورل شي.


## Abstract:

The signs of periodical depressive disorder (unipolar depression) must continue for at least two weeks. There is a positive past history. It is twice more in female than male. Predisposing factors are present in 25% patients. Furthermore, changes during the days and nights, increment of signs at the beginning of days, psychomotor agitation and weakness are present. There may be autonomic signs, hallucinations and delusions with behavioral changes. The average age for the disease is 40years. However, it may start at any age. Genetic factors have a role in it.


## References:


1- American Psychiatric Association, Diagnostic and Statistical Manual of Mental Disorder, 4th ed. Text Revision.DSM-IV-TR, American Psychiatric Publishing 2000 Pp;349 .

2- Benjamin J Sadock, Kaplan Harold I .Text Book of Psychiatry 10th ed. Wolters Kluwer Lipincott William and Wikins_2009Pp;428-434.

3- ICD_10, Churchill, Livington,2004Pp335_339.

4- Marilyn Heng,Joseph Arigren Wald,Comprehensive Medical Reference ,Toronto Notes,2007 Pp24_25 .

5- Mechael Gelder,Paul Harison, Shorter Oxford Text Book of Psychiatry, 5th ed, Oxford University Press,2008_Pp405,410,412.

6- Moor David _P,Little Black Book of Psychiatry,3rd ed, Jones and Barteley Publisher,2007,Pp,336_341.

7- Niraj Ahuja, Savita Ahuja Text Book of Psychiatry , 7th edition JAPEE , 2011, Pp ,57 , 72 , 222.

8- Kumar & Saunders, Clinical Medicine 4th ed,2004_Pp920,921,922.

پوهنمل محمد اسماعیل (سعادت)
کرنې پوهنځی- هارتیکلچر څانګه

# په لوښو کې د سبو بوزغلیو د تولید نوي تخنیکونه

**لنډیز**:
د افغانستان د اقتصاد په پیاوړي کېدو کې د سبو، مېوو او نورو کرنیزو بوټو اهمیت خورا ځرګند دی، هر څومره چې زمونږ د زراعتي محصولاتو د تولید اندازه زیاتېږي، نو په هماغه اندازه د خلکو د نېکمرغۍ او د ژوند د کچې د لوړېدو سبب ګرځي چې د کرنیز پیداوار د اصلاح او زیاتوالي لپاره له مختلفو لارو کار اخیستل کېدی شي. د سبو کښت او روزنه د یو لړ فکتورونو په وسیله اغېزمنه کېږي چې په ځانګړې توګه محیطي فکتورونه لکه تودوخه، اوبه، رڼا، خاوره او غذایي مواد کوم چې د سبو په وده، انکشاف او حاصل باندې عمده اغېزې لري، ددې تر څنګ ځیني اقلیمي فکتورونه لکه وربښت، باد، رطوبت او داسې نور هم د سبو په کښت او نورو باندې د پام وړ اغېزې لري، چې د سبو د ښې ودې، انکشاف او حاصل لپاره باید نوموړیو فکتورونو ته جدي پاملرنه وشي. سابه په عمومي توګه په دوه ډوله کرل کېږي چې د مستقیمې او غیرمستقیمې کرنې څخه عبارت دي. د مستقیمې کرنې په واسطه تخمونه مستقیما په کرونده کې کرل کېږي لکه شلغم، ګازرې، ملۍ، پالک او داسې نور، لېکن د غیرمستقیمې کرنې په واسطه لومړی د سبو تخمونه په یو خوندي ځای (نرسري) یا لوښو کې تر یو مناسب وخت پورې روزل کېږي او د یو مناسب سایز او ودې څخه وروسته اصلي کروندې ته انتقالېږي چې غوره بېلګې یې د رومي بانجان، تور بانجان، مرچک، پیاز، ګلپي، کاهو او داسې نورو څخه عبارت دي، چې ګڼ شمېر لوښې یا مرتبانونه د سبو د تخمونو د تېغ وهنې او د بوزغلیو د تولید لپاره استعمالېږي چې معمولاً خاورین، لرګین، پلاستیکي او داسې نورې بڼې لري. ځینې وختونه په دې لوښو کې د نباتاتو د پخېدو تر مرحلې پورې پاتې کېږي. یاده دې وي چې په لوښو کې د سبو د بوزغلیو تربیه کولو څخه اسان، اقتصادي او وختي بوزغلي تولید بدلی شي. (۱م۲)، (۱۰م۳۰۲)، (۷م۱۵۱)

**سریزه**:
سابه د انساني تغذیې تر ټولو مهمه او غني سرچینه ګڼل شوي ده، د انسان بدن د ژوند د عادي پروسو د سرته رسولو لپاره د غذایي موادو پنځو ګروپونو ته اړتیا لري، چې دغه پنځه ګروپونه د کاربوهایدریټ، پروټین، وټامین، منرالونو او شحم څخه عبارت دي. د سبو د روزلو لپاره باید داسې ساحې انتخاب شي چې د هغوی د بریالي کښت او روزنې لپاره مناسب او په زړه پورې شرایط ولري، په دې ډول شرایطو کې سابه کولی شي د خپل ژوند دوران په عادي ډول سره سرته ورسوي، یعنې په خپل وخت تېغ وهنه، بدني وده او لوړ حاصل ترلاسه شي او پرته له دې څخه د ښې ودې او حاصل تمه بې ګټې ده. (۳م۲)
په خوندي ځایونو لکه ګلخانو، لوښو او داسې نورو کې د سبو د بوزغلیو تولیدول د تکثیر یوه مهمه طریقه ده، تخمونه د ټوکېدنې په مخصوصو موادو (میډیا) کې چې بیا په ګلدانیو، لوښو، بکسونو او پلاستیکي پتنوسونو کې تر یوه معین وخت پورې روزل کېږي او بیا وروسته اصلي کروندې ته وړل کېږي. دغه طریقه مخصوصاً په داسې حالاتو کې چې د محفوظ حالت څخه بهر محیطي شرایط د تخمونو د کرلو او د نیالګیو د ودې لپاره مساعد نه وي،

استعمالېږي. نوموړې طريقه د سبو د وختي حاصل اخيستلو يا د هغو بوټو د روزلو لپاره ګټوره ده چې د کرلو د سيمې د ناوخته پسرلي د راتګ يا د ودې لنډ موسم سره مقاومت ونلري. د بهر کروندې لپاره په لوښو او ګلخانو کې د سبو د بوزغليو توليدول (رومي بانجان، تور بانجان، مرچک، پياز او داسې نور) دا ګټه لري چې تخمونه په زياته اندازه تېغ وهنه کولی شي، ځکه چې په دې صورت کې د تخمونو د چاپېريال شرايط په ښه ډول تر کنټرول لاندې راتلی شي او هم د امراضو، حشراتو او نورو ناوړه شرايطو مخه نيول کېږي. (۷م۲۱-۲۲)، (۲م۱۲-۱۳)

## موخې:

دا موضوع ددې لپاره غوره شوه چې مينه وال او د مسلک خاوندان د سبو د بوزغليو توليد د نويو تخنيکونو په اړه علمي معلومات ترلاسه کړي او هم ګڼ شمېر د سبو د توليد لوښي وپېژندل شوي، تر څو ددغو لوښو څخه د سبو د بوزغليو د توليد لپاره کار واخيستل شي.

په لوښو کې د سبو د بوزغليو د توليد نوي تخنيکونه:

ګڼ شمېر لوښي يا مرتبانونه د تخمونو او د سبو د بوزغليو د توليد لپاره په کرنه کې استعمالېږي، ځينې وختونه دغه لوښي د نباتاتو د پوره پخېدنې تر وخته کارول کېږي، دغه ډول لوښي ممکن دومره لوی وي چې يو نبات په ولاړ حالت کې وساتي. هغه لوښي چې يو زيات شمېر بوزغلي په کې روزل کېږي يو هوار شکل لري، دغه ولاړ شکل ممکن يو خالي پتنوس وي چې د لرګي، پلاستيک يا سمنټو څخه جوړ شوی وي. معمولاً دا ډول پتنوس **۴۵-۹۵** سانتي متره اوږدوالی، **۱۵**-**۲۰** سانتي متره پراخوالی او **۵**-**۱۵** سانتي متره ژوروالی لري. د لوښو سايز او اندازه د کروندګر د ضرورت پورې اړه لري، د لږ مقدار بوزغليو د توليد لپاره د هرکارې په شکل ساختمان څخه استفاده کېږي چې معمولاً **۳۰** سانتي متره قطر (دايره) ولري او معمولاً د خټو څخه جوړ شوي وي. ددې تر څنګ د پلاستيکي لوښو څخه هم استفاده کېږي چې د زيات دوام لرونکي دي او په ننيو وختونو کې د بوزغليو د توليد لپاره زيات استعمالېږي، دغه ډول لوښي په اسانۍ سره وينځل او ذخيره کېږي او همدارنګه د خټينو لوښو په نسبت په کې د اوبو ضايعات کم وي، ځکه چې خټين لوښي يو څه اوبه ضايع کوي. يو بل ډول لوښي هم شته چې د عادي پلاستيک څخه جوړ شوي دي، کوم چې په عادي مارکېټونو کې د خوراکي توکو د انتقال لپاره ور څخه کار اخيستل کېږي، دا ډول پلاستيک د ستايروفوم (Styrofoam) په نوم يادېږي. د ستايروفوم هر بلاک د **۸**-**۲۴۰** کوچني د تخمونو سوري لري، ددې حجم د **۴۰**-**۳۲۰۰** سانتي متر مکعب پورې رسېږي. دغه بلاکونه د سپک وزن له مخې په اسانۍ سره انتقالېږي او همدارنګه ښه مراقبت او څارنه يې تر سره کېږي. د لوښو مختلف ساختمانونه د سبو د بوزغليو لپاره مناسب دي، ښه ساختمان لرونکي لوښي بايد د هوا ښه جريان ولري، د باران څخه خوندي وي او د لمر وړانګې په اسانۍ سره ورته ورسېږي. د هر لوښي په بېخ کې مات يا ټوټه کنډولي د اضافي اوبو د ويستلو په خاطر اېښودل کېږي، تر څو په لوښو کې اوبه ډنډ نشي، ددې لپاره چې نوموړی عمل ښه پايله ولري، دغه مات کنډولي د لوښي په بېخ کې په يو نيلون ټوکر باندې اچول کېږي تر څو د اضافي اوبو د وتلو مخه بنده نه کړي. زياتره وخت په لوښو کې کرل شوي تخمونه او يا نوي شنه شوي بوزغلي د مېږيانو په واسطه زيانمن کېږي، نو ددې لپاره چې دغه ستونزه له منځه لاړه شي، غوره بريښي چې ددغو لوښو په بېخ کې ځينې حشره وژونکي درملونه د پوډرو په شکل وشيندل شي. (۹م۲۳-۲۴-۲۵)، (۷م۹۷)

عام استعمالېدونکي لوښي:

۱- بکسونه:

ددې ډول لوښو چوکاټونه او بېخونه د لرګي، پلاستيک يا فلز څخه جوړېږي او په بېخ کې د اوبو د وتلو او هوا د داخلېدو لپاره سوري لري، بکسونه د تخم د زرغونېدو او قلمو د نيلو د تشکيل لپاره زيات استعمالېږي. هغه بوټي چې په بکسونو کې کرل شوي وي، په اسانۍ سره يوې او بلې خواته انتقالېدای شي.

۲- خاورینې ګلدانۍ:
دا ډول لوښې د کورنیو بوټو او ګلانو د روزلو لپاره په افغانستان کې زیات معمول دي، ددې لوښو نقصونه دادي چې له یوې خوا درانه دي او له بلې خوا لنده بل دلاسه ورکوي، په اسانۍ سره ماتېږي، د مسلسل استعمال وروسته مالګه ورپورې نښلي او اندازه یې زهرناک حد ته رسېږي، د مکرر استعمال لپاره لازمه ده چې هغه په اوبو کې غوټه شي ترڅو چې زیاته مالګه ورڅخه لرې شي. څرنګه چې خاورینې ګلدانۍ ډېرې ارزانې دي، نو له دې کبله زیاتې استعمالېږي.
۳- پلاستیکي او المونیمي ګلدانۍ:
سره ددې چې نوموړي لوښې د خاورینو ګلدانیو په نسبت زیات قیمت دي، لېکن ډېرې ګټې لري، ددې ډول ګلدانیو وزن سپک، لږ ځای نیسي او اوبه ور څخه وتلی شي.
۴- فلزي ګلدانۍ:
د بوزغلیو په سلونو بوټي په فلزي قطیو کې روزل کېږي او نورو ځایونو ته انتقال مومي، فلزي قطۍ د مختلفو منابعو څخه لاسته راځي، ددې ډول قطیو په بېخونو کې باید سوري وشي.
۵- نور مختلف لوښې:
ګلان، مختلف نور بوټي او قلمې په یو زیات شمېر لوښو کې چې په هېواد کې لا تر اوسه مروج نه دي، روزل کېږي، نوموړي لوښې په لاندې ډول دي:
الف: د پیټ څخه جوړ شوي لوښې
ب : واړه لرګین بکسونه
ج : پارافین کاغذي پیالې
د : پالي ایتلین کڅوړې
د یادونې وړ ده چې یوازې د پالي ایتلین کڅوړې په افغانستان کې د استعمال وړ دي. (۱۰م م۲۲۴-۲۲۵ )، (۷م۹۲ )
په لوښو کې د بوزغلیو د تولید لپاره باید لاندې ټکي په نظر کې ونیول شي:

- د بوزغلیو د تولید لپاره باید مناسب لوښې وټاکل شي.
- یو مناسب بستر (میډیا ) دې له خاورې سره مخلوط کړای شي.
- د بوزغلیو د تولید لوښې باید په احتیاط سره د خاورې یا د خاورې د مخلوط څخه ډک کړای شي او سخت فشار ورباندې وانه چول شي.
- تخمونه باید د ځینې فنګس وژونکو سره معامله شي، ترڅو په وروستۍ مرحله کې بوزغلي د یو شمېر ستونزو څخه وساتل شي.
- په لوښو کې کرل شوي تخمونه باید د مرغانو د حملاتو څخه وساتل شي.
- تخمونه د ښې تبغ وهنې لپاره مرطوب وساتل شي، لېکن زیات رطوبت هم زیانمن تمامېږي.
- د تخمونو د شنه کېدو څخه وروسته د هرزه ګیاو مخنیوی ترسره شي.
- د بدنې ودې او نمو لپاره کافي سره استعمال شي.
- لوښې باید په مناسبو وقفو کې ابیاري شي.
- کله چې بوزغلی کافي اندازه غټ شي، باید اصلي کروندې ته د انتقالولو څخه مخکې د سختولو عملیه شروع شي.
- هیڅکله باید هر کال یو ډول بوزغلي په یو ډول لوښو کې ونه کرل شي.
- هر ځلې لوښې د دوهم ځل لپاره پاک کړای شي.

- د لوښو په قاعده (بېخ) کې باید یو کوچنی سوری پرېښودل شي، تر څو اضافي اوبه ورڅخه وویستل شي. (۹م۲۰)، (۷م۹۲)

## په لوښو کې د کر میډیاوې:

څرنگه چې کرنیزې خاورې له یوې خوا درندې دي او د بلې خوا څخه مناسب سوري او منفذونه نه لري چې د لوښو په داخل کې بوزغلي وکرل شي، ددې موخې د سرته رسولو لپاره مختلفې میډیاوې یا وسطونه په کرنه کې استعمالېږي.
په هېواد کې د لوښو لپاره میډیاوې د وه برخو عضوي موادو (کمپوست او حیواني ورسته سره) د درې برخو غلبیل شوې خاورې سره چې یوه برخه ریگ وي، سپارښتنه کېږي. له دې پرته یو بل ډول مخلوط چې یوه برخه خاوره، یوه برخه ریگ او یوه برخه کمپوسټ دی، هم معمول دی. د کوچنیو لوښو لپاره له خاورې پرته یو بل ډول وسط څخه هم کار اخیستل کېږي، په دې شرط چې په کافي اندازه منفذونه یا خلاوې ولري. په نورو هېوادونو کې ډول ډول میډیاوې په لوښو کې د بوزغلیو د تولید لپاره پکارول کېږي چې د Peat Moss,Perlite, Vermiculite, Sphagnum Moss څخه عبارت دي، څرنگه چې د یادو شوو میډیاو وزن لږ دی، نو په اسانۍ سره ډک شوي لوښي انتقالېدای شي. (۵م۷۱)، (۹م۲۱)

## د لوښو ډکول:

د لوښو په ډکولو کې باید کوښښ وشي چې په هر لوښي کې د هر وسط مساوي مقدار واچول شي، وسط باید هیڅکله سخت نه شي، ځکه چې بیا د سبو تخمونه ښه وده او تېغوهنه نشي کولی، له دې علاوه د ریښو وده محدودوي، د ساقو وده کموي او د اوبو زهکشي ودروي. په عمومي توگه په لوښو کې مېډیاوې داسې واچول شي چې یو یا دوه ځلې په کراره پر ځمکه ټکان ورکړل شي، تر څو چې نوموړی وسط (مېډیا) ځای پر ځای شي، نوموړی عمل هغه وخت ښه نتیجه ورکوي چې یاد لوښی یو یا دوه ځلې په کراره سره د ځمکې د سطحې څخه **۱۵** سانتي متره لوړ په یوه سمنتي ځای کې وغورځول شي چې په دې سره لوښی د تخم کرلو لپاره اماده کېږي. (۹م۲۲)، (۸م۳۶)

په لوښو کې د تخمونو کرل:

تخمونه باید په درست شکل په لوښو کې وکرل شي، د تخم ټوکېدونکي مواد لومړی لندول کېږي او بیا په پالي ایتلین یا نورو لندبل ساتونکو موادو په ذریعه پټېږي، د تخم د ژوروالي اندازه د تخم او د ټوکېدنې د موادو نوعیت پورې اړه لري. د ډېرو وړو تخمونو دپاسه خاوره یا د ټوکېدنې نور مواد شیندل کېږي، لوی تخمونه د خپل قطر په یوه یا دوه ځلې په خاوره کې پټېږي، په دې شرط چې د لومړۍ اوونۍ لپاره پوره لنده بل موجود وي. پلاستیکي یا ښیښیي پوښ کولی شي چې د لنده بل د الوتو مخه ونیسي. د تخمونو د گڼ کرلو څخه باید مخنیوی وشي، ځکه چې دا کار له یوې خوا د تخمونو مصرف زیاتوي او له بلې خوا د تېغوهلو څخه وروسته د یکه کارئ ضرورت پېښوي. د ټوکېدنې لوښي او مواد باید د لمر د مستقیمو وړانگو څخه وساتل شي، البته ځینې تخمونه د شنه کېدو لپاره لمر ته ضرورت لري. د زیاتره تخمونو لپاره د تودوخې په زړه پورې درجه د شل سانتي گراد په شاوخوا کې ښودل شوې ده او د ځینو نورو لپاره دیارلس درجې د سانتي گراد غوره شوې ده، که چېرې د تودوخې درجه له دېرشو لوړه شي له یوې خوا د لوښو لنده بل ډېر ژر له منځه ځي او له بلې خوا په ځینو لوښو کې تخمونه د تېغوهنې مانع گرځي، په عمومي توگه په اوونۍ کې د ۱-۳ ځلې ابیاري ترسره شي، د ابیارۍ کرتونه د لوښو اندازې، د بوزغلیو په ډول او د گلخانې د اقلیمي شرایطو پورې اړه لري، ابیاري باید د سهار له خوا ترسره شي. (۹م۲۷)، (۱۰م۲۲)

### په لوښو کې د کرل شويو بوزغليو پالنه:

د ساره موسم د سبو بوزغلي د ورځې له پلوه د سانتي ګراد په حساب د تودوخې د ۱۵-۱۹ درجې او د شپې له خوا د ۵-۱۰ درجې ټيټه تودوخه کې او همدارنګه د تاوده موسم د سبو بوزغلي د ورځې له پلوه د تودوخې ۲۲-۲۴ درجې سانتي ګراد او د شپې له خوا د ۱۰-۱۵ درجې ټيټه تودوخه کې روزل کېږي. هغه نيالګي چې پوره لمر ورته رسېږي، لنډ او پنډ وي مګر هغه نيالګي چې په لږه رڼا کې تر روزنې لاندې نيول شوي وي، اوږده او رنګي وي. بايد وويل شي چې د بوزغليو د ودې په لومړيو پړاوونو کې بايد د تېزې رڼا مخه ونيول شي، ځکه چې د زياتې تودوخې په اساس له منځه ځي. تخم د کرلو څخه دوه يا درې اوونۍ وروسته تېغوهنه شروع کوي، ددې ورځو په اوږدو کې د بوزغليو يکه کاري هم پيل کېږي، کوښښ بايد وشي چې د لوښو په څنګونو کې شنه شوي بوزغلي يکه کاري شي، که چېرې تخمونه د ټوکېدنې په لوښو کې ډېر نږدې کرل شوي وي، نو هغوی د ټوکېدنې څخه وروسته يو له بله تنګېږي، نو بايد دويم موقتي بستر ته انتقال شي. د بوزغليو د انتقال دغه عمليه بايد په داسې وخت کې تر سره شي چې کوچنيو بوزغليو دوه يا څلور پاڼې تشکيل کړې وي، د کرلو څخه وروسته بايد خاوره د بوزغليو ګرد چاپېره ودربله شي تر څو چې د هوا لرونکو خاليګاو مخه ونيوله شي. انتقال شوي بوزغلي بايد ژر ابياري شي او تر څو ورځو پورې دې يو څه نسبي سيوری پرې جوړ شي. بوزغليو لپاره د ډمپنګ اف ناروغي ستونزې راپېښوي، په هره اوونۍ کې ځينې فنګس وژونکي لکه ساف (Saaf) دوه ګرامه په يوه لېتر اوبو کې استعمالېدای شي. د ځينو فنګس وژونکو په استعمال سره لکه (Dimecron , Thiodane او Rogar ترڅنګ ځينې فنګس وژونکي بايد استعمال شي. د بوزغليو ساحه بايد د هرزه ګياوو څخه پاکه شي. په اکثرو وختونو کې د نايتروجن د قلت نښې په بوزغلي باندې معلومېږي، چې د بوزغليو ژېړوالی او بطي وده د نايتروجن د قلت ښه نښه ده، ددې د مخنيوي لپاره دې ۲۰ ګرامه يوريا په يوه لېتر اوبو کې حل کړل شي او پر پاڼو دې سپرې شي. (۱۰م۲۳)، (۹م۷۱)، (۲م۲۷)

### د بوزغليو انتقال:

کله چې بوزغلي د ۱۰-۱۲ سانتي مترو اوږدوالي ته ورسېږي، نو بيا اصلي کروندې انتقالېږي. دغه وده اکثره د ۵-۸ اوونيو کې تر سره کېږي. که چېرې د بوزغليو د انتقال اصلي ځای ګلخانه وي، نو په دې صورت کې محيطي شرايط تر کنترول لاندې وي او د هغو شرايطو څخه توپير نه لري، د کومو سره چې بوزغلي د ودې په لومړيو مرحلو کې مخامخ وو. که چېرې بوزغلي بهر پټيو ته وړل کېږي، نو په دې حالت کې د دواړو ځايونو محيطي شرايط يو له بله سره زيات توپير لري او ښايي چې د انتقال تر مخه بوزغلي سخت شي. د بوټو د سختولو په عمليې سره د بوټو وده کمېږي، يا بېخي ودرېږي او په بوټو کې کابوهايدريتي مواد راټولېږي، کابوهايدريتي مواد بوزغلي د ناوړه محيطي شرايطو سره زيات مقاوم کوي. يادونه بايد وشي چې بوزغلي د لنده بل په کمولو او د تودوخې په ټيټولو سره سختېږي. د بوزغليو لوښي په سړو ځايونو کې لکه سړو خونو، تودو خونو او دالانونو کې د ۷-۱۰ ورځو پورې ايښودل کېږي، مخکې له دې چې بوزغلي اصلي کروندې ته يوړل شي بايد په ښه ډول سره اوبه شي او همدارنګه د کرلو پسې سمدستي په اصلي کرونده کې هم ابياري ترسره شي. که چېرې ممکنه وي، نو د يو څو ورځو لپاره لږ څه سيوری ورته جوړ شي. په هېواد کې انتقال شوی بوزغلي د لاس په واسطه په اصلي کرونده کې کرل کېږي، مګر په ځينو نورو بهرنيو هېوادونو کې د ماشين په واسطه انتقال صورت نيسي. (۹م۸۲)، (۱۰م۲۴)، (۲م۲۸)

### پايله:

په ګران هېواد کې د وختي حاصل لپاره د سبو بوزغلي په خوندي ځايونو کې کرل کېږي. په اکثرو ولايتونو کې يو شمېر سابه او نور زراعتي بوټي مخکې له دې چې پوره حاصل ورڅخه واخيستل شي، د سړو د ضرر سره مخامخ کېږي، نو ښه به دا وي چې د يو زيات شمېر سبو تخمونه (رومي بانجان، مرچ، توربانجان، کرم، ګلپي، براکولي او

داسې نور) په پسرلي کې د وخته په خوندي ځايونو (پلاستيکي، لرګين، خټين او داسې نور) لوښو کې کرل کېږي. کله چې د يوې خوا محيطي شرايط د کرلو لپاره مساعد شي او له بلې خوا څخه بوزغلي مناسب غټوالي ته رسېدلي وي، نو هغه بيا اصلي کروندې ته انتقالېږي، د لږو بوزغليو د توليد لپاره کېدلی شي چې د وړو بکسونو څخه استفاده وشي.


## Abstract:

There are several advantages of raising seedling in the pots and trays. Seedling remains confined in pots and trays where it is easy to save them from rain, strong sun, heavy wind, avoid shocking of seedlings and provide opportunities for off season cultivation etc. by providing proper shade or cover. Protection becomes also easier when the seedlings are grown in containers like pots, or boxes. Cultural care like weeding, spraying, thinning hardening etc. can be done more efficiently in a smaller place of seedbed than in large area of the field in the case of direct sowing. Weak, disease or undesired seedlings can be discarded at the time of lifting the seedling from the nursery bed for transplanting. A good environment is needed for proper germination of seeds. This can provided well in the nursery than in the field. Hence, germination is less in direct sowing. Containers are used when quantity of seed to be sown in small. Usually tray holding small pits are used for this purpose though other containers, particularly the left –out wooden boxes come handy. Rising of vegetable seed in pots will save seeds, avoid diseases during germination, this will also enhance the use of suitable media that can feed small seedlings sufficiently in pots as well as in permanent plot at early stage.


## References:


1: Arun, Kumar and Kamal, R. 2007, Objective Vegetable Science, Kalyani Publishers, New Delhi.

2: Dhaliwa, M.S. 2008, Handbook of Vegetable Crops, Kalyani Publishers, New Delhi.

3: Fagerai, M.S., Choudhary, B.R. and Dhaka, 2006, Vegetable Crops Production Technology Vol.II, Kalyani Publishers, New Delhi.

4: Hazara, P. and Som, M.G. 2006, Vegetable Science, Kalyani Publishers, New Delhi.

5: Jitendra Singh, 2011 Basic Horticulture، Kalyani Publishers, New Delhi.

6: Maiti R.G. 2004,Plant Propagation at a Glance, 2004, Kalyani Publishers, New Delhi.

7: Sharma R.R. Propagation of Horticulture crops. 2002. Kalyane Publishers. New Delhi.

8: Sadhu, M.K. 2005, Plant propagation, New Age International. (p) Limited, Publishers.

9: Kasten Dumroese R, Thomas D, simple methods of Raising of Trees and shrubs in Afghanistan, Ministry of Agriculture, USA. 1998.

10- حمزه، نورګل. (۱۳۵۹). د نباتاتو د تکثير لوری. کابل: کابل پوهنتون

پوهنمل سـيد بها (کـريمي)
طب پوهنځی- جراحي څانگـه

# Post Menopausal Osteoporosis

## (په ښځو کې د مياشتني عادت له بندېدو وروسته د هډوکو ضعيفي)

**لنډيز:**

Post Menopausal Osteoporosis يوه سيستميکه ميتابوليکي ناروغي ده چې د ايستروجن هورمون د کموالي لـه امله په ښځو کې د هډوکو ضعيفي يا Osteoporosis منځته راوړي، چې له امله يې د ضعيفې قوي په واسطه کسرونه منځـته راځي، حتی پـه بنفسـهي ډول پهکې د فقراتو کسـرونه منځـته راتلای شيچې د هغې تـداوي د ايسـتروجن هورمونو Biphosphonat Fosamox, Actonel او نـورو درملو پـه واسطه صورت نيسي، همدارنگـه وقايـه يې د غذا، لمر وړانگو، تمريناتو کولو، د سگرتو او الکولو نه څکولو او نورو په واسطه کېږي.

**سريزه:**

داچې زمونږ پـه ټولنـه کې عامـه پوهـاوی، طبي خپرونـي لکـه څنگـه چې بايـد وي، نشـته د Post Menopausal Osteoporosis په مورد په ښځو کې د هډوکو د ماتېدني خصوصاً د فقراتو، Hip او Radius د سفلي برخي عمـده لامل گڼل کېږي؛ علاوه د هغې ډېرې ښځېچېد ملا د درد څخه شکايت کوي، اکثراً د Osteoporosis له کبله په کې د فقراتو فشاري کسرونه منځ ته راغلي وي، خو زمونږ داکتران دهغوي د درد د شکايت لـه مخېـوازې پـه انلجيزيکو تداوي کوي. عام خلک دد ېستونزې سره اشنا نه دي او اکثراً زمونږ طبي کارکوونکي ورته هم ډېره پاملرنه نه کوي، حال دا چې په نوره نړۍ کې Post Menopausal Osteoporosis ته ډېره توجه او په وخت سره يې مخنيوييا درملنه اجرا کېږي، حتی ټولې ښځېچې عمر يې د ۴۵ څخه زيات وي، د Bone mineral density ارزونـه پـه کېکېږي. نو د پورتـه ضرورت په نظر کې نيولو سره د جراحي څانگې ماته دنده وسپارله چې د Post Menopausal Osteoporosis په باره کې تازه او نوي معلومات راټول کړم.

**موخې:**

په دې ليکنه کې د Post Menopausal Osteoporosis د درملنېاو څېړنې څخه موخه داده چې د Non vertebral, Vertebral خصوصـاً د Hip کسـرونو واقعـات کـم شـي، محـافظوي تـدابير او وقـايوي تـدابير لکـه سـپورت، د لمرووړانگې اخيستل، غذايي رژيم، د الکولو نه خوړل او نورو پـه اړه عامـه وگـړو او طبي کـارکوونکو تـه گټـور معلومات برابر شي، چې د يادې ناروغۍ په مخنيوي کې مرسته وکړي.

**طبي ادبياتو ته کتنه:**

PostMenopausal Osteoporosis يوه سيستميکه ميتابوليکي ناروغي ده چې د هډوکو د ماترکس د کموالي او يا ضعيفوالي باعث گرځيچې په بنفسهي ډول د فقراتو کسر په کې منځ ته راځي، يا خفيفه تروما ددې سبب کېږيچې د نورو هډوکو لکه Hip، د Radius د سفلي برخېياد Rib کسر په کې منځته راشي. Osteoporosis کوم چې د عمر له نظره يـا د مختلفـو نـاروغيو لـه وجې منـځ تـه راځي، جدا بحث دی؛ دلتـه يـوازې د هغـه Osteoporosis پـه بـاره کېچې د Menopause له وجېيا د مياشتېني عادت د بندوالي له وجېچې اصلي عامل يې د ايستروجن هورمون کموالی دی، څېړل کېږي. په هډوکو کې درې قسمه حجرات فعاليت کويچې د هغېجملې څخه Osteoblast کوم چې نوي هډوکي

جوړوي او یا د هډوکو مترکس جوړوي او هډوکي قوي کوي او بل د Osteoclast حجرات دي، چې زاړه هډوکي تخریبوي او یا د هډوکي مترکس رشف کوي، فعالیت کوي.مختلف عوامل ددې حجرو په فعالیت تاثیر لري، لکه عمر، سپورت،غذايي مواد ، درمل،امراض، هورموني تشوشات او داسې نور.د هورمونو له ډلې دایستروجن هورمون چې د Osteoblastحجرو د فعالیت د تنبیه لامل کېږي، کله چې ښځه Menopause ته ورسېږي، د هغې په بدن کې د ایستروجن هورمون کمېږي چې له وجېې د Osteoblast حجرو فعالیت نهیکېږي، د هډوکو د جوړېدو په نسبت د هغې تخریب زیاتېږي او د هډوکو Osteoporosis منځ ته راځي. البته هر کال د هډوکو 0,5% کتله او کثافت کمېږي، بالاخره د ضعیفي تروما له امله د هډوکو ماتېدنه منځته راځي، حتی په بنفسهي ډول د فقراتو د فشاري کسرو لامل کېږي. (۹)

Treatment of Osteoporosis: د Post Menopausal Osteoporosis د درملنې موخه داده چې د فقراتو او غیر فقري کسرونو مخنیوی وشي، په ځانګړې توګه په Hipکې ځکه د Hipکسرونه ددغې ناروغۍ سره ډېر لیدل کېږي.د درملنې ټاکنه د لاندې فکتورونو پورې اړه لري:

- دناروغ عمر
- دکسر شتون او نه شتون، خصوصاً د Spine په برخه کې
- د هډوکي د کثافت ارزونه
- درمل

1-Bisphosphonate: په یوه تشخیص شويP.M.Oکې البته په ښځو کې لومړنۍ دوا چې استعمالېږي هغه د Bisphosphonate ګروپ درمل دي،یعنيBisphosphonate د لومړۍ کرښې درملو څخه دي، هغه Bisphosphonateچې په بازار کې ترټولو زیات استعمالېږي عبارت دي له: _sodium-Alendronate (Fosamax)چې دوزيې دورځې10mgیا په اوونۍ کې70mg دی.b(Actonel) Risedronat_چې د ورځې5mg او یا په اوونۍ کې 35mg ورکول کېږي. په یوه څېړنه کېچې په ۲۰۰۷ کال کې شوې ده Zolidronic acid د Infusion په شکل په کال کېیو ځل 5mg ورکړه د هډوکو د ماتېدو خطر کموي؛ البته (د ۳۵٪ څخه يې د ۹، ۱۳-۲، ۸ ته راټیټوي) په همدې توګه د فقراتو د کسرونو خطر د ۸۹، ۳،٪ څخه د ۷، ۱٪ ته غیر فقري کسرونو خطر د ۷۷٪، ۱۰ څخه ۲٪، ۷ ته کموي، البته د مړینې کچه هم کموي. په همدې څېړنه کې ښودل شوې ده چې د مړینې په کچه کې ۲۸٪ کموالی راغلی دی. Bisphosphonate د خولې د لارې ښه نه جذبېږي، نو له همدې امله باید د سهار له طرفه په خالي معده وخوړل شي او د خوړلو څخه وروسته د نیم ساعت لپاره نور څه ونه خوړل شي. داچې دغه درمل د مرۍ التهاب یا Esophagi is منځ ته راوړي، له همدې کبله یې ناروغ ښه نه شي تحمل کولای، دغه درمل د اوونۍ یا میاشتې اخیستنه د Esophagi tisخطر کموي.

2-Teri Para tide: په دې وروستیو کې ښودل شوې ده چېTeri Para tideچېکېمیاوي نوم یې (Forteo, Recombinant Para thyroid- residuesi-34) دی، د Osteoblast په درملنه کې موثریت لري. دغه دوا د پاراتائیروید هومن په څېر عمل کوي او د Osteoblast حجراتو د تنبه سبب کېږيچې په نتیجه کې ددغه حجراتو فعالیت زیاتېږي. په هغو ناروغانو کې د استعمال وړده چې Osteoporosis په کې تاسیس کړی وي (هغه ناروغان چې ددې نه مخکې پرې معروض شوي وي )Bone mineral densityیې کمه وي او د ماتېدنې لپاره نور خطري فکتورونه موجود وي او همدارنګه Bisphosphonate د خولېله لارې نه شي اخیستلای؛ دغه مواد دورځني زرق په شکل دیوې مخصوصې ستنې په واسطه (Pin-Type-Injection-device) زرق کېږي.په ځینې هېوادونو کې دغه درمل وروسته درسمي اجازې څخه هغه وخت تطبیق کېږيچې د Bisphosphonate په زریعه درملنه ناکامه شوې وي او یا د

Bisphosphonateلپاره کوم دلیل د استعمال موجود نه وي.هغه ناروغان چې پخوا يې شعاعي درملنه اخيستې وي،يا Paget's Disease ولري يا ځوان وي، ددې درملو د اخیستلو څخه باید ډډه وکړي.

3- Strontium – relanate:دغه درمل د خولې دلارې د اخیستلو یو بل درمل دیچې د کېميا له نظره Dual action) bone agent) DABA درملو پورې تړلیدې. ددغه دوا موثریت خصوصاً د فقراتو د ماتېدو په مخنیوي کې په اثبات رسېدلی دي. په لابراتواري کتنو کې موندل شوي دیچې نوموړې دوا د Osteoblast حجرو Proliferation تنبه او د Osteoclast حجرو Proliferation نهي کوي strantiumedlat دورځې له خوا 2gr د oral suspension په شکل اخيستل کېږي. د Osteoporosisپه درملنه کېيوازې د فقراتو او Hip کسرونو دمخنیوي په خاطر اجازه لري. ددې دوا جانبي اعراض د Bisphosphonate په پرتله کم دي، ځکه دا دوا په پورتني هضمي جهاز کومه ناوړه اغېزه نه لري. په کتنو کې ښودل شوې ده چې په کمه اندازه د Thromboembolism د پیدا کېدو چانس زیاتوي، نو ښه داده چې هغه ناروغان چې د مختلفو عواملو له کبله د ترمبوز خطر په کې موجود وي دا درمل ورته ورنه کړل شي، که څه هم دا درمل موثر دي، خو په متحده ایالاتو کې د استفادې اجازه نه لري، خو بیا هم د متحده ایالاتو په ویټامین لرونکو درملو کې شتون لري.زیاتره څېړونکي عقیده لریچې strontium ښه درمل دي، موثریت يې ثابت دیاو هیڅ فرق نه کویچې کوم مستحضر يې واخیستل شي، هر شکل يېچې واخيستل شي، فرق نه کوي، مگر مستحضر يې باید په اوبو کې د حلېدو وړ وي او د معدې د تېزابو په واسطه Ionized شي. وروسته د کولمو د جذب څخه پروتین سره یوځایکېږي، وینې ته داخلېږید (Fosamax(Sodium alendronate په خلاف د هډوکي بیا جوړېدنه Recycling نه نهي کوي او په حقيقت کې د هډوکو د قویکېدو باعث گرځي.څېړنو ښودلې ده چې د Alendronate پينځه کاله تطبیقکېدای شي د هډوکو د ضایع کېدو سبب شي، حال داچې که Strontium ټول عمر استعمال شي، د هډوکو د جوړښت او ټینگښت سبب گرځي.(۳)

Strontium باید د غذايي موادو سره یو ځای وخوړل شي، دواړه د کلسیمي موادو سره په جذب کې رقابت لري، باید کلسیم لرونکو شیانو سره یوځای ونه خوړل شي، که څه هم مونږ پوهېږو چې Mg/Ca او Vit-D د درملنې مقدار باید روزانه واخیستل شي، خو د strontium سره یو ځای باید وانه خیستل شي او هم strontium باید په خالي معده د شپې له خوا استعمال شي.

4- Hormon-replacement:دغه درملنه د Osteoporosis د مخنیوي لپاره تر اوسه ښه منل شوې ده، خو نن ورځ تر هغو چې د هورمونونو د ورکړې لپاره کوم بل استطباب هم موجود نه وي، په یوازې ډول نه توصیه کېږي. داچې په ښځو کې د مینوپاس څخه وروسته په لومړیو لسو کلو کې درملنه شروع شي او که نه، مختلف نظرونه موجود دي، خو که استعمالېږي د menopause څخه وروسته په اولو لسو کالو کې ورکول کېږي.پهHypo gonadal نارينه و کې د Testosterone ورکړه د هډوکي په کېفیت او کمښت ښه اغېزه لري، مگر د Testosterone ورکړه هغو نارينه و کېچې Testosterone اندازه يې وینه کې نارمله وي د اضافي Testosterone ورکړه او دهغوی اغېزه د هډوکي په ماتېدنه معلومه نه ده.

5- Selective Estrogen Receptor Modulator: دغه دواگانې په انتخابي توگه د انسان په بدن کې د استروجن په اخذو باندې عمل کوي. استروجن چې د osteoblast فعالیت زیاتوي نتیجه کې د هډوکو د کثافت د زیاتوالي سبب کېږي.بعضې دواگانې لکه relaxifim د هډوکو د Osteoblast حجراتو فعالیت کموي او له دې وجې د هډوکو تخریب کمېږي، خو استروجن په osteoblast تاثیر لري. (۴م،۲م۵)

6- تغذیه NutritionCalcium: چې د هډوکو په نشو نما او د هډوکو په بیا جوړونې کې عمده رول لري، د هډوکو قوت ثابت ساتي. له همدې وجې د osteoporosis په تداوی کې شامل وي. د Ca د اخیستنې اندازه د محیط او عمر په لحاظ فرق کوي، د امریکا متحده ایالاتو څېړنو ښودلې ده چې هغه کسان کوم چې عمر يې د **۵۵** کلونو څخه پورته

وي او د osteoporosis لپاره په لوړ خطر کې قرار لري د ورځې باید mg 200 واخلي. د Ca اندازه باید په غذايي موادو کې زياته وي او مقدار يې بايد داسې وساتل شي چې تقريباً تر 500mg څو ځله واخلي. داسې نور فکتورونه لکه د پروتينو اخيستل هم عمده رول لري، خود زياتو پروتينو اخيستل چې د يو بخوا دوينې د Ca د کموالي سبب کېږي د Ca اخراج زياتوي، له بلې خوا دوينې اسيديتيد زياتوالي سبب کېږي چې دا هم د هډوکو سره Antagonist تاثير لري.(۴)

7- Vit.D: څېړنو داسې ښودلې چې د Vit.D زياته اخيستنه په زړو خلکو کې د هډوکو د ماتېدنې چانس کموي او دا خلک باید کوشش وکړي چې د لمر وړانګو سره زيات مخامخ شي او هم بايد ننبي جامې واغوندي ترڅو د لمر وړانګو مخنيوى ونه شي.

سپورت: څېړنو ښودلې ده چې ازاده هوا کې ازاد سپورت وزن برداري او مقاومت لرونکي تمرينونه په post-menopausal ښځو کې د هډوکو کثافت ثابت ساتي او يا يې هم لوړوي او که د سپورت سره يوځای H.R.T هم وشي د هډوکو د کثافت د لازياتوالي سبب کېږي، خو په ځوانو ښځو کې ډېر قوي سپورت لکه وزن برداري او جمناستيکونه د استروجن کموالي سبب کېږي او زمينه osteoporosis ته برابروي. (۴)

د H.R.T ورکړه د Hypo Estrogenic علامې لکه د خوب تشوشات، د مهبل وچوالی هم له منځه وړي، تر ټولو مهمه داده چه هورمون په قلبي وعايي سيستم ښه اغېزه لري، ثابته شوې ده چې په lipid profile هم ښه تاثير لري. د زړه د حملاتو واقعات کموي او هم دادرار د Incontinence د ښه والي سبب ګرځي. د HRT سره کېدای شي دوه شکايته موجود وي، يو داچې اکثره ښځې داباور لريچې په زياته پيمانه استروجن اخيستنه د ثديو د کانسرنو واقعات زياتوي، که څه هم دا ادعا په هغو څېړنو کې چې د ۵۰-۲۰ کلونو راپدې خوا شوې ده په اثبات نه ده رسېدلې.دويم داچې estrogen بايد د progesterone سره يوځای واخيستل شي، ترڅو Neo plastic endometrial hyperplasic خطر له منځه يوسي. (۳)

8- Calcitonin: calcitonin يو 32 amino acid peptide دیچې په نارمل ډول د تارائيد غدېد C حجراتو په واسطه جوړېږي او د هډوکو د Resorption په ډېره چټکۍ سره د Osteoclast حجراتو فعاليت نهي کوي.قيمتي دواده، بايد د زرق له لارې واخيستل شي، دوز يې د ورځې 100I.U دی، د Concileus هډوکو د کثافت د کموالي زيات مخنيوى کوي نظر cortical ته. (۴)

9- Fluride په واسطه د Pmo تداوي: Sodium florid چې نن ورځ F.D.A (Food and drug administer) له خوا د ارزونې لاندې دي، چې ايا د osteoporosis لپاره استعمالېږي او که نه؛ همدارنګه Thiazide چې B.P د درملنې لپاره استعمالېږي د هډوکو د کثافت د زياتوالي سبب کېږي.(۹)

## وقايه:

هغه څه چې د طبي پرسونل مربوط وي عبارت دي له لازم هدايات او هم د مناسب درمل تجويز څخه او هغه څه چې د ناروغ او عامو خلکو پوربارړه لري، عبارت دي له:

۱-غذا: دا ناروغان هغه غذاګانې چې د ca له معدني مالګو څخه غني وي واخلي، کافي ويتامينونه او پروتينونه واخلي، خو ډېر زيات پروتين څخه ځان وساتي (ديوې خوا د Ca د ضياع او بل طرفه د وينې PH اسيدي کوي چې په هډوکو Antagonist تاثير لري).(۷)

۲-تمرينات: Post Menopausal Osteoporosis ته مساعد کسان بايد ډېر فعال واوسي، هره ورځ يا هفته کې درې ځلې د قدم وهلو څخه تر څغاستې حتی وزن بردارۍ پورې حرکات اجرا کړي، خو د ډېرو درنو وزنونو څخه ځان وساتي (په ځوانو نجونو کې ډېر قوي تمرينات لکه جمناستيکي قوي حرکات د استروجن د کموالي سبب ګرځي).(۷)

زمونږ اکثره خلک خپل والدین په دې ملحوظ چه اسوده او ارام پاتې شي، فعالیت څخه یې مخنیوی کوي چې دا هم د Osteoporosis غټ علت دی.

۳-هغه ناروغان چې osteoporosis په کې په پرمختللي شکل تاسیس شوی وي، عمر یې هم زیات وي، باید په احتیاط وګرځي، د امسا استعمال، د Hip Protector استعمال په کافي رڼا کې ګرځېدل، که ډېر ضعیفه وي د بل تن په کومک ګرځېدل باید وشي. خپل داکتر سره منظم تماس د هغو د مشورو منل او د درملو خوړل.

**پایله**:

په پرمختللو هېوادونو کې چې کله ښځې مینوپوز ته ورسېږي په منظم ډول ډاکترته ځي او تداوي کېږي، مګر زمونږ په ملک کې ښځې اکثراً دا مرحله په کور کې تېروي. د څلوېښتو کلونو څخه د زیات عمر ښځې چې د کسرونو له امله ډاکتر ته مراجعه کوي، باید osteo porosis ته یې ډاکتر جدي پاملرنه وکړي. په ښځو کې د سپورت، په غذا کې د کلسیم زیات اخستل، دلمر وړانګو سره زیات مواجه کېدل، د ننبي جامو اغوستلاو د مینوپوز په وخت ډاکتر ته مراجعه کول باید رواج شي؛ همدارنګه د ډاکتر له خوا تجویز شوې دوا باید په منظم ډول واخستل شي، د الکولو او سګرټو څخه دې ډډه وشي.

**وړاندیزونه**:

۱-هغه ښځېچې مینوپاز ته ځي، د دې لپاره چې په ارتفاع یا قد کېښې کموالی منځته رانشي او کسرونه په کې رامنځته نه شي، باید په منظم ډول پورتني وقایوي تدابیر مراعت کړي او د خپل داکتر څخه لازمي مشورې واخلي؛ که داکتر ورته درمل توصیه کړي، باید په منظم ډول یې واخلي.

۲-طبي پرسونل د osteoporosis د تشخیص په منظور د ناروغ څخه ښه تاریخچه او د لزوم په صورت کې د هډوکو ایکسري او حتی که ممکنه وي B.M.D ورته اجرا کړي.

۳-دا چې د ۴۰ کالو څخه وروسته د هډوکو کتله په کمېدو راځي خصوصاً چې کله ښځې مینوپاز ته رسېدلې وي او د هډوکو د دردونو څخه شکایت ولري، باید ډاکتران تر ټولو لومړی osteoporosis ته متوجه، لازم هدایت او درملنه ورته توصیه کړي.

۴-د لمر وړانګو ته کېناستل، د ننبي جامو اغوستل، ترڅو د لمر وړانګو مخنیوی ونشي.

۵-د سګرټو څکولو څخه ځان وساتي، ځکه چې تنباکو څکول مستقیماً د osteoblast حجرو فعالیت نهي کوي، د ایستروجن میتابولیک تخریب زیاتوي، د ایستروجن د غیرغدوي تولید د کموالي سبب ګرځي او سګرټ څکوونکی ژر مینوپاز ته ځي.(۳)

۶-د الکولو څکول هم په زیاته پیمانه د هډوکو د osteoporosis باعث کېږي، باید ځان ورڅخه وژغورل شي. ځکه چې الکول مستقیماً په عظمي حجراتو سمي تاثیر لري، د Osteoblast حجراتو تولید کموي، د ماترکس د پروتینو جوړېدو د کموالي سبب ګرځي، د نشې په وخت د ولېدو او هډوکو د ماتېدو چانس زیاتوي.(۳)


**Abstract:**

Osteoporosis is a disease of bones that leads to an increased risk of fracture. In osteoporosis the bone mineral density (BMD) is reduced bone microarchitecture is disrupted,and the amount and variety of proteins in bone is altaltered.Osteoporosis is most common in women after menopause, when it is called postmenopausal osteoporosis.Osteoporosis can be preventedwith lifestyle changes include exercise preventing falls, reducing protein intake.Also medication includes calcium, vit D, bisphosphonates, hormone replacement therapy and several others.

## References:

1: American Journal of Clinical Nutrition 1995; p61.
2: American Journal of Clinical Nutrition 1979; p32.
3: American Journal of Clinical Nutrition 1995; 61.
4: American Journal of Epidemiology 1994; p139.
5: Kim DH, Vaccaro AR (2006). "Osteoporotic compression fractures of the spine; current options and considerations for treatment". The spine journal: official journal of the North American Spine Society 6 (5): 479-87.Doi: 10.1016/j.spinee.2006.04.013. PMID 16934715.
6:Science 1986; 233 (4763).
7:Susan Ott. "Fracture Risk Calculator".http:// courses. Washington.edu/bonephy/FxRiskcalculator.html. Retrieved 2009 -11-03.
8:WHO(1994). "Assessment of fracture risk and its application to screening for postmenopausal osteoporosis. Report of a WHO study Group". World Health Organization technical report series 843: 1-129.PMID 7941614. Susan Ott. "Fracture Risk Calculator".http://courses.washington.edu/bonephys/FxRiskCalculator.html. Retrieved 2009-11-03.
9: Ganz Da, Bao Y, Shekelle PG, Rubenstein LZ (2007). "Will my patient fall?".JAMA 297 (1): 77-86. Doi:10.1001/jama.297.1.77. PMID 17200478.
10: Melton LJ (2003). "Epidemiology worldwide".Endocrinol.Metab.Clin. North Am. 32 (1): 1-13, v. doi:10.1016/S0889-8529(02)00061-0. PMID 12699289.

پوهنمل خوشدل (معروف)
کرنې پوهنځی- حیواني علومو څانگه

# د قفس په سیستم کې د چرگانو روزنه

**لنډیز**:
په ټولو پرمختللو هېوادونو کې د هگیو چرگانو د روزنې لپاره د قفس څخه استفاده کېږي؛ د دغه طریقې څخه د ځینو اقتصادي او روزنیزو گټو په لرلو سره د غوښینو چرگوړو او حتی د غوښینو چرگانو او تخمي غټو چرگو په روزنه کې استفاده کېږي. د باتري (Battery) په نوم د یوې ورځې نه تر درې اونیو پورې چرگوړو لپاره استعمالېږي. د درې اونیو نه پورته چرگوړو قفسونه معمولاً د ۳-۴ پوړیزو پورې وي او لوړوالی یې د باتري څخه زیات وي چې د اوسپنیزو میلو او جالیو څخه جوړ شوي وي او هر پوړ یې ۲۰Cm لوړوالی، ۲۰Cm سور او ۹۰Cm اوږدوالی لري؛ هر پوړ یې یوه ابخوره او دوه دانه خورې په دواړه خواو کې لري. مسطح اتومات قفسونه معمولاً د اوسپنیز مېلو څخه جوړ شوي چې سطحه یې د جالۍ څخه تشکیل شوې او د جالیو برخې یا چشمې ۱،۹Cm X۱،۹ سانتي متره وي. څو پوړیزه اتومات قفسونه معمولاً درې یا څلور پوړیزه وي او په مختلفو ډولونو او اندازو سره وي ددې ډول قفسونو څنگونه m1,4x4 متره او لوړوالی یې ۵۲Cm وي. د هگۍ اېښودونکو چرگو انفرادي قفسونو کې دوه انفرادي قفسونه په منځ کې او یو قفس په دواړو خواو کې اېښودل شوی وي، له دې کبله ورته پلۀ تربیوي یا کالیفورنیایي قفسونه هم ویل کېږي. څو پوړیزه اتومات قفسونه په هغه هېوادونو کې چې کارگر کم او اجوره زیاته وي او همدارنگه تخنیکي امکانات زیات وي، معمولاً د څو پوړیزه اتوماتو قفسونو څخه استفاده کېږي. د هگۍ اېښودلو ځاله باید په داسې ډول جوړه کړای شي چې چرگې په اسانۍ سره په کې ننوځي او هگۍ په کې کېږدي. په هغه ځای کې چې د تخم گذارۍ اشیانه جوړېږي، باید گوښه او تیاره وي؛ همدارنگه د تخم گذارۍ اشیانه باید په داسې ډول جوړه کړای شي چې د هگیو ټولول اسانه وي او د بهر خوا ته ارتباط ولري، یعنې د هگیو د ټولولو په وخت کې مالدار کوډلې ته داخل نشي.

**سریزه**:
د نړۍ په زیاتره هېوادونو کې د هگیو او مورنیو چرگانو روزنه په مختلفو پنجرو کې صورت نیسي؛ د دغه طریقې څخه ډېرې گټې لاسته راځي، په کمه ساحه کې ډېر شمېر چرگان روزل کېدای شي او د ډېرې ساحې سپما کېږي. نوموړې پنجرې څو پوړیزې وي، ټول اړوند ضروریات له ځانه سره لري، چرگانو او چرگوړو ته هیڅ ډول ستونزې نه پېښوي چې کېدای شي د وخت په تېرېدو سره دا طریقه د بستر پر مخ د روزنې طریقې ځای ونیسي.

**موخې**:

۱- د قفس په سیستم کې د روزنې گټې او د قفسونو د جوړښت اصولو او ځانگړتیاو څرگندول.

۲- د مسلک مینه والو او د چرگانو روزونکو ته په اړونده برخه کې د معلوماتو وړاندې کول.

**الف- د قفسونو ساختماني اصول**:

لاندې اصول باید د قفسونو د جوړېدو پر مهال مراعت شي:

۱: هغه مواد چې په کار وړل کېږي باید کلک، سپک، د ضدعفوني کېدو وړ او د امکان تر حده ارزانه وي.

۲: د انفرادي قفسونو اندزه باید داسې انتخاب شي چې د ډېر ځای نیولو څخه سېما وشي او چرګان هم ارام وي. لوړوالی یې باید داسې وي چې چرګان کولای شي په اسانۍ سره په کې ودرېږي، سور او اوږدوالی یې باید داسې وي چې چرګان وکولای شي په اسانۍ سره په کې چاپېره وڅرخي (دور وکړي).
۳: د قفس سطحه باید داسې جوړه شي چې چرګان وکولای شي په کې حرکت وکړي او فضله مواد یې لاندې توی شي او سطحه یې باید کلکه وي چې د چرګ وزن برداشت کړي او باید ښویه وي چې د هګیو د ماتېدو سبب نه شي او هم باید سطحه یې زیات میلان ونلري، ځکه چې د ډېر میلان په صورت کې د هګیو سرعت زیاتېږي او په هګیو کې د درزونو سبب کېږي او کم میلان د هګیو د کګړېدو او د چرګانو د پښو لاندې د ماتېدو سبب کېږي.
۴: قفسونه که هر ډول جوړېږي باید د چرګانو د تېښتې څخه مخنیوی وکړي او همدارنګه تړل او خلاصول یې اسانه وي او د چرګانو د واکسین کولو او د نیولو په وخت کې ډېر وخت ونه نیسي او د دروازو پلنوالی په کافي اندازه وي. (۱-۳)
۵: دانه خوري او ابخوري باید داسې وي چې د غذا د زیاتې تویېدنې او تیت کېدو څخه مخنیوی وکړي او هم چرګان وکولای شي په اسانۍ سره ترې استفاده وکړي.

## ب- د قفسونو ډولونه:

د قفس په سیستم کې معمولاً د دوه ډوله قفسونو څخه استفاده کېږي، لومړی ډول یې د ودې په حال کې د چرګوړو لپاره او دویم ډول یې د تولید په حال کې د تخمي چرګانو قفسونه دي. (۱،۴،۲،۷)
د ودې په حال کې چرګوړو قفسونه: د ودې په حال کې چرګوړي کېدای شي په اتوماتو قفسونو او عادي قفسونو کې وروزل شي.
الف- څو پوړیزه معمولي قفسونه: په نړۍ کې د ودې په حال کې چرګوړو په روزنه کې د دوه ډوله څو پوړیزه غیراتوماتو قفسونو څخه استفاده کېږي چې عبارت دي له:
۱- باتري Battery: دا ډول قفسونه د باتري په نوم یادېږي یا د یوې ورځې نه تر درې اونیو پورې چرګوړو لپاره قفسونو په نوم هم یادېږي.
۲- د درې اونیو نه تر هګۍ اېښودنې پورې چرګوړو قفسونه: د اولې ورځې باترۍ د جوړښت له مخې د هغه قفسونو سره چې ددې عمر د چرګانو لپاره په نظر کې نیول کېږي، لږ څه توپیر لري. د وړو چرګوړو (د اولې ورځې نه تر درې ورځو پورې) قفسونو ته باتري ویل کېږي. دا قفسونه د اوسپنیز څادر، اوسپنې میلې او اوسپنیزې جالۍ څخه جوړېږي او کېدای شي له یوه پوړ نه تر پینځو پوړو پورې وي. د هر پوړ لوړوالی ۲۲Cm سور یې ۲۰Cm او اوږدوالی یې ۹۰Cm وي، د هر پوړ سطحه د جالۍ څخه تشکیل شوې وي. (۵، ۲)
که چېرې باتري (Battery) په خپله ګرموونکې دستګا لري، دې ډول باتري ته ګرمې باتري وایي او که چېرې باتري ګرموونکې دستګا ونلري، دې ډول باترۍ ته سړې باترۍ وایي او دغه ډول باترۍ په ګرم سالون کې اېښودل کېږي. په ګرمو باتریو کې کېدای شي تودوخه د تېلو، ګازو او برېښنا په واسطه تولید شي. د تودوخې منبع ګرمه هوا ده، دا ګرمه هوا د هغو نلونو په واسطه چې د باترۍ په چت کې غځول شوي وي، شاوخوا او بالاخره ټولې باترۍ ته انتقالېږي چې په نتیجه کې یې باترۍ ګرمېږي. (۳)
د قفسونو څخه د استفادې په صورت کې باید کوشش وشي چې تودوخه په ټولو برخو کې یو شان وي. د سالون تودوخې ته باید توجه وشي د الوتونکو د ضرورت وړ تودوخه د هغو د عمر په مختلفو وختونو کې توپیر لري؛ هغه باترۍ چې سړې وي باید په ګرم سالون کې کېښودل شي او د سالون تودوخه په مناسبه اندازه وي چې تودوخه د هوا د لېږدوونکي سیستم یا هیټر (Heater) په واسطه صورت نیسي. د هر قفس په خوا کې یوه ابخوره او په دوه خواوو کې

دوه ناوه ډوله دانه خورې اینبودل کېږي. چرګوړي تر درې اونیو پورې چې د ودې په حال کې دي، په کې ساتل کېږي. (۵-۷)

ب- د درې اونیو نه پورته چرګوړو قفس:
دا ډول قفسونه معمولاً د ۳-۴ پوړیزو پورې وي او لوړوالی یې د باتري څخه زیات وي چې د اوسپنیزو مېلو او جالیو څخه جوړ شوي وي او هر پوړ یې ۲۰Cm لوړوالی، ۲۰Cm سور او ۹۰Cm اوږدوالی لري. هر پوړ یې یوه ابخوره او دوه دانه خورې په دواړه خواو کې لري.(۲-۷)
د قفس د هر پوړ ظرفیت نظر فصل او نژاد ته معمولاً ۲۰-۲۵ چرګوړي تر اتمې اونۍ پورې تو پیر لري، نوموړي چرګوړي تر څلورو میاشتو چې د هګیو اچولو ته نژدې وي، ساتل کېږي؛ چې په اخرو ورځو کې په هر پوړ کې شمېر یې ۱۰ چرګوړو ته ټیټېږي. د ۲ اونیو نه وروسته چرګوړي زیاتې تودوخې ته ضرورت نه لري او د بستر معمولي تودوخه ورته کافي ده. د تودوخې کمول باید په تدریجي توګه صورت ونیسي. (۴،۵ )

ج- مسطح اتومات قفسونه:
دا قفسونه معمولاً د اوسپنیزو مېلو څخه جوړ شوي وي چې سطحه یې د جالۍ څخه تشکیل شوې او د جالیو برخې یا سوري ۱،۹Cm X ۱،۹ سانتي متره وي ترڅو فضله مواد یې په اسانۍ سره ترې تېر او لاندې توی شي. په دې قفسونو کې د چرګوړو فضله مواد د جالیو د سطحې لاندې سیمي کانال ته تویېږي چې د یوې تیغې په واسطه چې د یوه مزي سره وصل وي او د کانال له منځ څخه تېرېږي او د ورځې یو ځلې د بستر څخه خارج ته لېږدول کېږي. په ځینو قفسونو کې فضله مواد په پلنو تختو کې چې د قفس لاندې واقع دي، تویېږي او تختې هره ورځ په حرکت راځي فضله مواد خارج ته لېږدوي. د قفسونو اندازه د جوړوونکې کارخانې د اندازې پورې اړه لري، لېکن معمولاً اوږدوالی یې ۱،۰۲۷ متره سور یې ۲،۰۵۷ متره او لوړوالی یې ۴۰Cm سانتي متره وي. (۳-۵)
هغه قفسونه چې مساحت یې ۴،۴ متر مربع وي ۵۰ چرګوړي او هغه قفسونه چې $m^2$ ۳،۱۲۷ متر مربع مساحت لري، ۴۰ چرګوړي په کې ساتل کېږي. نوموړي قفسونه سر تر سره په سالون کې ترتیبېږي او هر یو یې له ځان سره دانه خورې او ابخورې لري چې اتومات دي، په ځینو کې یې له ځنځیري ناوه ډوله دانه خورو او په ځینو نورو کې له استوانه ډوله بشقابي دانه خورو څخه استفاده کېږي. (۴، ۳ )

د- څو پوړیزه اتومات قفسونه:
دا قفسونه معمولاً درې یا څلور پوړیزه وي او په مختلفو ډولونو او اندازو سره وي، ددې ډول قفسونو څنګونه m1,4x4 متره او لوړوالی یې ۵۲Cm وي او ظرفیت یې د ۱۰۰ چرګوړو لپاره دی. په هر متر مربع ساحه کې یې ۱۸ چرګوړي ساتل کېږي او د سالون حقیقي شمېر د څلورو پوړیزو بلاکونو سره د ټولې سطحې اندازه چې قفسونه په کې اینبودل شوي دي، ۳۵ چرګوړي د هر متر مربع ساحې لپاره دي. د قفسونو سطح د سوري لرونکي پلاستیکي موادو څخه جوړه شوې ده او یوه کومکي جالۍ یې پر مخ واقع ده چې د وښو د نرې قشر په واسطه پوښل شوې وي، هوا د سطحې نه د یوې کوچنۍ ساحې په مرسته پورته خوا ته جریان پیدا کوي چې یو تناب دیو دیسک سره ناوه ډوله دانه خورې باندې ختمېږي. (۲،۱، ۸ )

## د هګۍ اچوونکو چرګو قفسونه:

هغه قفسونه چې د هګۍ اینبودونکو چرګو لپاره په کار وړل کېږي کېدای شي چې انفرادي، څو چرګیز، ډله ییز مسطح، څو پوړیز او د کار په اساس معمولي، نیمه اتومات او یا په کامله توګه اتومات دي.

الف- انفرادي قفسونه:

په دې قفسونو کې دوه انفرادي قفسونه په منځ کې او يو قفس په دواړو خواو کې اېښودل شوي وي، له دې امله ورته پلۀ تربيوي يا کاليفورنيايي قفسونه هم ويل کېږي. په دې قفسونو کې د اتوماتو وسايلو څخه کار نه اخيستل کېږي او کارونه د لاس او کارګر په واسطه سرته رسېږي. د دې قفسونو اوږدوالی 23Cm سانتي متره د څنګ له لوري لوړوالی 43Cm متره او د شا له لوري لوړوالی 40Cm سانتي متره وي. سطحه يې د شا له لوري څنګ لورته يو څه ميلان لري او 15Cm سانتي متره د قفس څخه دباندې ادامه مومي چې په دې توګه هګۍ د اېښودلو څخه وروسته د قفس څخه خارجېږي او دباندې وځي او د کارګر په واسطه په اسانۍ سره ټولېږي. د دانه خورو سور او ژوروالی 10Cm سانتي متره او د ابخورو سور او ژوروالی 5 Cm سانتي متره وي او د اوبو د نل سره وصل وي او کېدای شي ابخوري د دانه خورو په څنګ کې او يا د قفس په پورتنۍ سطحه کې ځای پرځای شي. د قفسونو لاندې د فضله موادو د جمع کېدو لپاره خاص لوښي اېښودل شوي وي چې فضله مواد په کې جمع او په څو مياشتو کې يو ځل تشېږي. (۱،۳،۷)

ب- څو پوړيزه اتومات قفسونه:

په هغو هېوادونو کې چې کارګر کم او اجوره زياته وي او همدارنګه تخنيکي امکانات زيات وي، معمولاً د څو پوړيزه اتوماتو قفسونو څخه استفاده کېږي چې په کار او ځای کې تر ډېره حده سپما رامنځته کېږي. دا قفسونه کېدای شي درې- څلور او حتی اته پوړيزه وي چې نظر د قفس نوعې ته کېدای شي ديو څخه تر څو قطعو پورې چرګان په کې وساتل شي. که په يو قفس کې څو چرګان وروزل شي او يا دا چې قفس څو پوړيزه وي، په هر متر مربع ساحه کې د چرګانو شمېر تو پير کوي. مثلاً که د پينځو چرګانو لپاره قفسونه وي، په درې پوړيزه قفسونو کې ۲۰-۲۴ چرګان، په څلور پوړيزه قفسونو ۳۷ چرګان په هر متر مربع ساحه کې وي چې د هر چرګ لپاره $m^2C$ ۴۳،۷ ساحه کېږي. (۵، ۷)

د پينځو چرګانو د قفسونو اوږدوالی ۳،۱متره، سور يې 42،2 Cm سانتي متره، د څنګ له لوري لوړوالی 45 Cm سانتي متره او د شا له لوري لوړوالی 39 Cm وي. په اته پوړيزه قفسونو کې د 50Cm په ژوروالي سره په داخلي برخه کې د څنګ له لوري 43،7 Cm وي. مونږ کولای شو چې په يو داسې سالون کې چې ۵، ۱۹ x ۱۱۴متره سور او 104m متره اوږدوالی ولري ۱۰۰۰۰۰قطعې چرګان وروزو. (۵-۶،۸)

ج- د هګۍ اچولو ځاله:

د هګۍ اېښودلو اشيانه بايد په داسې ډول جوړه شي چې چرګې په اسانۍ سره په کې ننوزي او هګۍ په کې واچوي. په هغه ځای کې چې د تخم ګذارۍ اشيانه جوړېږي بايد ګوښه او تياره وي. همدارنګه د تخم ګذارۍ اشيانه بايد په داسې ډول جوړه کړای شي چې د هګيو ټولول اسانه وي او د خارج خوا ته ارتباط ولري. د هګۍ اېښودلو اشيانه بايد پاکه شي، په منځنۍ توګه د هګۍ اېښودلو اشيانه ۳۰ سانتي متره اوږدوالی او ۳۵ سانتي متره لوړوالی ولري چې دوه اشيانې د۱۴ چرګو لپاره کفايت وکړي، جوړې شي. د هګۍ اېښودلو اشيانه د مختلفو موادو څخه لکه لرګي، خښتو او خټو څخه جوړېدای شي. (۵- ۶، ۷)

**پايله**:

۱- د قفس سيستم په روزنه کې کولای شو چې د کمې ساحې څخه ډېره ګټه لاسته راشي؛ په دې اساس په لږه ساحه کې ډېر چرګان روزل کېږي.

۲- کم کارګرانو ته اړتيا پيدا کېږي.

۳- قفسونه بايد د چرګانو د عمر او نسل په نظر کې نيولو سره جوړ شي.

۴- د خپل حد څخه زيات چرګوړي او چرګان بايد ونه روزل شي چې پايله کې به د ستونزو سره مخامخ شو.

**Abstract:**
Poultry cage system is very famous in the world. We can get more advantage from small space of land by cages, because more pullets can reared in small space of land, there are different types of cages. Cages are prepared in several stairs, which have all facilities inside. There are facilities of feeders, drinkers and egg collection. Batteries are using for small chickens, when they grow up; they are transferred to young pullets cages. Before starting of laying eggs, there is need to be transferred to laying cages, which have several stairs with all facilities. Due to new researches and struggles of scientists, about 100000 chickens can be kept in a space of 114x14.5 square meters. The eggs must be collected due to arranged schedules. Eggs cracks and damages are reduced and avoided in the cages.

**اخځلیکونه**:

۱- اسمعیلی، محمد اسمعیل. (۱۳۵۸). روش نوین مرغداری- چاپ چهارم. تهران ایران.
۲- انوری، شفیق الله (۱۳۵۷). کرنپوهنه- د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي درې میاشتنۍ علمي خپرونه، دویمه گڼه. کابل.
۳- جلالي عبدالحسین (۱۳۲۳) مزرعه دانشگاه تهران ایران سال ص۳۱-۳۳
۴- جامعی، پرویز. (۱۳۵۷). اصول تغذیه دام. ایران: دانشگاه تهران.
۵- پرویز، مرغبانی. (۱۹۹۱). کا سالانه کورس اداره تحقیق امراض حیوانات صوبه سرحد. پشاور.

6- Joll Morley A and other Poultry Farming first edition. MC Grow –Hill Book Company INC USA 1945 pp (204-220).

7- Nesheim MC and others Poultry Production 12th edition. Lea and Febirger. USA 1974 pp (24-39).

8- E. Austic Rechard and others Poultry Production 13th edition. Lea and Febirger, Philadelphia. London and USA pp (71-84).

پوهنمل محمد اصف
طب پوهنځی- هستوپتالوژي څانګه

# د شکرې ناروغۍ غذايي رژيم

**لنډيز**:
په دې ليکنه کې د شکرې ناروغي او د هغې د غذايي رژيم په هکله يو لړ معلومات راټول شوي، تر څو د نوموړي غذايي رژيم په تطبيق سره خپل ژوند عيار او د نوموړې ناروغۍ له اختلاطاتو محفوظ وساتل شو. په غذايي رژيم کې د قندونو او غوړيو په کم استعمال، د پروتين په عادي استعمال او د سلولوز لرونکو غذاګانو په زيات استعمال تاکيد شوی دی.

**سريزه**:
څرنګه چې د شکرې ناروغي نړيواله بڼه لري چې د افغانستان خلک هم له دې کړمې رنځ وړي، هر کال ترې د ټولنې زيات وګړي يا معيوب او يا هم مري. په نوموړې ناروغۍ له نارينه و ښځې ډېرې اخته وي، نو څرنګه چې زمونږ د ټولنې زياتره ښځې په خپلو کورونو کې ژوند تېروي او هغه شرايط ورته اماده نه دي چې خپل قندونه پرې مصرف کړي، نو لازمه ګڼو د شکرې د ناروغۍ ښځينه ناروغانې متوجه کړو. دا ناروغي د ژوند سره ملګرې ده، نو له همدې امله يو ډول ناخوښيدونکې صحي ستونزې رامنځته کوي، لکه د پښو او لاسونو پرله پسې دردونه، ړوندوالی، د زخم بطي يا نه جوړېدنه او داسې نور، چې ذکر شوې ستونزې د غذايي رژيم پر تطبيق تر يو حده راکمولی شو. د ټولنې زيات وګړي په دې ناروغۍ اخته وي، خو کلينيکي نخښې يې نه وي؛ که چېرې دا ناروغان په وخت تشخيص شي، يوازې د غذايي رژيم په مرسته يې د ګلوکوز سويه په وينه کې نارمل حالت ته راوړلی شو. له بلې خوا د نړۍ د نورو هېوادونو [په ځانګړي ډول غربي هېوادونو] د غذا نوعيت، کيفيت او د هغوی د خوړلو عادت زمونږ سره توپير لري چې مونږ هم نوموړيو ټکو ته پام کړی او لازمي ښوونې مو ورته کړي دي. بل خوا د غذايي تطبيق د ناروغ د درملنې د پروګرام سره هم په کافي اندازه مرسته کوي. د نوموړې موضوع د اهميت له مخې د شکرې د ناروغانو د غذايي رژيم د اصلاح په هکله مو تصميم ونيو چې خپلې ټولنې ته معلومات ورکړم، تر څو ګټه ترې واخلي.

## د شکرې ناروغي:

د شکرې ناروغي د کاربوهايدريتو، غوړيو او پروتينو د خراب ميتابوليزم مزمنه ناروغي ده چې د انسولين د زيان او يا لږوالي له امله (قسمي لږ يا پوره نشتوالي) رامنځته او د Hyperglycemia سبب ګرځي.
ويشنه او پېښې: په امريکا کې د ديابيت تقريباً **13** ميلونه ناروغان دي چې هر کال ترې **35000** مري.
ديابيت په عمومي ډول په دوه ډوله دی:
۱- لومړنی ډيابيت
۲- دويمي ډيابيت
د شکرې ناروغي پر لومړني او دويمي ډول رامنځته کېږي، په لومړني ډول هله چې Islet cell-insulin system خراب راشي او په دويمي ځل د ځينو ناروغيو لکه د پانقراص نيوپلازمونه او التهابات، درمل، د انډوکراين ناروغي او د پانقراص له جراحي عمليا تو وروسته رامنځته کېږي. (۲)

## د لومړني دیابیت میکانیزم او پتالوژي:

۱- لومړنۍ دیابیت: دې ته د انسولین اړوند دیابیت هم وایي، څرنګه چې دا ناروغي له 30 کلنۍ نه په ټیټ عمر کې رامنځته کېږي، ځکه ورته Juvenile-Onset.D.M هم وایي.

۲- دویمي دیابیت: دا دیابیت دومره لا پېژندل شوی نه دی، خو دوه فکتورنه یې پېژندل شوي دي چې عبارت دي له:

A- د انسولین په خوشې کېدو یا افراز کې زیانمني.

B- د انسولین په مقابل کې د انساجو غیري عادي غبرګون، چې زیاتره په حمل او چاغوالي کې رامنځته کېږي. (۱)

د دیابیت د ناروغانو د Pancreatic Islete په ژوند کې بېلابېل پتالوژیک بدلونونه رامنځته کېږي. په لومړني کې دیابیت په لومړیو وختونو کې د لمفو سایتو ارتشاح وي؛ د وخت په تېرېدو سره د Isletes جزایرو شمېر او جسامت لږېږي، ځکه چې B.Cells په کې له منځه تللی وي. په دویمي دیابیت کې په لومړنیو وختونو کې دومره بدلونونه نه وي، د وخت په تېرېدو سره په Islets جزایرو کې د فایبروزس او امایلوډوزس امکان ډېر وي. (۷)

## کلینیکي نخښې:

د دیابیت د ناروغۍ نخښې د ګلوکوز د خراب میتابولیزم له امله رامنځته کېږي؛ د انسولین نشتوالی ددې باعث ګرځي چې له پلازما نه ګلوکوز ژوندینکي ته نه پرېږدي او بدن لوږه انګېري. دا ننګېرنه به د Gluconeogenesis، Lipolysis او له هغه نه د Ketone bodies د جوړېدو باعث شي. کله چې ګلوکوز وخوړل شي، نو عادي میتابولیزم یې نه ترسره کېږي؛ نو یو ډېر شمېر ګلوکوز په وینه کې پاتې کېږي چې په متیازو کې وځي او هم د ادرار د ډېروالي سبب ګرځي. د مایعاتو وتنه او Hyperglycemia د پلازما Osmolarity زیاتوي چې دا په خپل وار د تندې مرکز لمسوي، یعنې د ناروغ د تندې احساس ډېرېږي. بل خوا د پروتین ماتېدل هم ډېر شي چې د Gluconeogenesis لپاره امینو اسیدونه رابرسېره کړي، له دې سره د عضلاتو کمزوري او د وزن بایلل هم رامنځته کېږي. دا کلاسیک اعراض صرف په لومړني دیابیت کې کېږي، خو په دویمي دیابیت کې ناروغ پورته اعراض نه لري. دا ناروغان لاندې اختلاطات ورکوي:

- غیر عادي هوش
- کوما
- د وړو او لویو رګونو د قاعدوي غشا پنډوالی
- د بدن د اطرافو دردونه
- د سترګو د دید خرابتیا
- د پښو مزمن ټپونه
- پر دویمي انتان اخته کېدل (۳)

## د غذایي رژیم ټاکل:

د شکرې د ناروغۍ او سنې نوي ناروغان غواړي چې خپل غذایي رژیم ځانته وټاکي، ترڅو عادي ژوند تېر کړي، خو دا ددې مانا نه لري چې ناروغ دې هر ډول خواړه په ځان بند کړي، بلکې دوی باید خواړه د یوه پلان له مخې واخلي، په دې ډول چې:

- ناروغ باید سم او ګټور خواړه انتخاب کړي
- ناروغ باید په سمه اندازه خواړه وخوري

- ناروغ باید په خپل ټاکلي وخت خواړه وخوري

د غذايي توکیو اخيستل د لاندې پروګرام له مخې باید ترسره شي:

## د انګلستان په رايل شفاخانه کې ددې ناروغانو لپاره شوې سپارښتنې:

۱- په غذا کې باید د قندونو اخيستل د ورځنۍ انرژۍ د اړتیا له مخې نیمايي حد ته راښکته شي؛ هغه غذايي مواد چې په زياته اندازه قندونه ولري، باید وانه‌خيستل شي، لکه د بورې شربت، خواږه میوه جات او نور. ددې پرځای هغه خواږه شیان استعمال شي چې غذايي ذخیره ونه لري، لکه شاکرین او نور. هغه غذاګانې چې فایبرونه زيات لري، باید وخوړل شي، لکه ځينې میوه جات او سبزيګانې. دا له یوې خوا د بدن وزن کموي او له بلې خوا د قند ښه منابع نه دي چې د ورځې باید ۱۸ ګرامه ضرور وخوړل شي.

۲- شحم باید د ورځنۍ اړتیا له مخې ۳۰-۳۵ سلنه کم وخوړل شي.

۳- پروتین باید عادي ۱۰-۱۵ سلنه وخوړل شي.

۴- مالګه، هغوی چې عادي د وینې فشار لري باید له شپږ ګرام په سل ملي مولو څخه کمه واخيستل شي او که د وینې فشار یې لوړ وي، درې ګرامه په سل ګرامه مول واخيستل شي.

۵- له الکولو باید په جدي ډول مخنیوی وکړي هغه ناروغان چې لومړنی دیابیت لري، د هغوی د وینې د ګلوکوز سویه نوسان عادت لري چې کنټرول یې اړین دی، دوی باید هغه غذا وخوري چې د هغې سیستم څخه په متوازن او منظم ډول جذب شي، لکه اوربشې. هغه ناروغان چې دویم دیابیت لري، ۷۵ سلنه یې چاغوالی لري. دوی باید منظم تمرینات وکړي، هغه غذا وخوري چې شحم په کې کم وي، تر څو وزن یې کم شي او د قلبي سیستم له ناروغیو خلاصی ومومي. د زیات وزن لرونکي ناروغان هغه درملنې ته هم اړتیا لري چې په وینه کې د ګلوکوز کچه کموي. (۴،۵)

## د امریکايي ټولنې سپارښتنې په شکرې اخته ناروغانو ته:

۱- د لومړني دیابیت ناروغان باید ۵۵-۶۰ سلنه د کاربوهایدریټو سویه نظر عادي او اړین حالت ته راکمه کړي، تر څو په وینه کې د ګلوکوز او د ترای ګلیسرایدو د لوړېدو مخه ونیول شي.

۲- په چاغو ناروغانو باید شحم او کاربوهایدیټونه کم شي، تر څو وزن کم شي چې همدا د وزن کمښت د ناروغۍ د کنټرول مهم عامل دی.

۳- د ټولې انرژۍ څخه باید ۱۰-۲۰ سلنه پروتين واخلي.

۴- هغه غذاګانې وخوري چې فایبرونه ولري، لکه سلولوز چې له یوې خوا د هغې سیستم ترانزیت ښه کړي او له بلې خوا د کولمو وظایف عادي کړي.

۵- مصنوعي خواږه شیان استعمال کړي لکه Aspartama چې دوه مینو اسیدونه لري چې عبارت د Aspartic Acid او phenyl Alanine څخه دي چې نظر سکروز ته ۱۸۰ ځله خواږه دي، همدارنګه ساکرين هم یو غیر غذايي خوږه کېمیاوي ماده چې هم یوازې او هم د نورو موادو سره په ګډ ډول موندل کېږي. فرکتوز او ساربیټول هم استعمالولی شو، خو فرکتوز په وینه کې لږ شان د ګلوکوز سویه لوړوي او که مقدار یې ډېر واخيستل شي، په وینه کې د LDL او کولسترول د سویې د لوړوالي باعث ګرځي. بناءً د ADA د پروګرام څخه وتلي دي.

## اوسنۍ تازه پلټنې چې خپرې شوې دي:

په ورځنیو خوړو کې د مېوو او سبزیجاتو استعمال:

۱- میوه جات: ناروغ کولی شي چې هره ورځ یوه دانه مڼه وخوري، ځکه نوموړې مېوه پکټین لري چې نوموړې ماده په وینه کې د ګلوکوز سویه راکموي، بل خوا سلولوز هم لري چې د ګلوکوز د جذب وخت زیاتوي. غوښمه

يې مېوه جات په وينه کې د القلي سويه لوړوي، تر څو د شکرې د ناروغۍ اسيدي لوحه راکمه کړي، ناروغ بايد کېلې او توتان وخوري، ځکه دوی پوتاشيم لري چې هم فشار راکموي او هم القلي خواص لري.

۲- سبزيجات: ناروغ بايد لاندې خوراکي توکي استعمال نه کړي:

- هغه غذايي مواد ونه خوري چې زيات غوړ او سوديم ولري.
- هغه خوراکي توکي ونه خوري چې د قندونو ذخاير يې زيات وي، لکه وچه ډوډۍ، الوګان، وريجې او داسې نور.
- هغه غذاګانې ډېرې بايد ونه خوري چې مشبوع شوي غوړي لري، لکه د شخوند وهونکيو غوښه.
- له الکولو په جدي توګه بايد ممانعت وشي. (**۵**)

لاندې غذاګانې بايد ډېرې وخوړل شي:

تازه سبزي، اش، ګازرې، لوبيا، حبوبات، مميلي، د زيتون تېل، اوربشې او د اوميګا **۳** شحمي اسيدونه.

د غير مشبوع شويو غوړيو څخه ګټه واخلې.

ژېړ رنګ لرونکې سبزي لکه ګازرې، روميان استعمال کړي، ځکه دوی د شکرې په ناروغانو کې د Alzheimer ناروغي او سرطانونو مخه نيسي.

## په سمه اندازه خوراک:

د لومړني ديابيټ لرونکي کوم خاص خوراکي پرهيز نه لري، دوی کولی شي چې د روغو خلکو په شان خواړه وخوري او دا ځکه چې دوی خپل ضروري انسولين د دوا په شکل د پيچکاري په وسيله اخلي، خو داکټر بايد د انسولين اندازه داسې وټاکي چې ناروغ د موجوده قند چاره وکولی شي. ناروغ بايد د خوراک دا اندازه تل وساتي، خو که چېرې ناروغ خواړه ډېر کړي او انسولين په هماغه پخوانۍ اندازه واخلي، نو د انسولين اضافي ګلوکوز حجراتو ته ننويستلی نه شي او په نتيجه کې د ګلوکوز اندازه په وينه کې لوړه شي، په داسې حالاتو کې وجود مجبورېږي چې اضافي ګلوکوز د متيازو له لارې له وينې څخه وباسي او دا يوه زيانمنه عمليه ده، نو له دې کبله د دويمي ديابيټ لرونکو ناروغانو ته په کار ده چې هره ورځ هماغه يوه اندازه خوراک وکړي، تر څو چې انسولين او غذا خپله موازنه او انډول وساتلای شي. دويمي ديابيټ لرونکي په مجموعي توګه چاغ وي، د دوی وجود نه شي کولای چې چاغ بدن ته کافي اندازه انسولين جوړ کړي، دې ناروغانو ته (په خاصه توګه هغو ته چې له لسو کلونو زيات يې د ديابيټ د لرلو څخه تېره شوې وي) په کار ده چې خپل وزن کم کړي، يا په بل عبارت دويمي ديابيټ لرونکي ناروغان بايد خپل وزن کم کړي او وزن کمولو لپاره بايد دا لاندې ټکي په نظر کې ونيسي:

- لږ خواړه وخوري.
- هغه خواړه وخوري چې غوړ او قند لږ او سلولوز لرونکې غذاګانې ډېرې ولري.
- زيات تمرين وکړي. (**۷**)

## په سم وخت کې غذا خوړل:

هر څوک او بيا په خاصه توګه د ديابيټ ناروغان بايد د خوراک لپاره يو منظم مهالويش ولري، هره ورځ په يو ټاکلي وخت کې [په ورځ کې درې ځله] خوراک وکړي؛ هغه ناروغان چې د ديابيټ خوراکي دوا اخلي، که چېرې يو وخت غذا قضا کړي او يا يې ناوخته وخوري، ممکن د وينې د ګلوکوز اندازه يې خطرناکې درجې ته راښکته شي، په هغو ناروغانو کې چې د انسولين پيچکاري اخلي او يو وخت غذا نه خوړل او يا ناوخته خواړه خوړل ډېر خطرناک دي، دا ناروغان بايد د خوراک د وختونو تر منځ مساوي وقفې وساتي، تر څو چې په وينه کې د ګلوکوز د خطرناک ټيټېدو مخه ونيولی شي. د غذايي رژيم تطبيق د تداوی سره لازمي دی، تر څو د

نـاروغۍ د اختلاطـاتو مخـه ونیـول شـي او هـم هغـه کړمـي چـې د درملنـې پـه دوران کـې {Hypoglycemia}او د وزن زیاتوالی منځته راځي، مخه ونیول شي.

## پایله او وړاندیزونه:

1 - څرنګـه چـې د شـکرې نـاروغي یـوه روغتیـایي سـتونزه ده، د نړیـوال صـحي سـازمان، دولتـي رسـنیو، غیـر دولتـي موسسـاتو او صـحي کـارکوونکو څخـه هیلـه کـوم چـې د نومـوړي نـاروغۍ پـه هکلـه پـوره معلومـات خپاره کړي، تر څو د ناروغانو د پوهاوي سطح لوړه شي.

2 - د شکرې نـاروغي د بـدن ټـول غـړي متـاثره کـولای شـي چـې زیـات ناروغـان یـې د کـم عمـر پـه لرلـو سـره لـه منځـه ځي او یـا هـم معیـوب شـي، نـو نوموړیـو ناروغـانو تـه مـې وړانـدیز دادی چـې د خپـل ځـان پـه هکلـه د غـذایي رژیـم پوره پاملرنه وکړي، تر څو د اختلاطاتو څخه په امان شي.

3 - د شـکرې پـر نـاروغۍ اختـه کسـان بایـد خپـل لابراتـواري معاینـات پـه ټـاکلي وخـت اجـرا او د هغـې پـه رڼـا کـې د خپل معالج داکتر په لارښوونه خپل غذایي رژیم تعقیب کړي.

4 - د شـکرې نـاروغي د ژونـد سـره ملګـرې ده، ناروغـان یـې هرومـرو د اقتصـادي او صـحي سـتونزو سـره مـل وي، دولـت تـه وړانـدیز کـوم چـې د نومـوړې نـاروغۍ د ناروغـانو لپـاره د هېـواد پـه ګـوټ ګـوټ کـې صـحي مرکزونـه جوړ کړي.


## Abstract:

Diabetes mellitus is one of the common disease in Afghanistan from which thousand people are being suffered, The degree and level of this disease can be evaluated if proper and recommended diet schedule are not taken in account, which will put the health in a risk، so In this study we have discussed the disease of Diabetes mellitus and its Nutritional program for the diabetic patients to regulate their food intake. In the nutritional program we advise the following points:

- Decrease intake of Carbohydrate
- Decrease intake of Fat
- Normal Intake of Protein
- Increase intake of Cellouse containing food
- Intake of food regularly by time ، quantity and quality


## References:


1- Anatomy and physiology saladin 8th edition 2008.

2- Basic pathology and Diseases first edition 2012, A.H Nagi.

3- Current medical diagnosis and treatment 46th, 2012, Edited by Lowrence m Tierney، Stephen J.mephee and Maxine A papadokos, Lance.

4- Ludvik B، Nolan JJ, Baloga J, Sacks D, Olefsky J 1995: Effect of obesity on insulin resistance in normal subjects and patients with NIDDM. Diabetes 44:1121–1125.

5- Robertson RP, Lanz KJ, Sutherland DER, Seaquist ER: Relationship between diabetes and obesity 9–18 years after hemipancreatectomy and transplantation in donors and recipients. Transplantation 73:736–741, 2002.

6- Textbook of pathology sixed edition 2009 edited by Harsh Mohan.

7- Textbook of Medicen of Robben's, 6th edition, 2010 edited by Robben's.

8- Toronto notes, 23th edition 2007, Editors in –chief Marilyn heng and Joseph Ari Greenwald.

پوهنمل کریم الله- ښوونې او روزنې
پوهنځی- جغرافیې څانګه

# د لمر د باندنیو طبقو او حرکتونو پېژندل

**لنډیز**:

لمر د لمریز نظام په مرکز کې یو ستر ځلانده کروي جسم دی چې د لمریز نظام سیارو ته روښنایي، تودوخه او انرژي برابروي. لمر په بشپړه توګه یوه ګازي کره ده، نهه سیارې او د هغوی سپوږمۍ، په زرګونو استرویدونه او بې شمېره لکۍ لرونکي ستوري د لمر چاپېره څرخېږي. د لمر باندنۍ برخه (اتموسفیر) د فوتوسفیر، کروموسفیر، انتقالي زون او کرونا څخه جوړه شوې. د لمر لاندېنۍ طبقه فوتوسفیر نومېږي، دا ساحه هغه روښنایي خپروي چې موږ یې وینو؛ بله طبقه کروموسفیر ده، ددې زون ځانګړنه داده چې د تودوخې درجه یې ډېره لوړه ده چې په ځینو ځایونو کې یې د تودوخې درجه تر ۱۰۰۰۰کالوین او په ځینو نورو کې یې بیا تر ۲۰۰۰۰کالوین درجو پورې رسېږي. ددې دواړو زونونو په منځ کې یوه بله طبقه ده چې د تودوخې درجه یې په منځني حد کې ده چې دا طبقه د کرومو- کرونا انتقالي طبقې په نوم یادېږي. د لمر د باندنیو طبقو پاسنۍ طبقه کرونا (تاج) طبقه ده چې ډېره زیاته تودوخه لري. لمر خپل محوري حرکت په تقریباً یوه ځمکنۍ میاشت کې ترسره کوي، پردې سربېره لمر یو بل حرکت هم لري چې د خپل کهکشان (پیولار) د مرکز چاپېره په یوه ثانیه کې د ۲۵۰ کیلومتره په ګړندیتوب سره په خپل مدار په ۲۵۰ ملیون کلونو کې څرخېږي. په قرآنکریم کې څوارلس سوه کاله وړاندې د لمر د ګرځېدلو ثبوت شوی چې فرمايي: او رب ج هغه ذات دی چې شپه او ورځ یې پیدا کړې، لمر او سپوږمۍ یې پیدا کړې او ټول په فلک کې ګرځي.

**سریزه**:

لمر زموږ د لمریز نظام په مرکز کې یو ستر ځلېدونکی کروي جسم دی، لمر هغه کروي ځلانده جسم دی چې زموږ سیارې یعنې ځمکې ته روښنايي، تودوخه او انرژي برابروي. د لمر کره چې له ګازونو څخه جوړه شوې ده، د جاذبې قوه یې ډېره زیاته ده چې د ځمکې ۲۸ برابره ښودل شوې چې د همدې جاذبې قوې په لرلو سره د خپل لمریز نظام نهه سیارې او د هغوی سپوږمۍ، نږدې لس زره استرویدونه او په لکونو لکۍ لرونکي ستوري په ټاکلو مدارونو کې څرخوي چې زموږ سیاره یا ځمکه هم د لمر چاپېره په منځنۍ توګه په ۱۴۹۱۲۰۰۰۰ کیلو متره واټن کې په ټاکلي مدار کې څرخېږي. (۸ م ۱۵)

دا چې لمر ګرځي یا ثابت حالت لري، ساینس پوهانو او نجومیانو په دې اړه ډول ډول څرګندونې کړې، ځینې په دې اند وو چې لمر ثابت دی او ځمکه له لمر چاپېره ګرځي او ځینو نورو بیا د لمر د ګرځېدو په اړه مثبت فکر درلود؛ له دې څخه داسې څرګندېږي چې د خلکو تر منځ د لمر ګرځېدو په اړه راز راز فکرونه وو. لمر د جوړښت له مخې په دوه داخلي او باندنیو برخو ویشل شوی چې دا برخې بیا په نورو فرعي برخو ویشل شوې. د لمر د داخلي برخو د تودوخې درجه ډېره زیاته ده چې له امله یې د څېړنو مخه نیول شوې ده. د لمر پاسنۍ برخه یا سطحه ۵۵۰۰ سانتي ګراد درجې یا ۱۰۰۰۰فارنهایت درجې تودوخه لري، ولې د داخلي برخو د تودوخې درجه یې آن د ۱۵ ملیون سانتي ګراد درجو څخه زیاته ښودل شوې ده. که څه هم د لمر د باندنیو پوړونو تودوخه هم تر زرونو سانتي ګراد درجو پورې رسېږي، خو بیا هم ساینس پوهانو او نجومیانو د لمر بېروني برخې تر څېړنې لاندې راوستې او هغه یې د بېلابېلو ځانګړتیاو له مخې ویشلې دي چې دلته به موږ په همدغو پاسنیو موضوعاتو بحث وغږوو.

**موخې:**

- د لمر د بيرونيو طبقو ويش او ځانګړنې روښانول.
- د اړوندې موضوع په اړه د مسلک خاوندانو، زده کوونکو او مينه والو ته د نويو او ګټورو معلوماتو برابرونه.

## د لمر باندنۍ طبقې

### فوتوسفير طبقه (پوړ):

د لمر د اتموسفير ډېره لاندېنۍ برخه چې د لمر د غولي سره جوخته لګېدلې برخه ده د لمر د فوتوسفير طبقې په نوم ياد ېږي، دا برخه د هغې رڼا چې مونږ يې تر اغېز لاندې يو، خپروونکې برخه ده. که څه هم د فوتوسفير د طبقې پنډوالی يا ضحامت تر ۵۰۰ کيلومترو پورې رسېږي، ولې هغه روښنايي چې تر مونږ را رسېږي، د فوتوسفير له لاندېنۍ برخې څخه را خپرېږي چې پنډوالی يې يوازې تر ۱۵۰کيلومترو پورې رسېږي. نجوميان ډېری وختونه د لمر دې طبقې ته د لمر د سطحې يا د لمر د مخ نسبت ورکوي. د فوتوسفير د لاندېنۍ برخې د تودوخې درجه تر ۲۴۰۰ کالوين درجو پورې رسېږي، په داسې حال کې چې د فوتوسفير د پورتنۍ برخې د تودوخې درجه يې ۴۴۰۰ کالوين درجو ته راکوزېږي.(۹)

د لمر سطحه هغه چې پکې تشعشعي فعاليتونه تر سره کېږي، د فوتوسفير په نوم يادېږي، د لمر فوتوسفير له بېلابېلو کېمياوي عناصرو سره له سوزېدونکو ګازونو چې ايونايز (Ionize) شوي، جوړشوی. د فوتوسفير په مخ چې په دانه داره بڼه ښکاري، ځينې وربخ ته ورته رڼاګانې چې د خوځېدو په حالت کې وي، هم ليدل کېږي. (۱م۷۰)

د فوتوسفير پوړ له ګڼو دانو څخه جوړ شوی چې د دانه دارو حجرو په پاسنۍ برخه کې دي چې يوه ځانګړې دانه يې له ۱۵ څخه تر۲۰ دقيقو ژوند کوي. د فوتوسفير د طبقې منځنۍ د کثافت اندازه په يو سانتي متر مکعب کې د يو ګرام يو مليونمې برخې څخه کمه ده، دا داسې ښکاري چې د فوتوسفير د طبقې کثافت بېخې ټيټ او کم دی، مګر د فوتوسفير د طبقې په هر سانتي متر مکعب ساحه کې له لس (۱۰) بليون څخه تر سل (۱۰۰) بليون پورې منفردې ذرې يا بخرکي شته دي.(۹)

### د لمر کروموسفير طبقه (پوړ):

د لمر د فوتوسفير د طبقې د پاسه د لمر اتموسفير واقع دی، د لمر په اتموسفير کې چې ډېر زيات روښان او روڼ دی، رقيق ګازونه پکې په ډېر لږ کثافت سره شتون لري. د لمر اتموسفير چې يو روښان او شفاف پوړ دی، ورته کروموسفير يا رنګين اتموسفير هم ويل کېږي. د لمر کروموسفير پوړ کې ډېرې قوي چاودنې د پړسوب (Protuberances) په نوم ترسره کېږي چې اغېز يې په بېلابېلو شکلونو او په تېز سور رنګ سره تر ۲۰۰۰۰۰کيلو مترو پورې د بېرون پر لورې خورېږي. ځينې وخت همدا شان نوراني کرښې د لمر په سطح کې هم د ليدو وړ دي چې مشعل په اصطلاح هم يادېږي. (۱م۷۱)

د کروموسفير ځانګړتيا دا ده چې ياد پوړ د تودوخې لوړه درجه لري، د کروموسفير د ځينو برخو د تودوخې درجه تر ۱۰۰۰ کالوين درجو او د ځينو نورو يې بيا آن تر ۲۰۰۰۰ کالوين درجو پورې رسېږي. نجوميانو د کروموسفير طيفونه لومړی ځل د لمر د بشپړ کسوف پر مهال وموندل. طيفونه هغه مهال د لېدو وړتيا مومي، کوم وخت چې سپوږمۍ د لمر فوتوسفير په بشپړه توګه وپوښي او کروموسفير يې لا نه وي رانغاړلی، دا موده يوازې څو ثانيې پاينښت مومي. د کروموسفير د پوړ کثافت له۱۰بليون څخه تر ۱۰۰بليون ذرې يا بخرکي په يو سانتي متر مکعب ساحه کې ښودل شوی.(۹)

### د لمر د لېږد زون:

د کروموسفير د پوړ د تودوخې درجه په تدريجي توګه تر۲۰۰۰۰ کالوين درجو پورې رسېږي. د کرونا د تودوخې درجه بيا تر پينځو لکو (۵۰۰۰۰۰) کالوين درجو پورې رسېږي. ددې دواړو زونونو تر منځ د منځنۍ تودوخې درجې لرونکی زون ليدل کېږي چې دا زون د (کروموسفير-کرونا) لېږدوونکی زون پېژندل شوی او يا په ساده ژبه سره لېږدوونکی زون يې بولي.

لېږدوونکي زون زياتره تودوخه له کرونا څخه اخلي، دا زون خپله ډېرې روښنايي په ماوراى بنفش طيف اچوي. د لېږد زون پنډوالى له څوسوو څخه بيا تر څو زرو کيلومترو پورې رسېږي. (۹)




(۱- شکل) د لمر داخلي او باندنۍ طبقې ښايي

## د کرونا (*Corona*) تاج طبقه:

د لمر کرونا يا تاج د لمر د خارجي نازکې طبقې څخه عبارت ده چې د کروموسفير شا وخوا يې د اتموسفير په څېر پوښلې ده او روښنايي يې تردې حده ضعيفه ده چې د جزي کسوف په وخت کې نه ليدل کېږي، مګر د بشپړ کسوف په وخت کې دا اورين ګاز د لمر په خواوشا کې د هالې په څېر ليدل کېږي. د کرونا شغلې د لمر په اطراف کې د يو مليون کيلومترو اوږدوالي په اندازه ادامه پيدا کوي. په ۱۹۳۰م کې فرانسوي منجم بورنيو (Borneo) داسې تلسکوپ جوړ کړ چې لمر ته د لمر تندري (کسوف) حالت په څېر ښه ورکوي، وروسته نورو هېوادونو هم ورته تلسکوپونه جوړ کړل او د لمر تاج يې تر څېړنې لاندې ونيوه. په يوه کسوف (تندر) کې چې په ۱۹۴۵م کې پېښ شوی و، د کرونا پنډوالی يې ۸ مليون کيلومتره ښودلی و. د لمر کرونا په دوو برخو ويشل شوې ده، داخلي کرونا چې زېړ بخن رنګ لري او خارجي کرونا چې سپين بخن رنګ لري.(۲م۳۴)

کرونا د لمر اتموسفير يوه برخه ده چې د تودوخې درجه له (۵۰۰۰۰) کالوين درجو څخه لوړه ده. د کرونا طبقې جوړښت د ايونايز شوو ګازونو څخه تشکيل شوې.ددې طبقې د لاندېنۍ برخې د تودوخې درجه د فوتوسفير د طبقې په څېر ده. د کرونا د هغې طبقې چې د لمر خوا ته نژدې وي، د تودوخې درجه يې له يو مليون څخه تر ۲ مليون کالوين درجو پورې رسېږي او د کثافت اندازه يې له ۱۰۰مليون څخه تر ۱ بليون ذرو پورې په يو سانتي متر مکعب کې ښودل شوې.(۹)

### د لمر چورلېدنه (Sun rotation):

دا چې لمر ګرځي که نه؟ ددې ځواب موندنې لپاره له پخوا زمانو راهيسې د خلکو تر منځ بېلابېل نظرونه موجود دي، ساينس پوهانو او نجوميانو هم په دې اړه ډول ډول څرګندونې کړې، ځينې په دې اند وو چې لمر ثابت دی او ځمکه له لمر چاپېره ګرځي، ځينې نور بيا په دې اند وو چې ځمکه ثابته ده او لمر د ځمکې په خواوشا چورلي؛ ديني علما هم په بېلابېلو عقيدو معتقد وو، ځينو يې داسې فکر کولو چې يوازې لمر د ځمکې چاپېره طلوع او غروب کوي او د ځمکې چورلېدلو مسئله خو يې آن د کفر تر سرحد رسوله او ځينو يې بيا د لمر او ځمکې دواړو چورلېدل منل. له دې داسې څرګندېږي چې د

خلکو تر منځ د لمر ګرځېدو په اړه راز راز فکرونه وو. د مشهورو نجوميانو له ډلې يو تن فيثاغورث (۵۸۳ ق م) په دې اند و چې ځمکه د کايناتو مرکز دی، د نوموړي په اند ځمکه او لمر کروي شکلونه لري او لمر د اسماني کرې پرمخ يوه لويه دايره وهي. له دې خبرې داسې معلومېږي چې ځمکه د لمريز نظام مرکز دی، لمر او ټولې سيارې له ځمکې چاپېره په مدارونو کې څرخېږي. ياده نظريه هماغه مهال د منلو وړ وه، خلکو داسې انګېرله چې ګنې د فيثاغورث وينا د کاڼي کرښه ده، ځکه خو يادې نظريې د خلکو زړونو کې ځای وموند.(۴م۴)

د وخت په تېرېدلو نجوميانو د فيثاغورث په څرګندونو د بيا غور هوډ وکړ، ددې ډلې نجوميانو په ليکه کې يو هم ارستارکوس (۳۱۰-۲۳۱ ق م) و. ارستارکوس په خپلو څېړنو کې دې پايلې ته ورسېد چې لمر د لمريز نظام مرکز دی. د نوموړي په اند لمر د لمريز نظام په مرکز کې ځای لري او د لمريز نظام ټول اسماني جسمونه د ځمکې په ګډون له لمر چاپېره څرخېږي. له دې نظريې دا جوتېږي چې ارستارکوس (Aristarchus) (۳۱۰-۲۳۱ق م) د (Heliocentric) د نظريې بنسټ کېښود او په دې توګه يې د فيثاغورث مفکوره د خلکو له ذهنونو وويستله او د خپلې نظريې لپاره يې د خلکو د ذهنيتونو دروازې پرانستې چې له امله يې د خلکو په فکرونو کې د لمر په اړه څرګندونو تر ډېرې موده ځای ونيوه. د وخت په تېرېدلو ياده موضوع چې (لمر ګرځي، که ځمکه) بيا د خلکو د ذهنيتونو د ګډوډولو لامل شوه، ځينو د لمر په مرکزيت او نه ګرځېدو باور درلود او ځينو د ځمکې په هوارۍ، مسطح والي او نه ګرځېدو ټينګار کاوه.

نجومي کوپرنيک (Nicolas Copernicus-۱۴۷۳-۱۵۴۳م) د لمر د ګرځېدو په اړه د بطليموس او نورو ټولو نجوميانو اندونه مطالعه کړل او د څېړنو او پلټنو وروسته يې خپله نظريه دا رنګه وښوده: لمر په ثابت شکل د لمريز نظام په مرکز کې موقعيت لري او ټولې سيارې په ترتيب سره د لمر چاپېره په دايروي حرکت کې دي.(۴م۸)

په قرآنکريم کې څوارلس سوه کاله وړاندې د لمر د ګرځېدو په اړه داسې اشاره شوې: (وهوالذی خلق الليل والنهاروالشمس والقمر کل فی فلک يسبحون) الاية. ژباړه: او رب هغه ذات دی چې شپه او ورځ يې پيدا کړې، لمر او سپوږمۍ يې پيدا کړې او ټول په فلک کې ګرځي.

دلته چې کومه کلمه کارول شوې (يسبحون) دا د (سبحًا) څخه اخستل شوې چې دا کلمه د داسې حرکت او خوځښت لپاره کارول کېږي چې د حرکت کوونکي له جسم او حرکت څخه پيدا کېږي، که دا کلمه پر ځمکه باندې د کوم حرکت لپاره وکارول شي، نو د تللو او منډې معنی ورکوي او که د داسې چا لپاره استعمال شي چې په اوبو کې موجود وي، نو د لامبو وهونکي د حرکت لپاره استعمالېږي. دا کلمه چې کله د فلکي اجسامو لپاره پکار وړل شي، نو يوازې دا معنی نه ورکوي چې هغوی يوازې په فضا کې لامبو وهي، بلکې هغوی د لامبو سربېره په خپلو محورونو هم ګرځي.(۵م۱۱)

په يو بل ځای کې يې بيا د لمر د چورلېدو په اړه داسې فرمايلي دي: (والشمس تجری لمستقرلها ذالک تقدير العزيز العليم) سوره يس اية ۳۸. مفسرين ددې آيت کريمه څو معنی ګاڼي کوي چې دوو ته يې په لاندې توګه اشاره کوو:

۱. (او همدارنګه لمر دی چې د هغې قرارګاه پر لوري درومي چې ورته ټاکل شوې ده).

۲. (روښانه لمر چې پر معين مدار له کوم اختلاف پرته په حرکت کې دی).

د (الشمس تجری) په تفسير کې ليکي چې منظور ترېنه د لمر مستمر حرکت دی، مګر له دې حرکت څخه مقصد څه دی، مفسرينو د (تجری) په تفسير کې بېلابېلې نظريې وړاندې کړې دي، په پخوانيو تفسيرونو کې يې د لمر ظاهري حرکت د ځمکې چاپېره ښودلو، مګر نن ورځ ثابته شوه چې ځمکه او د لمريز نظام ټولې سيارې، سپوږمۍ او نورې اسماني کتلې له لمر چاپېره په حرکت کې دي او لمر نسبت د لمريز نظام ټولو سيارو ته حرکت نه لري، بلکې د قطبينو د محور په چاپېره د ځمکې ګرځېدل چې ورته وضعي حرکت وايي، له لوېديز څخه د ختيز په لور و. په همدې دليل د ورځې په اوږدو کې لمر په ظاهره داسې ښکاري چې له ختيزه لويديز ته درومي، له دې امله په پخوانيو تفسيرونو کې د لمر د حرکت يادونه کېده او ځمکه يې ثابته ګڼله. له بله پلوه ځينو مفسرينو د (الشمس تجری...) په تفسير کې راوړي چې ښايي د لمر له حرکت څخه منظور د لمر هغه ميل او حرکت وي چې د اوړي او ژمي په وختونو کې د ځمکې د استوا کرښې د شمال او جنوب په لورو اوړي را اوړي.(۲م۵۲)

## د لمر وضعي چورلېدنه:

د لومړي ځل لپاره د نجوم يو تکړه پوه ايټالوي ګاليله (Galileo) (۱۵۲۴-۱۶۴۲) د خپل قوي تلسکوپ په مرسته د لمر په غولي کې ځو تور خاپونه وليدل او دې ليدنې نوموړی ډېر حيران کړ. هغه مهال چې مونږ لمر د پرېوتلو پر مهال د ګردجنې هوا په شتون کې وينو، هغه په بشپړه توګه بې خاپونو وينو. د لويو تلسکوپونو په کتلو سره د لمر مخ دا چې د ګنو وربځو په څېر ښکاري، دا د باران او واورې وربځې نه دي، بلکې هغه متراکم شغله وهونکي بخارات دي چې د اوسپنې، سرپو، قلعي او داسې نورو موادو څخه عبارت دي چې له دې لويې کرې څخه راوځي. هغه تور خاپونه چې ګاليله وليدل، د اور غورځوونکو خولې ته ورته شکلونه وو چې که چېرته ورځ په ورځ لمر تر کتو لاندې ونيسو، شايد وليدل شي. دا خاپونه د ځای بدلون مومي او د لمر په ختيز لوري کې واقع کېږي، همدې ته د پاملرنې له امله و چې د لومړي ځل لپاره د لمر وضعي حرکت د لمر د محور په چاپېره وليدل شو.(۳م۲۱)

لمر په خپل محور يو ځل چورلېدل په يوه ځمکنۍ مياشت کې ترسره کوي، خو دا چې لمر يوه ګازي کره ده، نه خاورينه، نو د لمر بېلابېلې برخې په بېلابېلو مودو کې خپل محوري حرکت بشپړوي. د لمر د استوا ګاونډې برخې خپل محوري حرکت نژدې په **۲۵** ځمکنيو ورځو کې ترسره کوي، ولې هغه برخې يې چې په لوړو عرض البلدونو کې دي، محوري حرکت په ۲۸ ځمکنيو ورځو کې بشپړوي. (۹)

## د لمر انتقالي چورلېدل:

لمر چې د لمريز نظام مرکز دی، د خپلو ټولو غړو سره يو ځای د جاذبې قوې په لرلو سره د خپل لمريز نظام د نهو سيارو او د هغوی د سپوږميو، تقريباً د لس زره استرويدونو او په لکونو لکې لرونکو ستورو سره يو ځای انتقالي حرکت کوي چې دا انتقالي حرکت د نولس نيم کيلومترو په يوه ثانيه په ګړنديتوب سره ترسره کوي. هر کهکشان د مليونونو ستورو لرونکی وي چې دا ټول ستوري بيا په يو ځای د خپل کهکشان د مرکز په چاپېره په څرخېدو بوخت دي، خو د دغو ستورو د څرخېدو چټکتيا يو برابر نه وي، بلکې له مرکز څخه د نژدې والي او لرې والي په نسبت بېلابېل ګړنديتوب لري. زمونږ لمر هم د يو کهکشان چې د پيولار (Milky Way) نومېږي، جز دی چې د خپل کهکشان له مرکزه دېرش زره (۳۰۰۰۰) نوري کاله واټن لري. لمر هم لکه د نورو ستورو په څېر له خپل کهکشان چاپېره په يو اوږد مدار کې په يوه ګړۍ کې د نهه سوه دوه اويا زره (۹۷۲۰۰۰) کيلو متره واټن په وهلو سره دا مدار په دوه سوه او شل (۲۲۰) مليون کلونو کې بشپړوي. (۳م۲۲)

ولې د (ناسا) د معلوماتو له مخې لمر د پيو لار (Milky Way) کهکشان د ۱۰۰ بليون ستورو له ډلې څخه يو ستوری دی. دا ستوری د خپل کهکشان له مرکز څخه **۲۵۰۰۰** مليون نوري کاله واټن لري. لمر د خپل کهکشان د مرکز پر چاپېره يو ځل دوران په **۲۵۰** مليون کلونو کې بشپړوي. (NASA)

د پروفيسور ميا محمدانور په حواله لمر د خپل کهکشان (Milky Way) د مرکز چاپېره په يوه ثانيه کې د **۲۵۰** مليون کيلومترو واټن په وهلو سره **۲۵۰** مليون کلونو عمر ته اړتيا لري، تر څو د خپل کهکشان چاپېره يو دور بشپړ کړي چې دې عمر ته کيهاني کال (Cosmic year ) وايي. (۸م۱۵)

## د خپل کهکشان سره يو ځای د لمر چورلېدل:

د پوهانو او نجوميانو له څېړنو څخه دا جوته شوې ده چې زمونږ لمريز نظام له خپلو ټولو سيارو او سپوږميو سره يو ځای د شمال لوري په طرف سره په حرکت کې دی. پېژندل شوي نجومي هرشل (Herschel) په (۱۷۹۰م ) کال کې په دې وتوانېد چې له دې حرکت څخه د منظومې موخه لاس ته راوړي. نوموړي له زياتو زيارونو وروسته دا څرګنده کړه چې زمونږ لمريزه منظومه د اسماني صورت (الجاثی علی رکبتيه)* پر لور په حرکت کې ده او د يو کال په موده کې له هغه ځايه چې نن پکې ځای لري **۲۵۰** مليون کيلومتره لرې ځي. نجوميانو د (الجاثی علی رکبتيه) وضاحت داسې کړی چې په صفا شپو کې د ستورو داسې يوه تجمع ليدل کېږي چې يوه ځانګړې بڼه يې ځانته غوره کړې وي، په لومړيو کې داسې ښکاري چې له څو ستورو به زيات نه وي، نجوم پوهانو هغې ته نوم ايښودنه کړې چې ورته (الجاثی علی رکبتيه) وايي، يعنې دا د ستورو يوه

تجمع ده چې له مونږ ۳۲ زره نوري کاله واټن لري. په ظاهره خو داسې ښکاري چې دا د ستورو ټولګه به له څو محدودو ستورو جوړه وي، ولې د قوي تلسکوپونو په مټ وليدل شول چې پکې تر دېرش زره (۳۰۰۰۰) ستوري راټول دي. (۳م۲۱) د کمال روحاني (۱۳۸۷) په اند لمر په نورو حرکتونو سربېره د خپلې لمريزې ټولګې سره يو ځای په يوه ثانيه کې د ۷۰۰ کيلومترو په ګړنديتوب په يو ټاکلي لوري او يو ډېر لرې ستوري پر لور چې (وېګا) نومېږي، په حرکت کې دی. د سيارو سره يو ځای د لمر حرکت په اړه هم د قرانکريم په مبارکو آيتونو کې اشاره شوې ده، هلته چې فرمايي: (لَا الشَّمْسُ يَنْبَغِي لَهَا أَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا اللَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ) (يس ۳۶:۴۰)
ژباړه: نه لمر دا توان لري چې سپوږمۍ راونيسي او نه شپه له ورځې څخه مخکې کېدای شي او ټول سره په يو فلک کې لامبو وهي.(۵م۱۲)

## پايله:

لمر هغه ستوری دی چې ځمکې ته تر ټولو ستورو ډېر نژدې دی، له همدې امله يوازينی ستوری دی چې په اړه يې د نجوميانو سره ډېر معلومات شته. همدارنګه لمر هغه کروي ځلانده جسم دی چې زمونږ لمريز نظام ته روښنايي، تودوخه او انرژي برابروي. د لمر کره له ګازونو څخه جوړه شوې ده، د تودوخې درجه يې په پاسنيو برخو کې تر۲۰۰۰ درجو او په منځنيو برخو کې بيا آن تر مليونونو درجو د سانتي ګراد پورې رسېږي. که څه هم د لمر د باندنيو پوړونو تودوخه هم تر زرونو سانتي ګراد درجو پورې رسېږي، خو بيا هم ساينس پوهانو او نجوميانو د لمر بېرونۍ برخې تر څېړنې لاندې راوستي او هغه يې د بېلابېلو ځانګړتياوو له مخې ويشلي دي چې په دې ډول دي:

1. د لمر فوتوسفير طبقه (پوړ)، د لمر د اتموسفير ډېره لاندېنۍ برخه چې د لمر د غولي سره جوختـه لګېدلې برخه ده، د لمر د فوتوسفير طبقې په نوم يادېږي، دا پوړ د رڼا خپروونکې برخه ده.
2. د لمر کروموسفير طبقه (پوړ)، د لمر د فوتوسفير د طبقې دپاسه د لمر کروموسفير طبقه واقع ده، د لمر په فوتوسفير طبقې کې چې ډېر زيات روښان او روڼ دی، رقيق ګازونه په کې په ډېر لږ کثافت لرلو سره شتون لري.
3. د لمر کرونا يا تاج د لمر د خارجي نازکې طبقې څخه عبارت ده چې د کروموسفير شاوخوا يې د اتموسفير په څېر پوښلې ده.

دا چې لمر ګرځي يا ثابت حالت لري، ساينس پوهانو او نجوميانو په دې اړه ډول ډول څرګندونې کړي، ځينې په دې اند وو چې لمر ثابت دی او ځمکه له لمر چاپېره ګرځي او ځينو نورو بيا د لمر د ګرځېدو په اړه مثبت فکر درلود. بالاخره د لمر د ګرځېدو په اړه د پوهانو او نجوميانو له خوا مستند دلايل وړاندې شول. نجوميانو او پوهانو دا ومنله چې لمر بېلابېل حرکتونه لري، لکه وضعي (محوري)، انتقالي او د خپل کهکشان سره يو ځای حرکت. سربېره پردې چې ساينس پوهانو او نجوميانو د لمر د حرکتونو په اړه د فکر يووالی په يوويشتمه پېړۍ کې راغی، څوارلس سوه کاله وړاندې په قرآن کريم کې د لمر د بېلابېلو حرکتونو ذکر شوی. د خپل لمريز نظام سره يو ځای د لمر حرکت رب تعالیج په ستر کتاب داسې ثبوت کړی، فرمايي: (ژباړه: نه لمر دا توان لري چې سپوږمۍ راونيسي او نه شپه له ورځې څخه مخکې کېدای شي او ټول سره په يو فلک کې لامبو وهي) سوره يس. لمر په نورو حرکتونو سربېره د خپلې لمريزې ټولګې سره يو ځای په نامعلوم لوري په حرکت کې دی: (والشمس تجری لمستقرٍ لها ذالک تقدير العزيز العليم) سوره يس اية ۳۸. ژباړه: لمر دی چې د هغې قرارګاه پر لوري درومي چې ورته ټاکل شوې ده.


**Abstract:**

The Sun is a huge, glowing ball at the center of our solar system. The sun provides light, heat, and other energy to Earth. The sun is made up entirely of gas. Nine planets and their moons, tens of thousands of asteroids, and many comets revolve around the sun.The solar atmosphere is made up of the photosphere, the chromospheres, a transition region, and the corona.

1) The lowest layer of the atmosphere is called the photosphere. This zone emits the light that we see.

2) the next zone up is the chromospheres. The main characteristic of this zone is a rise in temperature, which reaches about 10,000 K in some places and 20,000 K in others. Between the two zones is a region of intermediate temperatures known as the chromospheres-corona transition region, or simply the transition region.

3) Corona is the part of the sun's atmosphere whose temperature is greater than 500,000 K.The sun makes a complete rotation in about a month. But because the sun is a gaseous body rather than a solid one, different parts of the sun rotate at different rates. Gas near the sun's equator takes about 25 days to rotate once, while gas at higher latitudes may take slightly more than 28 days. Beside the rotation of sun about its own axis at one earth month, the sun travel through the space at roughly 250 km/sec and take about 250 million years to complete one revolution around the center of its Galaxy (Milky Way).as mentioned in the holy Quran 14 centuries ago “it is not permitted to the sun to catch the moon, nor can the night outstrip the day: each (just) swims along in (its own) orbits (according to law).”

## اخځليکونه:


۱.اوتکين، سرګي، پ.(۱۳۶۱).متېورولوژي عمومي، مترجم- غلام دستګير صافی.کابل:انتشارات پوهنتونکابل
۲. امين، حميدالله.(     ). فزيکي عمومي جغرافيه، ژباړن- محمد ظريف تنيوال.کابل
۳.ايت الله، جعفرسبحاني.(۱۳۸۰).قرآن واسرارآفرينش. قم: دفترتبليغات اسلامي
۴.رحمتی، محب الله.(۱۳۶۲).استرانومي.کابل:انتشارات پوهنتون کابل
۵.نايک، عبدالکريم ذاکر. (     ). قرآن اونوی ساينس. ژباړن، عبدالواسع صابر.نيوکتاب پلورنځی
۶.کفترودی، غلام رضاغديری.(۱۳۸۳). بررسی علمی پديده های جوی درقرآن. تهران: انتشارات سرا
۷.روحانی، کمال.(۱۳۸۷).اعجازقرآن درعصرفضاوتکنولوژی.سامرند

8. Anwar, Mian Muhammad. (2002). Physical Geography. Lahore: WhiteRose Publishers.
9. www.word book at NASA_ Page Last Updated: November 29, 2011.

ژباړن: پوهنمل محمد باير (درمل)
وترنري علومو پوهنځی- کلنيک څانګه

# د فارم حيواناتو د غولانځې التهاب
# پېښو څخه د بېلو شويو باکترياېي عواملو انتي بيوګرام

يادښت: دغه څېړنه د نيټو راجپوټ، ودای ګوتم، وای- پي ساهني او سويتا جين له لوري ترسره شوې او د هندوستان هېواد څخه خپرېدونکي د وترنري فارمکولوژي او ټوکسيکولوژي ژورنال په لسمه ګڼه کې په انګليسي ژبه خپره شوې چې د وترنري علومو پوهنځي د کلنيک څانګې د اړتيا له مخې او د يادې څانګې په سپارښتنه پښتو ته ژباړل شوې ده. ژباړن

**لنډيز:**
د دوا په وړاندې د مقاومت په وجه د غولانځې انتاني التهاب په ضد اغېزمنه تداوي ستونزمنه ده او کېدای شي د بدن څخه بهر د انتي بيوتيکونو په وړاندې د حساسيت په وسيله د غولانځې د التهاب په ضد موثر انتي بيوتيک انتخاب شي. په دغه څېړنه کې د فارم د شپېته عدده شيدې ورکوونکو حيواناتو څخه چې د غولانځې التهاب شک پرې کېده، د شيدو نمونې راټولې شوې، د بکتريا او فنګس تشخيص د مورفولوژي، رنګ اميزي او بيوشيميکي خواصو په اساس ترسره شوې ده. په دغه برخه کې د سټافلوکوکونو په وسيله د غولانځې التهاب لوړ واقعات وليدل شول. د انتي بيوګرام څېړنې دا وښودله چې د تجريد شويو مايکرو اورګانيزمونو زياته برخه د اينرو فلوکسازاسين سره حساسه وه، وروسته حساسيت د کلوکزاسلين، سترپتومايسن، جنتامايسين، اموکزاسلين په وړاندې خو د پنسلين او اوکسي تتراسيکلين په وړاندې مقاومت موجود وو.
کليدي ټکي: د غولانځې پړسوب، انتي بيوګرام، د فارم حيوانات.

**سريزه:**
د غولانځې التهاب د شيدې ورکوونکو حيواناتو د شيدو د غدواتو پړسوب دی، کوم چې په شيدو کې د فزيکي، کېمياوي، پتالوژيکي تغيراتو سره مل او د شيدو د غدواتو په وسيله د شيدو توليد په کافي اندازه سره کمېږي چې په دې سره د توليد قيمت لوړ پربوځي او د شيدو کيفيت خرابېږي (Singh and Singh: Oliveira et al., 2000)
د غولانځې پاړسوب د بکتريا، فنګس، يست او ويروسونو په وسيله منځته راځي. (Gonzaliz et al., 1980: Kotwashi, 1988)
دغه حالت کولای شو په اغېزمنه توګه د مختلف انتي بيوتيکونو په وسيله تداوي کړو، تر څو د مقاومو باکترياېي ستراينونو منځته راتله د مختلف انتي بيوتيکونو په وړاندې د غولانځې د التهاب د موثرې تداوۍ په وړاندې خنډ ده. ددې ټکي په پام کې نيولو سره دغه څېړنه ددې په خاطر ترسره شوې ده چې د بدن څخه بهر د غولانځې التهاب د کلنيکي او سب کلينيکي واقعاتو سمپلونو څخه تجريد شويو مايکرو اورګانيزمونو حساسيت د معمول استعمال لرونکو انتي بيوتيکونو په وړاندې ترسره شي.

**مواد او کړنلاره:**
د وترنري کالج د شيدو غواوو فارم، د ادرټال او وترنري خدمتونو درسي کلنيک د کامپلکس د ټولو شپيتو هغو شيدو ورکوونکو غواوو سمپلونه د کلنيکي علايمو، په شيدو کې د عمومي تغيراتو او د کلفورنيا د غولانځې

پړسوب ټيست (CMT) د غولانځي التهاب د واقعاتو د تشخيص په خاطر په کار يوړل شو. د شيدو لوشل شوي سمپلونه د ميکروب څخه پاکو شرايطو کې د متاثره شويو ټيونو څخه په ستر ايل تيوبونو کې ټول کړای شول. اخستل شوې نمونې د ۱۲۰۰دور په دقيقه سرعت سره د شل دقيقو لپاره سنټرفيوج او رسوب شوي برخه يې د وروستي تحليل په خاطر په يخچال کې وساتل شوه. د مايکرو اورګانيزمونو د تجريد په خاطر يو ډک لوپ د رسوب څخه واخستل شو او د اګر محيط، سبرود ډيکستروز او ميکانکي اګر په محيطونو کې علاوه شوه. د نايتريت اګر او ميکانکي اګر تهيه شوي پليټونه د ۲۴-۴۸ساعته لپاره ۳۷ درجې د سانتي ګراد حرارت کې او د سبرود ډيکستروز اګر پليټونه د دوو هفتو لپاره د کوټې په محيط کې وساتل شول. د اينکوبشن د مودې وروسته بکترياي او پنګسي ودې د مورفولوژي او رنګ اميزۍ په اساس تشخيص کړای شوي چې وروسته بيا بکتريا او فنګس په ترتيب سره د ګرام رنګ اميزي د خصوصياتو، لکلو او فينول کاټن بلو رنګ اميزي په وسيله وپيژندل شوې. ځينو قطروي ترکيبات هم د بکترياوو د متحرکو او غير متحرکو جمعيتونو د تشخيص په خاطر وکارول شول. مختلف بيوشميکي ټسټونه لکه Indol test, Methyl red test, Vage Praoskauer test, desulfurasetest Urease test د باکترياوو د تشخيص په خاطر په سمپل کې ترسره شول. (Tiare et al., 2000)

د بدن څخه بهر محيط کې د انتي بيوتيکونو اينروفلوکزاسين لس مايکروګرامه اموکزاسلين د برش مايکروګرامه، امپسلين پنځه ويشت مايکروګرامه، کلوکزاسلين ۲ مايکروګرامه، پنسلين لس يونته، اکسي تتراسيکلين د برش مايکروګرامه، ستريپتومايسين پنځه ويشت مايکروګرامه، جنتامايسين ۱۰ ميکروګرامه، ډيسکونو چې د ممبۍ د های ميډيا شخصي لابراتوار څخه ترلاسه شوي وو، په وړاندې يې د حساسيت ټيست به تجريد شويو باکترياوو تر سره شو.

## پايله او مناقشه:

د انتي بيوتيک په وړاندې د حساسيت د مختلفو تجريد کړای شويو باکترياوو په وړاندې حساسيت په يو نمبر جدول کې ورکړل شوی دی. د CMT په وړاندې د ټولو ۲۴۰ سمپلونو له جملې څخه ۱۲۴ سمپلونو مثبت تعامل وښود، د ۱۲۴ منتنو د شيدو سمپلونو څخه ۸۸ سمپلونه چې د ټول سمپلونو ۹۷، ۷۰ فيصده تشکيلوي، د باکترياي کلچر په نتيجه کې واحد تجريد ورکړ، چېرته چې ۳۲ سمپلونو څخه چې ۲۹، ۳۰ فيصده جوړوي، د کلچر د معاينې په ترڅ کې يې مختلط انتاناتو عوامل ورکړل. په دې څېړنه کې د غولانځي د پړسوب لوړ واقعات يعنې ۵، ۴۷ فيصده کې ستافيلوکوکونه وليدل شول چې د ستافيلوکوکس په وسيله د ماسټيټس د لوړو واقعاتو رپوټ د نورو څېړونکو (Horon 1994:Bharlerao el al2000) په وسيله هم ورکړل شوی ؤ. نور عوامل چې په څېړنه کې وليدل شول E.coli ۱۷،۷۴ فيصده Anthracoid bacilli ۱۲،۹ فيصده 6.95 Pasteurella فيصده 5.65 Bacillus subtillis فيصده او د Cryptococcus يست ۵،۲۵ فيصده وو. تجريد شوي ستافيلوکوکونه د اينروفلوکزاسين، اموکزاسلين، کلوکزاسلين، جنتامايسين په وړاندې په لوړه کچه حساس او د امپيسلين او ستروپتوماسين په وړاندې په متوسطه اندازه حساس، خو د پينسلين او اوکسي تتراسکلين په وړاندې مقاوم وو.

(۱نمبر جدول) د شيدو څخه د تجريد شويو باکترياوو حساسيت د انتي بيوتيکونو په وړاندې

| استعمال شوي انتي بيوتيک | د تجريد شويو باکترياوو حساسيت | | | | | د تجريد شويو باکترياوو د حساسيت فيصدي |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ستافلوک کای | ای کولای | آ. باسيلي | پاستوريلا | بي. سبټيليس | |
| ۱- اينروفلوکزاسين | حساس | حساس | حساس | حساس | حساس | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | ۱۰۰ |
| ۲-اموکزاسلین | حساس | حساس | حساس | مقاوم | مقاوم | ۶۰ |
| ۳:-امپسلین | متوسط حساس | مقاوم | حساس | مقاوم | حساس | ۵۰ |
| ۴-کلوکزاسلین | حساس | - | حساس | مقاوم | حساس | ۸۰ |
| ۵- پنسلین | مقاوم | مقاوم | حساس | مقاوم | متوسط حساس | ۳۰ |
| ۶- ستریپتومایسین | متوسط حساس | حساس | حساس | حساس | حساس | ۸۰ |
| ۷- جنتامایسین | حساس | حساس | مقاوم | حساس | مقاوم | ۲۰ |
| ۸-اکسي تتراسیکلین | مقاوم | حساس | حساس | مقاوم | مقاوم | ۴۰ |

د ستافلیکوکونو په لوړه کچه حساسیت د کلوکزاسیلین او جنتامایسین سره د (Nath and Sarma,2007) (Bahata charya2002) د موندنو سره ورته والی لري، د پنسلین په وړاندې د ستافلوکونو مقاومت د .,kheriabadi et al 2008 په وسیله ورکړل شوي د پنسلینیز تولیدوونکو ستافلوکوکونو موجودیت د فارم په حیواناتو کې خاصه توجه جلب کړې؛ دا په داسې حال کې ده چې پنسلین تر اوسه پورې هم په ساحه کې د غولانځې د پړسوب د تداوۍ لپاره انتخابي دوا ده. Ecoli په لوړه کچه د اینروفلوزاسین، اموکزاسلین، ستریپتومایسین، جنتامایسین په وړاندې حساسه او تتراسکلین د کلوکزاسکلین په پرتله متوسط حساسیت نبوده او پنسلین او امپسلین په وړاندې مقاوم دي. (Vermasnauriya 2007) په ورته توګه په هغه څېړنه کې Anthracoid bacilli د جنتامایسین څخه پرته د ټولو انتي بیوتیکونو په وړاندې حساسیت نبوده. تجریدي شوي پاسترولا د اینروفلوکزاسین، کلوکزاسلین، ستریپتومایسین او جنتامایسین په وړاندې حساس، خو د اموکزاسلین، امپسلین، پنسلین او اکسي تتراسکلین په وړاندې مقاومې وې. تجرید شوې Bacillus subtilis د اینروفلوګزاسین، امپسلین، کلوکزاسیلین او ستریپتومایسین په وړاندې حساس د پنسلین په وړاندې په متوسطه توګه حساس، خو د اموکزاسیلین، جنتامایسین او اکسي تتراسکلین په وړاندې مقاومې وې. ټولو تجرید شویو مایکرو ارګانیزمونو د یو څخه زیاتو انتي بیوتیکونو سره حساسیت درلوده او د تجرید شویو مایکرو ارګانیزمونو لویه برخه د اینروفلوکزاسین، ګلوګزاسیلین او ستریپتوماسین سره حساس، خو د پنسلین او تتراسیکلین په وړاندې بې مقاومت درلوده. د مایکرو اورګانیزمونو مقاومت د دغه انتي بیوتیکونو په وړاندې ممکن په ساحوي شرایطو کې د زیات شمېر انتي بیوتیکونو په وسیله د غولانځې د پړسوب د واقعاتو غیر معقول استعمال وي. ددې وړاندیز کېږي چې انتي بیوتیک تطبیق باید د باکتریایي غولانځې التهاب واقعاتو په تداوۍ کې د انتي بیوتیک په وړاندې حساسیت د ټیست د ترسره کولو وروسته ترسره شي. د مکروب اخته شیدو څخه په لاس راغلي زیاتره مایکرو اورګانیزمونه د شیدو معمول لرونکي مایکرو اورګانیزمونه دي، کوم چې د ضعیفې حفظ الصحې په وجه رامنځته کېږي. په دې توګه په کار کې ښه مدیریت به د پاکو شیدو د تولید په خاطر د فارم په حیواناتو کې د ماستایتس واقعات راکم کړي.

**Abstract:**

Effective treatment against mastitis is a problem due to development of drug resistance and can be overcome by utilizing in vitro antibiotic sensitivity test for selection of effective antibiotic against mastitis. In the present study, milk samples were collected from 60 lactating farm animals suspected for mastitis. Isolation and identification of bacteria andfungi was done by basis of morphology, staining and biochemical characteristics. The higher incidences of staphylococcal mastitis were observed. Antibiogram study revealed that majority of isolates was sensitive to enrofloxacin followed by cloxacillin, streptomycin, gentamycin, amoxicillin and resistance to penicillin and ox tetracycline.

**References:**

1. Bhalerao, D.P., Jagadish, S., Keskar, D.V.Dangore, A.D. and Sharma, L.K.(2000). Antibiogram and treatment of bovine subclinical mastitis. Indian Vet. J.77(**3**): 244-246
2. Bhattacharya (2002). Ethiology and antibiotic spectra of bacterial isolates from field cases of mastits in cows from west Tripura district. *Indian Vet J.* 79(9): 961-962.
3. Gonzlez, R.N., Giraudo., J.A. and Busso, J.J. (1980) Investigation of sub clinical mastitis in Argentia. II. Bacterial agents. Revista Dermechiene *Vet. Argentia* . 61(**3**): 225-224.
4. Harmon, R.J. (1994). Physiology of mastitis and factors effecting somatic cell count. *J. dairy Science*. 77:2103-2112.
5. Kherabadi, P., Ebrahimi, A. and Barati, F. (2008). Prevelance, contagious Pathogens and antibiotics succeptibilities of subclinical mastitis, *Indian vet. J.* 85(**4**): 375-377.
6. Kotowashi, K. (1988). Bacterial flora isolated from cases of bovin mastitis and its antibiotic sensitivity. Medycyca *Veterinary. J*. 85(**5**): 278-280.
7. Nath, R. and Sarma, S. (2007). Therapeutic efficacy of defferent antibiotics in treatment of acut mastitis. *Indian Vet. J.* 84(**8**): 858-859.
8. Oliveria, P., Waths, J., Salmon, S. and Aareshtrup, M. (2000). Antimicrobial susceptibility of Staphylococus aureus isolated from bovin mastitis in the Europe and United states. *Dairy Science. J.* 83: 855-862.
9. Singh, J. and Singh, B. (1994). A study on economic losses due to mastitis in India. Indian . *Dairy Science. 4*: 265-272.
10. Sreeja, S.K., Vijaykumar, K. and Saseendranath, M.R. (2009). Subclinical mastitis in goats. Indian Vet. J. 86(6): 625.
11. Tijare, D.B., Chaturvedi, V.K,. Srivastava, A.B., Dhanesar, N.S, and Mehara, K.N, (20000). Streptococcal. Subclinical mastitis in bovines. Indian Vet. J . 77(11): 969-970.
12. Verma, A.K. and Nauriyal, D.S. (2007). Antibiogram of bacterial pathogens isolated from bovine sub clinical intramamary infections (IMI). J. Vety. Pharmacol and toxicol. 6 (1-2): 115-118.

پوهنمل عـــمران (ظفـــرزی)
طب پوهنځی- عدلي څانګـــه

# شنډتـــوب (Infertility)

**لنډيز**:

که د نورمال جنسي فعاليت سره د يو کال په موده کې حمل صورت ونه نيسي او يا د ښځې عمر د **۳۵** کلونو زيات وي او د **۲** مياشتو د جنسي فعاليت باوجود اميدواره نه شي، د عقامت (Infertility) په نوم يادېږي. عقامت يوازې د ښځو ستونزه نه ده، بلکې ⅓ په نارينه او ⅓ يې په ښځو پورې اړه لري؛ په نارينه وکې يې لامل زياتره هايپو ګونادېزم او په ښځو کې زياتره ستونزه د تخمې په ازادېدلو کې وي چې ځينې نورې ناروغۍ لکه ديابت او توبرکلوز هم په کې رول لري.

**سريزه**:

د اولاد نه لرل (Infertility) په ټوله نړۍ کې خپره ستونزه ده چې په United states کې ۱۰٪ (6,1 million) ښځو کې چې عمرونه يې د **۱۵-۴۴** کلونو ترمنځ وي، (Infertility) شتون لري. په هغو هېوادونو کې چې وروسته پاتې او په جنګ- جګړو کې ښکېل وي او د اقتصاد له پلوه يې وده نه وي کړې، په داسې ټولنو کې د انتاني ناروغيو پېښې زياتې وي او ددې سره د عقامت (Infertility) لپاره هم زمينه مساعد ېږي. زمونږ د ګران هېواد په ټولنيز ژوند کې د اولادونو نه درلودل د پخوا زمانو راهيسې د يو ناوړه دود په ډول د ننګ او عار په شکل پاتې دی چې کله کله په کورني ژوند کې د ستونزو او حتی د شخړو لامل ګرځي.

**موخې**:

ددې علمي مقالې د ليکلو موخه داده چې د اولاد د نه شتون ځينې لاملونه چې د درملنې وړ وي، په ګوته شي او ارزښت يې په دې کې دی چې ځينې انتاني ناروغۍ زمونږ په ټولنه کې شتون لري چې د عقامت په منځ ته راوړلو کې رول لري، که په ناروغانو کې دا ډول ناروغۍ په ښه او درملنه يې وشي، نو د اولاد نه لرلو ستونزې په له منځه وړلو کې به اغېزمن تمام شي.

**عقامت** (Infertility):

د يو کال مودې لپاره د نارمل جنسي فعاليت دوام سره که چېرې حمل صورت ونه نيسي او يا که د ښځې عمر د **۳۵** کالو او يا له دې څخه زيات وي او د ۲ مياشتو جنسي فعاليت باوجود ښځه حامله نه شي، د عقامت (Infertility) په نوم ياد ېږي او يا هغه حالت ته ويل کېږي چې يوه ښځه غواړي حامله شي، د هڅو سره سره حمل واقع نه شي، دې حالت ته هم (Infertility) ويل کېږي. د **۲۵**٪ په حدودو کې د نارينه او ښځې په جوړه کې (Infertility) د زېږېدنې د وخت په دوران کې ليدل کېدای شي چې د عمر په زياتېدو سره يې پېښې زياتېږي. نارينه وکې نسبت ښځو ته ۴۰٪ د عقامت لامل موجود وي او په دواړو کې (ښځه او مېړه) کې په ګډه سره هم دا ناوړه حالت عموميت لرلی شي.

### حمل (اميندواري) د لاندې مراحلو په پايله کې صورت نيسي:

- د Ovulation حالت: چې په ښځه کې د هر يو تخمدان څخه چې وي، هګۍ (Egg) ازاده شي.
- د غه هګۍ Egg د Fallopian Tube څخه د رحم (Uterus) په لور حرکت کوي.
- لاره کې د نارينه Sperm د هګۍ سره يو ځای هګۍ القاح (Fertilize) کوي.

- اخري مرحله د ځای نیولو (Implantation) مرحله ده چې د القاح شوې هگۍ د زیلانځي دننه ځای په ځای کېږي. (۱،۲،۳)
- عقامت یوازې د ښځو ستونزه نه ده، بلکې نارینه او ښځو دواړو کې ستونزه شته دی چې د عقامت لامل گرځي، ⅓ د عقامت د ستونزې عامل په ښځو او ⅓ یې په نارینه و پورې اړه لري، پاتې نور لاملونه یې په نارینه و او ښځو دواړو پورې اړه لري او یا لامل هیڅ ښکاره شوی نه دی. په نارینه و کې د عقامت لامل د ۳۰-۴۰٪ په Primary-hypogonadism ،۱۰-۲۰٪ د سپرم په وړلو کې بې نظمي او ۲٪ په کې Secondary-hypogonadism رول لري؛ همدارنگه د (Infertility) لاملونو کې چې په نارینه و پورې اړه لري، یو غوره لامل یې Varicocele گڼل کېږي. په دې ناروغۍ کې په نارینه و کې د خصیو (Testicle) وریدونه پراخېږي چې له دې کبله Testicle گرمېږي چې دغه گرموالی (heat) د Sperm په شمېر او ډول باندې اغېزه کوي.
- دویم لامل په کې د سپرم حرکت دی چې په دې کې د سپرم Shape رول لري، ځینې وخت د Reproductive د لارې زخمونه او یا نور زیانونه هم د سپرم حرکت ستونزمنوي. (۱،۲،۳)
- ځینې وخت په ناروغ کې په ولادي توگه سره په سپرم کې زیان موجود وي، خو کېدای شي ستونزې وروسته په ژوند کې د زخمونو او یا نورو ناروغیو څخه منځ ته راغلي وي، د بېلگې په توگه Cystic – Fibrosis له کبله په نارینه و کې (Infertility) منځ ته راتلل.

## په ښځو کې د (Infertility) په منځ ته راتللو کې لاندې فکتورونه رول لري:

- په Fallopian tube کې د ستونزې راتلنه.
- د تخمې په ازادېدلو کې ستونزه Ovulatory Problems.
- Endometriosis (زیلانځي گزکي).
- په زیلانځي (Uterus) کې د ستونزې پېښېدنه.
- گډ فکتورونه.
- ښکاره دلیل په کې ونه ښودل شي.

نور فکتورونه چې په کې برخه لري:

- عمر، په ښځو کې د ۳۵ کلنۍ عمر څخه وروسته د زېږون وړتیا کمېږي.
- .(POS) Poly cystic ovary-syndrome
- نور gynaecologic پرابلمونه، لکه پخواني Ectopic-pregnancy او یا د یو نه په زیات ځلونو د Miscarriage پېښه.
- طبي حالات، لکه دیابت، Epilepsy، د Thyroid او د کلمو ناروغي.
- محیطي فکتورونه، لکه Stress، د وزن زیاتوالی، د وزن کموالی او Smoking.

## په نارینه و کې د (Infertility) فکتورونه:

- د سپرم په شمېر کې کموالی یا د کیفیت (Quality) خرابوالی
- د سپرم د تگ په لاره کې ستونزه
- د نارینه و په Erection کې د ستونزې موجودیت
- د Ejaculation ستونزه
- د Testes التهاب (Orchitis) یا Viral-Orchitis
- د پخوانیو بکتریایي انتاناتو Scar چې د سپرم د Tubes په لاره کې د Epididymis څخه تر Vas پورې د بندوالي سبب گرځي، توبرکلوز.

- د درملو کارونه، راديو تراپي، جراحي، د مثال په ډول د Undescended Testes، Hernia او Twisted-Testicle لپاره.
- Y-chromosome-micro deletion , genetic-problem
- Diabetes
- د ژوندانه د عادت فکتورونه، لکه د وزن زياتوالی، د دندې له نظره د کيمياوي موادو او شعاع سره د تماس موجوديت. (۲، ۵، ۴)

د عمر په تېرېدو سره په نارينه وکې هم Fertility قابليت کې کموالی راځي، خو ددې اندازه ښکاره نه ده.

## هغه ټستونه چې په لومړيو کې تر سره کېږي:

کلينيشن دې د ناروغ د ليدنې پلان جوړ کړي او د (Infertility) د لامل په پيدا کولو کې دې پراخه پلټنه پيل کړي، د ناروغ د روحي جنسي (Psychosexual) حالت د مخکينيو حاملګيو په برخه کې دې ځانته معلومات حاصل کړي، د الکولو او سګرټو د عادت پوښتنه دې وشي او که د کومې بلې دوا سره عادت ولري، هغه دې هم وليکل شي؛ د درملو نسخه چې د ناروغۍ په منځته راتللو کې يې رول لوبولی وي، بايد وليدل شي، Gynaecologic تاريخچه کې دې د مياشتني عادت په اړه پوښتنې تر سره شي، په اوسنۍ تاريخچه (Present History) کې دې د Contraceptive د کارولو او د هغې د ډول Coitus Sex - Libido-techniques د تکرارېدلو او په کاميابۍ سره د هغې تر سره کولو او د Intercoursc او د هغې اړيکې د Ovulation د وخت سره پوښتنه د ناروغ څخه تر سره شي؛ په Family History کې دې د Spontaneous abortion د متکررو پېښو څخه ځان خبر کړي، په عمومي فزيکي کتنه کې د جوړې په ښځينه Partner باندې کتنه تر سره شي، که د حوصلې د برخې د ناروغيو شک وي، نو Pelvic-ultrasound او Hystero-Salpingography کتنه دې ورته تر سره کړي. Basic لابراتواري کتنې لکه Complete –blood-count، د تشو متيازو کتنه، د Cervical culture د Chlamydia، Rubella انتي باډي د پېژندلو لپاره تر سره کېږي او Thyroid Function Test بايد اجرا شي؛ په تور نژادو کې د Sickle-cell لپاره کتنه تر سره کېږي. که په ښځه کې منظم Menses موجود وي Ovulatory cycle په کې ډېر لوړ وي، که Luteal-phase کې د Progesterone 3ng/ml څخه زيات وي د Ovulation ښکارندوی ګڼل کېږي. ښځې او مېړه ته دې وويل شي چې د Ovulation وروسته د ۲ ورځو په موده کې که Coitus واقع شي، نو پايله به يې مثبته وي چې په تشو متيازو کې يې بايد چې Ovulation لپاره وکتل شي او د Basal-Temperature لپاره دې چارت جوړ شي چې د حرارت لوړېدنه په کې ښکاره شي. (۹، ۸، ۷)

په نارينه وکې د Semen-analysis لپاره دې Complete-ejaculation تر سره شي او د معاينې تر مخه درې ورځې د جنسي فعاليت څخه ځان وساتي. په پاک، لوی او وچ سرتړلي بوتل کې دې Semen واچول شي چې نارمل حالت کې يې حجم 2ml وي، په هر ملي لېتر کې يې تر ۲۰ مليونو سپرم موجود وي چې په اول کې په کې Motility , 50% Motility وي چې چټک پرمختګ يا Rapid progression په حرکت د سپرمونو کې ۲۵٪ پوره وي او په نارمل ډول کې تر ۳۰٪ پورې Motility وي. که چېرې د Sperm شمېر يا Count ابنارمل وي، بيا نورو پلټنو ته هڅه کېږي چې په محيطي يا د کار د ځای Toxin , Alcohol يا د درملو (drugs) عادت په کې سهيم ګڼل کېږي.

## نور وروستي ټستونه (Further Testing):

۱- که د سپرم په شمېر، حرکت او يا منظره کې کمښت موجود وي، بيا بيا analysis ته يې اړتيا پېښېږي، د Zona-free-hamster egg penetration test ددې لپاره تر سره کېږي چې په سپرم کې د هګۍ د القاح کولو وړتيا شته او که نه؟

۲- که په Uterine-Tube کې بندوالی راغلی وي، د ورې جراحۍ يا invitro القاح کېدنې اړتيا پېښېږي.

۳- که Ovulation ورک وي د FSH او LH لېول لوړېدنه د Ovarian-failure څخه نماینده ګي کوي چې د Premature-menopause سبب ګرځي. که د LH لېول لوړ او FSH نارمل وي، په Polycystic-Ovaries پورې به اړه ولري، که په وینه کې Prolacin لوړ شي، نو Pituitary-micro adenoma به په کې موجود وي.

۴- که د التراساونډ په کتنه کې Folliculogenesis ولیدل شوه په ناچاودلي Lutenized Follicles پورې به اړه ولري.

۵- که په Luteal-phase کې د اندو میترل biopsy سره د سیروم Progesteron لېول وکتل شي، د Luteal phase deficiency په توپیرولو کې رول لري.

۶- د Oildye رنګه موادو سره د Menstrual period په دریمه ورځ وروسته Hystero-salpingography اجرا شي، دې کتنې سره د زیلانځي ابنارملتیي لکه polyps , Septa او Myoma ښکاره کېږي چې د Tubal – obstruction لامل شوي وي؛ که ناروغۍ کې Pelvic inflammation ناروغي وي Cap . Doxacyclin دې 100mg د ورځې دوه ځلې د ۷ ورځو لپاره ورکول شي.

۷- که Hystero-salpingography کې Tubal ناروغي ونښودل شوه، IVF (invitro Fertilization) د درملنې په اول پلان کې نیول کېږي او د Laparoscopy استطباب په کې وي، که د (Infertility) په برخه کې څه راڅرګند نه شول، په دې ناروغانو کې چې ۲۵٪ یې ښځې وي، پلټنه یې نورماله وي، خو په Laparoscopy کتنه کې یې د (Infertility) لامل لکه Peri-tubal-adhesion او endometriotic Implants راڅرګندېږي. (۷،۸،۹)

## درملنه (Treatment):

۱- طبي تدابیر (Medical-measure):

په عقامت کې د اندوکراین ابنارملتیي درملنه په ځانګړي توګه د Hyperthyroidism یا Hypothyroidism په پام کې نیول کېږي، د Cervictitis په حالت کې د انتي بیوتیک سره درملنه کېږي. هغه ښځې چې د زیات ورزش له کبله یې وزن کم او د جنسي هورمونونو اندازه په کې لږه وي، د ورزش په کمولو او د وزن په اخیستلو سره به یې عقامت له منځه لاړ شي.

۲- جراحي تدابیر (Surgical measure):

د Fertility لپاره د Ovarian تومور یا د تخمدان په برخه کې د اندومیتروزس ساحې ایستل د جراحي عملیې په واسطه تر سره کېږي، د Tubal بند ښت لپاره د Microsurgical په زیاتره حالاتو کې د ښه والي لامل ګرځي چې د IVF پایلې یې ښې وي د Peri- tubal- adhesion (د توبولونو نښتل د شاوخوا انساجو سره) او یا Endometriotic Implant حالتونه د Laparoscopy له لارې تداوي کېږي. که په نارینه کې Varicocele موجود وي، د جراحي درملنې سره به یې د سپرم په حالت کې ښه والی راشي. په نارینه و کې د Primary-hypogonadism لپاره androgen ښه نتیجه ورکوي، د Secondary hypogonadism لپاره د gonadotropin تطبیقول لازمېږي.

۳- د تخمې ازادېدل (Induction of ovulation):

۱- Clomiphen citrate: کلومیفین سترات د gonadotropin ازادېدنه تنبه کوي، په ځانګړي توګه L.H تنبه کوي او ددې سره په پلازما کې (Estron (E1 او (Estradiol (E2 افراز هم لوړېږي او د Ovarian Follicle د پخېدلو لامل ګرځي؛ که E2 په کافي اندازې سره لوړ شي د LH سره به Ovulation تنبه کړل شي. نارمل Menstrual وروسته او یا د Progestin سره د وینې په درېدلو سره ناروغۍ ته 50mg Clomiphen د خولې د لارې د ۵ ورځو لپاره ورکول کېږي، که Ovulation واقع نه شو، ددې درمل دوز ۱۰۰ ملي ګرامو ته د ورځې، د ۵ ورځو لپاره لوړېږي، که بیا هم لوړ نه شو، د درملو Course (دوره) په 150mg او بیا 200mg ته په ورځ کې، د ۵ ورځو لپاره یې پورته وړلی شي، په دې باندې بیا Choroinic- gonadotropin 10000unit داخل عضلي د Clomiphen څخه ۷ ورځې وروسته زرق کېږي، که د عقامت بل کوم فکتور موجود نه وي، له دې سره به Ovulation تر ۹۰٪ پورې منځ ته راشي او د Pregnancy اندازه به لوړه شي. په دې ناروغانو کې به په 0,5% حالاتو کې غبرګوني ماشومان تولد شي، د 0,5% څخه کمو حالاتو کې له درې نه تر څلورو د شتون امکان هم شته دی، کله

چې د androgens جوړېدنه زياته شوه (DHEAS, 200mcg/dl) بيا به Dexamethasone د خولې له لارې (0,5mg) يا (5mg)Prednisolone د خولې له لارې د خوب په وخت کې ورکول کېږي چې کله حمل واقع شي، بيا دې ودرول شي. (۲،۷،۸)

۲- Bromoc Criptine: هغه وخت چې په وينه کې د پرولکتين (PRL) لېول لوړ شي ورکول کېږي، د کلوميفين په شان ددې درمل ورکول د وينې دربدلو سره اړه نه لري، ددې لپاره چې ددې درملو بدې اغېزې لکه زړه بدي، نس ناسته، dizziness، سر درد او سستي کمه شي، د غذا سره دې وخوړل شي، 2,5mg په ورځ کې يو ځل ورکول کېږي، دوز يې په ورځ کې دوه درې ځلو ته لوړېدای شي، خو چې کله حمل واقع شي، بايد قطع شي.

۳- Human- menopausal- gonadotropins(HMG): HMG او يا FSH په Hypogonadotropism کې استطباب لري او يا په بل ډول an ovulation حالت کې هم ورکول کېږي چې د تخمې د ازاد بدلو بې کفايتي موجوده وي.

۴- د Endometriosis درملنه بايد تر سره شي.

۵- Artificial-isemination in Azospermia: که Azospermia موجوده وه چې په مصنوعي توګه د donor ځخه سپرم اخلي او په ښځه کې چې نورمالې دندې ولري، ځای پر ځای کېږي چې د اميندوارۍ سبب شي. د Frozen-sperm کارولو ته ترجيح ورکول کېږي، نسبت Fresh Sperm ته، ځکه چې د Frozen Sperm په صورت کې د Transmitted Sexual ناروغيو د تست او کلچر اسانتياوې او تر سره کول په پام کې نيول شوې وي، لکه د HIV انتان.

۶- Assisted –Reproductive- technologies: که چېرې يوې جوړې د پورتنۍ درملنې سره بهبود پيدا نه کړي، يعنې (Infertility) يې ښه نه شوه او ځينې ناروغۍ په کې وي، لکه Tubal disease، Sever endometiriosis، Oligo spermia نامعلومه يا Immunologic Infertility نو د IVF، Gamete intrafallopian Transfer (GIFT) او Zygote (ZIFT) Intra Fallopian Transfer ځخه په کې کار اخستل کېږي، دا يو Complex-Techniques دی او يو لوړ تربيه شوی Specialist ته په کې ضرورت دی. دا ټولې مانورې Ovarian-Stimulation تنبه کوي، زيات Cystes oocyte جوړېږي، د Trans-vaginal-sonography له لارې د ستنې Aspiration په واسطه oocytes د وجود نه راباسي، بيا د IVF په واسطه د هګۍ القاح په invitro کې صورت نيسي او embryos بيا د رحم Fundus ته يې ورانتقالوي. د Intra-(ICSI) Cytoplasmic-Sperm injection په واسطه د يو سپرم سره القاح کول اجرا کوي، دا په هغه صورت کې چې په نارينه کې د عقامت ستونزه وي، سرته رسېږي؛ خو اوس په United State کې د IVF پروسيجر د نيمايي زياتو کې يې د سپرم سايتوپلازميک زرق صورت نيسي. په GIFT کې سپرم او Uterins-tube-eggs کې د Laparoscopy يا Mini- lapa rotomy له لارې ځای پر ځای کوي، د ZIFT په طريقه کې په invitro کې القاح منځ ته راوړي. د اولنې تکامل د Embryo وروسته بيا Laparoscopy يا Mini-Laparotomy له لارې د Uterine تيوب ته انتقالوي، دا وروستي دوه پروسيجرونه زيات کارول کېږي. (۴،۳،۲،۱)

(Prognosis):

که د علاج وړ ناروغۍ موجودې وي، نو انزار يې ښه دی او نارمل Pregnancy پرمخ تلای شي، خو که د عقامت لامل وځيم وي، انزار به يې هم ښه نه وي او د علاج وړ به نه وي او زيات وخت به يې دوام کړی وي (د درې کلونو ځخه زيات)، خبره داده چې که د عقامت سبب ښکاره نه شي، نو ۲۰٪ جوړه کې به په درې کلونو کې Pregnancy واقع شي، که په يوه جوړه کې چې د (Infertility) علت په کې ښکاره نه شي او په درې کلونو کې په کې حاملګي واقع نه شي، نو د Ovulation د تنبه او يا د حامله کېدو تکنيکونو ځخه دې کار واخيستل شي، که اندوکراين، هورموني او انتاني لاملونه موجود وي او درملنه يې وشي، ستونزه به له منځه ولاړه شي.

## پایله:

ددې علمي مقالې څخه لاندې پایلې ته رسېږو:

- د عقامت (Infertility) ستونزې په لاملونو کې نارینه او ښځې دواړه برخه لري.
- ځینې انتاني ناروغۍ چې په خپل وخت تشخیص او درملنه یې تر سره شي، د عقامت د مخنیوي سبب گرځي.
- په نارینه وکې ددې ستونزې د حل لپاره اوس وخت کې د Intracytoplasmic Sperm injection په ډول د یو سپرم القاح کول سرته رسېدلی شي.

## وړاندیزونه:

ټولو محترمو لوستونکو ته لاندې وړاندیزونه او سپارښتنې لرم:

1. څرنگه چې د عقامت په منځته راتلو کې نارینه او ښځینه دواړه رول لري، نو پړه یې باید یوازې پر ښځو وانه چول شي.
2. مېړه او ښځه دواړه د ستونزې د حل په موخه داکتر ته مراجعه وکړي.
3. د روحي فشار Stress د له منځه وړلو او د هغې څخه د کورنیو ژغورل، د عقامت په مخنیوی کې رول لري.
4. د وزن د زیاتوالي مخه دې ونیول شي.
5. د خپلې نورمالې اندازې څخه کم وزن هم ددې ستونزې په منځ ته راتلو کې رول لري چې باید په پام کې ونیول شي.
6. د سگرټو او نورو نشه یي توکیو څخه ډډه وشي.
7. داکتر صاحبان باید د ستونزې د حل په موخه هغه لاملونه چې د علاج وړ وي، وپلټي.


## Abstract:

Infertility means not being able to get pregnant after one year of trying or six months , if a women is 35 or older women who can get pregnant but are un able to stay pregnant. Infertility is not always a women's problem both women and men can have problem that causes infertility about one Third of infertility cases are caused by women's problems. Another one third of fertility problems are due to the man.


## References:


1. Braun waid , Fauce – Harrison's (2012) ,Principles of internal medicine 18th edition P-6-16.
2. Dennis L.kaspen MD. Harrison's principle of internal medicine 2012 18th edition . P . 3034
3. Fertility test for women .web MD explains the test that helps diagnosis infertility in women
4. Fertility Drags. web MD about fertility drags including how they work and their side effect
5. Kerry C.cho.MD current medical Diagnosis and treatment volume 1 2012 P. 747
6. Kummar and Clark clinical medicine fifth edition 2008 P.308
7. Sperm FA2 . web MD answer common question about sperm
8. Stephen J.mcphee, Current Medical Diagnosis and Treatment 2012 P: 756-757.
9. Tests for infertility and Reproduction web MD provides links to learn more about common pregnancy and
   Infertility tests.

پوهــنمل مــحمد عـــــارف(عـــــارف)
پوهنځی تعلیم و تربیه- دیپارتمنت زبان و ادبیات

# مقـام غـزل در ادبیـات دری

**خلاصه**:

در این مقاله تحقیقی معلومات پیرامون مقام برجسته و منزلت والای غزل در ادبیات دری در دوره های مختلف مورد دقت و توجه قرار گرفته است، البته از ابتدای ایجاد غزل تا اکنون پیچ و خم های گوناگون در فورم و شکل غزل و هم از نگاه محتوا صورت گرفته است، تحت روشنی همه جانبه قرار گرفته و در ادوار مختلف از شعرا و سراینده گان غزل ادبیات دری بخوبی و وجه احسن و نیکویی یادآوری شده است و همچنان بحث ما از غزلهای عاشقانه آغاز شده تا غزلهای عارفانه و تصوفی، مضمونی، اندرزی و غیره به درازا کشیده شده است بدون شک معلومات مختصری راجع به غزل که یک بخش زیبا و دلپذیر انواع کلام منظوم ادبیات دری بشمار میرود، بدسترسی صاحبان ذوق و تشنگان شعر و ادب دری قرار داده میشود.

**مقدمه**:

از آنجای که ادبیات دری دامنه و ساحه بسیار وسیع را احتوا میکند که نظم و نثر شامل این ساحه پنهاور بوده و هر کدام از ارزش و قیمت بسزایی برخوردارند. کلام منظوم ادبیات دری را فرد، مثنوی، رباعی، غزل، قطعه، قصیده، مخمس، مسدس، ترکیب بند، ترجیع بند، مستزاد و غیره تشکیل میدهند. در این مقاله در باره ماهیت و چگونه گی غزل که یکی از شرینترین و زیباترین اقسام کلام منظوم است، صحبت کتبی صورت میگیرد و جایگاه و منزلت خاصی را که در میان اقسام نظم دارد، مورد بحث قرار میدهیم. این موضوع را باید روشن ساخت و تذکر داد، که از بنیانگزاران و موسسان غزل به نیکویی یاد کرده و نامهای ایشانرا گرامی داشته و از چهره های درخشان و تابناک آنها در دوره های مختلف یاد آوری میکنیم. از متقدمین می توان از شهید بلخی، رابعه بلخی، شکور بلخی، رودکی سمرقندی و غیره بخوبی نام برد. همچنان غزلسرایان دورهٔ متوسط که با پیروی از سبک عرفانی حکیم سنایی غزنوی، عرض وجود کرده اند، عبارتند از شیخ فریدالدین محمد عطار نیشاپوری، مولانا جلال الدین محمد بلخی مشهور به مولانای روم، شیخ مصلح الدین مشرف یا مشرف الدین مصلح بن عبدالله- متخلص به سعدی شیرازی، خواجه شمس الدین محمد حافظ شیرازی و بسیاری از معاصران و همقطاران ایشان بذل توجه صورت گرفته است. در غزلسرایان متاخرین به شیوه تغزل بابا فغانی شیرازی، مولانا فیضی دکنی، مولانا عرفی شیرازی، میر کمال الدین وحشی بافقی، نظیری نیشاپوری، طالب آملی، غنی کشمیری، کلیم کاشانی، مرزا محمد علی صایب تبریزی، مرزا عبدالقادر بیدل، مرزا اسدالله خان غالب و غیره بررسی هایی بعمل آمده است. پس شاعران دوره بازگشت و یا معاصر ادبیات دری مورد عنایت قرار گرفته، که شامل هاتف، نشاط، ملک الشعرا بهار مشهدی، اقبال لاهوری، پروین اعتصامی، سیمین، شهریار و غیره می باشند. لازم میدانم که در اینجا یک نگاه گذرا به آغاز پیشرفت و ارتقای غزل در کلام منظوم دری در این مقاله بسیار کوتاه انداخته شود.

**اهداف**:

ابراز نظرهای ادبشناسان، پژوهشگران و صاحب نظران پیرامون غزل و غزلسرایی در دوره های مختلف و همچنان اهمیت خاص و ارزش معنوی غزل، نزد شعرا و غزلسرایان متقدم، متوسط و متاخر ادبیات دری.

## مفاهیم و معانی لغوی غزل:

بخش بزرگ از کلام منظوم ادبیات دری بر غزل مشتمل است، غزل یعنی حدیث زنان و صحبت از حسن و زیبایی زنان است. معنای غزل در هر فرهنگ همینطور بیان شده است، به گونه مثال طبق غیاث اللغات ((بازی کردن با محبوب و حکایت کردن از جوانی و حدیث صحبت و عشق زنان ) ) و یا حدیث زنان و حدیث عشق ایشان کردن و سخنی که در وصف زنان و عشق ایشان گفته آید. (۴ص۲۲۴)

همینطور در فرهنگ اصطلاحات علوم ادبی درج شده است که ((قسم نظم که بالعموم در آن مضامین عشق و محبت بیان شده باشد ) ). دکتر شمیسامی گوید: ((.. سخن گفتن با زنان و عشقبازی و حکایت کردن از جوانی و محبت ورزیدن و وصف زنان و غیره به کار رفته است. ) ) فی الجمله غزل به معنای شعر عشق و عاشقی، حسن و زیبایی و اسرار و رموزآن که دارای سوز و گداز باشد. در ابتدا شعرا به قصیده سرایی پرداختند و بعد از آن غزل عرض اندام کرده و بوجود آمد و زبان دری (فارسی ) یافت، یعنی زبان قلب قرار گرفت و سوز و گداز درونی و نرمی و لطافت ایجاد شد.

## مفاهیم اصطلاحی غزل:

غزل بر کلام منظوم اطلاق می شود یا به عبارت دیگر کلام منظومی را می گویند که همه ابیات بعدی در وزن و قافیه از بیت اول پیروی کند. غزل دارای مطلع و مقطع می باشد ، بیت اول را مطلع می گوید و بیت اخر را مقطع نامیده اند ، که در بیت مقطع شاعر و سراینده از نام و یا تخلص خود یاد آوری میکند. تعداد حد اقل ابیات غزل پنج بیت و حد اکثر ان بالغ به دوازده بیت میگردد.

## نظریات ادبشناسان و پژوهشگران پیرامون چگونه گی غزل:

داکتر شیما در مورد ابیات غزل چنین نظر ارایه میکند ، می گوید: (( بر طبق سنت و تاکید بدیعی ابیات غزل باید معمولاً (۵ تا ۱۲ ) بیتی دارد... ) ) ، اما باید دانست که این قاعده کلی نیست، چنانچه وحشی بافقی، غزل چهاربیتی و مولوی غزلهای (۱۵ ) بیتی و گاهی (۴۳ ) و حتی (۸۲ ) بیتی دارد. صایت نیز غزلهای ۱۹، ۲۲، ۳۱، ۳۳ و ۳۵ بیتی دارد و بطور کلی ابیات در غزل هندی نامحدود است. (۲ص۱۱)

داکتر پرویز خانلری اوزان غزل را (۲۰ ) تا گفته است. در تدوین علم عروض بار اول خلیل بن احمد پانزده بحر را اختراع و ایجاد کرده است. به هر حال برای غزل پابندی بحر یک امر مبرم و لازمی نیست، در هر وزنی که شاعران می توانند غزل بسرایند ، در ادبیات دری نمونه های از این بسیار بمشاهده می رسد. بعد از مطالعه عمیق ادبیات دری دیده می شود که بعضی شعرا از قیودات و پابندی وزن و قافیه شکایت دارند ، چنانچه مولوی بزرگ میگوید:

قافیــه اندیشم و دلــدار من　　　گــویرم مندیش جز دیدار من
حرف وصوت و گفت رابرهم زقم　　　تا که با این سینه باتو دم زنم (۲ص۴۴)

علامه اقبال لاهوری شاعر شهیر مشرق زمین هم میگوید:

نغمه کجا و من کجا ، ساز سخن بهانه ایست　　　ســوی قطار مــیکشم ناقــه بی زمام را

به هر حال در تمام انواع و اقسام نظم دری غزل دلربا ترین بخش سخن و کلام منظوم است و در هر زمان کسی که حسن لطیف و طبع سلیم و نازک داشته ، در بخش غزل بسیار تمرین کرده است. اگر چه سرودن غزل کار آسان نیست، در نظم یا شعر جذبات و احساسات نازک و باریک را با کمال و جمال ساده ذکر کردن، کمال فن و قریحه هنری است، ولی این ذکر را با تزئین و آرایش لفظی و معنوی بیان نمودن هنر عالی است، زیرا که ازین در حسن شعر تاثیر می افزاید. در غزل موضوعات و مضامین عالمگیر وجود دارند ، علاوه از حسن و محبت، عشق و خرد و مضامین رندانه یعنی ذکر می، می نوشی، باده گستاری، ساقی، پیاله، قدح، میخانه، پیرمغان، مغبچه، خرابات، زاهد ریاکار و غیره به نظر می رسد. چون کمال شعر

عاشقانه، موقوف بر عشق حقیقی است، که ان مختص به عرفان است و در زبان دیگر شعر عرفانی بسیار کم است، لذا هیچ زبانی و هیچ شاعری نمیتواند بر او سبقت کرده و بنا بر جذبات حقیقی در کلام منظوم دری بی نهایت جذب و تاثیر ایجاد شده است. در راه عشق خطرات زیادی موجود است و در این مورد حافظ شیرازی چه خوش سروده است:

ناز کانرا سفر عشق حرام است حرام
که در این راه به هر گام خطری نیست که نیست

یا:

ناز پرورد تنعیم نبرد راه بدوست
عاشقی شیوه رندان بـلاکش باشد

یا:

از صدای سخن عشق ندیدم خوشتر
یادگاری که در این گنددوار بماند

یا:

در ره منزل لیلی که خـطرهاست بجان
شرط اول قدم آن است که مجنون باشی

در جای دیگر چنین خوش می سراید:

هر آن کسی که در این حلقه نیست زنده به عشق　　　بـــرو نمرده بفتـــــوای مـــن نماز کنید

یا:

در بیان گریه شوق کعبه خواهی زد قدم　　　سرزنش هگر کند خار مغیلان غم مخور

در راه عشق و عاشقی هزاران مشکلات و مسایل بوجود می آید ، لذا موضوعات محویت، شوق، شکایت، جانبازی، ایثار و فداکاری، انتظار، هجران و وصال به کار برند ، ولی غزل ترجمان عشق حقیقی و عشق مجازی می باشد و غزل های دری این ویژه گی ها و خصوصیات را دارا می باشد. اکثر شعرای دری به انداز زمیه واردات عشق را مطرح کرده اند ، که تفاوت و تمیز کردن بین حقیقت و مجاز کار بسیار دشوار است، همانطوری که ما میدانیم، غزل از رودکی شروع شد و مولانا جلال الدین بلخی یا مولانای روم در آن مضامین عارفانه را شامل کرد ، بدین ترتیب غزلهای عارفانه الگوی بهترین از مولانای روم داریم، سعدی شیرازی در آن رنگ عاشقانه آمیخته و در غزلهای عاشقانه الگوی بهترین غزلیات عاشقانه سعدی شیرازی قرار گرفته و تقریباً بعد از یک قرن در قرن هشتم هجری حافظ شیرازی مضامین عارفانه و عاشقانه را باهم امیخت، مثلاً می گوید:

مژده وصل تو کو کز سر جان برخیزم
طایر قدسم و از دام جهان بـــرخیزم

گویا بهترین امتزاج عشق حقیقی و مجازی به نظری رسد ، بعد از این شعر را میتوان به هر دو جهت تاویل و تفسیر نمود ، داکتر سروس شمسا می گوید:(( البته گاه این معشوق خدا است، غزل عارفانه و گاه محدوح است و گاه زنی و گاه نوخطی. )) پس برای ابراز و اظهار هر فکر رنگ آمیزی عشق لازم و ضروری پنداشته می شود. در تمام ابیات غزل از لحاظ موضوع تسلسل فکری وجود دارد ، بدین ترتیب لازم نیست، بلکه بیت اول غزل از بیت دوم مختلف میتوان باشد. در غزل های مولانای روم، حافظ شیرازی، امیر خسرو بلخی، دهلوی، غالب دهلوی و اقبال لاهوری نمونه های بسیار به نظر می آیند ، البته خصوصیت و جاذبیت غزل دری در ادبیات آلمانی تاثیر زیاد داشته و آن را تحت شعاع قرار داده، چنانکه از نظر اقبال لاهوری گویته شاعر المانی در اسلوب حافظ شیرازی به زبان آلمانی غزلیاتی سرود و اسم دیوان خود را دیوان غربی نوشت. در غزل که مخصوص برای حدیث زنان بود ، بعداً احوال سیاسی نیز دیده می شود. ملک الشعرا بهار برای بار اول از اصطلاح غزل سیاسی استفاده نمود و دیگر اینکه در آن زنان شعرای ایران موضوعات عشقیه را کنار گذاشته و مضامین

اوضاع اجتماعی را مورد توجه قرار دادند. دکتر سروس شمسا مضامین غزل را این طور تقسیم کرده است، غزل عاشقانه و عارفانه، غزل سیاسی، غزل اندرزی یا آموزشی و غزل مضمونی و...

البته تا حدی که سخن از پیشرفت و انکشاف غزل بزبان میرود ، بعد از مطالعه عمیق در ادبیات دری به این نتیجه می رسیم که از ابتدا تا قرن ششم، یعنی تا زمان حکیم سنایی غزنوی غزل بسیار کم وجود داشت، اگر چه شعرای متقدم در بخش غزل طبع آزمایی کرده اند ، البته این غزل به مثابه اصطلاحی بود که زبان آن ساده و عام فهم بوده، آنرا چنانچه بجای غزل تغزل گفته شود ، بهتر خواهد شد. اولین غزلسرای در زبان و ادبیات دری شهید بلخی (۳۲۵ هـ ق) بود ، که غزلش به عنوان اولین و نخستین غزل دری قرار داده شده است، میگوید:

مرا بجان تو سوگند و صعب سوگندی      که هر گزار تو نگردم ته بشنوم پندی

ترا سلامت باد ، ای گل بهار و بهشت      کـه سوی قبله رویت نماز خـوانندی

شاعر همین دوره ابوعبدالله رودکی سمرقندی که یکی شعرای مشهور عهد سامانیان بود ، در دیوانش سرپا چهار غزل درج است و برتری غزلسرای وی را عضری بلخی ملک الشعرای دربار غزنوی نیز قبول داشته و گفته است:

غزل رودکی وار نیـکو بـود      غزل های من رودکی وار نیست

اگرچه بگویم به باریک و هم      بـدین پرده اندر مرا بار نیست

و بر این اسامی ابوشعیب هروی، کسایی مروزی، ابوالاسحق جویباری و دقیقی بلخی به نظر می رسند ، که چند غزل سروده اند ، در این دوره دوشیزه رابعه بنت کعب قزداری شرف خاصی دارد و در غزل های او اخلاص، سوز و گداز، صداقت، متانت، جوش، محبت و حسن تاثیر وجود دارد ، در مثال زیرین ابیات غزل وی را مشاهده کنید:

مرا به عشق همی محتمل کنی به حیل      چـــه حاجـــت آری پیـــش خدای عزوجل

نعیم بی تو نخواهم، جحیم با تو رواست      که بـــی تو شکر زهـر است و باتو زهر عسل

از لحاظ سن و عمر کوچکتر شاعر قصیده سرای مسعود سلمان است، که در دیوان وی حدود (۲۳) غزل وجود داشت. در قرن ششم غزل تنها تشبیب، نسیب و تغزل نبوده، بلکه به صورت بخش خاص در کلام منظوم ادبیات دری بوجود آمد و حکیم سنایی غزنوی برای بار اول در غزل مضامین عارفانه را بیان نموده است، ابیات زیرین را ملاحظه کنید:

ای دل از مولای عشق باد سلطانی مـکن      در ره آزاده گـــان بسیار ویرانی مکن

همره موسی و هارون باشی در میدان عشق      فرش فرعونی مساز و فعل هامانی مکن

در همین دوره در غزل انوری فرق زیادی بین قصیده و غزل بچشم میخورد ، انوری می گوید:

عجب عجب که ترا یاد دوستان آمد      درا درا کـــه از تو کـــارهـا بجان آمد

مبر مبر خورد خوانم ز داغ هجرم پیش      مکن مکن که غمت سود و دل زیان آمد

در دوره مغول شعرای بزرگ وارد عرصه سرودن غزل شدند ، که غزل را به اوج رسانیدند ، شیخ عطار نیشاپوری در سرودن غزل روش سنایی غزنوی را پیش گرفت، اگر چه او مضامین عارفانه را در غزل بیان نمود ، اما زبان او مانند حکیم سنایی غزنوی محاوراتی نبود و مثل انوری عشق مجازی را مطرح نکرد ، بلکه عشق حقیقی را دگرگون فرمود.

## دسته بندی غزلهای شیخ عطار نیشاپوری از دیدگاه بدیع الزمان فروزانفر:

استاد فروزانفر غزلیات شیخ عطار نیشاپوری را به سه دسته تقسیم کرده است:

۱_ غزلهای عادی و معمولی: که در آن مانند اکثر شعرا صحبت از زلف، خط و خال، قامت و رخسار و عضوه های دیگر یار و معشوق بعمل آورده است.

۲_ غزلهای صوفیانه و عارفانه: که در آن عشق حقیقی، مسایل عرفانی، فنا و بقا ، مسایل هستی و نیستی، وحدت الوجود ، مسایل تجلی و ظهور را بیان کرده است.

۳_ غزلهای قلندرانه: که در آن برائت از ظاهر بینی و ظاهر پرستی، مسجد را ترک کردن و بسوی میخانه رفتن، مذمت از زاهد ریاکار، رسوایی را بهتر از نیکنامی قرار داده است.
الگوی بهتر غزلهای عارفانه غزلیات مولانا جلال الدین محمد بلخی است، که عرفان و تصوف مولانای روم کتابی و درسی نیست، بلکه بیانگر حاصل زنده گی وی و تجربات عارفانه خود اوست. (۵ص۲)
مولوی بزرگ می گوید:

بجوشید بجوشید که مابحر شعاریم　　بجز عشق بجزعشق دگر کار نداریم
چه هستیم چه هستیم از آن شاه که هستیم　　بیـایید بیـایید که تا دست بر آریم

سعدی شیرازی شاعر توانا و والا مقام ادبیات دری که بحیث موسس غزل معروف گشت و او از معنای لغوی غزل استفاده کرده و مضامین عاشقانه به جذبات و احساسات کامل و واردات قلبی اشنا کرد:

مشتاقی و صبوری از حدگذشت یارا　　گر تو شکیـب داری، طاقت نماند ما را
من بی تو زنده گانی خود را نمی پسندم　　کـاسایشی نباشد ، بـی دوستان بقا را

بسیاری شعرا در سرودن غزل از سعدی شیرازی پیروی کرده اند ، که می توان در این زمینه از اوحدی، همام تبریزی، امیر خسرو و غیره یاد آور شد. سعید نفیی امیر خسرو را ((سعدی هند )) قرار داده است. طور نمونه ابیات ذیل امیر خسرو را مشاهده کنید ، که در وصف سعدی شیرازی سروده است:

ای چهره زیبای تو ، رشک بتان آزری　　هر چند وصف می کنم در حسن از آن زیباتری
آفاق را گردیده ام، مهر بتان ورزیده ام　　بسیار خوبان دیده ام، اما تو چیزی دیگری (۷ص۴۱۴)

در قرن هشتم هجری مضامین عاشقانه و عارفانه با هم آمیختند و بدین ترتیب طرز جدید در غزل بوجود امد ، که نمایندگان آن شعرا مانند خواجه حافظ شیرازی، خواجوی کرمانی، سلمان ساوجی قرار گرفتند و بعد از حافظ شیرازی کسی نتوانست که مانند وی غزل بسراید ، اما کسانیکه بعد از وی سرودند ، در واقع از فکر و هنر وی استفاده بعمل آوردند و مقلد حافظ شیرازی قرار گرفتند. دکتر شیمسا می گوید: ((.....از این رو میتوان گفت که حافظ دقیقا وارث مولوی و سعدی یعنی نماینده گان تمام عیار غزل عارفانه و عاشقانه است. ))
بدین ترتیب غزلهای حافظ شیرازی بهترین نمونه امتزاج حقیقی و مجازی شده است. استادی غزلسرای حافظ شیرازی را در غزل زیرین عمیقاً مشاهده کنید:

فاش می گویم و از گفته خود دلشادم　　بنـده عشقیم و از هر دو جهان آزادم
طاهر گلشن قدسم چه دهم شرح فراق　　که در این دامگه حادثه چون افتادم
من ملک بودم و فردوس برین جایم بود　　ادم اورد در این دیـر خـراب آبادم
نیست بر لوح دلم جز الف قامت دوست　　چه کنم حرف دیگر یاد نداد استادم
سایه طوبی و دلجویی حور ولب حوض　　به هوای سر کوی تو بـرفت از یادم
کوکب و بخت مرا هیچ منجم نشناخت　　یا رب ! از مادر گیتی به چه طالع زادم
میخورد خون دلم مردمک دیده سزاست　　که چرا دل بجگر گوشه مردم دادم
تا شدم حلقه بگوش در میخانه عشق　　هر دم از نو غمی آید به مبارکبادم
پاک کن چهره حافظ بسر زلف ز اشک　　ورنه این سیل دمادم ببرد بنیادم (۱ص۳۸۳)

در اواخر قرن نهم و اوایل قرن دهم هجری در ایران صفوی ها حکومت میکردند ، چون شاهان صفوی از مشرب و مذهب تشیع سیراب گشته بوند ، ایشان مدح سرایی پادشاهان و شعر مجازی را دوست نمیدانستند ، لذا بنا بر عدم توجه پادشاهان صفوی بعضی از شعرا به هندوستان و افغانستان هجرت کردند ، اگر چه در آن زمان غزل ضمناً رواج داشت، شفایی و وحشی بافقی در غزل طبع ازمایی میکردند ، البته بابا فغانی شیرازی در غزل با نو اوری (تازه گویی) یا مضمون افرینی قدم نهاد ، یعنی غزل را یک روش جدیدی بخشید ، که شعرای بزرگ ایران و هند از وی تقلید و پیروی نمودند ، مانند مختشم کاشانی، ضمیری اصفهانی، نظیری نیشاپوری، حکیم شفایی اصفهانی، مولانا عرفی شیرازی، مولانا

فیض دکنی، کلیم کاشانی همدانی و مرزا صایب تبریزی و مانند آن شعرای به منظره عام ظهور کردند. به سبب مضامین دقیق، غزل مشکلتر گشت و در غزل تکرار قافیه رواج یافت و تعداد ابیات غزل از پنج تا سی و پنج رسید و شاعران در غزل ضرب المثل و اصطلاحات عامیانه را بکار بردند. پس در زبان غزل آرایش لفظی و مصنوعی حمول یافت، به طور نمونه ابیات از غزل شاعران این دوره را مشاهده کنید، بابا فغانی شیرازی میگوید:

خوبی همه کرشمه و ناز و خرام نیست　　بسیار شیوه هست بتان را که نام نیست
مــاییم و آه نـــیم شب و ناله سـحر　　اهل فراق را طلب صبــح و شـام نیست

وحشی بافقی میگوید:

ما چون ز دری پای کشیدیم، کشیدیم　　امید ز هر کس کــه بریدیم، بریدیم
کوی تو که باغ ارم و روضه خلد است　　انگار کـه دیدیم، ندیدیم، ندیدیم　(۸ص۱۰۱)

عرفی شیرازی می گوید:

دوش در دیر مغان بودیم و کس باما نبود　　گفتگوها رفت و تشویش نفس باما نبود
صد قدم رفتم از کوی او در بس حجاب　　اضطراب یــگ نگاه باز پس باما نبود

مولانا فیضی دکنی چنین می سراید:

میسوزم و به گریه شبی روز میکـــنم　　چون شمع گـــــریه های گـلو سوز میکنم
زین اشک آششین که چو سیماب می رود　　تقلیـــد شمع انجمــــن افروز میـــکنم

شاعر شهیر ادبیات دری طالب املی که در سرودن غزل روش جدید و نو را ایجاد کرد، استعارات لطیف و تشبیهات نایاب و نادر را بکار برده است، اگر با پیروی از سعدی، مولوی، حافظ، عرفی و فیضی غزلها سروده است، ولی بسیار جالب بنظر می رسند:

دوستان شاد شوند از غم پنهانی ما　　جمــع گردد دل یاران ز پریشانی ما
ما که ویران شده گانیم، بدین دلشادیم　　کـــه جهانی شده آباد، ز ویرانی ما

در همین دروه صایب تبریزی شاعر معروف سبک هندی نیز از مولوی و حافظ شیرازی تاثیر پذیر شد و در غزلهایش اصطلاحات تازه، ترکیبهای تسل و غیره بچشم میخورد:

هزاران همچو بلبل هر بهاری می شود پیدا　　نواسنجی چو من در روزگاری می شود پیدا
گرفتم، سهل سوز عشق را اول ندانستم　　که صد دریای آتش از شراری می شود پیدا

ابوالمعانی مرزا عبدالقادر (بیدل) در غزل مضامین و موضوعات صوفیانه، عاشقانه و اخلاقی را مطرح کرده است، که دارای سلاست و جزالت خاص می باشد:

امشب آن مست ناز می رسدم　　رفتن از خویش بامی رسدم
گر رموز حقیقتم این است　　هر کجایم مجاز می رسدم

در قرن دوازدهم هجری که آن را دوره بازگشت ادبی می توان نامگذاری کرد، بار دیگر غزل از مشکل پسندی، خیال بافی، مضمون افرینی و تصنع کاهش یافته و بسوی ساده و روانی بازگشت. شاعران مانند اصفهانی، نشاط کاشانی، شفیع وصال، صباحی کاشانی و غیره معروف گشتد. بعداً عدهٔ از شاعران مانند رهی معیری، شهریار، ملک الشعرا محمد تقی (بهار)، اقبال لاهوری به همان روش قدیم غزل سرودند، چنانچه اقبال لاهوری میگوید:

غزل سرایی و نواهای رفته باز آور　　به این فسرده دلان، حرف دلنواز آور　(۳ص۲۲۵)

## نتیجه:

در فرجام باید اذعان کرد که غزل یکی از اقسام دلپذیر و مورد پسند و قبول صاحبان ذوق و مشتاقان کلام منظوم ادبیات دری بوده و در هر زمان مورد استقبال و پذیرش قرار گرفته است و در نظم از مقام و منزلت خاصی برخوردار است، شعرای

غزلسرای سعی بلیغ بکار میبرند ، تا طبق امیال و مورد پسند غزلهای ایشان را پی ریزی نمایند و در هر زمان از پذیرایی خاص و بی صبرانه اهل ذوق قرار گیرند.

**مناقشه**:

در غزلهای معمولاً از خط و خال، گیسو و رخسار، قد و قامت، حسن و جمال معشوقه تذکر بعمل می آمد و شعرای متقدم میکوشیدند تا در غزلهای خود رنگ عاشقانه را تجلی دهند ، بعداً در غزلها موضوعات عرفانی و تصوفی پدیدار و اشکار گردید و شعرای غزل گوی از عشق مجازی به عشق حقیقی که زوال ناپذیر است، گرائیدند. عده دیگری در قرون بعدی موضوع غزل را تغیر داده مسایل سیاسی، اندرزی و مضمونی را در آن گنجانیدند ، که تا اکنون سرودن همچو غزلها ادامه دارد.

**پیشنهادات**:

حین مطالعه و خواندن کلام منظوم ادبیات دری بخصوص بخش غزل، که یکی از زیباترین و دلپزیر ترین اقسام نظم بشمار میرود ، بجای معنای مجازی و ظاهری، به معانی و مفاهیم حقیقی و معنوی آن دقت خاص و توجه صورت گیرد ، تا از اعماق دل به سوز و گداز درونی شاعران و غزلسرایان پی برده شود.


## Abstract:

At the otset varions kinds of Ghazal and its peculiarities have been discussed . for classical poets speciments of poetry by shaded balkhi ,Roodaki, Rabia Balkhi , and Masood Saad have been quoted . Then from Middle ages style of Ghazal of Hakeem sanaie , Anurai , Maulana jalaluden balkhi , Saadi Hafiz and many others came under review. From later poets ghazal composers like Baba Fughani , Wahshi Bafiqi , Urfi , Faizi , Nazeeri , Talib Amoli , Saib Tabrizi , Bedil and Ghalib have been touched puon , lastly poets of 13 century and contemporary com posers of ghazal like nishat , Hatif , Shahriar , Bahar , Iqbal , lahori have been discussed, Overall beginning and development of ghazal form has been reviewed.


**ماخذها**:


۱_ حافظ، شمس الدین محمد. (۱۳۸۲). دیوان کامل حافظ. تهران: سفیر صبح

۲_ شمیسا ، سیروس. (۱۳۸۲). سیر غزل در شعر فارسی. تهران: موسسه انتشارات امیر کبیر

۳_ صفا ، ذبیح الله (۱۳۲۷). تاریخ ادبیات ایران. تهران: موسسه انتشارات امیر کبیر

۴_ غیاث الدین محمد.(۱۳۶۱). غیاث اللغات. تهران: موسسه انتشارات امیرکبیر

۵_ فروزانفر، بدیع الزمان. (۱۳۴۰). شرح احوال و نقد و تحلیل اثار شیخ فریدالدین عطار نیشاپوری. تهران: موسسه انتشارات امیر کبیر

۶_ مولانای روم، جلال الدین محمد بلخی. (۱۳۴۱). کلیات شمس تبریزی. تهران: انتشارات جاویدان

۷_ سعدی، مصلح الدین. (۱۳۶۵). کلیات سعدی. تهران: موسسه انتشارات امیر کبیر

۸_ وحشی بافقی، میرکمال الدین. (۱۳۷۳). دیوان وحشی. تهران: موسسه انتشارات نگاه

پوهنمل بهاء الدين (جلالي) - انجنيري پوهنځی
عــمومي تخنيـــکي مضمونونو څـــــانگه

# د رياضي او گرافيک په مرسته د پېچې منحني خط اوږدوالي پيدا کول

## لنډيز:

دا چې په اوسنيو شرايطو کې د انجنيري اکثره ډيزاينونه د غيرې مسلکي او غيرې فني اشخاصو په واسطه ترسره کېږي چې په نتيجه کې نه يوازې دا چې اقتصادي ستونزو ته پاملرنه نه کوي، بلکې تخنيکي ستونزو ته هم نه متوجه کېږي چې په نتيجه کې د گټې اخيستنې په موقع مطمين کار نشي کولای او د توليد شوي واحد قيمت هم کېدای شي لوړ شي، نو لازمه ده چې د هغو مسلکي او فني اشخاصو لپاره چې د داسې تخنيکي کارونو دندې په غاړه لري د هغوی پاملرنه تخنيکي،اقتصادي وريانتونه پرتله کولو ميتود ته اړوو ، تر څو وشي کړای مناسب توليدي واحد اماده کړي چې د هغې د مساحت، حجم، اوږدوالي، مقاومت او ډيزاين له مخې وشي کړای د توليدي واحد د تمام شوي اقتصادي قيمت ځانته مشخص کړي.دا چې ټولو ته معلومه ده چې نن سبا انجنيري محاسبه که د ساختمان په برخه کې وي او که د ماشين الاتو په برخه کې ټول د رياضي طريقو په مرسته تر سره کېږي، لکه د مساحت، حجم، اوږدوالي، مقاومت او ډيزاين نور محاسبات ټول د رياضي په مرسته کېږي، خو پورتنۍ څېړنه ښيي چې گرافيکي محاسبې په انجنيري او مسلکي چاروکې ځانگړی ځای لري.

## سريزه:

هره څېړنه او ليکنه ځانته موخې او هدفونه لري او هره موخه ځانگړي ميتودونه، روشونه او طريقې لري چې ليکونکی يې د ضرورت په اساس په مناسبه طريقه، کړنلاره او ميتودونه انتخابوي، ترڅو لوستونکو لپاره په زړه پورې مسايل وړاندې کړي چې په دې ليکنه کې د رياضي او گرافيکي طريقو يادونه شوې ده.د اجسامو د مساحتونو ، حجمونو ، اوږدوالي او نورو پارامترونو محاسبه په تخنيک او ساختماني چاروکې يو د ضروري محاسبو څخه دي چې د يو ساختمان د جوړولو لپاره بايد ترسره شي. په دې څېړنه کې د هغو اجسامو د اوږدوالي محاسبه شوې ده چې منحني شکلونه لري. يو منحني خط د يوې حلقې په شکل دوراني حرکت لرې او د يوې استوانې په اطراف تاو شوې چې د اوږدوالي محاسبه يې د رياضي فرمولونو په واسطه ترسره کېدای شي او په دغه برخه کې دا محاسبه يعنېډ (منحني خط) د اوږدوالي پيدا کول د تخنيکي رسم (گرافيکي) طريقې په مرسته هم تر سره کېدای شي چې د محاسبې پرته لاسته راځي چې پوهېدل يې د تخنيکي انجنيرانو لپاره ډېر ضروري ده، خصوصاً د هغو انجنيرانو او مسلکي کسانو لپاره چې د برق په رشته کېکار کوي اوبرقي سامات الات جوړوي، ارميچرونواو ډاينموگانو په ډکولواو جوړولو کې دسيم د اوږدوالي د معلومولو لپاره هم نو موړې فرمولونواوطريقو څخه کار واخلي.

## موخې:

- د استوانه يي پېچې منحني خط اوږدوالي معلومول د رياضي فرمولونو (ميتودونو ) په مرسته.
- د استوانه يي پيچې منحني خط د اوږدوا اليمعلومول د تخينکي رسم (گرافيکي) طريقې په مرسته.
- د رياضي او گرافيکي محاسبو ځانگړتياوې او نيمگړتياوې.

د رياضي ميتودونو (فرمولونو ) په مرستهد استوانه يي پيچې منحني خط طول معلومول:

د موضوع د ښه وضاحت لپاره لومړی شکل په نظر کې نيسو چې د يوې استوانې په اطراف چې **80 mm** لوړوالی لري، يو منحني خط **n** ځله دوران وکړي ضرورت دی چې د نوموړي منحني اوږدوالی پيدا کړو:




لومړی شکل:د استوانې په محيط باندې د پيچي خط موقعيت. (۱م۹۲؛۲)

د لومړي شکل څخه معلومېږي چې يوه استوانه چې د **i** محور لرونکې ده او د **i** استوانېمحور په افقي مستوي باندې عمود ده او نقطه د **A** د موقعيت څخه حرکت کوي او د استوانې په اطراف د **2π** په اندازه مکمل دوران کوي او **B** موقعيت ته رسېږي چې د نقطې مسير يو منحني خط تشکيلوي که چېرې وغواړو د نوموړي منحني خط اوږدوالی محاسبه کړو کولای شو د رياضي د فرمولونو څخه په ګټه اخيستنې سره لکه د (۱) فرمول په مرسته په لاندې توګه محاسبه کړو:

$$L = \sqrt{h^2 + (2\pi R)^2} \quad ..................۱$$

چې په پورتني فرمول کې:

**L**– د هغه منحني خط اوږدوالی چې د استوانې په محيط باندې د **2π** په اندازه دوران کوي.

**h**– قدم يا هغه فاصله چې منحني خط په کې لوړوالی پيداکوي، يعنې پورته ځي.

**R**– د هغه استوانې شعاع ده چې منحني يې په اطراف تشکيل شوې ده. (**۵**م**۳۶**)

که چېرې د استوانې شعاع **R=30mm**، **h=40mm** د منحني اوږدوالی د يوه قدم يا يوې دورې لپاره پيدا کړو، نو د قيمتونو د وضع کولو په صورت کې ليکلای شو چې:

$$L = \sqrt{h^2 + (2\pi R)^2} = \sqrt{40^2 + (2 \cdot 3.1428 \cdot 30)^2} = \sqrt{1600 + 35557} = \sqrt{37157} = 192.78$$

که چېرې د قدم شمېر n=2 ته ورسېږي، په دې صورت کې د منحني اوږدوالی مساوي کېږي په:

$$Ln = n \cdot \sqrt{h^2 + (2\pi R)}$$

که چېرې په پورتني فرمول کې د n او L قيمتونه وضع کړو، نو لاسته راځي چې:

**Ln=2 · 192, 78 = 385.5mm**

پورتنی فرمول په فني ډول د ډينموگانو د ارميچرونو د ډکولو په وخت کې د ځينو نورو پارامترونو په نظر کې نيولو سره د سيم د اوږدوالي د معلومولو لپاره هم استعمالولای شو.

## په گرافيکي ډول د استوانه يي پيچي خط اوږدوالي معلومول:

لکه چې معلومه شوه چې د رياضي په مرسته هر ډول مسئلې لکه مساحت معلومول، اوږدوالي معلومول، حجم معلومول تر سره کېږي، خو نن سبا په ساختماني او گرافيکي چارو کې دومره پرمختگ شوی دی چې پورتنۍ مسئلې په گرافيکي ډول هم حلولای شو چې د نمونې په توگه د استوانه يي پيچي خط اوږدوالی چې د يو باستوانې په محيط تاو شوی دی، د يو دوران لپاره پيدا کوو، لاسته راوړل شوی عدد د دوران په شمېر کې ضربوو چې ددې کار لپاره يو قايمه استوانه چې محور يې (i) په افقي مستوي باندې عمود دی 80 mm لوړوالی لرياو ϕ60mm قطر لري، کله چې منحني د A د موقعيت څخه حرکت کوي او د h=40 mm په ارتفاع سره يو دوره کوي، يعنې 2π په اندازه دوران کوي او يو قدم S=h=40 په فاصله لوړوالی اخلي او B نقطې ته رسېږي، د دې منحني اوږدوالی د يوه دوران لپاره پيدا کوو، که چېرې نوموړې نقطه n ځله دوران وکړي د يو دوران حاصل په n شمېر کې ضربوو چې په اسانۍ سره د منحني اوږدوالی لاسته راځي.د پورتنۍ موضوع د حل لپاره د 2 شکل مطابق:

1. لومړی نوموړې استوانه د 60mm په قطر او د 80mm په لوړوالي رسموو.
2. د استوانه يي قاعده (افقي نما ) چې دايره تشکيلوي په ۱۲ مساوي برخو او هم د استوانه يي ارتفاع په هماغه شميره (۱۲ مساوي برخو ) ويشو (هر څومره چې په زياتو برخو وويشو شکل په دقيقه توگه لاسته راځي).
3. د افقي او عمودي ارتباطي خطونو د امتداد د تقاطع په نتيجه کې د منحني خط مسير لاسته راځي.
4. د منحني خط د خلاصولو (گسترش) لپاره يو افقي خط د x په محور باندې د 2π R په اوږدوالي سره چې د دايرې د محيط اوږدوالی دی، رسموو او په ۱۲ مساوي برخو يې ويشو.
5. د y په محور باندې د استوانې ارتفاع په نښه کوو، او په ۱۲ مساوي برخو يې ويشو.
6. د افقي او عمودي ارتباطي خطونو د تقاطع په نتيجه کې ۱۲ د تقاطع نقطې لاسته راځي (۳ شکل مطابق).
7. که چېرې نوموړې د تقاطع نقطې سره وصل کړو، د MN مستقيم خط لاسته راځي، که چېرې نوموړی MNمستقيم خط د خطکش په واسطه اندازه کړو د منحني خط اوږدوالی راکوي چې مساوي دی په (192.78mm) سره.
8. کهچېرې وغواړو د n=2 ځله دورې منحني خط اوږدوالی معلوم کړو، نو په دې صورت کې د منحني خط اوږدوالی د يوه قدم لپاره په n شمېر کې ضربوو، يعنې په هغه شمېر چې ضرورت ويکولای شو چه محاسبه يې کړو:

$$l = l \cdot n = 192.78 \cdot 2 = 385.5511 \quad mm$$




دویم شکل:د منحني خط رسمول په ګرافیکي طریقه




درېیم شکل: د منحني خط اوږدوالي پیدا کول په ګرافیکي طریقه (۳م۳۵)

د ریاضي او ګرافیکي محاسبو ځانګړتیاوې او نیمګړتیاوې:

دمساحتونو، حجمونو او اوږدوالي محاسبه کول نن سبا په ساختماني چارو کې او همدارنګه په تخنیکي چارو کې ډېر ضروري دی، دا چې ریاضي د ټولو علومو مورده، نو ځکه پورتنۍ مسئله د ریاضي په مرسته په اسانۍ سره حلېدلای شي، خو کله چې تخنیکاو تکنالوجي ورځ په ورځ پرمختګ کوي او نوې بریاوې منځته راځي، نو د تخنیک علماو وکولای شول نوموړي مسئله د (منحني خط اوږدوالي پیداکول) د ګرافیک طریقو په واسطه لاس ته راوړي، د ګرافیکي طریقې ځانګړتیاوې نسبت ریاضي طریقې ته دادي چې کله په ګرافیکي ډول د منحني خط اوږدوالی پیداکوو ورسره یوځای هغه زاویه چې منحني خط د استوانې د قاعدې سره جوړوي $\alpha=12^{o}$ درجې لاسته راځي، که چېرې د مثلثاتي توابعو جدول ته مراجعه وکړو، وینو چې:

$$\sin\alpha = \sin 12 = 0.209691$$

$$\overline{MN} = \frac{40}{\sin 12} = \frac{40}{0.207911691} = 192.389 \quad mm$$




څلورم شکل: د پیچي خط د میلان زاویه.

مطلب دا چې ګرافیکي محاسبه د منحني د میلان زاویه هم په لاس راکوي چې په ریاضي کې د زاویې پیداکول ستونزمن دی.

## پایله:

د هرې یوې موضوع د څېړنې لپاره څومره میتودونه او طریقې چه موجودېدې نتیجه یو شان ده، خو د میتود یا طریقې په انتخاب کې د څو طریقو د استعمالولو مقایسه کوونکي لپاره دا امکان ورکوي او ورته جوته کېږي چې څېړونکي ښه طریقه کوم چې د ده لپاره ډېرهاړینه او مهمه معلومېږي د هغې طریقې څخه کاراخلي، لکه د پورتنیو طریقو څخه معلومېږي چې د ګرافیکي طریقې پرته له هغه اوږدوالي څخه چې مطلوب دی، د منحني خط د میلان زاویه $\alpha$ هم لاسته راځي. لکه څنګه چې جوته ده چې اصلي تکنالوژي نن سبا ډېره پرمختللې ده او ډېرې محاسبوي مسئلې د کمپیوټر په مرسته په اسانۍ او چټکۍ سره ترسره کېږي، که چېرې د پورتنیو ذکر شوو طریقو (ډیزاین او محاسبه) د اتوکیډ Auto Cad د کمپیوټري پروګرام په واسطه ترسره شي، نتیجه به په دقیقه توګه لاسته راشي.

## مناقشه:

لکه څنګه چې د یوې استوانې په محیط باندې د یو منحني خط یا مسیر اوږدوالی معلومول د ریاضي فرمولونو په مرسته علماو ډېرې څېړنې کړې او د عالي ریاضي د فرمولونو په مرسته د یو استوانه یي منحني پیچي خط اوږدوالی د لاندې فرمول په واسطه پیدا کړی دی چې:

$$\text{Length}=\int_a^b \sqrt{\left(\frac{dx}{dt}\right)^2 + \left(\frac{dy}{dt}\right)^2 + \left(\frac{dz}{dt}\right)^2}\, dt$$

چې t د a څخه تر b پورې قیمتونه اخیستلای شي، خو کله چې علماو په دغه برخه کې نورې څېړنې کړې، نو لاسته یې راوړې چې:

$$L = \sqrt{h^2 + (2\pi R)^2}$$

چې په اسانۍ سره د نوموړي خط اوږدوالی لاسته راځي. ددې تر څنګ تخنيکي علماو د څېړنې په پایله کې ثابته کړې ده چې د ګرافيکي طريقو په مرسته نه يوازې د نوموړی استوانه يي پيچي منحني خط اوږدوالی پيدا کېږي، بلکې د نوموړي خط د ميلان زاويه هم په عملي ډول لاسته راځي، لکه څنګه چې دواړه طريقې وڅېړل شوې، د څېړنې د نتايجو څخه معلومېږي د مسلکي انجنيرانو لپاره په لومړي سر کې رياضي طريقه ډېره ضروري ده چې پرته د ګرافيکي طريقې خپل مسلکي مسايل حل کړي، خو کله چې د نقشو په رسمولو پيل کوي او ګرافيکي سواد زده کړي، بيا کولی شي د رياضي ډېرې مسئلې په ګرافيکي ډول حل کړي او کولی شي ځينې پارامترونو ته نور هم لاسرسی پيدا کړي، لکه په پورتنۍ مسئله کې چې د ميلان زاويه په لاس راغلې. (۲م۷۸۷-۷)

## وړانديزونه:

د پورتنيو څېړنو څخه معلومېږي چېد يو منحني خط (استوانهيي پيچي منحني خط) د اوږدوالي معلومول که څه هم رياضي ميتود او طريقې ډېرې مهمې او بنيادي دي، خو ګرافيکي طريقه (ميتود) هم يو عملي طريقه ده او د خپل کار نتيجه عملاً کتلای شو او نورې څېړنېيې په اړهکولای شو، خو مسلکي انجنيران مخکې له دېچېپه ګرافيکي طريقو پيل کويبايد يوښه رياضيپوه هم واوسي.


## Abstract:

As we know now a day engineering programming will accomplish with unprofessional and nontechnical people, in result they will don’t give any attention to economical problems and also they give no attention to the technical problems too. So in the result they don’t do the assured work and maybe the cost of the production will increase.But the professional and technical peoples who have experience in this technical works they will know how to make a proper production with their measurement, volume, length, resistance and design, the professional peoples will make specified cost for the production. Everyone knows that, we can do engineering calculation for both cavil engineering and mechanic field by the help of mathematics such as Area, Volume, length, strength, design and etc. The above investigation shows us that graphical calculation has its own important and specific engineering and professional fields.


## اخځليکونه:


۱:نظامي. ( ). رسم تخنيک. کابل: کابل پوهنتون چاپ.

2:GeorgeB. Thomas; J.rCalculusandAnalyticgeometry 8 theditionWesleypublishingNewYork 1992 (p-g 787).

3:AutoCAD- 2010. Dedban, M. Tehran Farhang. 1388.

4: J T Dygdon Technical drawing New York 1986.

5: Э. К.Волошин, Челпан начертательная геометрия-инж-ая графикаМосква 2009 (cmr.36).

6: Ю.И.Короев Черчение для строителей Москва 2009.

7: А.Ф.Кокошко основы начертательной геометрии Минск 2009, стр 84.

8: В.С.Левецкий машиностроительное черчение Москва2009 (стр 62).

پوهنمل عـــلاوالـــدين (حـــسام)
ښوونې او روزنې پوهنځی- پښتو څانګه

# د ژان ژاک روسو اثار او افکار

## لنډيز:

ژان ژاک روسو (Jean Jacques Rousseau) له ناروغۍ او روحي ستونزو سره سره په خپلو خلکو او ټولنه کې ډېر مينه وال او پيروان درلودل. سره له دې چې ناداره او په ټولنيزې ټيټې پـوړۍ پورې يې تړاو درلود، خو چندانې د خپل فکر په بيان کې يې د دربار او واکوالو پروا ساتلې نه ده، خپل اندونه او فکرونه يې په خپلې پوهنيزې زړورتيا ليکلي او د ټولنې پر روانو حالاتو يې خپل نظر په بې پروايۍ. سره د قلم په څوکه ليکلي چې په ژوند او هم تر مرګ وروسته د خلکو له تودو ولولو سره مخ شوی؛ د خپلو اندونو او روښانو فکرونو پر مټ يې د خلکو زړونه او ذهنونه روښانه کړي، په زړه پـورې داستاني، فلسفي او ښوونيز اثار يې نړيوالو ته وړاندې کړي دي. د انسان پر خپلواکۍ باور، د فرد او ټولنې حقوقو ملاتړ او نورې ادبي هڅې يې د پام وړ دي.

## سريزه:

هنر او ادب د انساني ټولنې د شريک مال په توګه د خپلې ټولنې د فکرونو او خيالاتو، پېښو، اقتصادي او اخلاقي پديدو يوه پراخه هېنداره ده، چې هره ټولنه پکې ځان ځرګندوي، هر ملت په خپل ملت پورې اړوند هنري او ادبي، اخلاقي اثار پنځوي چې د همغې ټولنې ځانګړې تجربې، ښوونې او فکرونه په کې بيانېږي، خو کله داسې فکرونه په دغو اثارو کې وړاندې شوي وي چې تر خپلو پولو اوړي او د انساني پراخې ټولنې برخه ګرځي. دغه ډول ليکوال غواړي چې خپل اندونه له نړيوالو سره شريک کړي، خپلې تجربې، زده کړې او روحيات نورو ملتونو ته وښيي. په نړيوالو څېرو کې داسې ډېر ليکوالان او شاعران شته چې خپل فکرونه د خپل منطق او پوهې پر مټ پر نورو ملتونو ومني او نور قومونه يې د فکر له مثبتو او ګټورو اړخونو څخه ګټه واخلي؛ د ژان ژاک روسو ( Jean Jacques Rousseau) نوم د خپلو فلسفي او ښوونيزو اندونو او تجربو په درلودو سره د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسېدلی دی. سره له دې چې ډېر ناداره، بې کوره او زده کړې يې نامنظمې وې، خو بيا يې هم د خپلو ليکنو له لارې د خلکو زړونو ته لاره مونده او خلکو ورته درناوی درلود. نوموړی د رښتيني ليکوال په توګه د خپلې ټولنې د حقيقتونو په سپړنه کې رښتينی دی، په دې اړه به يې خپل اندونه ځرګندول، د تمدن له منفي اړخونو څخه بېزاره دی او نيوکې يې پرې کولې او هم دا څېزونه يې په ټولنه کې د خپرېدلو وسيله ګڼې.

## موخې:

- له نړيوالو څېرو سره بلدتيا.
- د سترو شخصيتونو له افکارو ګټه اخستل.
- د ژان ژاک روسو (Jean Jacques Rousseau) د ژوند له تجربو څخه ګټه اخستل.

## لنډه پېژندنه:

ژان ژاک روسو (Jean Jacques Rousseau) د سويس په هېواد کې د يوې فرانسوي اره پروتستان په کور کې پر۱۷۲۲کال وزېږېد، پلار يې عياش او قهرجن ؤ، مور يې د روسو تر پيدا کېدو وروسته مړه شوه، روزنه يې د پلار په غاړه شوه. روسو لس کلن ؤ چې پلار يې له چا سره د جګړې پر سر له فرانسې وتښتېد او روزنه يې د تره په غاړه شوه.

روسو په سويس کې د ژان په بواسي کې له لامبريسه کشيش سره خپلې زده کړې پيل کړې، دوه کاله وروسته يې له هغه سره زده کړه پرېښوده، لومړی د رسمي اسنادو په دفتر کې وګومارل شو، بيا(Gravrure) نقشو او انځورونو جوړوونکي محسوسه دستګاه کې چې د عکاسۍ دستګاه ته ورته وه، شاګرد شو، په ۱۷۲۸(ساوويا) ته لاړ او د بې کورۍ ژوند يې پيل کړ، په(ساوويا) کې کاتوليک مذهب ته وګروهېد. (۴م۵۸۵)

روسو ډېر تېز ذهن او نرم احساس درلود، د خپلو عواطفو په څېر مهربان و، د طبيعت ښکلا او د ژوند تراژيدۍ ژړاوه. خبرې کول يې دين او ايين و. (۷م۳۰۳-۳۰۴)

روسو په ۱۷۲۸ز پېړديز کال کې له مېرمن دووارون سره اړيکې پيدا کړې، ددې مېرمنې اغېزې پرې زياتې وې. په ونيز کې له يوې(دوبۍ) پيغلې سره چې نالوستې وه، اشنا شو، يو څه وخت وروسته يې ورسره واده وکړ، تر واده وروسته يې پنځه ماشومان پيدا شول او پنځه واړه يې د بې سرپرسته ماشومانو ادارې ته ورکړل چې بيا پرې پښېمانه هم و. نوموړې مېرمنې يې په چارو کې ډېره مداخله کوله، ددې لپاره چې د روسو اقتصادي ژوند ښه نه و، نو د ژوند لګښت به يې د دوستانو له خوا ورکول کېده، له خپلې ټولنې سره يې سمون نه کاوه، د خپګان او درد خبره وه. لس کاله يې ډېرې دندې ترسره کړې، په ليون کې د موسيقۍ لاربنود و، د کورني ښوونکي او منشي په توګه يې هم دندې ترسره کړې، نيمايي عمر يې په ليکوالۍ تېر کړ، په همدې وروستۍ نيمايي کې يې ډېر ارزښتمن اثار وليکل؛ په ۱۷۶۶ کال د (ديويد هيوم) په بلنه انګلستان ته لاړ، تر يو نيم کال وروسته بېرته فرانسې ته راغی، په بېلابېلو ښارونو کې يې د در په درۍ ژوند تېر کړ، په پای کې يې پر ۱۷۷۸ کال دا نړۍ د تل لپاره پرېښوده.

## د ژان ژاک روسو افکار:

روسو پر ټولو خلکو بې باوره و، په دماغي ناروغۍ اخته و، کومه ناروغي چې ده درلوده، که څوک پرې اخته شي، د ټولنې ټول خلک تر ځان ټيټ ګڼي؛ روسو تل ځان بې ګناه ګاڼه، هر وخت په دې فکر و چې خلک يې افکار سم نه ګڼي، سره له دې بيا هم ستر ليکوال او فيلسوف ګڼل شوی دی. ده له خپلې شخصي تجربې دا زده کړې و چې په ټولنه کې نېک کسان خوشبخته کېدای نه شي، نو ځکه يې پر ټولنې نيوکه کوله، ټولنې ته يې د تصنې او فاسد څيز په سترګه کتل. پر عقل يې هم نيوکه کوله، ده به ويل، که يوازې عقل د انسان لارښود وي، نو دا يو دروغجن دليل دی. سره له دې چې نوښتګر ليکوال نه و، خو د خپلو اندونو او فکرونو پر مټ يې نړيوال شهرت ګټلی دی. دده افکار سويس د بورژوازي جمهوريت غوښتونکو پروتستانو له مفکورې څخه خړوب شوی و. د ديموکراسۍ پر بنسټونو يې د فرانسې پر انقلاب د اروپا او امريکا پر رومانتيک خوځښت سترې اغېزې درلودې، دی ګروهمند و چې انسان پاک او سپېڅلی پيدا شوی، خو تمدن يې له فساد سره مخ کوي. د روسو په اند د انسان عواطف او کتنې د باور وړ دي، دده په عقيده يوازې طبيعت د تمدن له ورانوونکو اغېزو په امن پاتې دی، پر دې سربېره انسان د ستاينې وړ ګڼي؛ روسو وايي چې دا سمه نه ده چې ځينې خلک ډېره پانګه ولري، په داسې حال کې چې ځينې بدبخته، ناداره او سخت ژوند تېروي، ټول امتيازات د اشرافو په لاس وي او د زياتو امتيازاتو خاوندان وي. دا د عقل خلاف عمل دی چې ټول دولت د يو شهزاده واک ته ورکړ شي يا احمق او ظالم واکمن پر ټولنه واک وچلوي، هغه څوک چې د مال حريص نه وي، خپلو همنوعانو ته تاوان نه رسوي. پر دې سربېره وايي چې انسان خپلواک پيدا شوی، خو ټولنه يې په زنځيرونو کې ښکېلوي، ټولنه انسان په فساد اخته کوي، ددې لپاره چې انسان هوسا او خوشحاله ژوند وکړي، ددې لپاره چې انسان لومړيو ټولنو ته بېرته نه شي ګرځېدلی، نو بايد ټولنيز او سياسي بدلون په داسې ډول په کې راوستل شي چې متمدن انسان په کې خپل طبيعي ښه والی وساتي. (۲م۵۷۸)

سره له دې ټولو روسو پر الله ج کلک باور درلود، ولې بيا يې هم په هيڅ کشيش، کليسا او مکاشفې عقيده نه لرله، خو مذهبي ګڼل شوی؛ عيسوي روحانيونو به روسو تر ټولو غير عيسوي مذهبو دښمنانو څانته خطرناک ګاڼه، په همدې لامل د فرانسې د کاتوليکانو او د ژنيو پروتستانو له خوا محکوم شو.

## د ژان ژاک روسو اثار:

۱- هنر او طبيعي علوم: دا يوه مقاله ده چې په۱۷۵۰ کال کې د يژن د اکاډيمۍ لومړۍ درجه جايزه يې ترلاسه کړه، دې پوښتنې ته په کې ځواب ويل شوی چې ايا پوهه (علم) او هنر د اخلاقو او دودونو پر ښه کېدو اغېزه کړې او که نه؟ روسو د ديدرو په وړانديز دې پوښتنې ته ځواب ورکړ. په دې مقاله کې د تمدن پر ورانوونکو اړخونو او دروغجن تمدن نيوکې او کلک ګوزارونه شوي دي.

۲- د انسانانو تر منځ د نابرابرۍ اصل: د انسانانو تر منځ د نابرابرۍ اصل ۱۷۵۵کال کې ليکل شوی. د مخکېنۍ مقالې (د هنر او طبيعي علوم) غځونه ده، په دې برخه کې روسو بومي يا سورپوستکي امريکايان د لومړۍ ټولنې د فرهنګ په لرلو بختور ګڼلي دي؛ وايي هغه وخت د انسانانو ترمنځ برابري له منځه لاړه چې ځينو انسانانو د پانګې، قدرت او مال ګټلو پسې ملا وتړله، همدغه قدرت، مال او پانګه د نابرابرۍ لامل وګرځېدل.

۳- ژولي يا نوی هلوييز: تر دې سرليک لاندې يې يو داستان دی چې سرچينه او منبع يې د روسو او دودتو له مينې او کلاريسا هارلو د (ريچارد سون شهکار) ده. ددې داستان طرحه د منځيو پېړيو (هلوييز او ابلار) د مينې اړيکې او پېښې دي، ژولي پر خپل ښوونکي (سن پرو) زړه بايلود، مينه يې رسوا شوه، ژولي له بل چا سره واده وکړ، سن پرو له ملک څخه بهر ووت، کله چې بېرته راغی، ژولي ورسره واده کولو ته چمتو شوه، خو مرګ ترې واده پاتې کړ. د روسو په اثارو کې نوی هلوييز او اميل (۱۷۶۰او اميل ۱۷۶۲) کال چاپ دا سې اثار دي چې ډېر لوستونکي يې درلودل، په ځانګړې ډول د ښځينه لوستوالو تر منځ، دغو دوو اثارو د خلکو په زړونو کې دومره مينه پيدا کړه چې د روسو د ژوند پر مهال او تر هغه وروسته(۱۷۷۸) کال يو ډول د ژان ژاک پرستۍ مذهب يې رامنځته کړ. (۷م۳۸۵)

۴- نرګس: ۱۷۴۰کال خپور شو، يو خندوونکی او کمېډي اثر و چې زيات شمېر لوستونکي يې پيدا نکړل، ځکه نو دومره بريالی اثر نه ګڼل کېږي.

۵- اعترافات: په (۱۷۶۵–۱۷۷۰) کلونو کې ليکل شوی او له۱۷۸۱ څخه تر ۱۷۸۷کال پورې خپور شوی، دا د روسو يو څرګند او روښانه اثر دی، خو ډېر دقيق نه دی. په دې اثر کې تر (۵۰) کلنۍ پورې د خپل فکري بدلون رابدلون خبرې کوي، خپلې تېروتنې او خپله ګناه په بې پردې، لوڅ او رښتينولۍ بيانوي، اعترافات د نوي سبک پيل دی چې خپل (ځاني احساساتو، خپله ځانګړتيا او عاطفي بيانول دي) دا د روسو شهکار ګڼل کېږي چې تر اوسه په نړۍ کې تر ټولو ليکل شويو اعترافاتو ستره اعترافنامه ده.

اميل: روسو د خپل دغه کتاب په باب څه وايي؟

روسو ته د همدې کتاب پر بنسټ د نوې ښوونې او روزنې د پلار لقب ورکړل شوی او کتاب د نوې ښوونې او رزونې د نويو ارونو پلی کوونکي اثر په سترګه ورته ګوري، خو روسو يې د ښوونې او روزنې کتاب نه ګڼي، بلکې يو فلسفي اثر يې ګڼي. ليکوال نه غوښته چې په ليکنه کې طنزي ژبه وکاروي او نه يې غوښتل چې پر مفکرينو او په ځانګړې ډول فيلسوفانو نيوکه وکړي. نوموړي په خپل دغه اثر کې د خپل يو خيالي زده کوونکي اميل د زده کړې لارې ښيي، دی وايي چې د اميل په څېر زده کوونکي کولی شي چې خپله په فساد ککړه، لار ورکې ټولنه د بې ايمانو او بې سوادو ښوونکو له شره وژغوري. (۸م۲۰۳)

د ښوونې روزنې او مذهب په اړه د روسو عقايد بيانوي چې د روسو د ژوند له شخصي حالاتو سرچينه اخلي، (اميل) دا سې ماشوم دی چې په ازاد طبيعت کې روزل شوی، بدني روزنې ته هڅول شوی، په ځوانۍ کې پرې د پلوتارک اثار لوستل شوي چې احساسات يې راژوندي شي. روسو په دې اثر کې خپل فکر په دې ډول بيانوي: ماشوم ته بايد وخت ورکړل شي چې د نورو له مداخلې پرته وده وکړي، دده په عقيده د ښوونې او روزنې هدف دادی چې د ماشوم پټ استعداد وده وموندل شي او پالنه يې وشي چې ټولنيز ژوند ته چمتو شي. سره له دې چې د اميل ښوونه او روزنه په عملي ډول شوې نه ده، نه هم روسو ورته د پلار يا ښوونکي دنده ترسره کړې، بيا هم د خلکو خوښ اثر دی چې په شلمه پېړۍ کې يې د وړکتونونو د جوړونې لپاره لاره پرانيسته. (۱م۴۵۰)
نوموړی اثر په فرانسه کې د کليسا د روحانيونو قهر وپاراوه، د فرانسې او ژنيو د لوړې کچې روحانيونو دغه کتاب (مسيحيت ته د شا اړولو په معنی تعبير کړ) او نامطلوب يې وګاڼه؛ د فرانسې ستر اسقف ددې کتاب په اړه تاکيدي فرمان ورکړ، دولتي شورا د روسو د نيولو امر ورکړ. د فرانسې پارلمان هم نوموړی اثر د مسيحيت سپکاوی او د سپېڅلي کتاب پر ضد وګاڼه او امر يې وکړ چې کتاب دې پاڼې پاڼې په محکمې کې تر شکولو وروسته وسوزول شي، پردې سربېره خبرداری ورکړ شو چې څوک يې د چاپ، خرڅلاو او ويش حق نه لري، که هر څوک دغه کار وکړي، نو له قانون سره سمه سزا به ورکړل شي. (۳م۱۱۲-۱۱۷)
**۵**- شعرونه يې (۱۷۴۹-۱۹۴۰) کال کې خپاره شوي.
**۶**- په دايرة المعارف کې خپرې شوې مقالې.
۷- ټولنيز قرارداد: په (۱۷۶۲) کال کې خپور شو، په دې اثر کې روسو د فرد او ټولنې په اړه بيانوي او د ديموکراسۍ پر جوړښت غربېدلی دی، وايي حکومت بايد د هغو خلکو په خوښه رامنځته شي چې حکومت پرې کېږي، يعنې حکومت د ټولنيزو رايو پر بنسټ رامنځته شي. ددې په څنګ کې ښکاره کوي چې قانون په ټولنه کې د وګړو تر منځ د متقابلو منښتو څخه رامنځته کېږي، د فردي عمل څخه د ټولنې وګړي لاس په سر کېږي، ټول خلک د قانون په وړاندې برابر حق پيدا کوي، ټولنيز قرارداد هم يو فلسفي اثر دی چې د نړۍ د سترو اثارو په ډله کې غوره ځای لري.(۲م۱۳۳-۱۷۱)
روسو د هغې مينې له مخې چې له موسيقۍ سره يې لرله دوې ټوټې اثار تصنيف کړل:
۱- د مينې الهه
۲- سپېڅلی ټاټوبی

**پايله**:

روسو د خپلو ليکنو له لارې وشو کولی چې د نړۍ په منځ کې پيروان ومومي او پر هغوی اغېز وکړي، د خپلو فلسفي افکارو له لارې خپلې ټولنې ته په هنري او سياسي ډګر کې زياتې مرستې ورسولې، تر ټولو دا غوره ده چې په غريبۍ، فقر او ناداری کې يې سياسي، فلسفي او هنري ليکنې وکړې؛ هم يې پر خپل ملت ځان وپېژاند او هم د خپلې پوهې پر مټ نړيوالو فرهنګي او روزنيزو ادارو ته يې خپل افکار ورسول، د زياتې کچې محبوبيت او درناوي وړ وګرځېد، په هر ځای د خلکو له خوا نمانځل کېده او په درنه سترګه ورته کتل کېدل.

**وړانديزونه**:

۱- د نړۍ د سترو ليکوالو پر افکارو او اثارو دې څېړنه وشي.
۲. د نړيوالو ليکوالو بيوګرافي، ژوند پېښو مطالعه او څېړنه دې وشي.

**Abstract:**

Rousseau as amandible author has worked out all his activities for conience of people or human in general He attracted people attention to the negative effects of civilization and culture. Rousseau preffered a simple man the one who is neither deceiver nor autorratic is than who is contaminated with devil and corruption. He was searching for the talent of child in education. He stood against the political and social inequilities and counted them illegal and non humanitarian activities. He also struggled to elemenate poverty and madibility. As a mater of fact, if someone loves his country and countrymen while he himself is poor like Rousseau, he can serve and can help his country and people properly.

## اخځلیکونه:

۱- تراویک، باکنر. (۱۳۸۵). تاریخ ادبیات جهان، جلد اول. تهران: خیابان ایرانشهر
۲- تیودورراج، جاهر سلوکیز، دونالدام؛ دونالودران؛ سرجول ونر. (۱۳۸۲). تاریخ تحویل اندیشه، تمدن و فرهنگ- جلد اول. تهران: انتشارات فردوس
۳- حقشناس، نصري. (۱۳۸۵). در جنگل تمدن- جلد اول. کابل: افغانستان
۴- خانلری، زهرا. (۱۳۷۵). فرهنگ ادبیات جهان. تهران: انتشارات خوارزمی
۵- دورانت، ویل. (۱۳۷۷). تاریخ تیاتر. تهران: شرکت انتشارات علمی و فرهنگی
۶- ده بزرگی، غلام حسین. (۱۳۸۳). تاریخ ادبیات جهان از اغاز تا پایان قرن بیستم. تهران: شرکت قلم
۷- روزپالمر. (۱۳۳۸). تاریخ جهان جلد اول. تهران: شرکت انتشارات علمی و فرهنگی
۸- شهباز، حسن. ( ). سیری بزرکترین کتابهای جهان. تهران: افست (سهامی عام)
۹- هارت، اچ، مشل. (۱۳۷۸). یکصد مرد تاثیرگزار تاریخ. کابل: انتشارات سعید

پوهنمل غلام فاروق (رحيمي)
طب پوهنځی- سترګو څانګـه

# د کېمياوي توکيو په واسطه د سترګې ټپي کېدل

**لنډيز**:
د کېمياوي توکو په واسطه د سترګې ټپي کېدل يوه بېړنۍ پېښه ده، د کېمياوي توکو پېژندل او درملنه بايد له ځنډ پرته تر سره شي. ددې لپاره چې د سترګو د انساجو د زيانمنېدلو او د ليد د ويجاړۍ مخه مو نيولې وي، د کېمياوي توکو غلظت بايد کم کړو. د قلوي توکو PH د سترګې له نورمال (۷.۴) PH څخه لوړ دی. قلوي د قرنيې حجراتو د شحم سره يو ځای کېږي صابون جوړوي، حجروي غشأ منحل کوي او د سترګې ژورو برخو ته ځان رسوي چې په دايمي ډول سترګه ماوفه کوي. همدارنګه قلوي حجره بې اوبو کوي او د انزايم او پروتين د تخريب لامل ګرځي. تخريب يې د اسيد په توپير ډېر لوړ دی، د پينځو ثانيو نه په کمه موده کې د سترګې قدامي خونې ته رسېږي او تر څو ورځو د سترګې انساج تخريبوي.

**سريزه**:
کېمياوي مواد چې د سترګې د ټپي کېدلو لامل ګرځي، په کورنو، د کارځايونو لکه نظامي او صنعتي ځايونو، روزنيز او د جنګ په ځايونو کې پيدا کېږي. د کورونو او کارخانو په پاکولو کې چې له کومو توکو څخه ګټه اخيستل کېږي، په خپل جوړښت کې تېزاب او قلوي لري چې سترګې او پوستکی ټپي کوي. په کورونو کې معمول کېمياوي مواد چې خلک يې کاروي عبارت دي له بطري (سولر برېښنا، موټر او مبايل)، سمنت او چونه چې سترګې په اسانۍ ټپي کوي. د سرکې تېزاب (اسيتيک اسيد) او سلفوريک اسيد هغه تېزابونه دي چې ډېر کارول کېږي، په بطرۍ او يخچال کې ترې ګټه اخيستل کېږي. مهم قلوي توکي چې سترګه ټپي کوي عبارت دي له زيم ايستونکي توکي، سره او د ودانۍ په جوړښت کې چې کوم توکي کارول کېږي. همدارنګه د کلورين ګاز چې د تنفسي جهاز د distress syndrome لامل ګرځي، هم د سترګو سطحه ټپي کوي. په نظامي ډګر کې مهم اوښکې بهوونکی ګاز د 2-chlorobenzalmalonitrile (CS) په نوم ياديږي چې د اوښکې بهولو ترڅنګ د قرنيې د حجراتو خفيف کېمياوي التهاب پيدا کوي چې په خپله ښه کېږي. (۱۱، ۱۰، ۹، ۲)

د سترګې ټپ شدت د لاندې حالاتو پورې تړلی دی:

1. د کېمياوي توکو غلظت.
2. د ټپي کوونکو توکو مقدار.
3. په سترګه کې د کېمياوي توکو وخت.
4. ژورو برخو ته د کېمياوي توکو نفوذ. (۴، ۸)

**موخې**:

- د خلکو د پوهاوي کچه لوړول چې څنګه له کېمياوي توکو خپلې سترګې وساتي.
- طبي پرسونل او د مسلک مينه والو ته په اړونده برخه کې د ګټورو معلوماتو برابرول.

## طبي ادبيات:

د انسان د سترګې نورمال ۷.۴PH دی، اسيدي توکي چې PH يې د سترګې له PH څخه ښکته وي، د نسجي پروتين سره يوځای کېږي يوه مانعه جوړوي چې ژورو برخو ته اسيد نفوذ نه شي کولای؛ ضعيف اسيدونه د سترګې د قرنيې او منضمې حجرات په لنډه مهاله توګه زيانمنوي. سلفوريک اسيد يو معمول اسيد دی چې د موټر بطرې د چاودېدلو له کبله سترګه په دايمي ډول ماوفه کوي. سلفوريک اسيد د اوښکې د اوبو سره د تعامل په پايله کې تودوخه توليدوي چې د قرنيې او منضمې حجرات سوځوي. هايدروکلوريک اسيد د ښوونځيو او پوهنځيو په لابراتوارونو کې ډېر کارول کېږي چې تخريبي قوه يې کمه ده. هايدروفلوريک اسيد د اسيدي توکو خلاف د سترګې ژورو برخو ته ځان رسوي او د اندوتيليم حجراتو د تخريب لامل ګرځي. د قلوي توکو PH د سترګې له نورمال (۷.۴) PH څخه لوړ دي. قلوي د قرنيې حجراتو د شحم سره يوځای کېږي او صابون جوړوي، حجروي غشاٌ منحل کوي او د سترګې ژورو برخو ته ځان رسوي چې په دايمي ډول سترګه ماوفه کوي. همدارنګه قلوي حجره بې اوبو کوي، د انزايم او پروتين د تخريب لامل ګرځي. تخريب يې د اسيد په توپير ډېر لوړ دی، د پينځو ثانيو نه په کمه موده کې د سترګې قدامي خونې ته رسېږي او ترڅو ورځو د سترګې انساج تخريبوي، د سترګې داخل ته د قلوي تېرېدل د قلوي د ډول پورې هم اړه لري، لکه امونيم هايدروکسايد تر ټولو قلوي توکو ژر داخل ته نفوذ کوي، ډېر خراب او د خطره ډک حالت هغه دی کله چې د سترګې PH ۱۱ يا ۱۱.۵ شي. (۳م م۷،۵ )

کوم قلوي او اسيدي توکي چې ډېر کارول کېږي عبارت دي له امونيا ، چونه، پوتاشيم هايدروکسايد ، مګنيزيم هايدروکسايد ، سلفوريک اسيد يا د بطرې اسيد ، اسيتيک اسيد يا د سرکې تېزاب، هايدروکلوريک اسيد ، سلفورس اسيد او هايدروفلوريک اسيد.(۸م۲)

د کېمياوي توکو پر وړاندې د سترګې غبرګون: د سترګې هر جوړښت د کېمياوي توکو په مقابل کې بېلابېل غبرګونونه ښايي؛ منضمه سوځي، د قرنې اپيتيل پوستکی اچوي، ستروما پړسېدل او روڼوالی له لاسه ورکوي، اندوتيليم مړه او ګاونډي حجرات يې ځای نيسي، په زاويه کې تندب پيدا کېږي چې د سترګې فشار لوړېږي. که عدسيه ماوفه شي، کترکټ پيدا کېږي. (۱۰)

که سترګه ضعيفه اسيد يا قلوي توکي ټپي کړي، کلينيکي لوحه يې ډېر توپير نه لري، سترګه سره، کېموسز، قرنيه خړه او ازيمايي وي. که قوي اسيدي يا قلوي توکي سترګه ټپي کړي په ناڅاپي ډول قرنيه او منضمه سپينه او مکدره ګرځي. همدارنګه قوي اسيد قرنيه بې حسه او uveitis پيدا کوي، قوي قلوي قرنيه ويلې کوي چې په ۲-۴ اونيو کې قرنيه سوری کوي. که ټپ لمبل ساحې ته ورسېږي او د قرنيې تغذيه خرابه شي، قرنيه کې رګونه پيدا کېږي او قرنيه له محيط څخه مري (necrose ). (۱۲،۳،۱)

## د ناروغۍ کلينيکي بڼه:

حاد پړاو: لومړۍ ۷ ورځې د حاد پړاو په نوم يادېږي چې د قرنيې اپيتيل وده پيل کوي او reepitheliazation صورت نيسي. اپيتيل حجرات يوه ښه ساتونکې مانعه ده د اوښکو د انزايمونو په مقابل کې که نوموړي حجرات نه وي، د اوښکو انزايمونه قرنيه منحل او بالاخره سوری کوي؛ همدارنګه د ستروما په ترميم کې هم ونډه اخلي. (۹ )

په دې پړاو کې مهم قدم د التهاب کنټرول دی، که التهاب شديد وي reepitheliazation ښه صورت نه نيسي، د ستراېد څخول التهاب په څرګند ډول کموي، داکټر بايد د قرنيې روڼوالی، د سترګې داخلي فشار، د سترګې داخلي التهاب او د عدسيې مکدر کېدلو ته ځانګړې پاملرنه وکړي. (۲ )

## د کېمیاوي توکیو په واسطه د سترګې د ټپي کېدلو طبقه بندي:

که ټپ خفیف وي، د اپیتیل حجراتو ایروژن او د قرنیې خړېدل په خفیف ډول شتون لري، د سکلیرا او منظمې نیکروز او اسکېمیا شتون نه لري. که ټپ متوسط وي، قرنیه مکدره، iris په ښه ډول نه لیدل کېږي، په خفیف ډول د سکلیرا او منظمې نیکروز او اسکېمیا شتون لري. که ټپ شدید وي، حدقه ښه نه ښکاري د سکلیرا او منظمې نیکروز او اسکېمیا په څرګند ډول شتون لري.

مقدم ترمیمي پړاو: د ټپي کېدلو وروسته نوموړی پړاو ۸—۲۰ورځې دوام کوي، د اپیتیل حجراتو ترمیم صورت نیسي، حاد التهاب په ځنډني التهاب بدلېږي، ستروما ترمیم او سکار پیدا کېږي. په دې پړاو کې د درملنې مهمه موخه د اپیتیل ترمیم دی چې په حاد پړاو کې بشپړ شوی نه وي، حاد التهاب د اپیتیل حجراتو ترمیم ځنډوي، نو ځکه یې کنترول اړین دی. ډاکټر باید ټول هغه فکتورونه کنترول کړي چې قرنیه ضعیفه او سوری کوي. د درملنې لومړیو لسو ورځو کې سترایډ په لوړ دوز توصیه کېږي، وروسته ورو ورو کمېږي؛ که اړتیا وي، تر ۲۱ ورځو پورې توصیه کېدای شي. (۱۲)

ځنډني ترمیمي پړاو: له ټپي کېدلو څخه درې اوونۍ وروسته پیل کېږي، د اوښکو مستحضرات او لوبریکانت ملهم تر هغه توصیه کېږي، چې اپیتیل ترمیم شي. کېمیاوي توکي د قرنیې احساس، blink reflex او د اوښکې تولید کموي. د مخاط او شحم تولیدوونکو حجراتو د تخریب له امله د اوښکو فلم بې ثباته کېږي. که ټپ شدید وي، پانوس یا د قرنیې په پورته برخه کې د رګونو پیدا کېدل هم لیدل کېږي. که چېرې درملنه په خپل وخت پیل نه شي، ناروغ به د لاندې خرابو پایلو سره مخامخ شي:

1. د قرنیې زخم (corneal ulcer)
2. د منظمې التهاب (conjunctivitis )
3. د زیزمې د څنډې بهر ته تاوېدل (lid ectropion )
4. د زیزمې او کرې نښتل (symblepharon )
5. د قرنیې مکدر کېدل (opaque cornea )
6. د مخ سوځېدل (facial burn)
7. د پردې پیدا کېدل (cataract)
8. phthisis bulbi
9. د سترګې سوري کېدل (perforation of the eye). (۱۰م۴)

د درملنې څخه لاندې درې اړینې موخې:

1. د قرنیې اپیتیل باید د تل لپاره روغ پاتې شي.
2. د کولاجن الیافو د جوړېدو او تخریب ترمنځ انډول.
3. د اختلاطاتو کچه باید ټیټه شي. ډېر عام اختلاط د سترګې د ګاټې او زیزمې یو د بل سره نښتل دي چې د symblepharon په نوم یادېږي.

## درملنه:

1. د بدن هره برخه چې د کېمیاوي توکو سره په تماس راغلې وي، باید ډېر ژر او له ځنډ پرته (هر څه چې په لاس کې وي، لکه ساده اوبه، شیدې او سوړ چای) ومینځل شي. (۵م۱)
2. طبي درملنه د ۲ لیتر نارمل سلاین یا رنګر سیروم سره پیل کېږي چې د۲۰—۳۰ دقیقو په موده کې پرې سترګې مینځل کېږي. که د سترګې PH نورمال شوی نه وي، د ۲ لیترہ سیروم په واسطه بیا مینځل کېږي، د

سترګو د مينځلو په وخت کې بايد د غوړ سره ډېر پام وشي، ځکه چې په کېمياوي توکو ککړې اوبه د غوړ پرده تخريبوي. سترګه بايد د کېمياوي توکو د بځرو لپاره ښه ولټول شي. (۱۲)

3. د مړو انساجو لرې کول.
4. د اړتيا په وخت کې پارا سنتيسيس.
5. د مکروب ضد درمل.
6. د درد د ارامولو لپاره د اتروپين څاڅکي په سترګه کې څڅول کېږي، د خولې او وريد د لارې د درد ضد درمل توصيه ګټوره ده. (۹م۴)
7. د اړتيا په وخت کې د ستيرايد څاڅکي هم توصيه کېږي.
8. ۵۰۰-۱۰۰۰ ملي ګرام ويتامين سي د ورځې څلور ځلې د خولې له لارې.
9. ۱۰۰ملي ګرام doxycycline هر ۱۲ ساعته وروسته ناروغ ته توصيه کېږي.
10. د شيشيي مېلې په واسطه د نښتو سطحو بېلول. (۲)
11. که اپيتيل ترميم شوی نه وي، مصنوعي اوښکه، د پنتومونو تړل، د سترګې تړل، کانتکت لنس او تارسورافي توصيه کېږي. که د نومړو اهتماماتو سره بيا هم اپيتيل ترميم نه شو د ۱۴ ورځو لپاره سترايد توصيه او په تدريجي شکل کمېږي.
12. که د پورته درملنې سره بيا هم د قرنيې تندب پيدا شي، د قرنيې سطحې پيوند ترسره کېږي.

## پايله:

کېمياوي توکي چې په کورونو کې ډېر کارېږي، د اسيدي او قلوي توکو څخه عبارت دي. قلوي توکي د اسيد په پرتله د سترګې لپاره ډېر زيان رسوونکي دي. د سترګې ټپي کېدل د کېمياوي توکو په واسطه يوه ببړنۍ پېښه ده؛ د کېمياوي توکو پېژندل او درملنه بايد د ځنډ پرته تر سره شي. د دې لپاره چې د سترګو د انساجو د زيانمنېدلو او د ليد د ويجاړې مخنيوی مو کړی وي، د کېمياوي توکو غلظت بايد کم کړو. قلوي د قرنيې حجراتو د شحم سره يوځای کېږي، صابون جوړوي، حجروي غشأ منحل کوي او د سترګې ژورو برخو ته ځان رسوي چې په دايمي ډول سترګه ماوفه کوي. همدارنګه قلوي حجره بې اوبو کوي، د انزايم او پروتين د تخريب لامل ګرځي. تخريب يې د اسيد په توپير ډېر لوړ دی، د پينځو ثانيو نه په کمه موده کې د سترګې قدامي خونې ته رسېږي او تر څو ورځو د سترګې انساج تخريبوي.

## وړانديزونه:

1. په ښوونځيو کې دې زده کوونکي د کېمياوي توکو په زيانونو وپوهول شي.
2. د عامې روغتيا وزارت دې د عامه پوهاوي په موخه په ډله ييزو رسنيو کې خلکو ته لارښوونه وکړي چې کوم کېمياوي توکي چې په کورونو کې ترې ګټه اخلي، څرنګه يې وساتي.
3. د عامې روغتيا وزارت دې د عامه پوهاوي کچه لوړه کړي چې د سترګيو يا عينکو استعمال هيڅ تاوان نه لري او تر ډېره بريده سترګه د ناوړه حالاتو څخه ساتي.
4. په ټولنه کې بايد د عامه پوهاوي کچه لوړه شي، تر څو ټول هغه خلک چې د مبايل نه ګټه اخلي، کوشش و نه کړي چې د مبايل بطري د ستنې يا چاکو په واسطه سوری کړي، ځکه د نومړې بطرۍ د چاودېدلو له کبله سترګو ته تاوان رسېږي.

5. ټول محترم طبي پرسونل او د کورنۍ غړي که د داسې ناروغ سره مخامخ کېدل، تر هرڅه دمخه سترگې باید ومینځي (اوبه، شیدې، یخ شوی چای او سیروم) په بازار کې 0.5% lidocaine د څاڅکي په ډول پیدا کېږي، که د مینځلو دمخه یو یا دوه څاڅکي استعمال شي، د ناروغ په مینځلو کې به بشپړه مرسته وکړي.


## Abstract:

Chemical injuries of the eye are true emergencies requiring prompt recognition and treatment. Rapid dilution of the chemical agent is the immediate treatment necessary to reduce tissue damage and preserve vision. The extent of ocular injury is proportional to the departure of the corrosive substance from the neutrality of PH 7.4, the time that it remains in contact with the eye, and the quantity requiring neutralization. Other factors must be considered when treating patients with injuries caused by chemical warfare agents. Ocular chemical injuries can cause immediate loss of vision, combat ineffectiveness, and even permanent blindness.


## References:


1. Baloch.A, Ashraf.M, Kabir.S 2002 Textbook of Ophthalmology first Edition Pakistan p 223.
2. Chattarje. BM 1997 Hand book of Ophthalmology 6th Edition Publish Shahdara Delhi India p179.
3. Harris LH, Cohn K, Galin MA. Alkali injury from fireworks. Ann Ophthalmol. 1971; 3:849–851.
4. Jogi. Renu 2001 Basic Opthalmology 4th Edition Publish Jaypee brother's India p 246.
5. Kanski. Jack.J 2011 Clinical Ophthalmology 7th Edition London p 660.
6. Khurana. A.K 2007 Ophthalmology 2nd Edition New Age International.P Limited Publish New Delhi pp 424-427.
7. Miller. Stephen J.H 2001 Persons diseases of the Eye 18th Edition London p 280.
8. Mk. Reddy. Jun 3 2008; 43:201-9 alkali and acid burns: Indian journal of ophthalmology. available www.jceh.co.uk
9. Nema. H, Nema N 1998 Textbook of Ophthalmology 3rd Edition Jaypee brother's Publish India p 293.
10. N Nuwan, a Nick. March 2008; 21:65. Chemical eye injury. Community Eye Health journal. available www.cehjournal.org
11. R. Palao, I. Monge, M. Ruiz, J.P. Barret 2009 Chemical burns of eye: Pathophysiology and treatmen tjournal homepage: www.elsevier.com/locate/burns
12. Riordan. E P, P. W J Vaughan and Asbury's 2004 General Ophthalmology 16th Edition Long Medical Books USA pp 120 -128.

پوهـنمل سـيد شـېراقـا (سـيدي)
ښووونې او روزنې پوهنځی- رياضي څانګه

# په قطبي مختصاتو کې د برنولي پروانې

## لنډيز:

په قطبي سيستم کې د $\rho^2 = \pm a^2 \cos 2\theta$ او $\rho^2 = \pm a^2 \sin 2\theta$ ډول معادلو ته چې منحني يې د الوتکې او ببرۍ د څرخ په شان ده پروانوي Lemniscate يا برنولي معادلې وايي. د دا ډول معـادلو د منحنيـاتو مرکز پـه مبدا کې وي، خو څای يې قطبي محور ته د $a^2$ مخکښې اشارې يا $\sin 2\theta$ يا $\cos 2\theta$ $(\frac{\pi}{2} \le \theta \le \pi\ ,\ \frac{3\pi}{2} \le \theta \le 2\pi)$ پورې چې په معادله کې ټاکل شوي وي، اړه لري. د قطبي معادلو د هندسي ښودنې لپاره بايد:

- څرګنده شي چې قطب په منحني کې شامل دی يا څنګه، ددې موخې د ټاکلو لپاره $\rho = 0$ پـه پام کې نيسـو، د $\theta$ قيمتونـه ټاکو.
- په نسبي ډول د $\rho$ لوی او واړه قيمتونه په نښه کوو.
- که چېرې قطب د منحني په معادله کې شامل وي، نو د مماس معادله $k = \frac{d\rho}{d\theta} = \lim_{\alpha \to 0} tg\alpha = \tan\theta$ وټاکل شي.
- شکل د تناظريت (تماثل) له بابته وڅېړل شي، څکه د رسم کولو کړنلاره ساده کوي.
- څو توري ځانګړې نقطې وټاکل شي.

## سريزه:

دکارتي قايمو وضعيه کمياتو د سيستم پـه رامنځتـه کېدلو سره قطبي سيسـتم او داسې نور سيسـتمونه لکـه اسـتوانوي سيستم، کروي سيستم رامنځته شول. په مستوي کې د O يوه نقطه او OA يوه شعاع د اوږدوالي د اندازه کولو د واحد پـه پام کې نيولو سره يو سيستم جوړوي چې د قطبي مختصـاتو پـه نـوم نومـول شـوی دی؛ OA تـه قطبي شعاع او O تـه قطب وايي. قطب ته د OA شعاع په دوران ورکولو سره د نقطې ځای ټاکل کېږي، د ګړۍ د ستنې د چورلېدلو سره سم لوری منفي او مخالف لوری مثبت قبول شوی دی. دلتـه د موضوع اصلي موخـه د پشـوګيو لـه ډلې څخـه يـوازې د برنولي پروانـو او د هغوی د انځورونو څېړل او پېژندګلوي ده. (۱-۱۷۱م)، (۲.۱۵۷م).

## موخې:

- د برنولي پروانو رسمول.
- په اړونده موضوع کې د مسلک خاوندانو او زده کوونکو ته د معلوماتو برابرول.

## د برنولي پروانې (The Bernoly lemnis cite):

د $\rho^2 = \pm a^2 \cos 2\theta$ او $\rho^2 = \pm a^2 \sin 2\theta$ ډول معادلو منحني تـه چې د الـوتکې (ببرۍ) د څرخ پـه شـان دي، پـه قطبي مختصاتو کې د پروانوي (برنولي) منحنيـاتو پـه نـوم يادېږي. د پروانې مرکز پـه مبدا کې دی، خو ځـای يـې قطبي محور ته د $a^2$ مخکنۍ اشارې يا د $\sin 2\theta$ يا $\cos 2\theta$ چې پـه معـادلو کې ښودل شـوي دي، اړه لـري. د قطبـي معـادلو د هندسي ښودنې لپاره لازمه ده چې:

۱. ايا قطب د معادلې په منحني کې شامل دی؛ ددې موخې لپاره د $\rho = 0$ په پام کې نيولو سره د $\theta$ قيمتونه وکتل شي.

۲. د $\rho$ نسبي لوی او نسبي کوچني قيمتونه په نښه شي.
۳. کله چې قطب د منحني په معادله کې شتون لري، بايد په قطب کې د منحني د مماس معادله يعني $\tan\theta = \lim_{\alpha\to 0} tg\alpha = \frac{d\rho}{d\theta} = k$. له دې څرګندېږي چې د $\theta$ اندازه $(0 \le \theta \le \theta)$ د قطبي معادلې په منحني کې د $\rho = 0$ لپاره صدق کوي دا راښيي چې په قطب کې منحني ته د مماسونو د ميل زاويه ده. د $\theta$ دا اندازې $\theta_1, \theta_2, ......, \theta_k$ او د مماسونو معادلې $\theta = \theta_1$ , $\theta = \theta_2$ , ......., او $\theta = \theta_k$ دي.
۴. شکل د تناظر په بنسټ څېړل کېږي، څکه د رسمولو کړنلاره اسانوي.
**۵.** څو ځانګړې نقطې بايد وټاکل شي. (۲م۲۱-۲۲)

د موضوع د روښانولو او سپيناوي په موخه لاندينۍ معادله په پام کې نيسو، يعنې: $\rho^2 = a^2\cos 2\theta$ دا چې cos يوه جفت تابع ده، نو که چېرې د $(\rho, \theta)$ پر ځای $(\rho, -\theta)$ وضع کړو، په معادله کې کوم بدلون منځته نه راځي، يعنې:

$$\rho^2 = a^2\cos 2(-\theta) = a^2\cos(-2\theta) = a^2\cos 2\theta$$

په اسانۍ سره ليدل کېږي چې دا معادله د راکړل شوې معادلې سره معادل ده، نو له دې امله د معادلې اصلي او $\frac{\pi}{2}$ محورونو ($ox$ او $oy$) ته متناظر دي. د تناظر د ځانګړتياوو په پام کې نيولو سره مونږ کولی شو چې د معادلې د منحني يوه برخه اول د $o \le \theta \le \frac{\pi}{4}$ په سيمه کې په لاس راوړو او بيا د منحني ټوله برخه د همدې برخې له انعکاس څخه اصلي محورونو ته انځور کړو. د $o \le \theta \le \frac{\pi}{4}$ په سيمه کې د $\theta$ لپاره $\cos 2\theta$ منفي نه دی، خو دا ډول هرې $\theta$ لپاره دوه قيمتونه وجود لري، يعنې:

$$\rho = a\sqrt{\cos 2\theta} \quad \text{او} \quad \rho = -a\sqrt{\cos 2\theta}.$$

بل دا چې د $\theta$ قيمتونه له 0 څخه تر $\frac{\pi}{4}$ پورې توپير لري، نو له دې امله د $\cos 2\theta$ قيمت ورو ورو له ۱ څخه تر صفر پورې

| $\theta$ | $0^o$ | $5^o$ | $10^o$ | $15^o$ | $20^o$ | $22.5^o$ | $25^o$ | $30^o$ | $35^o$ | $40^o$ | $45^o$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | | |

کمېږي، او همدارنګه د $\rho = a\sqrt{\cos 2\theta}$ قيمت هم ورو ورو په يوشان ډول له a څخه تر صفر پورې کمېږي. (۱م۱۸۴)،
(۲م۸۲)
$$\rho^2 = a^2\cos 2\theta \Rightarrow \rho = \pm a\sqrt{\cos 2\theta}$$

۱- جدول د $\rho^2 = a^2\cos 2\theta$ ډول پروانې د انځورولو لپاره ټاکل شوي کميات




۱- انځور پروانه Limnis cate.

د $\theta$ لپاره $\frac{\pi}{2} \leq \theta \leq \frac{\pi}{4}$ په سیمه کې د $\cos 2\theta$ قیمتونه منفي دي، نو له دې امله د **ρ** لپاره کوم قیمت چې $\rho^2 = a^2 \cos 2\theta$ معادله رښتیني کړي، شتون نلري، یعنې د $\theta$ دارنګه قیمتونه د تابع د تعریف سیمه کېدلی نشي. د موخې د سپیناوي لپاره د $\rho^2 = -4\cos 2\theta$ معادلې منحني تر څېړنې لاندې نیسو. دا معادله د $\rho = 2\sqrt{-\cos 2\theta}$ په څېر هم لیکلی شو. د مخکېنۍ څرګندونې په څېر که چېرې په راکړل شوې معادله کې د $(\rho, \theta)$ پر ځای $(\rho, -\theta)$ ولیکو په معادله کې کوم بدلون منځته نه راځي او لاسته راغلې معادله د راکړل شوې معادلې معادل ده. (۱م۱۸۴)، (۳م م۱۲۷-۱۲۹)، (5.R.P760)

$$\rho^2 = -4\cos 2(-\theta) = -4\cos(-2\theta) = -4\cos 2\theta$$

| $2\theta$ | $0^o$ | $10^o$ | $20^o$ | $30^o$ | $40^o$ | $45^o$ | $50^o$ | $60^o$ | $70^o$ | $80^o$ | $90^o$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $\cos 2\theta$ | 1 | 0.98 | 0.94 | 0.86 | 0.77 | 0.70 | 0.64 | 0.50 | 0.34 | 0.17 | 0 |
| $\sqrt{\cos 2\theta}$ | 1 | 0.99 | 0.96 | 0.93 | 0.87 | 0.83 | 0.80 | 0.70 | 0.58 | 0.40 | 0 |
| $\rho$ | $a$ | $0.99a$ | $0.96a$ | $0.93a$ | $0.87a$ | $0.83a$ | $0.80a$ | $0.70a$ | $0.58a$ | $0.40a$ | 0 |

له دې ځایه ویلی شو چې د معادلې منحني اصلي او $\frac{\pi}{2}$ محور ته متناظر دی.

۲- جدول د $\rho^2 = -4\cos 2\theta$ ډول پروانې د انځورولو لپاره تاکل شوي کمیات

| $\theta$ | $0^o$ | $15^o$ | $22.5^o$ | $30^o$ | $45^o$ | $60^o$ | $67.5^o$ | $75^o$ | $90^\circ$ | $105^o$ | $112.5^o$ | $120^o$ | $135^o$ | $150^o$ | $157.5^o$ | $165^o$ | $180^o$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $\cos\theta$ | 1 | 0.88 | 0.70 | 0.50 | 0 | $-0.50$ | $-0.70$ | $-0.8$ | $-1$ | $-0.86$ | $-0.70$ | $-0.50$ | 0 | 0.50 | 0.70 | 0.86 | 1 |
| $\sqrt{-\cos 2\theta}$ | – | – | – | – | 0 | 0.70 | 0.84 | 0.93 | 1 | 0.93 | 0.84 | 0.70 | 0 | – | – | – | – |
| $\rho$ | | | | | 0 | 1.40 | 1.68 | 1.86 | 2 | 1.86 | 1.68 | 1.40 | 0 | | | | |

حقيقي (ريښتينی ) نه دی، صحت نلري.




۲-انځور پروانه Lemnis cate.

همدارنګه د $\rho^2 = a^2 \sin 2\theta$ معادله د $\theta$ د $\frac{\pi}{2} \le \theta \le \pi$ په قيمتونو ريښتينې نده، يعنې د $\theta$ په دغو قيمتونو سره په منحني باندې کومه حقيقي نقطه وجود نلري چې معادله صدق کړي. د معادلې له جدولي ښودنې څخه ځرګنديږي چې منحني قطب ته متناظر دی او کله چې $\theta = \frac{\pi}{4}, \frac{5\pi}{4}$ شي، نو د $\rho$ قيمت $\pm a$ سره کيږي او قطبي مماس کله چې $\frac{\pi}{2}$ , $\theta = 0$ شي، $\rho = 0$ دي او که چيرې $\sin 2\theta < o$ وي، نو معادله د حل کومې نقطې نه لري، له دې امله مونږ د $\theta$ قيمتونه د هغو قيمتونو لپاره محدودوو په کومو کې چې $\sin 2\theta > o$ وي، يعنې، $0 \le \theta \le \frac{\pi}{2}$ يا

$\pi \le \theta \le \dfrac{3\pi}{2}$. خو سره له دې هم مونږ له تناظر څخه ګټه اخلو او د منحني د رسمولو لپاره د دوی دوه اولني انتروالونه په پام کې نيسو. (۱م۱۸۴)، (۲م۸۲،۲۴)، (5.R.P760)، (8.R.P687)

$$\rho^2 = a^2 \sin 2\theta \Rightarrow \rho = a\sqrt{\sin 2\theta} \;,\; a > 0 \;,\; n = 2$$

۳- جدول د $\rho^2 = a^2 \sin 2\theta$ ډول پروانې د انځورولو لپاره تاکل شوي کميات:

| $\theta$ | 0 | 15 | 22.5 | 30 | 5 | 60 | 67.5 | 75 | 0 | 105 | 112.5 | 120 | 135 | 150 | 57.5 | 165 | 80 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $\sin 2\theta$ | 0 | 0.50 | 0.70 | 0.86 | 1 | 0.86 | 0.70 | 0.50 | 0 | 0.50 | 0.70 | 0.86 | $-1$ | 0.86 | 0.70 | 0.50 | 0 |
| $\sqrt{\sin 2\theta}$ | 0 | 0.70 | 0.84 | 0.93 | 1 | 0.93 | 0.84 | 0.70 | 0 | / | / | / | / | / | / | / | / |
| $\rho$ | 0 | .70$a$ | .84$a$ | .93$a$ | $a$ | .93$a$ | .84$a$ | .70$a$ | 0 | / | / | / | / | / | / | / | / |

ريښتينی (حقيقي) قيمت نه لري.

۳- انځور پروانه Lemnis cate.




اوس د $\rho^2 = -4\sin 2\theta$ معادلې منحني ترڅېړنې لاندې نيسو. له جدول څخه سپيناوی کېږي چې $0 < \theta < \dfrac{\pi}{2}$ سيمه د تابع د پېژندنې سيمه نه ده، يعنې تابع د $\theta$ په دې قيمتونو کوم ريښتينی قيمت نه لري، يا په بله وينا تابع په منحني باندې کومه نقطه نه لري. همدا ډول په جدول کې ليدل کېږي چې د معادلې منحني قطب ته متناظر دی او د $\rho$ تر ټولو لوی قيمت کله چې $\theta = \dfrac{3\pi}{4}, \dfrac{7\pi}{4}$ شي $|2|$ دی او قطبي مماس کله چې $\theta = \dfrac{\pi}{2}, \pi$ شي، $\rho = 0$ دی. (1,1م ; 1,2 184م64). له دې امله ويلی شو کله چې $\sin 2\theta \le 0$ وي، معادله حل نه لري، نو ځکه مونږ د $\theta$ قيمتونه د هغو نقطو لپاره ځانګړي کړي دي، په کوم کې چې $\sin 2\theta \ge 0$ ده، يعنې $\dfrac{\pi}{2} < \theta < \pi$ يا $\dfrac{3\pi}{2} \le \theta \le 2\pi$

د تناظر څخه په ګټه اخيستلو کولی شو د معادلې منحني رسم کړو. (۱م۱۸۴)

$$\rho^2 = -4\sin 2\theta \quad , \quad a = a > 0 \quad , \quad n = 2$$

۴- جدول د $\rho^2 = -4\sin 2\theta$ ډول پروانې د انځورولو لپاره ټاکل شوي کميات.

| $\theta$ | 0 | $\frac{\pi}{12}$ | $\frac{\pi}{8}$ | $\frac{\pi}{6}$ | $\frac{\pi}{4}$ | $\frac{\pi}{3}$ | $\frac{3\pi}{8}$ | $\frac{5\pi}{12}$ | $\frac{\pi}{2}$ | $\frac{7\pi}{6}$ | $\frac{5\pi}{8}$ | $\frac{2\pi}{3}$ | $\frac{3\pi}{4}$ | $\frac{5\pi}{6}$ | $\frac{7\pi}{8}$ | $\frac{11\pi}{12}$ | $\pi$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $\sin 2\theta$ | 0 | 0.50 | 0.70 | 0.86 | 1 | 0.86 | 0.70 | 0.50 | 0 | – 0.50 | – 0.70 | – 0.86 | – 1 | – 0.86 | – 0.70 | – 0.50 | 0 |
| $\sqrt{-\sin 2\theta}$ | 0 | – | – | – | – | – | – | – | 0 | 0.70 | 0.84 | 0.93 | 1 | 0.93 | 0.84 | 0.70 | 0 |
| $\rho$ | 0 | | | | | | | | 0 | 1.4 | 1.68 | 1.86 | 2 | 1.86 | 1.68 | 1.4 | 0 |




۴- انځور پروانه Lemnis cate.

## پايله:

لوی بخښونکي او مهربانه څښتن ماته دا توان او قدرت راوبخښه او دا پېرزوينه يې راباندې وکړه چې د برنولي پرواني منحنيات Lemniscate carve منحنياتو رسم د رياضي مينه والو او زده کړيالو ته رسم کړم؛ د برنولي پرواني د منحني او د هغه د رسمولو په برخه کې کومه څېړنه شوې ده، د منحني په هندسي ښودنې کې دا څرګنده شوه چې ايا قطب په منحني کې شامل دی، د $\rho$ لوی او واړه قيمتونه کوم دي، که چېرې قطب د منحني په معادله کې شامل وي، نو د مماس معادله ټاکلی شو. د شکل څرنګوالي د تناظر له حيثه څه ډول دی، د دغو ټکو په پېژندلو سره مينه وال کولای شي چې د برنولي پرواني نور ډولونه انځور کړي.

## Abstract:

There are many usages of coordinate system in Mathematics. But two of them which is most popular and used in Mathematics and Geometry are Rene Descartes Cartesian systems of coordinates and polar systems of coordinates. The Topic I want to explain and write about belongs to the polar systems of coordinates. In the polar systems of coordinates the equation such as $\rho^2 = \pm a^2 \sin 2\theta$ and $\rho^2 = \pm a^2 \cos 2\theta$ which are like airplanes (or ships) wheel, are called in polar coordinates lenis cate's or Berndy 's equations. The center of curve which obtain by the mentioned equations are located at origin, bull its location on polar exist depends on sign of $a^2$ or $\sin 2\theta$ or $\cos 2\theta$, $(\frac{3\pi}{2} \le \theta \le 2\pi$ , $\frac{\pi}{2} \le \theta \le \pi)$ those are determined in equations. Studying and exploration of lemniscates or Bernoly's equations is a good chance for achieving information to every student and learner. The polar systems of coordinates are not only utilized and used in Geometry and analyze, but they utilized in physics and many subjects.

## اخځليکونه:

۱- لطفی، طاهر. (۱۳۸۳). حساب ديفرنيشيل و انتيګرال و هندسه تحليلی- جلد دوهم قسمت اول. ايران: انتشارات دانشجويان همدانی.

۲- جورج ب. توماس. فيني. موريس د. وير. مترجمين: فرزين حاجی جمشيدي و ديګران. (۱۳۸۳). حساب ديفرنسيل و هندسه تحليلی- جلد۲. ايران: انتشارات صفار اشراقي.

3. D. S. M. Yusuf, 1980, T. L Calculus and Analytic Geometry, Quaid .I. Azam University, Islamabad. Prof. Muhammad Amin Goverment College, Lahore, Publishers, Ilmikitabkhana.

4. Dr. N. H. Zaidi Pro.ShahidHussainzaidi, Dr. MumtazulIman, Dr. S.M.kerawala, Dr. M.AfzalKazi, Dr. M.N.M. Talpur
1982, Calculus and Analytic Geometry For. B.A./B.ScStudents Printed and Publishered by Abdul Salam at Ferozsons (PVT) LTd Lahore- Pakistan (PP220-223).

5. Georg B. Thomas, jr, Massachusetts Institute of Technology Calculus and Analytic Geometry (760).

6. N. pisku nov, By Georg Yankosky, 1981, Differntial and Calculus Vol.1 Mir Publishers Moscow. (p23).

7- Prof .M. Usman Ali Umarzai, November: 2010, Calculus and Analytic Geometry Part- I for B.A/B.Sc (3rd year) University Publishers Peshawar P. 255-260

8. Roland E. Larson, Robert P. Hostetler, 1990, The Pennsylvania state University The Behrend College Bruce H. Edward, University of Florida Calculus with Analytic Geometry, Fourth Edition. D.C. Heath and Company Lexington, Massachusetts, Toronto. (687-688)

پوهنمل محمد اسماعیل (سعادت)
کرنې پوهنځی- هارتیکلچر څانگه

# د انسان پر روغتیا د سبو د استعمال اغېزې

**لنډیز**:
د کرنې اړتیا او اهمیت چې نننی ساینس او د وخت غوښتنې یې څومره تائیدوي، قران کریم څه د پاسه څوارلس سوه کاله وړاندې ددې خبرې اعلان کړی او انسانانو ته یې لارښوونه کړې چې د پراخو ځمکو او غرونو څخه گټه واخلي، تر څو د سو کاله ژوند لپاره امکانات برابر کړي. سابه وښو ته ورته بوټي دي چې په پاخه یا خام ډول سره خوړل کېږي، د عمر له مخې یو کلن، دوه کلن او محدود شمېر یې څو کلن گڼل کېږي، چې د ورځنی خوراک لویه برخه تشکیلوي. داسې خواړه به نه وي او یا به ډېر لږ وي چې هره ورځ سابه په کې استعمال شوي نه وي. سابه د خوراک خوند او لذت زیاتوي. د سبو ځینې ډولونه د کاربوهایډریټونو، پروټینونو، ویټامینونو او معدني موادو غوره سرچینې گڼل کېږي، نو له دې کبله د سبو خوړل د روغتیا او سلامتیا لپاره ستر ارزښت لري، چې په دې اساس سبو ته ساتونکي خواړه هم ویل کېږي.(۸م۲۰)، (۹م م۱-۲)

**سریزه**:
په عمومي توگه د انسانانو د صحت او سلامتیا په ساتلو کې د سبو ونډه خورا مهمه گڼل کېږي. د نورو زراعتي بوټو د روزنې ترڅنگ د سبو کرنه او روزنه د پخوا زمانې راهیسې د انسان د پیدایښت سره سمه شروع شوې او لومړیو وختونو کې چې د انسان ژوند ساده او بسیط و، د هماغه وخت سره سم هر وگړي ځانته د ژوند امکانات برابرول او ورځنۍ اړتیاوې یې پوره کولې، مگر د زمانې په تېرېدو او همدا راز د بشري جوامعو د پرمختگ سره د سبو روزنه هم پرمخ لاړه او خصوصاً په ۱۸۲۵ کال کې د سبو صنعتي کېدل شروع شول. په ۱۹۲۰ کال د سبو په تولید کې چټک پرمختگ راغی او تقریباً د نورو ټولو نباتاتو په پرتله یې زیاته پراختیا وموندله، دا ځکه چې ځینې عوامل لکه د تولید په ساحه کې اسانتیاوې، د انتقالولو اسانتیاوې، د پروسس په هکله اسانتیاوې، د تعلیم په هکله اسانتیاوې او بالاخره په ورځنیو ځانگړنو کې تغیرات او پېژندنې پر هغوی اغېزې وښندلې؛ همدارنگه په طبیعي توگه د غذایي موادو ضرورت د انرژۍ مصرف پورې اړه لري، نو هر هغه څوک چې درانده او سخت کارونه سرته رسوي، زیاته انرژي مصرفوي چې په مقابل کې زیاتې متوازنې غذا ته اړتیا لري. د انسان په خوراکه کې د غذایي موادو اجزاوې په پینځو لویو گروپونو باندې چې د کاربوهایډریټونو، پروټینونو، ویټامینونو، منرالونو او شحمونو څخه عبارت دي، لویه او ستره ونډه لري، یو متوازن خوراک باید د پورته پینځو اجزاو لرونکی وي، ترڅو په فعاله توگه د انسان د ژوند ټول فیزیالوژیکي فعالیتونه په ښه او سم ډول تر سره شي. له دې ډلې څلور گروپونه (کاربوهایډریټ، پروټین، ویټامین او منرالونه) په لویه پیمانه سره د زراعتي محصولاتو (هارټیکلچري محصولاتو) څخه لاسته راځي. یادونه باید وشي چې په سبو کې د شحم اندازه د خاصې کتنې وړ نه ده او په زیاته پیمانه یوازې له حیواني محصولاتو تر لاسه کېږي. (۲م۳)، (۸م۲۱)
د ۲۰۰۲ کال د جون د ۱۱-۱۳ نېټې پورې د ایټالیا د روم په ښار کې نړیوالو د خوراکي توکو د انکشاف په خاطر یو کانفرانس د ناسالمې غذا او سوء تغذیې تر عنوان لاندې جوړ کړ، په دغه کانفرانس کې دا یادونه وشوه چې نن ورځ سوء تغذیه په نړیواله سطحه یو تهدیدوونکې ستونزه ده چې اکثره دغه حالت په وروسته پاتې ټولنو کې زیات لیدل کېږي؛ د سوء تغذیې ستونزه د انسان پر روغتیا، انکشاف او ودې مستقیمې اغېزې لري چې

پورتـه اکثـره مشـکلات يـوازې د زراعتـي محصـولاتو د باکيفيتـه او باکميتـه توليـداتو پـه اسـاس لـه منځـه تللـی شي چې د زراعتي محصولاتو د ډلې څخه سابه د انسان په خوراک کې مهمه ونډه لري. (۴م۱)

## موخې:

دا موضـوع ددې لپـاره غـوره وګڼـل شـوه چې مينـه وال او د مسـلک خاونـدان د سـبو د خـوراکي ارزښـت پـه اړه علمـي معلومـات ترلاسـه کړي او هغـه ګڼ شـمېر سـتونزې او بې نظمـۍ چې د انسـان پـه بـدن کې رامنځتـه کېـږي، مخنيـوی يې وشـي. پـه دغـه مقالـه کې د سـبو ګڼ شـمېر خـوراکي ګروپونـو سـرچينې او همدارنګـه هغـه سـتونزې او بې نظمـۍ چې د سبو د قلت په اساس رامنځته کېږي، هم ښودل شوې دي.

## د انسان په روغتيا کې د سبو ونډه:

پـه عمـومي توګـه د انسـان د صـحت او روغتيـا پـه سـاتلو کې د سـبو ونـډه مهمـه ګڼـل کېـږي، د ښـه صـحت او روغتيـا د لرلـو پـه خـاطر د يـوې متـوازنې غـذا خـوړل اړيـن دي. د خـوراک نړيـوال سـازمان سپارښـتنه کـوي چې د يـوه انسـان لپـاره د يـوې ورځـې پـه مـوده کې ۳۰۰ ګرامـه متوازنـه غـذا خـوړل اړيـن دي چې لـه دې جملې څخـه ۱۲۰ ګرامـه پاڼـه ييـز سـابه، ۹۰ ګرامـه نيلـه لرونکـي سـابه او ۹۰ ګرامـه د سـبو د پـاتې ډولونـو څخـه يادونـه شـوې ده. د سـبو د غـذايي مـوادو موجوديـت د خوړلـو پـه طريقـې، د حاصـل د جمـع اوری پـه وخـت، د زيرمـه کولـو پـه مـوده او داسې نـورو عواملو پورې اړه لري. په عمومي توګه سابه لاندې غذاوې برابروي: (۳م۱)، (۸م۱)

انـرژي ورکـوونکي غـذايي تـوکي: هغـه سـابه چې د کاربوهايـډريټ څخـه غنـي دي، د انـرژي ورکـوونکي خـوراک پـه نوم يادېږي؛ په دې ډله کې نيله لرونکي سابه، تيوبرز، وچې مېوې، شکرې او شحم شامل دي.

بـدن جـوړوونکي خـوراکي تـوکي: يـو زيـات شـمېر سـابه د پـروټين غنـي منبـع ګڼـل کېـږي چې د بـدن جوړوونکـو پـه حيث پېژندل شوي دي؛ مټر، لوبيا او د دوی وچ شوي تخمونه د پروټينونو غوره منابع ګڼل کېږي.

سـاتونکي (محـافظوي) خـوراک: سـابه د طبيعـي ارزانـه سـاتونکو منـابعو پـه حيـث پېژنـدل شـوي دي چې د ويټـامينونو، پروټينونـو، منرالونـو او کاربوهايـډريټونو څخـه عبـارت دي، چې د هـر ګـروپ پـه اړه يې پـه تفصـيل سره بحث کوو: (۸م۲۰)

I. ويټامينونه:

ويټامينونـه کيميـاوي مـواد دي چې د عـادي ودې او نمـو لپـاره ضـروري برښـي چې پـه بـدن کې پـه کـافي شـکل سـره نه شي توليدېدلی، نو اړينه ده چې له خوراکونو ترلاسه شي، سابه د ويټامينونو ښې سرچينې ګڼل کېږي.

الـف- ويټـامين ای (A): نومـوړی ويټـامين پـه غـوړو کې منحـل دی او هـم نسـبتا د حـرارت پـه مقابـل کې مقاومـت لـري، مګـر پـه اسـانۍ سـره د اکسډيشـن پـه واسـطه تخريبېـږي. دا ويټـامين د بـدن د عـادي ودې د ترسـره کولـو لپـاره ضـروري دی، نومـوړی ويټـامين د بـدن د زوړوالـي پـه کمولـو او د انفکشـن پـه مقابـل کې مقاومـت ورکولـو کې مرسـته کـوي او همدارنګـه د سـترګو پـه ليدنـه کې مهـم رول لوبـوي. د نومـوړي ويټـامين د قلـت پـه صـورت کې د شـبکورۍ پېښـه، د پوسـتکي وچېدنـه او چاودېدنـه، پـه بـدن کې د غـوړو د غـدو تـړل کېـدل، د نوکـانو ماتېـدل او د سـر د ويښـتانو د پخـې پيـدا کېـدلو سـتونزې رامنځتـه کـوي. ګـازرې، پالـک، کـدو پـاڼې، ګشـنيز، براکـولي، خربـوزه، شـلغمو پـاڼې، رومـي بانجـان، کـاهو، مليـو پـاڼې او داسې نـور سـابه يې غـوره سـرچينې ګڼـل شـوي دي. (۸م۲۰)، (۳م۱)، (۲م۵)

ب- ويټـامين بـي کمـپلکس (B): دا ويټـامين د اشـتها پـه ورکولـو او د ښـې هاضـمې پـه راوسـتو کې مرسـته کـوي. سـربېره پـردې ويټـامين بـي۱ (تيـامين) د بـدن د ښـې ودې، د نمـو د زيـاتوالي او د عصـبي حجـرو عـادي دنـدې سـرته رسـوي؛ نومـوړی ويټـامين پـه اوبـو کې منحـل دی او همدارنګـه پـه بـدن کې د کاربوهايـډريټ د ښـې اسـتفادې لپـاره ضـروري دی. د ويټـامين بـي۱ ورځنـۍ اړتيـا ۱،۲ ملـي ګرامـه ښـودل شـوې ده. د نومـوړي ويټـامين د قلـت پـه صـورت

کې برې برې ناروغي، د وزن بایلل، بې اشتهايي، د بدن د حرارت ښکته کېدل او د اسې نورې ستونزې رامنځته کېږي. هغه سابه چې ددې ویټامين غوره سرچینې ګڼل شوې، د کرم، کاهو، ګازرې، پیاز، مټر، شنه مرچ، پالک، د شلغمو پاڼې، د ملیو پاڼې، کچالو، هوږه او د اسې نورو څخه عبارت دي. (۸م۲۱)، (۳م۲)، (۲م۲)

ج- ویټامين سي (C): نوموړی ویټامين په اوبو کې په ښه شکل سره حلېږي؛ څرنګه چې نوموړی ویټامين په بدن کې نه ذخیره کېږي، نو باید په ورځني ژوند کې په دوامدار شکل سره وخوړل شي. په ورځني خوراک کې ۵۰ ملي ګرامه سپارښتنه شوې ده. ویټامين سي د زخمونو د جوړېدو پروسې ته سرعت ورکوي او د ټوخي او یخ سره حساسیت له منځه وړي. ددې ویټامين د قلت په صورت کې د زخمونو په ځنډ سره جوړېدل، د ټوخي او یخ سره حساسیت منځته راتګ، د امراضو په مقابل کې د مقاومت کموالی، په ماشومانو کې د سکاروي ناروغۍ منځته راتګ، د غاښونو خرابوالی، د زړه غټوالی او د اسې نورې ستونزې رامنځته کوي. د ویټامين سي ښې سرچینې د شنو سبو لکه پالک، کرم، کاهو، د ملیو پاڼې، د شلغمو پاڼې او دا رنګه نور سابه لکه شنه مرچ، رومي بانجان، کچالو، خواږه کچالو، ګلپي، کربله او د اسې نورو څخه عبارت دي. یادونه باید وشي چې د پخولو په وخت کې د ویټامين سي یو څه برخه ضایع کېږي. (۳م۲)، (۸م۲۲)

د- ویټامين ډي (D): ویټامين ډي د هډوکو په تشکیل کې مرسته کوي چې د فاسفورس او کلسیم په استفادې سره ښه ترسره کېږي. نوموړي ویټامين د هډوکو د نرموالي او غاښونو د ناروغیو څخه مخنیوی کوي. شنه سابه د ویټامين ډي ښه منابع لري؛ د شنو سبو تر څنګ که چېرې د سهار له خوا بدن د څو ساعتونو لپاره لمر ته مخامخ شي، هم د ویټامين ډي په تشکیل کې مثبت رول لوبوي. (۳م۲)، (۲م۴)

ه- ویټامين اي (E): نوموړی ویټامين د عادي مثل تولید او د میتابولېزم د تنظیم لپاره ضروري دی چې د عقامت پر ضد ویټامين په نوم هم یادېږي. ددې ویټامين ورځنۍ اړتیا ۵۰ ملي ګرامه ښودل شوې ده. ددې ویټامين د قلت په صورت کې په تدریجي توګه د پښتورګو له منځه وړل او د مثل د تولید د توانمندۍ د کموالي باعث ګرځي. د نوموړي ویټامين غوره منابع پاڼه لرونکي سابه لکه کرم، کاهو او پالک او همدارنګه د سبو غوړ یا تیل هم ګڼل کېږي. (۳م۳)، (۸م۲۲)، (۴م۱۵-۱۲-۷)

و- ویټامين ک (K): یاد ویټامين د پروترومبین د تشکیل او د ځیګر د فعالې دندې سرته رسولو لپاره ضروري دی او نوموړی ویټامين د وینې د لخته کېدو موده لنډوي. د نوموړي ویټامين لپاره ورځنۍ اړتیا (0,015) ملي ګرامه ښودل شوې ده. ددې ویټامين د قلت په صورت کې د شدیدو زخمونو څخه د وینې نه ودرېدل او د ځیګر څخه د صفرا عادي ترشح کېدو مخنیوی رامنځته کوي. ټول شنه سابه ددې ویټامين غوره منابع دي. د یادونې وړ ده چې د کولمو بکتریاوې هم نوموړی ویټامين تولیدوي. (۳م۴)، (۱م۳)

II. پروټين:

پروټين د بدن د ښې او سالمې ودې لپاره اړین دي؛ پروټين د نایتروجن پېچیده عضوي مرکبات دي چې د پروتوپلازم د زیاتو برخو تشکیل کوونکي دي او هم د حجرو او انساجو په تشکیل کې مهمه ونډه لري. پروټين د ضروري امینو اسیدونو چې د بدن د انساجو د تشکیل او ساتلو لپاره ورڅخه کار اخیستل کېږي، زیات اهمیت لري. په یوه اورګانېزم کې د پروټينو ذخیره کولو ظرفیت د شحمو او کاربوهایدریټونو په نسبت لږ دی. پروټين د انزایمونو او هارمونو په شکل د بدن د مهمو میتابولیکي پروسو په تنظیم کې خاصه ونډه لري. د پروټين ورځنۍ اړتیا ۲۰ څخه تر ۷۰ ګرامو ښودل شوې. د پروټين د قلت په صورت کې د ماشومانو وده ودرېږي، ذهن ښه انکشاف نه کوي، پوستکی او ویښته خپل رنګ له لاسه ورکوي او د مخ، پنډیو او تلو پړسوب پېښېږي. په سبو کې پروټيني منابع د پالک، سیلري پاڼې، مټر، هوږه او همدارنګه په ځینو تخمونو کې لکه میو تخمونه، لوبیا او مخصوصاً په سابینو کې په زیاته پیمانه لیدل کېږي، سابه د حیواني محصولاتو په نسبت لږ پروټين لري. (۸م۲۳)، (۲م۵-۲)

III. کاربوهایدریتونه:

کاربوهادریت د مهمو کالوري ورکوونکو خوراکونو او د انرژۍ د عمده منابعو څخه شمېرل کېږي. په اسانۍ سره د هضم وړ دي او د بدن د وزن په ساتلو کې ښه رول لري. کاربوهادریت د خپل ترکیب له مخې په درې ګروپونو ویشل شوي دي؛ په مونوسکرایدونو کې ګلوکوز، فرکتوز او مانوز؛ په اولیګو سکارایدونو کې سکروز، لکتوز او مالتوز او په پولي سکرایدونو کې نشایسته، سلولوز او انولین شامل دي. په سبو کې کاربوهایدریت اساساً د نشایستې او سلولوز په شکل سره پیدا کېږي. د کاربوهایدریت ورځنۍ اړتیا ۴۰ څخه تر ۵۰ ګرامو ښودل شوې ده او د قلت په صورت کې د انرژۍ دلاسه ورکول او د بدن د ضعیفوالي سبب کېږي. غوره منابع د کچالو، یام، هوږه، مټر، پیاز، کریله، کرم، ګازرې، لوبیا او خوږو کچالو څخه عبارت دي. (۸م۲۴)، (۳م۱)، (۵م۱۰)

IV. منرالونه:

سابه د منرالونو غوره منابع شمېرل کېږي؛ منرالونه د فیزیالوژیکي فعالیتونو د ښه تنظیم او د مثل په تولید کې مهم رول لوبوي او همدارنګه د ښې او سالمې بدني ودې او انکشاف لپاره زیات ضروري ګڼل کېږي. ضروري منرالونه د کلسیم، اوسپنه، فاسفورس، پوتاشیم، سودیم، مګنیزیم، کلورین، سلفر، مس او ایودین څخه عبارت دي. د ذکر شویو منرالونو څخه کلسیم، اوسپنه، فاسفورس ډېر زیات اهمیت لري. (۸م۲۳)، (۲م۷)

الف- کلسیم: د ښه او روغ هډوکي د تشکیل لپاره کلسیم مهم رول لوبوي. بدن ته د انفکشن په مقابل کې مقاومت ورکوي او همدارنګه د زړه د عادي دندو سرته رسول او د غاښونو د انکشاف په پروسه کې با ارزښته رول لري. د کلسیم ورځنۍ اړتیا ۵۰۰ څخه تر ۲۰۰ ملي ګرامو پورې ښودل شوې ده. د کلسیم د قلت په صورت کې د هډوکو نرموالی، په ماشومانو کې د ودې کموالی او ژر قهربدنه منځته راځي. د کلسیم غوره منابع د لوبیا، پالک، ورخارې، د کدو پاڼې، د ملیو پاڼې، نعنا، ګلپي، پیاز، مټر او رومي بانجان څخه عبارت دي.

ب- اوسپنه: اوسپنه د هیموګلوبین ښه تشکیلوونکې ده. د اوسپنې ورځنۍ اړتیا ۱۰ ملي ګرامه ده. ددې عنصر د قلت په صورت کې هیموګلوبین په وینه کې کمېږي. پاڼه ییز سابه د اوسپنې غوره منابعو څخه شمېرل کېږي، لکه د شړشمو پاڼې، ګشنیز، ملیو پاڼې، نانا، لوبیا پاڼې، کرم، کاهو، ګازرې، پیاز، رومي بانجان او داسې نور، مګر زیاته اندازه په پالکو کې موندل کېږي. (۸م۲۳)، (۵م۵)

ج- فاسفورس: فاسفورس د غاښونو، هډوکو او حجراتو په ویش کې مهم رول لوبوي. د فاسفورس ورځنۍ اړتیا ۱۰۰۰ ملي ګرامه اټکل شوې ده. د فاسفورس د قلت په صورت کې د بدن وده ځنډېږي او ښه انکشاف نه شي کولی. د فاسفورس غوره منابع د مټرو، لوبیا، کدو پاڼې، ګازرې، کچالو، رومي بانجان، بادرنګ، ګلپي، کرم، پالک او هوږې څخه عبارت دي، لېکن زیات مقدار فاسفورس په هوږه کې تشخیص شوی دی.

د- ایودین: ایودین د انسان د روغتیا لپاره ضروري دی او همدارنګه د تایراید د غدې څخه د تاروکسین د هارمون د ترکیب لپاره اړین دی. د ایودین ورځنۍ اړتیا (0,1) څخه تر (0,2) ملي ګرامه ښودل شوې ده. د ایودین ښې منابع د رومي بانجان، خواږه مرچک، ګازرې، پیاز، هوږه، لبلبو، بامیه او داسې نورو څخه عبارت دي. په روزمره ژوند کې باید د ایودین لرونکې مالګې څخه استفاده وشي، چې د قلت په صورت کې د ستوني د پړسوب سبب کېږي.

ه- سودیم: د سودیم ورځنۍ اړتیا ۴۰۰ څخه تر ۲۰۰ ملي ګرامه ښودل شوې ده. ددې عنصر د قلت په صورت کې د وزن کموالی او د اعصابو د ضعیفوالي ستونزه منځته راځي. سیلري، شنه پیاز، کرم، ملی او داسې نور سابه د سودیم غوره منابع دي. پټه دې پاتې نه وي چې د سودیم د مالګې د خوړلو له مخې هم اخیستل کېږي. (۸م م۲۳-۲۴)، (۳م م۲-۳)

۷. فايبرونه:

خشبي علوفي او فايبرونه د خوراکي موادو د ښه هضم لپاره ضروري دي. سلولوز او فايبرونه د خوراکي موادو د هضمي کانال د لارې لاندې خواته تېله کوي، د کلمو حرکت تحريکوي او بالاخره د قبضيت په مخنيوي کې مهم رول لري. پانه ييز سابه لکه پالک، کاهو، کرم او نيله لرونکي سابه او لېږو د فايبرونو اساسي سرچينې لري. (۸م۲۴)، (۵م م۷-۸)

## پايله:

د دې ليکنې په پای کې څرگند برې چې د انسان لپاره خوراکي مواد په پينځو اساسي گروپونو باندې ويشل شوي دي چې دا اساسي گروپونه د کاربوهايدريتونو، پروتينونو، ويټامينونو، منرالونو او شحمونو څخه عبارت دي. په عمومي توگه د غه څلور گروپونه د مختلفو سبو د خوړلو څخه لاسته راځي. د انسان په بدن کې گڼ شمېر فيزيالوژيکي ستونزې او بې نظمۍ د ناسالم خوراک څخه منځته راځي، نو په دې اساس له پورتنۍ څېړنې وروسته دې نتيجې ته رسېږو چې د مختلفو سبو خوړل د انسان په صحت او روغتيا باندې مستقيمې اغېزې لري.


## Abstract:

Vegetable constitute an important component of a balanced diet for man. They supply important vitamins and minerals that the human body needs for a healthy and active life. Vegetables are considered protective foods and also play an important role in providing a balanced diet to the human beings. A balanced diet contains adequate energy sources, vitamins, minerals, fats, fibres and protein rich in essential amino acids. Vegetables are called protective foods as their consumption prevents several diseases. To derive maximum benefits of their nutrients, vegetable should be consumed fresh as far as possible. Most vegetable are best consumed in their natural raw state in the form of salad. If vegetable have to be cooked, it should be ensured that their nutritive value is preserved to maximum extent possible. Vegetables also play a role in neutralizing acids produced during digestion of protein and fat rich foods. Vegetable crops are short duration and therefore more number of crops can be grown per year. As most of Afghans are living in poverty and food insecure condition and have not access for required amount of vegetable, also have not public awareness on importance of vegetables. Therefore, this publication will encourage the people to use vegetable in their diet to overcome the raised problems.


## References:


1: Arun, K. and Kamal, R. (2007), Objective Vegetable Science, Kalyani Publishers, New Delhi.

2: Dhaliwa, M.S. (2008), Handbook of Vegetable Crops, , Kalyani Publishers, New Delhi.

3: Fagerai, M.S., Choudhary, B.R. and Dhaka, (2006), Vegetable Crops Production Technology Vol.II, 2006, Kalyani Publishers, New Delhi.

4: Hazara, P. and Som, M.G.(2006), Vegetable Science, 2006, Kalyani Publishers, New Delhi.

5: Jitendra Singh, (2011), Basic Horticulture, Kalyani Publishers, New Delhi.

6: Prem Singh Arya,(2004), A text book of Vegetable culture, Kalyani Publishers, New Delhi.

7: Rana, M.K. (2008),Scientific Cultivation of Vegetables, Kalyani Publishers, New Delhi.

8: Singh, S.P. (1997), Principles of Vegetable Production, Agrotech Publishing Academy New Delhi.

۹: حمزه خېل، نورگل. (۱۳۲۲). سبو روزنه. کابل: کابل پوهنتون خپرونه

پوهنمل محـــمد ايمـــل (حقمـــل)
حقوقو او سياسي علومو پوهنځـــی
عـــامه حـــقوقو څـــانګـــه

# د ټرسټ (Trust) حقوقي بنسټ مفهوم او ځانګړتياوو څېړنه

**لنډيز:**

په دې علمي څېړنيزه مقاله کې د نړۍ د يو لوی حقوقي سيستم کامن لا د ټرسټ بنسټ چې په دې حقوقي سيستم کې يو ډېر د اهميت وړ حقوقي مفهوم دی او د خصوصي حقوقو يوه پراخه ساحه احتوا کوي، ولې په نورو حقوقي سيستمونو او له هغې جملې څخه زموږ په ګران هېواد افغانستان کې يو ناپېژندل شوی حقوقي بنسټ او مفهوم دی، په پيل کې يې د رامنځته کېدو علتونه، موقعيت، د تطبيق حقوقي ساحې او له نورو حقوقي مفاهيمو سره د ورته والي څرنګوالی او وروسته د دې حقوقي بنسټ په هکله د روم- جرمن حقوقپوهانو نظر او د نظر نيمګړتياوې تر څېړنيز بحث لاندې نيول شوي چې لوستل به يې د عامو لوستونکو او په ځانګړې توګه د حقوقو زده کوونکو او د مسلک مينه والو لپاره بې ګټې نه وي.

**سريزه:**

ټرسټ د انګلستان په حقوقو کې يو ځانګړی بنسټ دی چې په نورو حقوقي سيستمونو کې نه ليدل کېږي. دا بنسټ په انګلستان کې د انصاف د حقوقو په واسطه ايجاد شوی او په انګريزي کامن لا حقوقو کې د کليدي نقش لرونکی دی.
ټرسټ په دې توګه رامنځته کېږي: د ټرسټ مؤسس (تشکيلوونکی) (settlor of the trust) موافقه کوي چې مشخص اموال يو يا څو اشخاصو ته چې ټرسټي (Trustees) بلل کېږي، وسپاري چې دا اموال د يو يا څو نورو اشخاصو په ګټه چې ذينفع (beneficiary يا Cestuisque trust) بلل کېږي، په کار واچوي، اداره يې کړي او يا يې هم وساتي. پروفيسور کېټون (Professor keeton) په خپل کتاب کې ټرسټ دا ډول تعريفوي: (ټرسټ له هغې رابطې څخه عبارت دی چې کله يو شخص (چې ټرستي ورته ويل کېږي) د انصاف د حقوقو په اساس مؤظف کېږي چې يوه اندازه مال (منقول وي او که نامنقول) د يو او څو نورو اشخاصو په ګټه (چې ممکن ټرستي هم يو له هغوی څخه وي) اداره او وساتي، په دې صورت کې د اموالو واقعي ګټه ذينفع طرف او يا اشخاصو ته رسېږي، نه ټرستي او يا ټرستيانو ته). (۴م۷۹)
د ټرسټ بل تعريف داسې دی: ټرسټ يو منصفانه تعهد دی چې شخص د ټرستي په نوم مکلف کوي، ترڅو له هغو اموالو څخه چې د هغه د کنټرول او نظارت لاندې دي او د ټرسټ اموال ګڼل کېږي، د هغو افرادو په ګټه چې ذينفع نومېږي او ممکن په خپله دی هم يو له هغوی څخه وي، اداره کړي. دلته بايد ووايو چې د ټرسټ ماهيت او د هغې مفهوم د قرارداد يا معاهدې له مفهوم سره کاملاً توپير لري، ولې له دې سره سره بيا هم د ټرسټ منشاء تعهدي ده او موږ يې قراردادي تعهد شمېرلی شو، بناءً د هغه ماهيت يو ځانګړی قراردادي تعهد دی.
ټرسټ د مالکيت د تجزيې يو ډول دی چې د ټرسټ مالکيت يو اندازه امتيازات د ټرستي او په داسې حال چې نور امتيازات د ذينفع (ګټه پورته کوونکي) پورې اړه لري، يا په بل عبارت د ټرسټ ځانګړې خصوصيت دوه ګونی مالکيت دی، ټرستي قانوني مالک دی او ذينفع حکمي مالک دی؛ يا په عبارت ټرستي د کامن لا د حقوقو له مخې مالک ګڼل کېږي او ذينفع د انصاف د حقوقو له مخې مالک ګڼل کېږي. په مالکيت کې دا ډول دوګانګي امکان لري، ځکه په داسې حال کې چې ټرستي کولای شي د مال قانوني مالک وي، د وجدان او اخلاقو په لحاظ هغه مکلف دی چې د ټرسټ اموال د ذينفغ افرادو په ګټه تصرف او وساتي.

## موخې:

- د حقوقو مسلک مينه والو او علاقمندانو ته د ټرسټ حقوقي بنسټ په اړه د معلوماتو برابرول.
- د ټرسټ د بنسټ پرتله د نورو حقوقي سيستمونو له مفاهيمو سره او د هغې د ځانګړتياو په ګوته کول.
- د ټرسټ په هکله د نورو حقوقي سيستمونو د حقوقپوهانو د نظر د تېروتنو مشخص کول.
- د علمي رتبې اخيستنې د يو شرط (مقاله ليکنې) پوره کول.

## د انګريزي حقوقو د نورو حقوقي مفاهيمو ترمنځ د ټرسټ د بنسټ موقعيت:

د انګلستان په حقوقو کې ټرسټ د ځانګړي موقعيت او اهميت لرونکی دی، ځکه چې د هغې ساحه دومره پراخه ده چې د وصيت، هبې، وکالت او داسې نورو مفاهيمو ځای نيسي؛ نو د ټرسټ د ساحې همدا پراختيا د دې لامل ګرځېدلې چې په انګريزي ټولنه کې په ټولنيزو روابطو کې موثر رول ولري، تر دې اندازې چې له انګرېز حقوقپوهانو څخه د يو په عقېده کله چې مال د مطلق مالکيت څخه پرته د کوم چا په تصرف کې وي، نو هغه به معمولاً د ټرسټ له عناوينو څخه تر يو عنوان لاندې وي. بناءً پردې ټرسټ د هغو حقوقي عمالو او يا بنسټونو له جملې څخه دی چې هم د (اماني يا نيابتي عقدونو) لکه وصيت او وکالت ځانګړتياوو لرونکی دی او هم د (تمليکي) عقدونو لکه هبې د خصوصياتو لرونکی دی. (۸م۲۹)

لکه څرنګه چې په منځنيو پېړيو کې په انګلستان کې د کامن لا حقوق د ځمکې د وراثت د لاسته راوړلو مانع ګرځېده، بناءً د ټرسټ ايجاد د کامن لا له قواعدو څخه د تېښتې يوه لاره وه، په دې توګه چې د ټرسټ په ايجاد سره د ځمکې او جايداد قانوني مالکيت د مالک له وفات څخه مخکې ټرسټ منتقل کېده او د هغه قانوني مالکيت به ورثه و ته منتقل کېده او په نتيجه کې به هم د وراثت د انتقال د ممانعت او هم به د ميراث پر مال باندې د درنو مالياتو مخه نيول کېده. له ټرسټ څخه مختلفو اهدافو ته د رسېدو لپاره استفاده کېده او کېږي، له ټرسټ څخه علاوه له نورو حقوقي بنسټونو څخه د دومره پراخو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره استفاده نه شي کېدای. دا اهداف په لاندې ډول دي:

الف: د هغو اهليت نه لرونکو افرادو توانمند کول چې په عادي حالاتو کې د مال د تملک توان نه لري، مثلاً ماشومان چې توان نه لري د ځمکې مالک شي، د ټرسټ له طريقه کولای شو چې هغوی ته د ځمکې قانوني مالکيت انتقال کړل شي.

ب: د دې لپاره چې وارث ته د وراثت د مال ګټه ورسول شي.

ج: د خيريه او عام المنفعه کارونو د سرته رسولو لپاره.

د: له مالياتي مسئوليتونو څخه د فرار او يا هم د هغوی د کموالي لپاره، ځکه د وراثت په مال په انګلستان کې ډېر درانه ماليات وضع کېږي، اما دا ماليات په هغو اموالو او دارايۍ باندې نه وضع کېږي چې متوفي لاقل له خپل وفات څخه درې کاله پخوا د هغه مالکيت ټرسټ ته حواله کړی وي. (۷م۸۲)

## شاليد (پس منظر):

د ټرسټ بنسټ په انګلستان کې په دولسمو او ديارلسمو ميلادي پېړيو کې د صليبي جنګونو په جريان کې رامنځته شو، په هغه وخت کې د ځمکې مالکيت د فيوډالي نظام په اساس ولاړ و، کله چې يو د ځمکې خاوند په جنګ کې د برخې اخيستلو لپاره له انګلستان څخه تللو، نو بايد په يو شخص يې اعتماد کړی وای او خپل اموال يې د هغه په اختيار کې ورکړي وای، ترڅو د هغه په غياب کې هغه اداره کړي او د هغه ماليات ادا کړي. د همدې هدف لپاره به يې خپلې ځمکې له خپلو دوستانو څخه يو ته سپارلې، ترڅو د بېرته راتلو په وخت کې خپله ځمکه بېرته واخلي؛ مګر کله داسې واقع کېده چې ټرسټي له هغه اعتماد څخه چې په هغه شوی و، سوء استفاده کوله او د ځمکې له بېرته سپارلو څخه يې انکار کولو. (۸م۳۰)

لکه څرنګه چې مخکې يادونه وشوه په هغه وخت کې کامن لا (قراردادي تعهدات) په رسميت نه پېژانده، په نتيجه کې د متضرر شکايت د کامن لا محکمه کې کومه نتيجه نه ورکوله. د جنګ ګرځېدونکي دوی ته د رسېدلي خسارې د جبران

لپاره بله چاره نه درلوده، پرته له دې چې پاد شاه ته مراجعه وکړي، پادشاه د هغوی شکايت د دربار وزير (صدراعظم) ته راجع کاوه او صدراعظم به هم په هغه ډول حکم صادروه چې هغه ته به عادلانه او منصفانه معلومېده او له خپل قدرت څخه يې د دې امر د تحقق لپاره استفاده کوله. دا د (کامن لا) د حقوقو د خلاو ډکولو لپاره د(انصاف) د حقوقو د ايجاد د پيل زمانه وه. د صدراعظم له نظره دا عادلانه نه وه چې د ځمکې قانوني مالک د جنګ د بېرته ګرځېدونکو له حق څخه انکار وکړي، په نتيجه کې به يې له جنګ څخه د بېرته ګرځېدونکو په حق کې فيصله کوله. د وخت په تېرېدو سره د انصاف محاکمو دا ادعا په رسميت وپېژندله. قانوني مالک ځمکه د اصلي مالک په ګټه اداره کوي او کله چې اصلي مالک غواړي، قانوني مالک بايد ځمکه بېرته هغه ته وسپاري. په دې ځای کې له جنګ څخه بېرته ګرځېدونکي (ذينفع) يا ګټه پورته کوونکي او د هغه دوست ته د (ټرسټي) نوم ورکړل شو او د پېړيو په تېرېدو سره دا بنسټ په ننني ټرسټ واوښت. (۵م۱۳۷)

## د ټرسټ عناصر (ارکان):

په عمومي ډول ټرسټ د لاندې عناصرو لرونکی دی:

۱- د ټرسټ مؤسس ۲- ټرسټي ۳- ذينفع (ګټه پورته کوونکی) ۴- په ټرسټ پورې تړلي اموال

چې هر يو يې په لنډه توګه توضيح کوو:

## د ټرسټ مؤسس:

د ټرسټ مؤسس هغه شخص دی چې د هغه په اراده او قصد ټرسټ رامنځته کېږي، ذينفع (ګټه پورته کوونکی) او د هغوی برخې مشخصې کوي، د ټرسټ لپاره شرايط او اهداف وضع کوي او همدارنګه ټرسټي يا ټرسټيان ټاکي؛ (اما په ځينو حالاتو کې ټرسټي يا ټرسټيان د محکمې له خوا ټاکل کېږي). (۴م۷۹)

## ټرسټي:

ټرسټي کېدای شي حقيقي (فزيکي) شخص وي او يا هم حقوقي (حکمي) شخص. ټرسټي يا ټرسټيان د هغوی د نوعيت پر اساس متعدد حقوق او وظايف لري، يو ټرسټ د دې لپاره چې ټرسټي ته ضرورت لري، بايد رد نه شي او يا سقوط ونه کړي، ولې چې محکمه معمولاً په خپله د (انصاف د اصولو) پر اساس د ټرسټ لپاره ټرسټي تعينوي. ټرسټي په حقيقت کې هغه شخص دی چې د ټرسټ د مال اداره د هغه مقصد او هدف ترسره کولو په خاطر پر غاړه لري چې د ټرسټ مؤسس ورته تعين کړي، د ټرسټي رابطه به په ټرسټ پورې له تړلي مال سره وي او د قانوني مالک رابطه به له ملکيت سره وي، يا په بل عبارت ټرسټي د ټرسټ د مال په اړوند هم اداري اختيارات لري او هم د نقل او انتقال اختيارات او دا انتقال کېدای شي د معوض او يا غير معوض وي، يعنې هغه حتی کولای شي د ټرسټ مال بل چا ته هبه کړي، اما بايد توجه ولري چې ټرسټي د مالکيت يو ځانګړی مالکيت دی، بناء پردې د ټرسټ اموال د هغه شخصي ملکيت نه ګڼل کېږي او په نتيجه کې د هغه خپلوان نه شي کولای هغه توقيف کړي او نه هم دا مال د ده هغه ورثه و ته د ميراث په توګه رسېږي، همدارنګه د ټرسټ د مالکيت له محدوديتونو څخه يو دا دی چې ټرسټي نه شي کولای چې د ټرسټ له مال څخه ګټه پورته کړي (استثمار) او يا هغه مادتاً نابود او له منځه يوسي. (۸م۳۸)

## د ټرسټي مکلفيتونه:

ټرسټي ټول هغه امورات او مکلفيتونه پر غاړه لري چې په ټرسټ پورې تړلو اموالو د اداري لپاره ضروري دي. البته دا مکلفيتونه د ټرسټ د جوړېدو په سند کې مخکې له مخکې پيشبيني شوي وي. اما کېدای شي د سند د امضاء کولو په وخت کې د ټرسټي په وظايفو کې زياتوالی او کموالی راوستل شي، البته په دې شرط چې دا زياتوالی او کموالی مبهم، غيرقانوني او د عمومي نظام په خلاف نه وي او همدارنګه د ټرسټ د رابطې د غوښتونو سره مغاير نه وي. (۱م۱۹۱)

دلته د ټرسټي له تعهداتو او مکليفتونو څخه ځينې مثالونه ذکر کوو:

۱- د خپل کنټرول او نظارت لاندې د ټرسټ له مالونو څخه ساتنه، په داسې توګه چې د هغه د خصوصي اموالو او نورو اموالو څخه چې تر هر عنوان لاندې د هغه په لاس کې وي، جلا او ځانته وي. همدارنګه ټرسټیان باید د ټرسټ اموال مشترکاً تر خپل کنټرول لاندې ولري، مګر دا چې د ټرسټ په سند کې ذکر شوي وي چې اموال له ټرسټیانو څخه د یو ټاکلي شخص تر نوم لاندې وساتل شي.
۲- ټرسټي باید د ټرسټ د نقدو پیسو د ارزښت د ساتنې لپاره هغه نقدي وجهه (پیسې) په هغو ځایونو کې سرمایه ګزاري کړي چې د سرمایه ګزارۍ اجازه یې موجوده وي. بناءً پر دې د ټرسټي تعهدات په اکثره مواردو کې یوازې د ټرسټ د اموالو په ساتنې پورې محدود نه دي.
۳- د ذینفعو ترمنځ د ګټې او اصلي مال توزیع او هغوی ته حساب ورکول او همدارنګه د هغوی د حساب او مدرکونو ساتنه، په داسې توګه چې ذینفع د بازرسۍ او اطلاع لپاره هغه ته لاسرسی ولري. (۱م۱۹۲)

## د ټرسټي اختیارات:

د دې باوجود چې ټرسټي په ټرسټ پورې د تړلو اموالو اسمي مالک شمېرل کېږي او د هغو د ادارې په برخه کې د پراخو اختیاراتو لرونکی دی، اما په واقعیت کې په ټرسټ پورې تړلي اموال په امانتي ډول په خپل اختیار کې لري، تر څو دا اموال د ذینفعو د ګټې په هدف کنټرول او اداره کړي. په ټرسټ پورې له تړلو اموالو سره د ټرسټي امانتي رابطه د ټرسټ په هکله د هغه په پراخو اختیاراتو ځینې محدویتونه لګوي چې په لاندې ډول تر یادونه کوو:
۱- د معاملې طرف نه واقع کېدل:
د انګلستان په حقوقو کې د ټرسټي د معاملې د طرف د واقع کېدلو په هکله بدبیني وجود لري، د دې بدبینۍ علت د ټرسټي او د ذینفعو د منافعو ترمنځ د تعارض واقع کېدو د امکان موجودیت دی. د دې ډول معاملاتو اجرایوي ضمانت، د ذینفعو له خوا د هغوی باطلولو صلاحیت دی، د دې باوجود چې د معاملې عوض منصفانه وي.
البته د ټرسټ سند ، محکمه، قانون او یا بله هره وسیله لکه د ټرسټ له ایجاد څخه مخکې مذاکرات، کولای شي دا ډول اختیارات ټرسټي او یا ټرسټیانو ته ورکړي. په دې حالت کې هم ټرسټي په هغه وخت کې کولای شي چې د معاملې طرف وګرځي چې دا ثابت کړي چې معامله منصفانه ده.
۲- له هغو موقعیتونو او فرصتونو څخه چې د ټرسټي د وظیفې له حیثیت څخه یې لاسته راوړي او همدارنګه د ټرسټ له اموالو څخه د خپل ځان لپاره ګټه نه پورته کول: ټرسټي د ټرسټ له اموالو څخه ګټه نه شي پورته کولای او همدارنګه له هغو موقعیتونو او فرصتونو څخه چې د ټرسټي په توګه یې لاسته راوړي، د شخصي استفادې حق نه لري. د دې موقعیتونو او د ټرسټ له اموالو څخه د خپلې شخصي ګټې لپاره د استفادې په صورت کې به مسئول وي. مګر دا چې د ټرسټ سند او یا ټول ذینفع (د پوره قانوني اهلیت د لرلو په شرط) دا ډول اجازه هغه ته ورکړې وي.
دا ډول محدویت چې د امانت له رابطې څخه رامنځته کېږي، ممکنه ده پر ځینو نورو اشخاصو باندې مثلاً د ټرسټي پر وکیل هم وضع شي، په دې توګه چې هغوی هم له هغو فرصتونو او موقعیتونو څخه او همدارنګه د ټرسټ له اموالو څخه په خپله ګټه د استفادې حق نه لري. (۱م۱۹۳)

## ذینفع (ګټه پورته کوونکی):

د ذینفع د منافعو حدود او د هغوی د سهم اندازه، د ټرسټ د تشکیل کوونکي (مؤسس یا مالک) د اختیار او صلاحیت پر اساس د هغه له خوا معمولاً د ټرسټ په سند کې ټاکل کېږي. لکه څرنګه چې د انګلستان په حقوقو کې ذینفع له یوې خوا د ټرست له اموالو څخه د ګټې حق لري او له بلې خوا په ټرسټ پورې د تړلو اموالو انصافي مالک شمېرل کېږي، نو د ټرسټ له اموالو څخه د ګټې پورته کولو له حق څخه علاوه د نورو حقوقو لرونکی هم دی یا په بل عبارت په ټرسټ پورې د تړلو اموالو د انصافي مالکیت (د انصاف د حقوقو په اساس د مالکیت) له امله هغه په یو ځانګړي امتیازي موقعیت او موقف کې قرار نیسي چې له مخې یې کولای شي د ټرسټ د اموالو له اداري څرنګوالي څخه اطلاع ولري او د خپلو حقوقو د ساتنې لپاره د ضرورت په وخت کې اقدامات سرته ورسوي او دعوی اقامه کړي. (۵م۱۳۸)

## ټرسټ پورې تړلي اموال:

د (لارد لانګوال) په نظر د ټرسټ د عناصرو له جملې څخه یو هم د ټاکلې موضوع موجودیت دی، یا په بل عبارت دا چې یو ټرسټ منځته راشي، باید معلوم او ټاکلی مال وجود ولري چې د ټرسټ موضوع وګرځي. د ټرست موضوع باید کاملاً مشخصه او معلومه وي، که چېرته د ټرسټ موسس د ټرسټ په جوړولو په داسې ډول اقدام وکړي چې د خپلو ټولو اموالو یا یوه برخه د اموالو لپاره په اشتراکي ډول پرته د ذینفعو د برخې له واضح ټاکلو څخه په ګونګ ډول د مثال په ډول یوه برخه (ب) ته او یوه برخه (ج) ته، پرته له دې چې موضوع یې کاملاً مشخص کړي، د هغه ټرسټ نه منل کېږي او په دې حالت کې ټرسټیان د ملک د متصرف (د ټرسټ موسس) لپاره د مال ساتنې ته دوام ورکوي او ذینفعو ته هېڅ هم نه ورکول کېږي. د ټرسټ مال کېدای شي منقول یا غیرمنقول، عیني حق یا دیني (پور) حق وي، لکه طلب، سهامي شرکت، فکري او معنوي حقوق (لکه د تالیف حق د اختراع حق) او داسې نور وي. انګریزي حقوقپوهان د ګټې په مقابل کې د بقا یا پایښت قابلیت، د ټرسټ د مال له شرایطو څخه نه ګڼي، خصوصاً د دې ډول شرط نه لازمي والی ممکن د دې لپاره وي چې دا ډول شرط د ټرسټ د مال لپاره مشهود او ښکاره دی او داسې تصور کېږي چې د شرط په توګه د هغه ذکر یا معرفي کول، ضروري نه دي، ځکه ذینفع له هغه مال څخه ګټه پورته کولای شي چې له هغه څخه د ګټې د پورته کولو په صورت کې مال د بقاء قابلیت ولري.

ولې په لږ دقت سره د پورتني تصور بطلان ثابتېدای شي، ځکه بعضې وختونه د ټرست هدف او منظور یوازې په ټرسټ پورې د تړلو امولو ساتنه وي. ساده ټرسټ د همدې ډول حالت لرونکی دی، هغه داسې چې په دې ډول ټرسټ کې د ټرسټي وظیفه (د ذینفع تر کبر سن پورې) د ټرسټ د امولو ساتنه ده، نو په دې مورد کې د ټرست د اموالو څخه ګټه پورته کول نه مطرح کېږي، ترڅو د ګټې یا منفعت په مقابل کې د مال د بقاء د قابلیت بحث مطرح شي.

بنا پردې د دې باوجود چې په ډېرو مواردو کې په ټرسټي پورې تړلي اموال د ذینفع یا ذینفعو د ګټې لپاره ټرسټي ته ورکول کېږي، په بعضو وختونو کې ممکنه ده، مال یوازې د ساتنې لپاره هغه ته وسپارل شي، نو د پورتني شرط موجودیت په داسې مواردو کې ضروري نه دی. (۱م۱۰۹)

له بلې خوا که چېرته په ټرسټ پورې تړلی مال د ګټې یا منفعت پورته کولو په مقابل کې د بقاء قابلیت و نه لري، د تبدیل او تعویض په برخه کې نظر د هغه اختیار ته ټرسټي کولای شي هغه په بل مال معاوضه کړي. بنا پردې هېڅ ډول دلیل د دې شرط موجودیت لپاره وجود نه لري.

## د ټرسټ ډولونه:

ټرسټونه مختلف ډولونه لري او په دې اعتبار چې اهداف مقاصد او موضوعات یې کوم دي او په څه ډول منځته راغلي، یو له بل سره توپیر لري:

۱- صریح ټرسټونه (Express Trusts) ۲- ضمني ټرسټونه (Implied Trusts) ۳- تعبیري ټرسټونه (Constructive Trusts)

ټرسټونه نظر د هغوی موضوعاتو ته یعنې دا چې مقصد د هغوی خاصو اشخاصو ته ګټه رسول وي او یا د عمومي مقاصدو لپاره وي هم طبقه بندي یا تقسیمېږي چې په لاندې ډول دي:

۱- خاص ټرسټونه (Private Trusts) ۲- عام ټرسټونه (Public Trusts)

لکه څرنګه چې عام ټرسټ یوازې په صریح ډول ایجادېږي، نو له همدې امله کولای شو چې ووایو ټرسټ یا عام وي او یا خاص او خاص ټرسټ ممکنه ده صریح، ضمني او یا تعبیري وي.

الف: صریح ټرست: هغه ټرسټ دی چې مالک په خپل حیات یا ژوند کې د وصیت نامې پر اساس د یو او یا څو اشخاصو او یا یوه ډله د افرادو په ګټه، صریحاً هغه ایجاد کړي. ممکنه ده په کتبي ډول وي (لکه سند یا وصیت نامه) او په بعضې مواردو کې ممکنه ده په شفاهي ډول رامنځته شي.

ب: ضمني ټرسټ: هغه ټرسټ دی چې قانون هغه په ضمني ډول د ټرسټ په عنوان فرض کړی وي، يعنې فرض کېږي چې مالک قصد درلود چې داسې ډول ټرسټ ايجاد کړي، مشهور ترينه ضمني ټرسټ، استنباطي يا نتيجوي ټرسټ (Resulting Trust) دی. مثلاً فرض کړو مالک يو اندازه مال ټرسټيانو ته سپاري چې د هغه ګټه جمع کړي، که چېرته مالک مشخص نه کړي چې وروسته له وفات څخه د ټرسټ ګټه کوم شخص ته ورکړل شي او يا د کوم هدف په مقصد د ټرسټ ګټه مصرف شي، نو په دې حالت کې ټرسټيان د ټرسټ ګټه د ملک متصرف (د ټرسټ د موسس) پورې د نتيجوي ټرسټ په عنوان منسبوي.

ج: تعبيري يا حکمي ټرسټ: هغه ټرسټ دی چې د ټرست طرفين قصد نه لري چې هغه ايجاد کړي، ولې د انصاف حقوق د طرفينو د ارادې د په نظر کې نيولو پرته هغه پر طرفينو تحميلوي. د تعبيری ټرسټ مهمترين ډول هغه وخت منځته راځي چې ټرستي له ټرسټ څخه د تخلف په قصد يو فرد ته چې پوهېږي او يا بايد پوه شي چې نوموړی مال د ټرسټ دی، د ټرسټ مال انتقال کړي، په دې ډول موارد و کې هغه شخص چې د ټرسټ مال هغه ته منتقل شوی دی، د تعبيري ټرستي په توګه منصوبېږي او د دې انتصاب له امله هغه موظف دی چې په ټرسټ پورې تړلي اموال د ذينفعو لپاره وساتي، پس دلته منتقل اليه که يې خوښه وي او يا نه وي، تعبيري ټرستي شمېرل کېږي.

عام ټرسټ: د دې لپاره چې يو عام ټرسټ منځته راشي، درې شرطونه بايد تحقق پيدا کړي:

لومړی شرط: له حقوقي نظره ټرسټ بايد خيريه وي. (لارډ مکسناګستن) خيريه ټرسټونه په څلورو برخو ويشلي دي:

الف: د فقر د له منځه وړلو لپاره خيريه ټرسټونه ب: د تعليم او تربيې د انکشاف لپاره خيريه ټرسټونه ج: د مذهب د ترويج لپاره خيريه ټرسټونه د: نور خيريه ټرسټونه چې د ټولنې په ګټه وي، مثلاً د عام المنفعه کارونو د سرته رسولو لپاره لکه پل جوړول، د فقيرو افرادو حمايه او د مسلحو قواو تقويه کول.

دويم شرط: بايد ټوله جامعه او يا لا اقل يوه لويه برخه د ټولنې په بر کې ونيسي.

درېيم شرط: عام ټرسټ بايد په کامل، جامع او په انحصاري ډول، عام المنفعه وي؛ نو که چېرته ټرسټ د عام او خاص، دواړو مقاصدو لپاره په موازي ډول ايجاد شي، دا شرط نه تامنېږي. له همدې امله دا ډول ټرسټونه نسبت د هغې عامې برخې ته باطلېږي او يا له منځه ځي، يعنې ټرسټ نسبت د هغه عام المنفعه اهدافو ته باطل شمېرل کېږي. (۲م۵۹)

## ټرسټ د روم جرمن د حقوقي سيستم حقوقپوه له نظره:

د ټرسټ مالکيت د روم جرمن په حقوقي سيستم کې يو نااشنا مفهوم دی، آما د روم جرمن حقوقپوه چې کله ګوري چې د ټرسټ په وسيله د اهليت نه لرونکي او د حقوقي شخص دارايي اداره کېږي، نو تمايل پيدا کوي چې هغه د اهليت نه لرونکي د نماينده په حيث وګڼي چې په دې توګه د اهليت نه لرونکی به د ټرسټ د دارايی حقيقي مالک وي او دا اموال او دارايي به د هغه په ګټه اداره او په کار اچول کېږي. په نتيجه کې د روم- جرمن حقوقي سيستم حقوقپوه دې ته تمايل پيدا کوي چې ټرسټ نماينده ګي او يا يو ډول نيابت وګڼي چې د ټرسټ د موسس او يا د قانون په وسيله ټرستي ته ورکول کېږي. د فرانسې محاکم هم ددې فکر په اجرا کې کوم ترديد نه ښيي او په جرئت وايي چې ټرستي يو نماينده دی. (۳م۱۹۰)

کله چې د ميراث د متروکې د ويش موضوع مطرح وي، نو د قاروي اروپا د حقوقپوه لپاره دا د تصور وړ نه ده چې يو څوک د متوفی د کورنۍ غړی هم نه وي، د اجرا کوونکي (وصي-executor) او اداره کوونکي (Administrator) په حيث وټاکل شي چې دينونه يا پورونه دوی له متروکې تاديه کړي او نوره متروکه دې په مستحقينو وويشي او د يوې مودې لپاره دې د متروکې د مالک په حيث وګڼل شي. ولې په دې هکله د فرانسې د محاکمو له خوا په صادرو شويو فيصلو کې دا منل شوې، هغه شخص چې د ارث په هکله د ټرسټ د مدير او اجرايوي مسؤل (ټرستي) په حيث واک په لاس لري، له وصي (نماينده) څخه ډېرو اختياراتو لرونکی دی.(۳م۱۹۰)

په دې توګه ويلی شو چې له هغې زمانې څخه وروسته چې په انګلستان کې د انصاف حقوق منظم شوي (تر سيستم لاندې راغلي) او په عمل کې کامن لا تکميل لپاره د قواعدو يوه مجموعه ګرځېدلې ده، کېدای شي ټرسټ يو بل څه وګڼل شي، آما ټرسټ په هېڅ صورت نيابت (نماينده ګي) نه شي ګڼل کېدای، ځکه د ټرسټ نيابت ګڼل به له تاريخي نظره غلط وي،

ځکه دا ډول ادعا به د انګریزي حقوقو یو لړ مسایلو ته چې پورته مو ترې یادونه وکړه، توضیح ونه لري. ټرسټ ددې پر ځای چې نیابت تـه نږدې وي، د مالکیت لـه تجزیې څخه رابېل شوي قـانوني حکمي مالکیت (Legal ownership) دی چې پـه ټرستي پورې اړه لري. حال دا چې د مالکیت بله برخه یعنې د انصاف د حقوقو پر اساس مالکیت (Equitable Ownership) په ذینفع پورې اړه لري.

که په روم- جرمن حقوقي سیستم کې د مالکیت مفهوم ته که لږ دقت وکړو ، نو د ټرست د بنسټ پـه هکلـه بـه د روم- جرمن حقوقي سیستم د حقوقپوهانو د نظر په اشتباه پـوه شو ؛ ځکه چې د روم- جرمن پـه حقـوقي سیسـتم کې مالکیت د درېـو اختیاراتو او امتیازاتو مجموعه ګڼل کېږي چې د مالک لپاره پېژندل شوي دي: استعمال حق (uses)، استثمار یا د ګټې اخیستنې حق (Fructus) او له مالکیت څخه د اخراج، اعراض یا انصراف حق (Abuses). د استعمال (uses) حق د مفهـوم لاندې مالـک لپـاره مختلف اختیـارات، لکـه استعمال (پـه یـو کـور کـې اسـتوګنه) او اداره (ترمیم کـول یـا هغـه درېـیم تـه د استفادې لپاره پرېښودل) راغونډېږي. د اخراج، اعراض یا انصراف د حق (Abuses) حق، د مفهـوم لانـدې د مـال معـدمول، خرڅول او نور اختیارات راټولېږي. د استثمار حق (Uses) مفهوم لاندې د مال په کار اچول او له هغـه څخـه ګټـه پورتـه کولـو اختیار وجود لري. (۱م۲۹)

د مالکیت د حق پورتنی تحلیل د روم- جرمن په حقوقي سیستم کې یـو عنعنـوي تحلیـل دی، آمـا پـه تعجب او ډول پـوره او درست تحلیل نه دی چې په انګریزي حقوقو کې د ټرسټ د بنسټ حقـوقي مفهـوم همـدې نقطې تـه اشـاره کـوي. نو کـه چېرتـه داسې وګڼل شي چې د روم- جرمن په حقوقي سیستم کې د مالکیت د محتوا په هکله موجود تحلیـل ناکـافي دی، نـو د روم- جرمن حقوقي سیستم حقوقپوه به هلته بیا د ټرسټ پر مفهوم پوه شي. په ټرسټ کې مالکیت پـه ډول تحلیـل کېـږي، ټرسـتي مالـک دی، ولې د هغـه امتیـازات ټرسټ د تشـکیل یـا ایجـاد د سـند او د انصـاف د قواعـدو پـر اسـاس چې د صـدر اعظـم د محکمې له خوا جوړ شـوی، محـدود دی. ټرستي پـه عمـومي توګـه ددې حق لـري چې ټرسټ دارایي اداره کړي او واک یـې ولري، آما برعکس نه شي کولای چې هغه (په حقیقي معنی) استعمال کړي او همدارنګـه نـه شـي کـولای چې لـه هغـې څخـه شخصي ګټه پورته کړي او یا هغه مادتاً نابود او له منځه یوسي.

**پایله**:

له پورتني بحث څخه دې پایلې ته رسېږو چې د انګریزي حقوقو د ډېرو مفاهیمو او بنسټونو په څېر ټرسټ هـم کېـدای شـي د هغـه لـه تـاریخ څخه وپېژندل شي. د کـامن لا د حقـوقو لـه مخې ټرسـتي یـوازې یـو سـاده اداره کـونکی او د ذینفـع اشخاصـو (beneficiaries) یـو سـاده نماینـده (استـازی) نـه دی، بلکـې هغـه د ټرسټ د دارایـۍ مالـک دی. پـه نتیجـه کـې ټرسـتي چې څرنګه غواړي هغه اداره کړي او په خپله خوښه په هغې کې تصرف وکړي او د کامن لا د حقوقو پر اساس په دې برخه کې هغه هیچا ته په حساب ورکولو مکلف نه دی. په دې برخه کې د ټرستي د مالکیت حق، د حقـوقو پـر اسـاس نـه، بلکـې لـه اخلاقـي جهته محدود دی، نو ټراستي د حقوقو پر اساس (at Law) نه، بلکې د خپـل وجدان او اخلاقـو پـر اسـاس مکلـف دی چې د یـوې کـورنۍ د پـلار پـه حیث د ټرست دارایي اداره کړي او د هغـه درامد (ګټـه) هغـو اشخاصـو تـه چې د ټرسټ د تشـکیل کوونکي (موسس) له خوا د ذینفع (beneficiary) پـه توګـه تعیـن شـوي، وسـپاري او پـه ټـاکلې زمانـه کـې اصـل سـرمایه هـم هغوی ته انتقال کړي. ددې باجود ذینفع (beneficiary) د کامن لا د حقوقو له مخې د خپلو حقوقو د اعـادې لپـاره د هـیڅ ډول دعوې حق نه لري، په لنډ ډول باید وویل شي چې د کامن لا پر اساس د ټرسټ ذینفـع د هـیڅ ډول حق لرونکـی نـه دی. پـه هغـه زمانه کې چې ټرسټ رامنځته شو د کامن لا د حقوقو له مخې عمومـاً د قـرارداد پـر اسـاس تعهـدات ممکـن نـه وو ، لـه همـدې سببه د ټرسټ مفهوم پراختیا پیدا کړه. کله چې ټرستي د هغه اعتماد مطابق چې د ټرسټ موسس وربانـدې کـړی، عمـل ونـه کړي او د وجدان او اخلاقو برخلاف د ټرسټ اموال او دارایي د ذینفـع (beneficiary) پـه ګټـه اسـتعمال نـه کـړي، نـو څرنګـه چې د کامن لا په حقوقو کې د ټرستي د مطیع کولو امکان موجود نه و، نو ځکه د انصاف حقوق د مداخلې غوښتنه کېږي. صدراعظم ټرستي ته حکم کوي چې د خپلو هغو تعهداتو چې د ټرسټ د تشکیل په سند کې پېشبیني شـوي، احتـرام وکـړي او په هغه ډول چې د انصاف محکمې حکم کوي، عمل وکړي. دا حکم د اجرایوي ضمانت لرونکی دی، نو هر کله چې ټرستي

د صدراعظم (د انصاف د حقوقو) له حکم څخه اطاعت ونه کړي، نو زندان کې اچول کېږي او یا یې دارایي ضبطېږي. په واقعیت کې د انصاف د حقوقو دا جزایي تهدید موثر دی او ټرستي اساساً د دې په وسیله هغه څه تعمیلوي چې صدراعظم پرې حکم کړی. ولې د دې عمل له مخې ټرستي بیا هم د وکالت مقام ته راټیټ نه شو او د دې اصل پر اساس چې (ایکویتي حقوقو ته احترام کوي)-(Equity follows the Law) ټرستي د انګلیسي حقوقو د طرز فکر پر اساس د حکمي مالک په عنوان باقي پاتې شو.

## وړاندیزونه:

په هغو حقوقي سیستمونو کې چې د انسان په لاس جوړ شوي او وضعي حقوقي سیستمونه بلل کېږي، حقوقي قواعد او مفاهیم د هغې ټولنې له اقتصادي، سیاسي، فرهنګي او ټولنیز حالت او تاریخي تحولاتو څخه الهام اخلي او رامنځته کېږي، نو ټرسټ او د ټرستي د مالکیت وصف په هغه وخت کې ښه څرګند پدای شي، کله چې موږ د انګلستان د حقوقو تاریخ ته مراجعه وکړو او د هغو حالاتو مطالعه وکړو چې نوموړی حقوقي مفهوم په کې رامنځته شوی دی. بناءً د ټرسټ حقوقي بنسټ د انګلستان د ځانګړیو ټولنیزو حالاتو له مخې رامنځته شوی او هغه وخت په ښه توګه د پېژندلو وړ دی چې هغه حالات، کوم چې نوموړی حقوقي بنسټ په کې رامنځته شوی درک او وپېژندل شي. په مجموع کې د کامن لا حقوقي سیستم او د هغې حقوقي مفاهیم له خپل تاریخ څخه متاثره دي، نو د حقوقو د علم زده کونکي چې کله غواړي په دې حقوقي سیستم ځان پوه کړي، باید تر ټولو لومړی د هغه په تاریخ ځان پوه کړي. د ټرسټ د بنسټ حقوقي مفهوم د روم-جرمن د حقوقي سیستم له مفاهیمو سره سل په سله ورته نه دی او باید د دې سیستم له مفاهیمو څخه له کوم مفهوم سره پرتله نه شي.

## مناقشه:

له پورته څېړنې څخه څرګنده شوه چې د ټرستي د مالکیت وصف هغه وخت ښه څرګندېږي چې موږ دده د صلاحیت ساحه چې د ټرسټ د دارایۍ په برخه کې یې لري، په نظر کې ونیسو. دا صلاحیت یوازې یو اداري صلاحیت نه دی، بلکې ټرستي د ټرسټ د اموالو د نقل او انتقال کامل صلاحیت هم لري. ټراستي کولای شي د ټرسټ اموال خرځ کړي او یا حتی هغه هبه کړي، دا ناقله اعمال له حقوقي نظره کاملاً معتبر او صحیح دي، په دې توګه د دې اموالو مالکیت منتقل الیه (حاصل کونکی) ته انتقالپدای شي، نو د دلته دا خبره په اثبات رسېږي چې ټرستي یوازې امین نه دی او نه هم د ټرسټ اموال په هغو شرایطو چې موږ یې پېژنو، امانت نه دی، بلکې ټرسټ هغه ځانګړی حقوقي مفهوم دی چې د انګلستان د تاریخ او د هغې د ټولنیزو بدلونونو زېږنده ده او اهداف او ساحات یې د انګلستان د ټولنې د حالاتو او ځانګړیو بدلونونو پر اساس ټاکل شوي دي.


## Abstract:

In common law legal systems, a trust is a relationship whereby property (real or personal, tangible or intangible) is held by one party for the benefit of another. A trust conventionally arises when property is transferred by one party to be held by another party for the benefit of a third party, although it is also possible for a legal owner to create a trust of property without transferring it to anyone else, simply by declaring that the property will henceforth be held for the benefit of the beneficiary. A trust is created by a settlor, who transfers some or all of his property to a trustee, who holds that trust property (also called the principal or corpus) for the benefit of the beneficiaries. The settlor is also called the trustor, grantor, donor, creator, or founder. In the case of the self-declared trust, the settlor and trustee are the same person. The trustee has legal title to the trust property, but the beneficiaries have equitable title to the trust property (separation of control and ownership). The trustee owes a fiduciary duty to the beneficiaries, who are the "beneficial" owners of the trust property. The trustee may be either a natural person or a legal person (such as a company or a public body), and there may be a single trustee or multiple co-trustees. There may be a single beneficiary or multiple beneficiaries. The settlor may himself be a beneficiary. The trust is governed by the terms under which it was created. The terms of

the trust are usually written down in a trust instrument or deed but, in England and Wales, it is not necessary for them to be written down to be legally binding, except in the case of land. The terms of the trust must specify what property is to be transferred into the trust (certainty of subject-matter), and who the beneficiaries will be of that trust (certainty of objects). It may also set out the detailed powers and duties of the trustees (such as powers of investment, powers to vary the interests of the beneficiaries, and powers to appoint new trustees). The trust is also governed by local law. The trustee is obliged to administer the trust in accordance with both the terms of the trust and the governing law.

## اخځليکونه:

1- بارکر ديويد ، کولين پدفيلد. (۱۳۸۷). ټرسټ. ترجمه اسماعيل اصغری. تهران: نشر ميزان
۲- بورګي، پوهاند محمد طاهر. (۱۳۷۹).د معاصرو لويو حقوقي سيستمونو مبادي(کامن لا ). پېښور: ساپی د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز
۳- داويد ، رنه؛ ژوفره اسپينوزی، کامی.(۱۳۸۴). درامدی برحقوق تطبيقی و دو نظام بزرگ حقوقی معاصر. ترجمه سيد حسين صفايی. تهران: نشر ميزان
۴- شريف، علی. (۱۳۸۲). کليات حقوق تطبيقي. تهران: نشر بشارت
۵- شيروی، عبدالحسن. (۱۳۸۸). حقوق تطبيقی. تهران: سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامی

6- Hudson, a (2003). Equity and Trusts (3rd Ed.). Cavendish Publishing. ISBN.
7- Mitchell, Charles; Hayton, DJ (2005).Hayton and Marshall's Commentary and Cases on the Law of Trusts and Equitable Remedies (12th Ed.). Sweet & Maxwell.
8-Mitchell, Charles; Hayton, DJ; Matthews, P (2006). Underhill and Hayton's Law Relating to Trusts and Trustees (17th Ed.). Butterworth's.

پوهنمل خوشدل (معروف)
کرنې پوهنځی- حيواني علومو څانګه

# د چرګانو غوښې ډولونه او ارزښت يې

**لنډيز**:

زمونږ په ګران هېواد کې د غوښينو (کبابي) چرګورو روزنه د لومړي ځل لپاره د جلال اباد په ښار کې په ۱۳۷۴ (۱۹۹۵) کال کې پيل شوه چې ۸۰۰ قطعې چرګورې د چرګانو روزونکو ټولنې لخوا له پاکستان څخه وارد شول. غوښين چرګورې مختلف والدين لري چې په لاندې ډول معرفي کېږي: Rhode-Island Red دوه رګه چې د Rhode-Island Red نر چرګ او د Plymouth Rock د چرګې څخه استفاده کوي. د New Hampshire نژاد چې د New Hampshire چرګ د Plymouth Rock د چرګې سره يوځای کوي. د Sussex نژاد چې د Rhode-Island Red نسل نر چرګ د Sussex نسل د چرګې سره جوړه کوي. د Plymouth Rock نسل چې د Rhode-Island Red چرګ يا د New Hampshire نر چرګ د Plymouth Rock د چرګې څخه استفاده کوي چې د کورنيش (Cornish) نسل منځته راځي. غوښين چرګورې له دوه مياشتو څخه په کمه موده کې په مصرف رسېږي. د چرګانو غوښه د کېمياوي ترکيب له مخې نسبت نورو حيواناتو ته کومه پروتيني نيمګړتيا نلري. د چرګانو د روزنې صنعت نسبت نورو حيواناتو ته ډېر صورت نيسي. د چرګانو غوښه نسبت نورو حيواناتو ته په اسانۍ سره هضمېږي. Poussins غوښين چرګورې د ۸-۱۰ اوونيو پورې ساتل کېږي چې وزن يې تر يو کيلو ګرام پورې وي، بازار ته عرضه کېږي. نومورې چرګورې نرمه، نازکه او سهل الهضم غوښه لري، د Broiler چرګورې معمولاً د دوه مياشتو څخه په کمه موده کې تر ۱،۵ کيلو ګرامه وزن اخلي. په اکثره فارمونو کې دا ډول چرګورې په انفرادي، ډله ييز، ژوندي او حلال شوي شکل چې بنکې ترې ليرې کېږي، پلورل کېږي. د Surrey Fowl غوښين چرګورې چې د بدن وزن يې د پينځه کيلو ګرامو څخه ډېر وي او عمر يې له پينځلس اونيو څخه تجاوز ونکړي، په دې نوم ياد ېږي. د Capons چرګورې معمولاً نارينه چرګورې وي او د عمر د ۷-۱۰ اونيو پورې د جراحۍ د عمل په واسطه يې خصيې ويستل کېږي. د Boiling Fowls هګيو هغه چرګې چې د هګيو ورکولو دوره يې تېره کړې وي او يا دا چې د ځينو دلايلو په اساس د هګيو ورکولو توان ونلري.

**سريزه**:

زمونږ په ګران هېواد کې د غوښينو چرګانو روزنه د لومړي ځل لپاره هغه مهال پيل شوه چې په کال ۱۳۷۴ (۱۹۹۵) د چرګانو روزونکو د ټولنې لخوا ۸۰۰ قطعې غوښين چرګورې جلال اباد ښار ته له پاکستان څخه وارد شول. دا چې په هغه وخت کې خلک د کبابي چرګورو له غوښې سره اشنا نه وو، نو په مشکل سره بازار ته عرضه شول. د دويم ځل لپاره په ۱۳۸۱ (۲۰۰۲) کال کې په پراخه کچه د غوښينو چرګورو کاروبار په ډېر شوق او علاقې سره د ننګرهار په ولايت کې بيا پيل شو. اوس مهال نږدې ۲۰۰ فارمونه موجود دي چې د هېواد د پروتيني موادو په پوره کولو کې مرسته کوي. غوښين چرګورې د ځينو دلايلو له امله لکه ژر وده، د جسم ښه جوړښت، په کمه موده کې د زياتې غوښې توليد، نسبت نورو حيواناتو ته ځانګړې اهميت لري. د کميت او کيفيت له پلوه د غوښې د اندازې د زياتوالي په هکله يې ډېرې هڅې شوې دي.

**موخې**:

۱- د غوښينو چرګورو او چرګانو د والدينو پېژندل
۲- د چرګانو د مختلفو غوښو په مصرف سره د خوارځواکۍ مخنيوی او له منځه وړل
۳- خلکو ته د چرګانو د مختلفو غوښو معرفي کول
۴- د غوښو د معرفي کولو په اساس اقتصادي پياوړتيا

## ۱- د غوښينو چرګوړو (Broiler) د والدينو مروج نسلونه:

مهم نژادونه يې چې په مختلفو هېوادونو کې د غوښينو چرګوړو په توګه تر روزنې لاندې نيول کېږي، د لاندې نسلونو د يوځای کېدو څخه په لاس راځي:

**Rhode-Island Red دوه رګه:** چې د Rhode-Island Red نر چرګ او د Plymouth Rock د چرګې د يوځای کېدو څخه منځته راځي.



(۱- شکل) د Rhode-Island Red نر چرګ او د Plymouth Rock چرګه (۱، ۳)

**د (New Hampshire) نژاد:** چې د New Hampshire چرګ د Plymouth Rock د چرګې سره يوځای کوي.



(۲- شکل) د New Hampshire چرګ د Plymouth Rock چرګه (۱، ۴)

**د (Sussex) نژاد:** چې د Rhode-Island Red نسل نر چرګ د Sussex نسل د چرګې سره جوړه کوي.



(۳- شکل) د Rhode-Island Red نسل نر چرګ د Sussex نسل چرګه(۱، ۲)

**د (Plymouth Rock) نسل:** چې د Rhode-Island Red چرګ يا د New Hampshire نر چرګ د Plymouth Rock د چرګې سره يوځای کېږي چې د کورنيش (Cornish) نسل منځته راځي.



(۴- شکل) د Rhode-Island Red چرګ يا د New Hampshire نر چرګ د Plymouth Rock چرګه او د کورنيش (Cornish) نسل (۲)

د چرګانو د روزنې څخه اصلي هدف د غذايي موادو پوره کول دي چې دا غذايي مواد د پروتين غني منابع لري، لکه غوښه او هګۍ چې خاص د توجه وړ دي، ځکه چې د خوارځواکۍ اصلي عامل، په انسانانو کې د پروتينو لږوالی دی. پروتينونه د

يو موجود حيوان د جسم د سلولونو اصلي ساختماني عناصر دي. د هر پروتين ارزښت په هغه کې د موجوده امينو اسيدونو په کيفيت او شمېر پورې اړه لري. هغه پروتينونه چې حيواني منشا لري، د اصلي پروتينونو په نامه يادېږي، ځکه چې ټول ضروري امينو اسيدونه لري، خو برعکس نباتي پروتينونه يو يا څو ضروري امينو اسيدونه لري، په دې اساس د ناقصو پروتينونو په نامه يادېږي. (۵، ۲)

د يوه روغ او سالم انسان په توګه ژوند کولو لپاره بايد لږ تر لږه تر۵۰٪ پورې د هغو غذايي موادو څخه استفاده وشي چې حيواني پروتيني منابع ولري. د چرګانو غوښه د نورو حيواناتو د غوښې په نسبت د عالي پروتينو د لرلو په اساس ډېره ګټې لري، له دې کبله د چرګانو روزنه خصوصاً د غوښينو چرګوړو روزنه په ځينو هېوادونو کې د نورو حيواناتو د روزنې ځای نيولی دی او هر کال په سلګونو ټنه د چرګانو غوښه توليدوي او نورو هېوادونو ته يې صادروي. (۴)

د چرګانو غوښه د انسانانو په تغذيه کې نسبت د نورو حيواناتو غوښې ته ډېر مهم پروتيني مواد لري، حال دا چې د چرګانو روزنه نسبت د نورو حيواناتو روزنې ته ډېره ساده او اسانه ده، همدارنګه ډېر لګښت پرې نه راځي؛ چې ګټې يې په لاندې ډول دي:

- د چرګانو غوښه خصوصاً غوښين چرګوړي له دوه مياشتو څخه په کمه موده کې د مارکېټ وزن ته برابرېږي، حال دا چې د نورو حيواناتو داسې نه ده.
- له صحي پلوه هيڅ ډول وژونکي ناروغۍ د چرګانو د غوښې په واسطه انسانانو ته نه انتقالېږي.
- د چرګانو غوښه د کېمياوي ترکيب له مخې نسبت نورو حيواناتو ته کومه پروتيني نيمګړتيا نه لري.
- د چرګانو د روزنې صنعت نسبت نورو حيواناتو ته ډېر صورت نيسي.
- د چرګانو غوښه نسبت نورو حيواناتو غوښې ته په اسانۍ سره هضمېږي.

| امينو اسيد ډول | د چرګانو غوښه | د فيل مرغ غوښه | د غـــــوايي | د چرګانو هګۍ | د غواګانو شيدې |
|---|---|---|---|---|---|
| ارګنين | ۵.۷ | ۲.۵ | ۲.۴ | ۲.۴ | ۴.۳ |
| سيستين | ۱.۸ | ۱ | ۱.۳ | ۲.۴ | ۱ |
| هستيدين | ۲ | ۳ | ۸.۳ | ۲.۱ | ۲.۷ |
| ايزولاسين | ۴.۱ | ۵ | ۵.۲ | ۸ | ۸.۵ |
| ليوسين | ۲.۷ | ۷.۲ | ۷.۸ | ۹.۲ | ۱۱.۳ |
| لايزين | ۷.۵ | ۹ | ۸.۲ | ۷.۲ | ۷.۵ |
| متيونين | ۱.۸ | ۲.۲ | ۲.۷ | ۴.۱ | ۳.۴ |
| فنايل النين | ۴ | ۳.۷ | ۳.۹ | ۲.۳ | ۵.۱ |
| تريونين | ۴ | ۴ | ۴.۵ | ۴.۹ | ۴.۵ |
| تريپتوفان | ۰.۸ | ۰.۹ | ۱ | ۱.۵ | ۱.۲ |
| تيروزين | ۲.۵ | ۱.۵ | ۳ | ۴.۵ | ۵.۳ |
| والين | ۲.۷ | ۵.۱ | ۱.۵ | ۷.۳ | ۸.۴ |

(۱- جدول) په پورته جدول کې د نورو غوښو په نسبت د چرګانو په غوښه کې د امينو اسيدونو اندازه ښودل شوې ده. (۵)

## ۲- د چرگانو د غوښې ډولونه:

د غوښينو چرگانو روزنه زمونږ په گران هېواد کې دومره مروجه نه ده، بلکې په ډېر کم شمېر سره فارمونه موجود دي. په پرمختللو هېوادونو کې د چرگانو څخه علاوه هيلۍ، فيل مرغان او مرزان هم د هگۍ او هم د غوښې په منظور روزل کېږي. د غوښينو چرگوړو د روزنې په هکله په نړۍ کې نظر د بازار خوښې ته مختلف تفاوتونه موجود دي. د اوس لپاره پينځه ډوله د چرگانو غوښه په لاندې ډول پيدا کېږي:

الف- (Poussins):

په ځينو هېوادونو کې غوښين چرگوړي د ۸-۱۰ اونيو پورې ساتل کېږي چې وزن يې تر يو کيلو گرامو پورې وي، بازار ته عرضه کېږي. نوموړي چرگوړي نرمه، نازکه او سهل الهضم غوښه لري؛ په هوټلونو، رستورانتونو، روغتونونو او نورو ځايونو کې په مصرف رسېږي.(۲)

ب- (Broiler):

دا نوعه چرگوړي معمولاً د دوه مياشتو څخه په کمه موده کې تر ۱،۵ کيلوگرامه وزن اخلي. په اکثره فارمونو کې دا ډول چرگوړي په انفرادي، ډله ييز، ژوندي او حلال شوي شکل چې بڼکې ترې ليرې شوې وي، پلورل کېږي. خوندوره غوښه لري چې اکثره وخت په سره کړي شکل په مصرف رسېږي. د پښو او پوستکي رنگ په دې ډول چرگوړو کې سپين او ژېړ وي. (۷-۲)

ج- (Surrey Fowl):

هغه غوښين چرگوړي چې د بدن وزن يې د پينځه کيلوگرامو څخه ډېر او عمر يې له پينځلس اونيو څخه تجاوز ونکړي، په دې نوم يادېږي. نوموړي چرگوړي د حلالې نه لس ورځې مخکې د چاغېدونکو موادو په واسطه تغذيه کېږي او بيا يې حلالوي. د پوستکي او پښو رنگ يې سپين وي. (۸، ۴)

د- (Capons):

دا ډول چرگوړي معمولاً نر چرگوړي وي او د عمر ۷-۱۰ اونيو پورې د جراحۍ د عمل په واسطه يې خصيې ايستل کېږي، او يا دا چې د پيچکارۍ پواسطه ورته هورمون تزريق کېږي، تر څو ژر چاغ شي. په ۵ يا ۶ مياشتني عمر کې وزن ۶-۷ پونډو پورې وي. ددې ډول اخته شوو چرگوړو څخه په جشنونو، اخترونو او مذهبي ورځو کې استفاده کېږي. (۱،۳)

ه- (Boiling Fowls):

زياتره د هگيو هغه چرگې چې د هگيو ورکولو دوره يې تېره کړې وي او يا دا چې د ځينو دلايلو په اساس د هگيو ورکولو توان ونلري او هغه چرگان چې زاړه شوي وي او يا دا چې نسلگيري نشي کولای، په دې گروپ کې شاملېږي. ددې ډول چرگانو غوښه کلکه وي، کباب ترې نه جوړېږي چې د جوش ورکولو اصطلاح ورته استعمالېږي. معمولاً ددې چرگانو څخه د عمر د شپږمې مياشتې نه وروسته، په هر وزن کې چې وي، استفاده کېږي. (۸، ۱)

**پايله:**

- د غوښينو چرگوړو او چرگانو د والدينو د ساتلو او روزلو لپاره بايد داسې نسلونه وټاکل شي چې ښه توليد ولري.
- دا چې زمونږ ډېرى خلک بې روزگاره دي او د کوم مسلک خاوندان نه دي، نو بايد دوی ته د غوښينو چرگوړو د روزنې مهارت ور زده کړل شي.
- د چرگانو روزنه بايد د هر نسل د شهرت او د مارکېټ د تقاضا په اساس سرته ورسېږي.
- بايد زراعتي انکشافي بانکونه له خلکو سره د پورونو په ورکړه کې مرسته وکړي.
- بايد د چرگانو له غوښې څخه تر ډېره حده گټه واخيستل شي.
- د چرگانو غوښه په هر عمر او وخت کې د استفادې وړ وي، چې بايد ضايع نه شي.

## Abstract:
Broilers management and broilers poultry production started in Jalalabad from 1995, but due to flavor and test of broilers meat the market faced with problems and production stopped completely, because people were not familiar with test and flavor. Then in 2002 due to economical problem and unavailability of jobs in the province, broilers management and production started and people got the importance of the broiler production in the country. Different breeds can be reared for broilers production and chicken meat production in the world. Chicken meat is very famous and easy cook meat in the world, different type of chicken meat is available in the market for people. People can use different type of meat as they wish and like. Chicken meat is available in the market with different names as people are familiar with. The most famous kinds of chicken meat are available in the market are as follows:

1. Poussins: This type of meat chicken is kept from 8-10 weeks then delivers to market.
2. Broilers are kept less than two months (about 48days) then sold in market.
3. Surrey Fowl are reared for 15 weeks and total weight is 5 kg.
4. Capons are castrated male chickens and reared from 6-10 weeks.
5. Boiling Fowls are the layers hens which are stopped lying phase.

## اخځلیکونه:

۱-اسمعیلی، محمد اسمعیل. (۱۳۵۸). روش نوین مرغداری، چاپ چهارم. تهران –ایران.
۲- خواجه، سلطان عارف. (۲۰۰۲) ماډرن پولټری فارم. لاهور: زاهد بشیر پرنټرز.
۳-جامعی، پرویز. (۱۳۵۷). اصول تغذیه دام. ایران: دانشگاه تهران.
۴-زهری، مراد علی. (۱۳۷۹). اصول پرورش طیور. ایران: انتشارات دانشگاه تهران.
۵-نیکخواه، علی و دیگران. (۱۳۷۴). روش علمی تغذیه طیور. ایران: انتشارات دانشگاه تهران.
۶-عثمانی، عزیزالله. (۱۹۹۹). مسایل مختلف مرغداری. پشاور: دانش کتابخانه.
7 - Joll Morley A and other1945 Poultry Farming first edition. MC Grow –Hill Book Company INC USA pp (204-220).
8- Nesheim MC and others1974 Poultry Production 12th edition. Lea and Febirger. USA pp (24-39).

پوهنمل فـضل الـــرحیم (ناصري)
طب پوهنځی- عقلي، عصبي څانګه

# ځـــانوژنـــه

## لنډیز:

ځانوژنه د پسرلي او دوبي موسم کې ډېره وي، د امریکا په متحده ایالتونو کې د کال 30000 د ځانوژنې پېښې منځته راځي چې د 40-50 کلونو تر منځ او په ځانګړي ډول په زړو کې یې پېښې زیاتې وي، مګر وروستۍ شمېرې ښیي چې ځانوژنه په نویو ځوانانو کې مخ په ډېرېدو ده. په نارینه و کې د ښځو په پرتله ځانوژنه ډېره لیدل کېږي، خو دا په داسې حال کې ده چې ښځې د نارینه و په پرتله څلور برابره د ځانوژنې هڅه کوي. نارینه د ښځو په پرتله د ځانوژنې لپاره له قوي وسایلو کار اخلي، لکه وسلې، د سرو رګونو پرېکول، پړي او یا د یوه لوړ ځای څخه د ځان غورځولو سره ځانوژنه تر سره کوي؛ په داسې حال کې چې ښځې زیاتره د درملو د زیات استعمال په واسطه دا کړنه سرته رسوي چې د بریالۍ ځانوژنې خطر په پخو ښځو کې ډېر وي.

## سریزه:

څرنګه چې د نورو ناروغیو تر څنګ رواني ناروغۍ هم د انسان د ژوند سره مل او د ناروغیو یوه مهمه برخه جوړوي چې ځانوژنه د هغوی له ډلې څخه شمېرل کېږي، پېښې یې په ټوله نړۍ کې شتون لري او په ځوانانو کې چې د کار د قوې مهمه برخه جوړوي، هره ورځ مخ په ډېرېدو ده. له بلې خوا څرنګه چې ځانوژنه پخپله د شخص له خوا تر سره کېږي او نور څوک په کې ګډون نه لري، کله کله داسې هم شوي چې د امنیتي او قضایي ارګانونو له خوا د کورنۍ غړي تر پوښتنو- ګروېږنو لاندې راځي او یا سزا ورکول کېږي. زمونږ د ټولنې ډېرې وګړي چې د کلتوري خرابو شرایطو لاندې دي، د سواد کچه په کې ټیټه او د ځانوژنې د لاملونو سره بلدتیا نه لري، ناروغان له درملنې پرته تر هغه بریده ساتي چې په پای کې ځانوژنه کوي او یا دا چې د کورنۍ غړې د تاوتریخوالي کچه هغې اندازې ته رسوي چې ځانوژنه رامنځته شي، نو د پورتنیو اړتیاوو له مخې مې لازمه وګڼله د هغو ناروغانو په اړه چې د ځانوژنې فکر ولري، ښه مالومات د نړیوالو معتبرو تکس بوکونو او انټرنیټ پاڼو څخه راټول او خپلو ټولو طبي کارکوونکو ته یې وړاندې کړم.

## موخې:

خپلو ټولو روغتیایي کارکوونکو، امنیتي او قضایي مسئولینو، ځانوژونکو او د هغوی د کورنیو غړو ته د ځانوژنې او د هغې د لاملونو او مخنیوي په اړه د ګټورو علمي معلوماتو وړاندې کول.

## پېژندنه (تعریف):

د ځان له منځه وړلو لپاره قصدي عمل دی چې شخص په دې حالت کې د نهیلۍ د احساس او مرستې نه شتون سره یو ځای د ژوند او زغم نه کېدونکي سترس دوه ګوني احساس تر منځ واقع وي، نو موړی عمل تصادفي نه، بلکه د تصمیم سره یو ځای وي. (۳)

## طبي تاريخچه:

په ځانګړې توګه که ناروغي تازه پيل شوې وي، همدارنګه په ځنډنيو ناروغيو، د ناروغيو په وروستيو شېبو، هغه ناروغۍ چې دردناکې وي، نيوپلازميک ناروغۍ او د ډېرو درملو استعمال، ميرګي، M.Sclerosis، د شراينو ګډوډي، قحفي ترضيض، دمانس، Aids, Hung ting ton disease، پورفيريا او کوشنګ سندروم ځانوژنې ته لاره هواروي؛ همدارنګه 95 سلنه ناروغان چې د ځانوژنې هڅه کوي، د رواني ګډوډيو لرونکې وي، 80 سلنه خپه ناروغان 15 سلنه بريالۍ ځانوژنه کوي. سيکروقرينا 10سلنه، د ليريوم او دمانس 15 سلنه، په الکولو روږدي، د نشه يي توکو استعمالوونکي او د شخصيت په تشوش اخته کسان 5 سلنه ځانوژنه کوي؛ نوي سترس زېږوونکې عوامل لکه د ماندينې د لاسه ورکول په ځانګړې توګه په Impulse Control disorder کې ځانوژنه منځته راوړي.(۲،۳)

## کورنۍ تاريخچه:

په کورنۍ کې د ځانوژنې پخوانۍ پېښې د مور او پلار له لاسه ورکول، د ژوند په اوړدو کې خلقي تشوش، کورنۍ جنجالي زمينه که موجوده وي، ځانوژنې ته لاره هواروي.

## د ځانوژنې د خطر يو شمېر نور لاملونه:

- د ځانوژنې د وسايلو شتون، لکه توده وسله، ګولۍ (مرمۍ)، پړې او نور.
- د ځانوژنې د طرحې پوره والی او اجرا کول.
- په ټول عمر کې د ځانوژنې د هڅې يا د ددې په شان حرکاتو کولو شمېره. که په يو کال کې د هڅې نه وروسته د بريالۍ ځانوژنې 2 سلنه احتمال موجود وي، 10 سلنه په کال کې ځانوژنه کوي او نژدې 50 سلنه ناروغان ځانوژنې ته هڅه کوي. د ځانوژنې هڅه، د خيالاتو تکرار او غير عادي روشونه (د پيسکوز د موجوديت نه پرته) د ځانوژنې لپاره لار هواروي. (۱،۲،۳،۴)

## په ځانوژنه کې د خطر ډېروونکي عوامل:

| | |
|---|---|
| د 45 کلنۍ نه پورته عمر | د طرحې پوره والی او اجرا کول |
| نارينه | سايکوز |
| طلاق شوي | د شخصيت ډېره ګډوډي |
| بيکاري | د ځانوژنې د عقيدې لرل |
| د کورنۍ تاوتريخوالی | په نشه يي توکو روږدي |
| مزمنې (ځنډنۍ) ناروغۍ | ځانوژنې ته ډېره هڅه کول |
| د کورنۍ ترمنځ تاويلي- ماويلي | د ځانوژنې ډېره پوهه |
| Hypo chondriasis يا ځان ناروغ فکر کول | د هوښيارۍ کموالی يا کمه پوهه |
| د درملو زيات کارول | نامناسبې ټولنيزې اړيکې |
| ډېر خپګان | غير مسئوله کورنۍ |
| د ځانوژنې هڅه | د وژنې هڅه (قصد) |
| توده وسله او ګولۍ | د خيالاتو تکرار |
| د لږ خلاصون احتمال | غير عادي روشونه |

## (Clinical Manifestation):

د ځانوژنې هڅه په ډېرو پېښو کې د Presentation پر مهال خپله معلومېږي، ځکه يا خو خپله ناروغ يا دده کورنۍ دې ته اشاره کوي، يا په دې وخت کې يوه عاجله Medical يا Surgical پېښه لکه drug over dose يا wrist laceration موجود وي. کله کله ناروغ ډاکتر ته په ډېره ظريفه (Subtle) طريقه د غير وصفي شکاياتو سره مراجعه کوي. دقيقه پلټنه کېدای شي دا ښکاره کړي چې ناروغ د اسې درمل اخيستي، کوم چې په موخر ډول (Delayed Lethality) د مړينې سبب ګرځي. هغه ناروغان چې د ځانوژنې هڅه يې کړې وي، بايد ورته مکمل Psychiatric evaluation تر سره شي. (۴،۵)

د ناروغ په سکياتريک تاريخچه او د ذهني حالت په ازمېښت کې بايد د Depressive ګيلو لکه د ځانوژنې د افکارو، هڅې او Plan څخه په ښکاره ډول يادونه وشي. د ځانوژنې د تېرې هڅې په اړه پراخه مالومات د ځانوژنې د راتلونکي خطر د پوهېدنې لپاره ډېر زيات ارزښت لري. هغه ناروغان چې د ځانوژنې د هڅې لپاره په ډېره ځيرتيا سره پلان جوړوي، په ځانګړي ډول د violet اسبابو څخه کار اخلي، ددې لپاره چې ژوندي ونه موندل شي، ځان Isolate کوي او په دوی کې په ځانګړي ډول د Future Suicide Completion زيات خطر شتون لري. په Abusive Episode کې شايد شخص د خپل Abuser سره يوځای د ځيرې زخمونو (Laceration، د بدن د ټکول شويو ځايونو (Contusion) کسرونو يا زياتو شديدو Trauma د تداوۍ لپاره حاضر شي، بايد د Abuser په نه شتون کې په ډېر مهارت سره وپوښتل شي، تر څو د Injuries اصلي سبب واضح شي. د ناروغ په فزيکي کتنه کې بايد د پوستکي ځيرنه د Contusion لپاره چې په ځانګړي ډول په مخ او تيونو باندې شتون لري او Genital exam د جنسي تېرې (Sexually molest) لپاره اړين دي.

بېلوونکی تشخيص (Differential Diagnosis):

د ځانوژنې هڅه کوونکي ناروغان په عام ډول په Alcoholism، Schizophrenia, Depression يا د شخصيت په بې نظميو يا ددې بې نظميو په Co-morbidities اخته وي، اما هغه ناروغان چې د پورتنيو بې نظميو تشخيصي معيارات (Criteria) په کې وجود نلري، هم کېدای شي د ځانوژنې هڅه يا عمل تر سره کړي، په خاص ډول که چېرې په دوی کې د ځانوژنې يو ډول خطري عامل لکه نهيلي وجود ولري. (۲،۷)

## (Managements):

تل بايد د ځان وژنې فکر (Ideation) جدي وګڼل شي، ځانوژونکي ناروغان تل په دې دوه زړه توب کې ډوب وي (Fraught with ambivalence) چې ژوندي پاتې شي او که ځان ووژني، له همدې امله سالمه مداخله او اغېزمنه درملنه کېدای شي ژوند ژغورونکې وي. هغه ځانوژونکي ناروغان چې ډېر فعال وي، په يوه Locked unite کې Hospitalization ته ضرورت لري، څو پخپله دوی محفوظ واوسي. په دې ساحه کې هر احتمالي وژونکی څيز د Nursing Staff په واسطه محفوظ وساتل شي او ناروغ بايد د تېښتېدلو د خطر لپاره (Risk of elopement) په احتياط سره وساتل شي. ددې حالت د رامنځته کوونکې اساسي بې نظمي يا Distress درملنه د دقيق او صحيح تشخيص څخه په لاس راځي، مثلاً د Depression ناروغ ته Anti depressant يا ECT ( Electro Convulsive therapy ) تر سره کوو. د Psychotic depression، Schizophrenia يا Bipolar disorder، ناروغانو ته Anti Psychotic /Mode Stabilizer توصيه کوو. هغه ناروغان چې د ځانوژنې خطر په کې کم وي، په دې شرط چې open follow up ته برابر، د کورنۍ غړي يې ساتونکي او د درملنې په اړه خوښه شتون ولري، نو کولای شو چې د out Patient په ډول يې درملنه وکړو.(۴،۵،۲)

د Out Patient Treatment لپاره اړين اصول عبارت دي له:

1. Frequent meeting with treatment providers.
2. Eliminating the means of suicide.
3. Enlisting spouses, partners or other family members.

د زوجي بدرفتارۍ په پېښو کې ډېرې پاخه عمره وګړي د زور زياتي د بيان او ښکاره کولو لپاره ميل او علاقه نه لري. (۷،۸)

سريري متخصصين بايد د بدرفتاريو ښو ته ډېر ځير وي او په دې اړه زيات محتاط وي، مناسب Psychiatric او Medical خدمات، همدارنګه ټولنيز او local خدمتونه په درملنه کې شامل دي. (۵،۲،۷،۸)

## پايله:

په نارينه و کې د ښځو په پرتله ځانوژنه ډېره ليدل کېږي، مګر ښځې د نارينه و په پرتله څلور برابره د ځانوژنې هڅه کوي. نارينه د ښځو په پرتله د ځانوژنې لپاره له ځواکمنو وسايلو کار اخلي، لکه مردکي، د سرو رګونو پرېکول، پړې او يا د يوه لوړ ځای څخه د ځان غورځولو سره ځانوژنه ترسره کوي، په داسې حال کې چې ښځې ډېرې د درملو د ډېر استعمال په واسطه دا کړنه سرته رسوي چې د بريالۍ ځانوژنې خطر په پخو ښځو کې ډېر وي. په سپين پوستو کې نظر غير سپين پوستو ته دوه برابره ډېره وي او په لږکيو (کم توکمو) کې (د امريکې د بومي وګړو لپاره نه) ساتونکې (محافظوي) خاصيت لري. ډېرې پېښې د ختيزې اروپا په هېوادونو، اسکنډنياوي هېوادونو او جاپان کې ليدل کېږي. په مهاجرينو کې د وطن د اصلي اوسېدونکو په نسبت زياته او د مهاجرينو په دوهم نسل کې د نويو شرايطو سره د سمون له امله له منځه ځي، په وزګارو او خصوصاً چې دنده هر څومره لوړه او ناڅاپه ترې وزګار شوي وي او په حرفه يي وګړو کې د ځانوژنې وېره ډېره وي. ښارونه، يوازېتوب، دوه پوړيزه ټولنيز ژوند، نوي جغرافيايي ځای ته تلل او زندان کې د ځانوژنې پېښې زياتې وي؛ په بېلو شويو، طلاق شويو، کونډو او مجردو کې د ځانوژنې پېښې ډېرې وي.

## وړانديزونه:

1. خپلو ټولو هم مسلکانو، طبي کارکوونکو، د طب مينه والو او درنو امنيتي او قضايي ارګانونو ته لاندې سپارښتنې لرم:
2. محترم ځوان ډاکټر صاحبان دې د ناروغ د طبي تاريخچې د اخستلو پر مهال د ناروغ رواني حالت ته ډېر ځير وي.
3. د ناروغ د رواني حالت د ګډوډۍ په صورت کې هغه ناروغي و موندل شي چې رواني حالت يې خراب کړی وي.
4. هغو ناروغيو ته دې ډېره پاملرنه وشي چې ځانوژنه په کې منځته راځي.
5. په لومړي پړاو کې د هغو ناروغيو درملنه چې ځانوژنه په کې منځته راځي.
6. د ځانوژنې د مخنيوي لپاره دې وقايوي تدابير ونيول شي.
7. کورنۍ بايد تاوتريخوالی له منځه يوسي.
8. په پای کې د پورتنيو حالاتو په نظر کې نيولو سره ټول طبي کارکوونکي، عدلي او قضايي ارګانونه بايد د عدلي طب هغه ډاکټر سره چې د رواني ناروغيو سره پوره بلدتيا ولري او يا د رواني ناروغيو د متخصص سره موضوع شريکه کړي او همدارنګه ټول طبي کارکوونکي په ناروغ کې د ځانوژنې د افکارو د موندلو په صورت کې بايد ناروغ تر کلکې څارنې لاندې ونيسي.

## Abstract:

In the united state of America in summer and spring season annually 30000 Number of the suicide occurred. Between 40-50 years especially in old age the incidence of suicide was more than younger. but now a days in the young age people the incidence of suicide is going to be high .also the suicide is higher in men than women ,but the women are 4th time more trying to suicide .the men are used strong instruments for suicide like Piston ,Cutting of arteries ,hinging and fall down from height , but the women are usually use Drug for this action .also successful suicide is occurred in old age women . The incidence of suicide is high in white than black and high in minority than majority. The incidence of suicide Phenomena is much more in western European, Scandinavian country and Japan, and the incidence of suicide is high in Migrants and also more occurred in: Migrants, In tawny, Discrimination, Avocation, Divorce, Widow, Single and in Jobless people.

## References:

1. Behrman. Richard, E/K Liegeman .Robert-M-Nelson-Textbook of Pediatrics 17th edition-Saunders and Imprint of Elsevier; 2004 Pp; 1993-2009.

2.Boon Nicholas A, Colledge _ Nickir R, Wilker Brin R. Davidson's Principles & Practice of Medicine , 20th ed, Elsevier,2010 , Pp;6 ,206 ,232 ,242.

3.Cowen Philip, Gelder Mechaele, Harison Paul , Shorter Oxford Text Book of Psychiatry , 5th ed. Oxford University Press ,Gian Book Depot,2005 , Pp; 218_223.

4. CowenPhilip; Gelder Mechaele, Harison Paul;Shoter Oxford Text Book of Psychiatry5th ed. Oxford University Press, Gian Book Depot,2005 Pp;408-428.

5. James Sadock Benjamine, .Alcot Sadock Virginia. Concise Text Book of Clinical Psychiatry. 3rd ed, Wolters Klower / Lippin Cott Willaiams & Wilkins, 2009, Pp; 696

6. MC-phee, Stephen j Moxine-A pepdakis Current medical diagnosis and treatment Edition; Mc Graw Hill Lange 2012; pp: 1036-1037-1038-1046-1052.

7. Marilyn Heng, Joseph Arigrenwalp, Comprehensive Medical Refrence Review for MMCQI and USMLE,Tronto Notes2007, Pp;FM18 .

8. Niraj Ahuja,Savita Ahuja,Text Book of Psychiatry7th ed. JAPEE,2010,Pp;61,80,95,227.

پوهنمل عبدالنبي (بصیرت)
حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی
نړیوالو اړیکو څانګه

# د نړیوالو شخړو
# د هواري سوله ییزې لارې چارې

**لنډیز**:

دغه علمي مقاله چې د (د نړیوالو شخړو د هواري سوله ییزې لارې چارې) تر عنوان لاندې لیکل شوې، په کې د نړیوالو شخړو د حل سوله ییزې لارې چارې چې بېلابېل پړاوونه لري او د سیاسي او غیر قضایي حل لارو په نوم یادېږي، په خورا وضاحت او صراحت سره د بحث لاندې نیول شوي دي. د موضوع ارزښت په دې کې دی چې په نړیواله کچه د ملتونو ترمنځ شخړې زیاتې شوي او په تېره بیا زمونږ په ګران هېواد کې د څه د پاسه درې لسیزې جنګ- جګړو او اوږدې شخړې وروسته او سمهال د سوله ییز حل خبرې کېږي او په دې برخه کې هڅې هم پیل شوي، چې زما په اند ددې لیکنې چاپ له دغه بهیر سره مرسته کولای شي.

**سریزه**:

بشري تاریخ ته په لیدو سره دا جوتېږي چې د بېلابېلو قومونو ترمنځ اړیکې ډېر ځلې د جنګ او اختلافاتو سره یو ځای وي او ډېر کم ملتونه او قومونه به د تاریخ پر پاڼه داسې وموموچې د جنګ د مصیبتونو څخه په امان پاتې شوي وي، چې متأسفانه په ډېرو پخوانیو او لرغونو زمانو کې داسې قواعد او مقررات هم نه وو، چې په پلې کېدو سره یې دغه اختلافات له منځه لاړ شي او یا کم ترکمه د جنګ هغه بد اثرات او پاتې شوني د ژوندانه له ډګر څخه راکم کړي. پوهانو او فیلسوفانو د جنګ او د هغې د وجودي فلسفې په هکله مختلف نظریات وړکړي دي چې متأسفانه ځینو یې جنګ داسې یوه پدیده ګڼلې چې اجتناب ترې نشي کېدای او ځینو خو یې جنګ د انسان یو طبیعي حق ګڼلی دی؛ د بېلګې په توګه مشهور لرغوني یوناني فیلسوف ارسطو وایي چې انسانان په دوه کټګوریو په طبیعي ډول خلق شوي دي چې یوه ډله حاکمه طبقه او بله یې په چوپړ کې وي، نو کله چې خدمتګاران د حاکمې طبقې د اطاعت څخه سرغړونه وکړي، نو جګړه ددې په مقابل کې یو مشروع او قانوني حق دی. د یادونې وړ ده چې زمونږ موخه د پورته نظریاتو د راوړلو څخه د هغوی د صحت او بطلان ثابتول نه دي، بلکې موخه مو په دې خبرې پوهېدل دي چې د جګړې پدیده او د بشري پرګنو ترمنځ د اختلافاتو رامنځته کېدل یو طبیعي امر دی چې د تاریخ په اوږدو کې ورسره بشر مخامخ شوی دی، چې خوشبختانه په مقابل کې یې د سولې حرکتونو هم وخت په وخت خپل شتون ثابت کړی دی او په دې لاره کې یې هلې ځلې کړې دي، تر څو نړیوال په سوله او ارامۍ کې ژوند وکړي او همدې موخې ته د رسېدو لپاره یې اصول او قواعد وضع کړي دي، نړیوال سازمانونه یې جوړ کړي دي، نړیوال محاکم یې رامنځته کړي دي، د بې وسلې کولو او په نړیواله سطحه یې د مشروع دفاع حق تثبیت کړی دی او نورې داسې هلې ځلې یې کړې دي، تر څو شخړې حل او د هغې بد اثرات چې پر نړیوالو پرېوتي، له منځه یوسي او یا لږ تر لږه هغه اثرات راکم شي. د یادونې وړ ده چې اسماني ادیان او په سر کې یې د اسلام مبارک دین په دې اړه د ټولو څخه مخکښ او مکمل تعلیمات لري چې یوه وړه نمونه یې په ژمنو وفا کول دي چې د همدغه نړیوال او تلپاتې اصل له برکته د نړۍ خلک د نړیوالو اړیکو د هر اړخیزو ګټو څخه مستفید دي، او همدا اصل دی چې د جګړې د ختمولو او د اختلافاتو د حل په لاره کې بشریت ور څخه کار اخلي، ترڅو نه کوي او بیا دغه ترونونو ته د احترام له امله نړیوالو ته سوله په ارمغان کې راوړي، چې یو یې هم د ملګرو ملتونو سازمان دی.

## موخې:

د نړيوالو شخړو پېژندنه او د هغوی د حل دا سې لارې چارې راویستل چې هلته د یوې خوا څخه د زور او قوې څخه استفاده نه وي شوي او له بلې خوا د منازعې (شخړې) طرفينو يا ټولو ذيدخلو اطرافو ته د منلو وړ وي، چې د غه حل لارې به يا سياسي او يا هم قضايي وي. له بلې خوا د موضوع د موخو د جملې څخه دا هم د يادولو وړ ده چې د سياسي علومو مينه وال او بالخصوص محصلين د دې نوع مسايلو په اړونده معلومات لاسته راوړي او د عمل په ډګر کې ترې استفاده وکړي چې دا هم زمونږ د ليکنې مهمه موخه ده.

## د ملګرو ملتونو نړيوال سازمان او د شخړو حل:

د ملګرو ملتونو نړيوال سازمان د هغو لويو او جهانشموله سازمانونو او نهادونو د ډلې څخه دی چې په ۱۹۴۵ زيږديز کال د اکتوبر په څلرويشتمه نېټه د پنځوسو هېوادونو ترمنځ د يو نړيوال تړون په نتيجه کې منځته راغی چې د امريکا د متحده ايالاتو د سان فرانسيسکو په ښار کې پرې لاسليک وشو، کوم چې د نړيوالو اختلافاتو د حل لپاره د ټولو څخه ځواکمن او لوی سازمان او مرجع ګڼل کېږي. د نوموړي سازمان په چوکاټ کې د امنيت شوری شتون، ددې سازمان هغه مهم او قوي رکن دی چې د نړيوالو ستونزو د حل لپاره بېلابېلې لارې چارې په کار اچوي چې د غير نظامي تدابيرو لکه (تجارتي، اقتصادي، مواصلاتي، ديپلوماتيک او..... پرېکون) څخه نيولې، بيا تر نظامي او عسکري تدابيرو پورې په کار اچوي، تر څو نړيوالو شخړو ته د پای ټکی کېږدي او يو ه د حل لاره ورته پيدا کړي. پاتې دې نه وي چې د ملګرو ملتونو منشور چې په (۱۱۱) مادو او (۱۹) څپرکو کې ترتيب شوی دی، د نړيوالو شخړو د سوله ييز حل په درشل کې مخکې له دې چې پورته ياد شوي تدابير پلي شي، پخپله (۵۱مه) ماده کې د سوله ييز حل لپاره د يو څو نورو لارو چارو وړانديز کوي چې هغه عبارت دي له مذاکرې، منځګړيتوب، سازش، حکميت، قضايي لاسرسي، پر سيمه ييزو موسساتو توسل او ټولې هغه سوله ييزې لارې چارې چې د کړکېچ د دواړو خواوو توافق پرې حاصل شي، په دې اړوند ترې کار اخستل کېدای شي چې د موضوع د ښه روښانتيا لپاره به په ځينو يادو شويو لارو چارو رڼا واچوو:

**۱ـ خبرې اترې (مذاکره):** د شخړې د حل لپاره د ټولو څخه مطمينه او اغېزمنه لاره ده چې په مستقيم يا غير مستقيم ډول د منازعې دواړه خواوې، د خپل وضعيت د روښانتيا او نهايي پرېکړې د نيولو په خاطر سره کېني چې نوموړې خبرې اترې په لاندې دوه ډولونو سرته رسېږي:

اول مستقيم مذاکرات دي چې د دواړو خواوو قيادتونه مخامخ ډول يو د بل سره کېني او دويم ډول مذاکرات بيا غيرمستقيم مذاکرات دي چې د يو دريمګړي هېواد د يو رسمي مقام په واسطه د کړکېچ د دواړو خواوو ترمنځ اړيکي نيول کېږي. د اسلام مبارک دين هم ددې روش تاييد کوي او پيغمبر عليه السلام پخپله ددې طريقې څخه کار اخستی دی، چې د قريشو مشرکانو سره پيغمبر عليه السلام مخامخ خبرې اترې، کوم چې د حديبيې سوله يې رامنځته کړه، زمونږ د ادعا ښه ثبوت دی. (۳،۴)

**۲ـ منځګړيتوب:** منځګړيتوب عبارت د دريمګړي هېواد د مداخلې څخه دی چې په دوستانه ډول او د حسن نيت له مخې يې د دوو دوستو هېوادونو د شخړې په صورت کې کوي چې په نړيوالو مسايلو کې د ستونزو د حل لپاره ترې کار اخستل کېږي او په دې اړوند دريمګړی هېواد خپل خاص او سوله ييز ابتکارات په کار اچوي، تر څو د شخړې اړخونه د کړکېچ د حل لپاره وهڅوي او د شخړې څخه لاس واخلي. (۷)

**۳ـ حکميت يا داوري:** د نړيوالو شخړو د حل دريمه لار حکميت يا داوري ده چې په پښتو کې ممکن د (واک اخستونکې جرګه ګۍ) د جريان سره پيوند وخوري. حکميت عبارت له يو هيئت څخه دی چې د دواړو خواوو لپاره د قبول وړ وي، نوموړی هيئت د دواړو خواوو او يا ممکن د بېلابېلو اړخونو څخه واک او اختيار اخلي، تر څو د شخړې د حل لپاره لازم تصميم ونيسي او شخړې ته يوه د حل لاره پيدا کړي. د يادولو وړ ده چې د غه هيئت ممکن د ښکېلو خواوو يا د دريمګړو هېوادونو د اشخاصو څخه ترکيب شوی وي. نوموړې حل لاره په دې سبب چې د هېوادونو د استقلال او ملي

حاکمیت سره په ټکر کې نه واقع کېږي، له دې امله د ډېرى هېوادونو د تایید وړ گرځېدلې؛ همدارنګه ویلی شو چې د اسلام مبارک دین هم د حکمیت اصل په اصولو کې منلی او تایید کړی یې دی. (۸)

**۴ـ** سازش یا جوړ جاړی: د نړیوالو شخړو د حل لپاره څلورمه لار د سازش روش دی، په نړیوالو حقوقو کې دغه اصطلاح د منځګړیتوب د روش سره مشابه ده، ځکه چې په دې روش کې هم د حقوقي کار پېژندونکو یوه ډله چې د درېوو څخه تر پنځو پورې یې شمېر رسېږي، د اختلاف او شخړې لاملونه او څرنګوالی بر رسي کوي او یوه مناسبه او حقوقي لاره ورته چې دغه حل لاره به سل فیصده بې طرفانه وي، خو دواړه خواوې د منازعې دغې پرېکړې ته التزام نلري، خو په دې سبب ترجیح ورکوي چې دا روش د هېوادونو د استقلال او ملي حاکمیت سره په ټکر کې نه واقع کېږي، حال دا چې قضایي پرېکړې چې د نړیوالو قضایي مراجعو او سازمانونو په واسطه کېږي او پرېکړې یې هم اجباري بڼه لري، د هېوادونو ملي حاکمیت تر سوال لاندې راولي. (۴،۱)

**۵ـ قضایي لاسرسی:** نوموړی روش د سیاسي روشونو د بندښت او بې پایلې کېدو وروسته په کار اچول کېږي، ځکه چې د ملګرو ملتونو منشور د شخړو د حل په منظور په خپله درویشتمه ماده کې داسې وړاندوینه کوي، چې د ټولو څخه لومړی دولتونه باید د خپلو شخړو د حل په موخه د ډیپلوماتیکو لارو چارو څخه کار واخلي او که چېرې دا هلې ځلې کامیابې نه شوې، نو یو درېمګړی هېواد د نیکو هلو ځلو (مساعی جمیله) له لارې د شخړې د حل کوښښ کوي او د یو رابط په حیث د دواړو خواوو نظرونه یو بل ته رسوي او د یو منځګړي رول لوبوي او د خپلو هلو ځلو په واسطه دواړه خواوې ارامۍ طرف ته رابلي او دواړو خواوو ته د مستقیمو مذاکراتو لاره چاره برابروي. که د موضوع طرفین د شخړې د حل لپاره کومې نتیجې ته ونه رسېدل، نو یو څېړندویه کمېسون باید تشکیل شي، تر څو په بې طرفانه ډول موضوع بر رسي کړي او نتیجه یې طرفینو ته اعلان کړي چې ممکن په دې کار سره شخړه هواره شي او یا ممکن د شخړې خواوو ته څه وړاندیزونه وکړي، که چېرې نوموړي اقدامات هم نتیجې ته ونه رسېدل، نو په دې صورت کې بیا په داسې حال کې چې دغه شخړه د نړیوال امن لپاره هم خطرناکه تمامېدای شي، نو د امنیت شورى مداخله کوي او یو طرف ته چې د شخړې په هوارېدو کې کومک نه کوي او هغه طرف ته توصیه کوي، کوم چې د شخړې په هوارېدو کې کومک نه کوي او یا داسې یو تصمیم نیسي چې ښکېلو اړخونو څخه په الزامي ډول د هغې د منلو او تطبیق غوښتنه کېږي چې البته دغه ټولې لارې چارې سیاسي لارې چارې دي، مګر حقوقي لاره د شخړو د حل په منظور عبارت د قضایي تصفیې څخه ده چې د سیاسي لارو د ناکامۍ په صورت کې د ملګرو ملتو د منشور (۲۳مه) ماده ورڅخه یادونه کوي او په دې صورت کې د شخړې حل د نړیوال عدالت د محکمې مسؤلیت ګڼي، کوم چې د ملګرو ملتونو د سازمان یو اصلي رکن دی. نوموړې محکمه د ملګرو ملتونو د غړو هېوادونو ترمنځ د شخړو حل د نړیوالو حقوقو او قواعدو پر اساس کوي او دا هم په هغه صورت کې چې د دعوې طرفین د ملګرو ملتونو غړیتوب ولري، علاوه پر دې که چېرې شخړه د یو هېواد او کوم حقوقي شخصیت ترمنځ وي، یعنې د شخړې یو خوا دولت نه بلکې کوم نهاد وي، نو په دې صورت کې نوموړې محکمه هغه وخت دغه دوسیه بررسي کوي چې حقوقي شخصیت د شخړې اړخ دې مربوطه متبوع هېواد د دعوې د طرف په حیث رول ولوبوي. غیر له دې باید د لاهې دېوان ته مراجعه وکړي، ځکه چې د لاهې د عدالت محکمه د ملګرو ملتونو څخه جدا یو مستقل قضایي دېوان دی چې د قضاتو ټاکنه یې هم د ملګرو ملتونو پورې اړه نه لري او مالي مسایل یې هم د حق القضاء له لارې څخه د دعوې د اړخونو څخه اخستل کېږي. د لاهې د نړیوال قضایي دېوان د ملګرو ملتونو د نړیوال عدالت د دایمي محکمې توپیر په دې کې هم دی چې د عدالت د نړیوالې دایمي محکمې حکم د عدم اجرا په صورت د دعوې متضرر طرف د امنیت شورى ته شکایت کولای شي او د امنیت شورى د هغه زور او قوت له لارې چې لري یې، د محکمې حکم تنفیذوي، ځکه د ملګرو ملتونو د منشور (۹۸مې) مادې له مخې د ملګرو ملتونو د غړو هېوادونو د حقوقي اختلافاتو حل د دغې محکمې وظیفه ده. د نړیوالو شخړو د سوله ییز حل یوه بله لار علاوه د پورته روشونو څخه ځینې تړونونه او معاهدات دي، په دې ترتیب که د دوو او یا څو هېوادونو ترمنځ کوم تړون داسې شوی وي چې د شخړې په صورت کې باید پرېکړه درېمګړی هېواد او یا کوم بل نړیوال سازمان ته وسپارل شي، نو په دې صورت کې هغه ټول هېوادونه چې دغه معاهده یې امضا کړې ده، مجبور دي چې د

شخړې د پېښېدو په صورت کې هماغسې وکړي، څرنګه چې په معاهده کې راغلي دي. د يادونې وړ ده چې د پورته ټولو لارو د ناکامېدو په صورت کې بله لاره د ملګرو ملتونو د منشور قهر امېزه لار ده چې د امنيت شورى په واسطه په کار اچول کېږي چې د موضوع د ارتباط د اصل په نظر کې نيولو سره نه غواړو دغه بحث تر څېړنې لاندې ونيسو. (۲، ۵)

## پایله:

د پایلې په توګه ويلای شو چې جنګ يوه داسې پديده ده چې انسان ترې چاره نه لري، جنګونه پخوا هم شوي دي، اوس هم د نړۍ په بېلابېلو برخو کې جريان لري او په راتلونکي کې هم داسې نه ښکاري چې ګواکې جنګ به د نړۍ څخه بېخي کډه وکړي، ځکه کله ناکله د جنګ منځته راتلل ضروري وي او بدون له هغې چاره نه وي، مثلاً مشروع دفاع، د استقلال جنګونه او د ځمکنۍ بشپړتيا د تحقق په موخه جنګ، مګر د جنګ پای ته رسول هم يوه ضروري مسئله ده، دا ځکه چې کله ناکله جنګونه بې هدفه شي او يوازې منفي جنبه لري، نو په داسې حالاتو کې بشري نړۍ دا مسؤليت لري چې جنګ ته د پای ټکی کېږدي؛ نو له همدې امله نړيوال سازمانونه او بالخصوص د ملګرو ملتونونو نړيوال سازمان ددې موخې د لاسته راوړلو لپاره د (مساعي جميله) يا نيکو هلوځلو تر عنوان لاندې قواعد طرح کړي دي، تر څو د هغې څخه په کار اخستلو وکولای شو، بې هدفه او ورانوونکي جنګونه بند او سوله ييزه حل لاره ورته راوباسو چې هغه همدا سياسي او قضايي حل لارې دي چې د موضوع اصل او منځپانګه د همدې خبرې څخه بحث کوي او د سوله ييزې حل لارې طريقې را په ګوته کوي چې ډېر ځلې يې مثبتې پايلې لرلې دي او انساني پرګنو ته يې د جنګ د ناورين څخه نجات ورکړی دی.


**Abstract:**

According to the history of human being, it is clear that war is playing great rolein international relation, for decrease and increase of international relation. Also the war is non separable part of humanity. The lawyer and politicians created different methods for the resolution of this problem some of these methods are peace full and the other is military. We can mentaine some of peace full methods like negotiation, mediation, compromise, judicial track, all this methods are political without judicial way. If some of these political methods couldn't effected then the military solution will occurred by Security Council, which is support for the decision international justice court.


## اخځلیکونه:


۱- ابراهيمی، محمد. (۱۳۷۷ل). اسلام و حقوق بين الملل عمومی (چاپ اول). تهران: کتابخانه ګنج دانش

۲- ابراهيمی، محمد. (۱۳۷۷ل). اسلام و حقوق بين الملل عمومی (چاپ دوهم). تهران: چاپ مهر قم

۳- بيګدلی ضيايی، محمدرضا. (۱۳۸۸ل). حقوق بين الملل عمومی. تهران: کتابخانه ګنج دانش

۴- بيګدلی ضيايی، محمدرضا. (۱۳۸۴ل) اسلام و حقوق بين الملل عمومی. تهران: کتابخانه علامه طباطبايی

۵- بوشهری، دکتر جعفر. (۱۳۸۴ل). حقوق اساسی جلد چهارم. تهران: شرکت سهامی انتشار

۶- ويژه اسناد حقوق بشر، کميسون مستقل حقوق بشر. کابل- افغانستان. (۱۳۹۰ل)

7_ birridge.gr.(2005)diplomacy theory and practice. bretania: antony rowe printing press.

8_ www.google.com

# د ننګرهار پوهنتون د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي مرام او موخې

یادښت: ننګرهار پوهنتون ځان ارزونې کمېټې د پوهې علمي مجلې دې ګڼې ته د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي مرام او موخې رالېږلې، دا چې د یاد پوهنځي مرام او موخې څه دي، پوهه یې د نوموړې کمېټې څخه په مننې د خپلو لوستونکو د پوهاوي په موخه خپروي.

اداره

## مرام:

- ✓ د هېواد د عامه ادارې لپاره د پوهو او مسلکي کدرونو روزنه
- ✓ د عامه ادارې (Public Administration) له تعریف او ستراتېژۍ سره سم په ټول هېواد کې د عامه ادارې د دساتیرو د کټ مټ عملي کېدو تامین او د اداري اصولو او احکامو د یو شانته تطبیق کولو لپاره د لازم کیفیت او ظرفیت ایجاد
- ✓ د علمي بنسټ پر بنا د هېواد اداري پیاوړتیا
- ✓ د بشري سرچینو (Human Resources) د ظرفیت او وړتیا لوړل
- ✓ د عامه ادارې لپاره د تیوریکي لارښوونو او روزنیزو موادو چمتو کول
- ✓ د اقتصادي مؤسساتو د ښه مدیریت او د ملي اقتصاد لپاره د اغېزمنو پلانونو د جوړولو وړتیا رامنځته کول
- ✓ د ANDS د تطبیق لپاره په علمي کدرونو د مؤسساتو تجهیزول
- ✓ د مدیریت د مهارتونو لوړول او د مدیریتي ستونزو د پېژندنې لپاره د علمي تحقیقاتو اجرا
- ✓ او په نهایت کې د انکشاف د ډېرو ښو لارو موندل او د مدیریت د رهبرۍ لپاره د معنوي زېرمې ایجادول

## اهداف:

- ✓ د عامه ادارې پوهنځي فارغ باید د یوه مسلکي مدیر په توګه اداري مهارت ترلاسه کړي او مسلکي پوهه ولري، اداري حقوق وپېژني او د دندې او مسؤلیتونه ومني.
- ✓ ملي ګټو ته په خپلو شخصي ګټو ترجیح ورکړي، متعهد ، وطنپال او خلکو ته د خدمت جوګه وي.
- ✓ د اداري اصولو ته پابند او د یوه مسلکي کدر په توګه وظیفه پېژندونکی او صادق اوسی او د دولتي چارو په بهبود کې خپله ملي دنده وپېژني.
- ✓ د همکارۍ او همغږۍ روحیې په ارزښت پوه او په کاري ساحو کې د لازمو تدابیرو د تخنیکي وړتیاوو سره د ښه خدمت مصدر وګرځي.
- ✓ په عمل کې د خپلې پوهې او خلاق تفکر څخه استفاده وکړي او د سالم تفکر په اساس باید اداره د ترقۍ په لور وهڅوي.
- ✓ د مدیریت او بشري منابعو (H.R) د علم په کلي مفاهیمو او عمومي طریقو پوه او په معاصرو مسایلو خبر وي.
- ✓ د بشري منابعو د انکشاف (Human Resources Development) د علم د تاریخي- تکاملي پړاوونو او نظریاتو په نظر کې نیولو سره د مختلفو سکتورونو ترمنځ د عمومي روشونو ارتباط ورکوونکی او د خپلې ترلاسه کړې پوهې د ښه تشریح کولو استعداد ولري.
- ✓ د وضعیت په تحلیل سره ستونزې مشخصې او د حل لارې ورته وسنجوي او د هغې مطابق عمل وکړي.
- ✓ دندو ته د لومړیتوب په ورکولو سرچینې تدارک او همغږې کړي.
- ✓ په شفاهي او تحریري بڼه وړاندیز پاڼې، پالیسي ګانې، د تحقیق نتایج او نظریات خلکو ته توضیح کړای شي.
- ✓ د اصولي او سالمې ادارې په برخه کې د نوښت او اوچت ذکاوت او عمل په اجرا سره نورو ته د تشویق او ترغیب مصدر وګرځي.
- ✓ له نوې ټکنالوژۍ او علومو سره په هماهنګ ډول د پرمختیا لپاره تدابیر وسنجولای شي.
- ✓ نوښتګر اوسي او د خطرونو منونکی وي.
- ✓ خپلې سیمې او د ټول هېواد د وګړو مقدساتو او عنعناتو ته درناوی ولري او د د اړتیا پر مهال یو ډېر ښه رهبر (Leader) و اوسي.
- ✓ په ټولو تولیدي او خدماتي سکتورونو کې د (Management Science) د علم نظریات وکارولای شي.
- ✓ په هېواد کې د معاصرې ادارې د اصولو د رامنځته کولو په برخه کې مخکښ شي.

پای